رسائِلِ عطاّرِيّه حِصّه اَوّل

# دنمانځه اَحکام (حَنَفي)




شيخِ طريقت، اَميرِ اَهلسُنّت، باني دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحمّد اِلياس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالية



داودس طريقه ۱

اودَس او سائِنس ۶۷

د غُسل طريقه ۹۴

فيضانِ اذان ۱۲۵

د نمانځه طريقه ۱۵۵

د مسافر نمونځ ۲۴۷

د قضا نمونځونو طريقه ۲۶۵

د جنازې د نمانځه طريقه ۲۹۴

فيضانِ جُمُعه ۳۱۵

داختر د نمانځه طريقه ۳۵۶

مَدَني وَصِيَّت نامه ۳۶۸

فاتحه اود ايصال ثواب طريقه ۳۸۸

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ

اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه علم او د حکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم مدینہ بقیع ومغفرت


د کتاب نوم: دنمانځه اَحکام (حنفي)

اول ځل: ربيع الاول ١٤٣٨ھ، دسمبر 2016ء

تعداد: ............

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته


## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.


www.dawateislami.net

# د نمانځه اَحکام (حنفي)

شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا کتاب ”نماز کے اَحکام“ په اردو ژبه کښې ليکلې دې.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې، زياتي اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

**عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران**

**پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان**

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net





www.dawateislami.net

# فهرست


دنمانځهاَحکام(حنفي) .................................................. 2
دَاَودَس طريقه(حنفي).................................................. 1
د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ عِشقِ رسول ﷺ ........................ 1
د گناه د رژيدلو حِکايت .................................................. 3
د اَودَس ثواب به نه کيږي.................................................. 4
ټول بدن پاک شو.................................................. 5
د اَودَس سره د اوده کيدو فضيلت .................................................. 5
د مصيبتونو نه د حِفاظت نُسخه .................................................. 6
په يخنئ کښې د اَودَس کولو حِکايت.................................................. 7
د اَودَس طريقه (حَنَفِی) .................................................. 8
د اَودَس په پاتې شوو اوبو کښې د 70 بيمارو نه شِفاء.................................................. 11
د جَنَّت اته واړه دروازې بيرته کيږي.................................................. 12
نظر به کله هم نه کمزورې کيږي.................................................. 13
د وينځلو تعريف.................................................. 14
د اَودَس 16مکروهات.................................................. 18
د نمر د تَودو اوبو وضاحت.................................................. 19
د مستعمَلو اوبو اهم مسئَله .................................................. 20
خاورو سره گډو اوبو باندې اَودَس کيږي که نه؟ .................................................. 21
پان خوړونکي تَوَجُّه اوکړئ .................................................. 22
دَ تَصوُّف عظيمه مَدَني نُسخه .................................................. 23
که د يخنئ نه اندامونه چاودلي وي نو..... .................................................. 25
په اوداسه کښې د نکريزو او رانجو مسئَله .................................................. 26
د خُوګ سترګې اوښکې.................................................. 27
تنړاکه [دانه، پونړاکه] او پولئ .................................................. 28
په ګرځون کولو اَودَس کله ماتيږي؟.................................................. 29
د خندا احکام .................................................. 29
آيا د سَتر په ليدلو اَودَس ماتيږي؟.................................................. 30
په لاړو کښې وِينه.................................................. 31
د اُوده کيدو سره د اَودَس د ماتيدو او نه ماتيدو بيان .................................................. 32
د اوده کيدو هغه لس طريقې چه په کومو اَودَس ماتيږي .................................................. 34




www.dawateislami.net

د انبیاءِ کرام عَلَیْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام اَودَس او خوب مبارك..........35
په کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ..........36
د اَودَس خانې جوړولو طریقه..........37
د چا چه اَودَس زر ماتیږي د هغه د پاره شپږ احکام..........40
دَ آیت لیکلې شوي کاغذ شا ته د لاس لګولو مسئله..........45
په اَودَس کښې د اوبو اِسراف..........46
د اعلٰحضرت فَتوٰی..........47
د مُفتي احمد یار خان تفسیر..........47
بد ئې اوکړل او ظُلم ئې اوکړو..........49
عملي طور اَودَس زده کړئ..........50
د اِسراف نه د بچ کیدو 14 مدني ګلونه..........55
د 40 مدني ګلونو رَضَوِي ګلدسته..........59
اودس او سائنس..........68
ددرود شریف فضیلت..........68
د اودس حکمت اوریدلو په وجه د اسلام قبلول..........69
د مغربي جرمني سیمینار..........69
اودس او هائي بلډ پریشر..........70
اودس او فالج..........71
د مسواک قدردان..........71
د قوتِ حافظه د پاره..........73
دخُلې د بخیدو علاج..........73
دغاښونو د برش نقصانونه..........74
آیا تاسو له د مسواک کولو طریقه درځي؟..........75
دمسواک 20مدنی ګلونه..........75
دَ لاس وِینځلو حکمتونه..........78
د خُلې د وینځلو حکمتونه..........79
په پوزه کښې د اوبو اچولو حکمتونه..........80
د مخ وینځلو حکمتونه..........81
د ړندیدلو نه حفاظت..........83
د څنګلو وینځلو حکمتونه..........83
د مسح حِکمتونه..........84



www.dawateislami.net

د لِيوَنو ډاکټر........................................................................84
د پښو وينځلو حکمتونه ........................................................86
داودس نه پاتې شوې اوبه .......................................................86
انسان په سپوږمۍ ..................................................................87
د نور کهلونه.........................................................................89
مُعجِزه شقُّ القمر ...................................................................90
صرف د الله عَزَّوَجَلَّ دپاره.......................................................92
د تصوف لويه مدنی نسخه.........................................................92
سنّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي ...........................................93
فيضانِ اذان .........................................................................126
د دُرود شريف فضِيلت............................................................126
حُضُورِ اَنور ﷺ يو ځل اذان کړې وو.......................................126
آذان دې که اذان؟...................................................................127
د "فيضانِ اذان" د نهه حروفو په نِسبت د اذان .............................127
﴿۲﴾ د ملغلرو ګنبد...................................................................127
﴿۳﴾ تير شوي ګناهونه معاف.....................................................127
﴿٤﴾ شيطان ٣٦ مِيله لرې تښتي ...................................................128
﴿۵﴾ اَذان د دُعا د قبليدو سبب دې...............................................128
﴿٦﴾ د مُؤَذِن د پاره اِستِغفار ......................................................128
﴿۷﴾ د اذان والا په ورځ د عذاب نه امن........................................128
﴿۸﴾ د يَرې عِلاج .....................................................................129
﴿۹﴾ د غم لرې کولو نُسخه ........................................................129
مَهيان هم اِستِغفار کوي............................................................129
د اَذان د جواب فضِيلت...........................................................130
٣ کروړه او ٢٤ لاکه نيکۍ هره ورځ اوګټۍ .................................130
د اذان جواب ورکولو والا جَنّتي شو .........................................132
د اذان او د اِقامت د جواب ورکولو طريقه .................................133
(عالمګيري ج ١ ص ٥٧)...........................................................134
د اذان ځوارلس مَدَنی ګلونه ......................................................134
د "اذانِ بِلالي" د نهه حُروفو په نِسبت.........................................137
د "يا مُصطفٰی" د ووه حُروفو په ...............................................139



www.dawateislami.net

د ”يا غَوثُ الاعظم“ د ۱۱ حروفو په نِسبت....................................................140
په جُمات كښې اذان كول خِلافِ سُنَّت دي ....................................................141
د سلو شهيدانو ثواب اوګټئ....................................................142
د اذان نه مخكښې دا دُرودِ پاك لولئ ....................................................142
د اذان د بې ادبئ په باره كښې سوال و جواب....................................................147
په حَـيَّ عَلَـى الصَّلٰوة پورې ټوقې كول ....................................................147
د اذان مُتَعَلِّق د كُفرِيه خبرو ۸ مِثالونه....................................................149
اذان ....................................................150
د اذان دُعــا....................................................151
د شَفاعت زيرې....................................................151
ايمانِ مُفصَّل ....................................................152
ايمانِ مُجمَل....................................................152
اوّله كَلِمه طَيّبه....................................................152
دويمه كَلِمه شهادت ....................................................153
دريمه كَلِمه تمجِيد ....................................................153
څلورمه كَلِمه توحِيد....................................................153
پينځمه كَلِمه اِستِغفَار....................................................154
شپږمه كَلِمه ردِّ كُفر ....................................................154
د نمانځه طريقه (حَنَفِى) ....................................................156
د درود شريف فضيلت....................................................156
د قِيامت په ورځ د ټولو نه اولنې تپوس ....................................................157
د نمونځ ګزاره د پاره نور ....................................................157
د چا حشر به د چا سره كيږي! ....................................................158
په سخت زخمى حالت كښې نمونځ....................................................158
په نمانځه باندې د نُور يا د تِيارې اَسباب....................................................159
د بدې خاتِمې يو سبب....................................................160
د نمانځه غَـل....................................................160
د غَل دوه قِسمونه ....................................................161
د نمانځه طريقه (حَنَفِى) ....................................................162
د اِسلامې خويندو په نمونځ كښې يو څو ځائې فرق دې....................................................169
دواړه توجُّه اوكړئ!....................................................170



www.dawateislami.net

د ”یا اللّٰه“ د شپږو حُروفو په ............................................ 170
که د نمانځه په دوران کښې مکروه وخت داخِل شی نو؟................................ 174
د ”بِسْمِ اللّٰه“ د ۷ حُروفو په ............................................ 176
د حُروفو صحيح ادائيګي ضروری ده ............................................ 182
خبردار خبردار خبردار!............................................ 183
مَدْرَسَةُ الْمدينه ............................................ 184
د کارپيټ [يعني قالِين] نُقصانات ............................................ 186
د ناپاکه کارپيټ د پاکولو طريقه............................................ 187
د نمانځه تقريباً ۳۰ واجِبات............................................ 189
د نمانځه تقريباً ۹٦ سُنّتونه............................................ 192
د قيام سُنَّتُونه............................................ 192
د رُکُوع سُنَّتُونه ............................................ 193
د قَومَه سُنَّتُونه............................................ 194
د سَجدې سُنّتونه............................................ 195
د جَلسې سُنَّتونه............................................ 196
د دويم رکعت د پاره د پاڅيدلو سُنّتونه............................................ 196
د قَعدې سُنَّتونه............................................ 197
د سلام ګرځولو سُنّتونه............................................ 198
د سلام ګرځولو نه پس سُنّتونه ............................................ 199
د سُنّتِ بَعدِيه سُنّتونه............................................ 200
د سُنّتو يوه اَهَمه مَسئَله............................................ 201
تير بيان کړې شوو ۸٦ سُنّتونو کښې ضِمناً د اسلامي خويندو د پاره هم سُنّتونه شته دې ............ 201
د ”يَا رَحْمَةً الِّلْعٰلَمِيْن“ د ١٤ حُرُوفو ............................................ 202
د حضرتِ سيّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه عَمَل............................................ 204
په خاورو خړ شوي تندي فضيلت............................................ 204
”ورونړو د نمانځه مُفسِدات زده کول فرض دي“ ............................................ 205
په نمانځه کښې ژړل............................................ 206
په نمانځه کښې ټوخيدل ............................................ 206
په نمانځه کښې په کتلو لوستل ............................................ 207
د عَمَلِ کَثِيرتعريف ............................................ 208
د نمانځه په دوران کښې لِباس اَغُوستل............................................ 208



www.dawateislami.net

په نمانځه کښې څه تیرَوَل.......................................................208
د نمانځه په دوران کښې د قِبلې نه اِنحِراف ........................................209
په نمانځه کښې مار وَژل..........................................................210
په نمانځه کښې ګرَول............................................................210
په اَللّٰهُ اَکْبَر وئیلو کښې غلطیانې ........................................................210
د نمانځه ۳۲ مَکْرُوهاتِ تَحْرِیمه.....................................................211
په اُوګو څادر زوړندول ............................................................211
د طَبعِي حاجت زیات زور ........................................................212
په نمانځه کښې کانړی لرې کول.....................................................212
ګوتو نه ټقونه وِیستل ...............................................................213
په ملا لاسونه اِیښودل ..............................................................214
د آسمان طرف ته کتل..............................................................215
نمونځ کوونکې ته کتل .............................................................216
د خر په شان مخ...................................................................218
نمونځ او تصویرونه ................................................................219
''یا خُدا! ستا د خوښې د نمونځ کولو سعادت راکړې'' ..................................220
د نِیم لِستونړې په جامو کښې نمونځ کول څنګه دي؟......................................223
د ماسپښین د آخِري دوو رکعاتو نفلو فضیلت...........................................224
د اِمامَت بیان ......................................................................225
د ''یا اِمامَ الْاَنبیا'' ﷺ دیارلسو حُروفو ...................................................225
د اِقامت نه پس دِ امام صاحِب اعلان اوکړي:............................................226
د جَمعې بیان.......................................................................227
''یَا طٰهٰ مدینې ته مې اوغواړه'' د شلو حُروفو.............................................227
په کُفر د خاتِمې یَره ................................................................228
د ''یا رسُولِ پاك'' د نهه حروفو.......................................................231
دُعائے قُنُوت .....................................................................231
د سَجدۂ سهْوْ بیان ..................................................................233
ډیره زیاته اَهَمه مسئَله ..............................................................235
حِکایت...........................................................................236
د سَجدۂ سهْوْ طریقه ...............................................................236
که سَجدۂ سهْوْ کول هیر شي نو .... ...................................................237




www.dawateislami.net

سَجدَهٔ تِلاوت او په شیطان سخته ........................................ 237
اِنْ شَـآءَاللّٰـه عَزَّوَجَلَّ مُراد به ئې پوره شي ........................................ 237
د ”قُرآنِ مجِید“ د ۸ حُروفو په نِسبت ........................................ 238
خبردار! خیال ساتئ ........................................ 239
د سَجدهٔ تِلاوت طریقه ........................................ 240
د سَجدهٔ شُکْر بیان ........................................ 240
د نمونځ کوونکي په مخه تیریدل سخته ګناه ده ........................................ 241
”یَا رَسُولِ خُدا نظرِ کرم“ د پینځلَّسو حُروفو په نِسبت ........................................ 241
مور مې د کټ نه راپاڅیدله! ........................................ 246
د مُسافر نمونځ (حَنَفِی) ........................................ 248
د دُرُود شریف فضیلت ........................................ 248
د شرعي سفر فاصِله ........................................ 250
مسافر به کله وي؟ ........................................ 250
د آبادئ د ختمیدو مطلب ........................................ 250
د فِنائے ښار تعریف ........................................ 250
د مسافر جوړیدو د پاره شرط ........................................ 251
د وطن قِسمونه ........................................ 252
د وطنِ اِقامت د باطِل کیدو صورتونه ........................................ 252
د سفر دوه لارې ........................................ 252
مسافر د کله پورې مسافر دې ........................................ 253
که سفر ناجائِزه وي نو؟ ........................................ 253
د مالِك او د نوکر یو ځائ سفر ........................................ 253
که کار اوشو نو لاړ به شم! ........................................ 254
د زنانه د سفر مسئَله ........................................ 254
د زنانه سخرګنئ او د پلار کور ........................................ 255
عرب مُلکونو کښې په وِیزه د اوسیدونکو مسئَله ........................................ 255
د زائِرِ مدینه د پاره ضروري مَسئَله ........................................ 256
د عُمرې په وِیزه باندې د حج د پاره حصاریدل څنګه دي؟ ........................................ 257
قَصْر واجِب دې ........................................ 259
که د قَصْر په بدله کښې ئې د څلورو نِیَّت اوکړو نو.....؟ ........................................ 259
مُسافِر اِمام او مُقِیم مُقتدي ........................................ 260


www.dawateislami.net

مُقِيم مُقتدي او باقي دوه رکعاتونه........................................................................260
آيا مسافر ته سُنَّت معاف دي؟ ......................................................................261
د ”نفلو“ د څلورو حُروفو په نِسبت په روان ګاډي ....................................................261
که مسافر د دريم رکعت د پاره اودريږي نو ......؟.........................................................262
سفر کښې قضا نمونځونه..........................................................................263
د حِفظ هيرولو عذاب ...............................................................................264
د قضا نمونځونو طريقه(حنَفی) ......................................................................266
د دُرُود شريف فضيلت................................................................................266
د جَهَنَّم خوفناکه کنده ................................................................................267
د کرمئ نه به غر وِيلي شي .........................................................................267
د زرګاؤ کلونو د عذاب حقدار .......................................................................268
په قبر کښې د اور شُعلې.............................................................................269
که نمونځ ادا کول ترې هير شي نو .....؟..........................................................270
که اِتِّفاقاً ئې سترګې اُو نه غړيدې نو .....؟........................................................270
په مجبورئ کښې به د اَدا ثواب حاصل شي او که نه؟ ..........................................271
د شپې په آخرئ حصّه کښې اوده کيدل څنګه دي؟...............................................271
د شپې د ناوخته پورې ويښې اوسيدل.................................................................272
د اَدا، قضا او واجِبُ الاِعاده تعريفونه.................................................................273
د توبه درې ارکان دي ...............................................................................274
اوده کس د نمانځه د پاره را بيدارول کله واجب دي؟..............................................274
د سحر وخت شوې دې پاڅئ!.........................................................................274
حِکايَت................................................................................................275
د حُقوقِ عامّه د اِحساس حِکايت......................................................................277
زر زر قضا را اوګرځوئ................................................................................277
قضا [نمونځ] په پټه کوئ ..............................................................................278
په جُمُعَةُ الوَداع کښې قضائے عُمری ................................................................278
د ټول عُمر د قضا حِساب..............................................................................278
په قضا نمونځونو راګرځولو کښې ترتيب ...........................................................279
د قضائے عُمرئ طريقه (حَنَفی) .......................................................................279
د قصر د نمونځونو قضا..................................................................................280
د اِرتِداد د زمانې نمونځونه ...........................................................................281



www.dawateislami.net

د ماشوم د پيدا کيدو په وخت کښې نمونځ.................................................281
مريض ته نمونځ کله مُعاف دې؟ ....................................................................281
د ټول عُمر نمونځونه بيا کول.........................................................................282
که د قضا لفظ ترې هير شو نو؟......................................................................282
قضا نمونځونه د نفلونو د ادا کولو نه بهتر دي ..................................................282
د سحر او مازديگر نه پس نفلونه نه شي ادا کولې ..............................................283
د ماسپښين څلور سُنَّت که پاتې شي نو څه اوکړي؟..........................................283
که د سحر سُنّت پاتې شي نو څه اوکړي؟.........................................................284
آيا د ماښام وخت لږ شان وي؟ ......................................................................284
د تراويح د قضا څه حکم دې؟ .......................................................................285
د نمونځ فِديه [يعني کفَّاره]...........................................................................285
د مرحومې د فِديې يوه مسئله ......................................................................288
ساداتِ کرام ته د نمانځه فِديه نه شي ورکولې ...................................................288
د سلو کوړو حِيله [يعني بهانه].......................................................................289
(فتاوٰی عالمگيری ج٦ ص ٣٩٠) ....................................................................290
د غوږ سُوري کولو رواج د کله نه دې؟.............................................................290
د غوا د غوښې تُحفه.....................................................................................291
د زکوٰة شرعی حيله .....................................................................................291
د فقير تعريف.............................................................................................293
د مسکين تعريف ........................................................................................294
د دُرُود شريف فضيلت ................................................................................295
د ولي په جنازه کښې د شريك کيدو بَرَکت........................................................295
د عقيدت مندو بخښنه هُم اوشوه.....................................................................296
د کفنونو غل...............................................................................................297
په جنازه کښې شريکو د ټولو بخښنه ...............................................................298
په قبر کښې اوَله تُحفه ..................................................................................299
د جَنَّتي جنازه ..........................................................................................299
د جنازې سره د مرسته کولو ثواب ..................................................................299
د اُحُد د غر هُمره ثواب...............................................................................300
د جنازې نمونځ د عِبرت باعِث دې ................................................................300
د مړې د لـمبولو فضِيلت ..............................................................................301



www.dawateislami.net

د جنازې د ليدلو د وخت وظيفه ........................................ 301
نبي پاك ﷺ د ټولو نه مخکښې د چا جَنازه ادا کړه؟........................ 302
د جنازې نمونځ فرضِ کِفايه دې ................................................ 302
د جنازې په نمانځه کښې دوه رُکن او درې سُنَّتونه دي............................ 302
د جنازې د نمانځه طريقه (حَنَفي) ............................................. 303
د بالِغ نارينه او زنانه د جنازې دُعا.............................................. 303
د نابالِغه هلك [د جنازې] دُعا ................................................. 304
د نابالِغه جينۍ[د جنازې] دُعا ................................................ 304
په پيزار د پاسه ولاړ جنازه کول................................................. 305
د جنازې غائِبانه نمونځ نه شي کيدې .......................................... 305
د يو څو جنازو يو ځائ د نمانځه کولو طريقه ..................................... 305
په جنازه کښې څو صفونه پکار دي؟............................................ 306
که د جنازې پوره جَمعه حاصِله نه کړي نو؟ ..................................... 306
د ليونې يا د خودکُشي کوونکي جنازه............................................ 307
د مړ ماشوم احکام............................................................... 307
د جنازې د وړلو ثواب ........................................................... 308
د جنازې په اُوګو کولو طريقه...................................................... 308
د ماشوم د جنازې د وړلو طريقه ................................................. 309
د جنازې د نمانځه نه د بيرته راتللو مسائِل........................................ 309
آيا خاوند د خپلې ښځې جنازې ته اُوګه ورکولې شي؟.......................... 309
د مُرتَد د جنازې حُکمِ شرعي .................................................... 309
"فلانکې دِ زما د جنازې اِمامَت اوکړي" د داسې وصيَّت حُکم: ................ 312
اِمام دِ د مړي د سِينې په سمې اودريږي.......................................... 312
که د جنازې کولو نه بغير ئې خخ کړو نو؟......................................... 313
په کور کښې د ډوب شوي د جنازې نمونځ........................................ 313
د بالِغ د جنازې د نمانځه نه مخکښې دا اعلان اوکړئ............................ 315
فَيضانِ جُمُعَه ..................................................................... 316
د جُمُعَه په ورځ د دُرود شريف لوستلو فضِيلت ................................. 316
خوږ نبي ﷺ وړومبۍ جُمُعه کله ادا کړه........................................... 317
د جُمُعَه معنٰى..................................................................... 318
سردارِ مدينه ﷺ ټولې څومره جُمُعې ادا کړي؟..................................... 319



www.dawateislami.net

دريِ جُمُعي چه د سستیٔ په وجه پريږدي د هغه په زړه مُهر............................319
د جُمُعي د عمامه [يعني پټکي] فضِيلت............................319
شِفا داخيليږي............................320
لس ورځې د مصيبتونو نه حِفاظت............................320
په اوله صَدئ کښې د جُمُعې جذبه............................321
د غريبانو حج............................322
د جُمُعي د پاره وختي وتل حج دې............................322
د حج او عُمرې ثواب............................323
د ټولو ورځو سردار............................323
د ځناورو د قيامت نه يَره............................324
دُعا قبليږي............................324
د مازديګر او ماښام د مينځه ئې اوګورئ............................325
د صاحِبِ بهارِ شريعت اِرشاد............................325
د قبولِيَّت ساعت کوم يو؟............................325
حِکايت............................326
په هره جُمُعَه کښې يو کروړ او ٤٤ لاکه د جهنَّم د اور نه آزاد............................326
د عذابِ قبر نه محفوظ............................327
د جُمُعې نه د بلې جُمُعې پورې د ګناهونو معافي............................327
د دوه سوه کالو د عِبادت ثواب............................328
مرحوم مور و پلار ته هره جُمُعَه اعمال پيش کيږي............................328
د جُمُعې پينځه خُصوصي اَعمال............................329
جَنَّت واجِب شو............................329
صِرف د جُمُعې روژه مه نيسئ............................329
د لسو زرو کالو د روژو ثواب............................330
د جُمُعې روژه کله مکرُوه ده............................330
د جُمُعې په ورځ د مور و پلار قبر ته د حاضريدو ثواب............................331
د مُور و پلار قبر ته د "سُورة يٰسٓ" لوستلو فضيلت............................331
دريِ زره بخښنې............................332
د جُمُعې په ورځ د يٰسٓ لوستونکي به بخښنه کيږي............................332
رُوحونه جمع کيږي............................332
د "سُورةُ الْـکَهْـف" فضيلت............................333


www.dawateislami.net

د دواړو جُمُعو د مينځه نُور.......... 333
د کعبې پورې نُور.......... 333
د ''سُوْرَهٔ حٰمٓ الدُّخَان'' فضِيلت.......... 334
د اويا زره فرښتو اِستِغفار.......... 334
ټول ګناهونه مُعاف.......... 334
د جُمُعې د نمانځه نه پس.......... 335
د عِلم په مَجلِس کښې شِرکَت.......... 335
د ''ګران غوثِ اعظم'' د يوولسو حُروفو په.......... 336
د جُمُعې د نمانځه سُنَّتونه.......... 337
د جُمُعې د غُسل وخت.......... 337
د جُمُعې غُسل سُنَّتِ غير مُؤکَّده دې.......... 338
په خُطبه کښې د نزدې کښيناستلو فضيلت.......... 338
نو د جُمُعې ثواب به نه حاصليږي.......... 339
په خاموشۍ سره خطبه اوريدل فرض دي.......... 339
خُطبه اوريدونکې دُرود شريف نه شي لوستلې.......... 339
خطبهٔ نِکاح اوريدل واجِب دي.......... 340
د وړومبي اذان د کيدو سره کاروبار هم ناجائِز.......... 340
د ''بِسمِ اللّٰه'' د ووه حروفو په نِسبت د خطبې ووه مَدَني ګلونه.......... 341
د جُمُعې د اِمامت اَهَمه مسئَله.......... 342
د اَختر د نمانځه طريقه (حَنَفِي).......... 344
د دُرود شريف فضِيلت.......... 344
زړه به ئې ژوندې اوسي.......... 344
جَنَّت واجِب شي.......... 345
د اختر نمانځه له د تللو نه مخکښنې سُنَّت.......... 345
د اختر د نمانځه د پاره د تلَلو راتلَلو سُنَّتونه.......... 346
د اختر د نمانځه طريقه (حَنَفِي).......... 346
د اختر نمونځ په چا واجِب دې؟.......... 347
د اختر خطبه سُنَّت ده.......... 347
د اختر د نمانځه وخت.......... 348
که د اختر د جَمعې په نِيمه کښې شريك شو نو ......؟.......... 348
که د اختر نمونځ ترې لاړو نو څه اوکړي؟.......... 349


www.dawateislami.net

د اختر د خُطبې اَحکام.......................................................................................350
د اختر ۲۰ آدابه..............................................................................................350
د غټ اختر یو مُستَحَب .......................................................................................352
د ''اَللّٰـهُ اَکْبَر'' د اَته حُروفو په نِسبت .....................................................................353
مدَنی وصِیّت نامه.............................................................................................357
د کفن دفن طریقه ..........................................................................................369
مړي ته د غُسل ورکولو طریقه .............................................................................370
نارینه مړي ته د کفن اغوستولو طریقه .......................................................................372
د جنازې نه پس خخول .......................................................................................373
فاتحه او د ثواب بخښلو طریقه ................................................................................377
(۱) د قبول شوي حج ثواب....................................................................................379
(۲) د لسو حجونو ثواب.........................................................................................380
(۳) د مور و پلار د طرف نه خیرات ..........................................................................380
(٤) په رزق کښې د بې بَرَکتئ وجه ............................................................................381
(٥) د جُمُعې په ورځ د قبر د زیارت فضیلت.................................................................381
کفنونه اوشلیدل!...............................................................................................381
روحونه کورونو ته راځي او اِیصالِ ثواب غواړي............................................................383
(۳) د نورو د پاره د بخښنې د دُعا کولو فضیلت..............................................................384
نورانی لِباس ...................................................................................................385
د مړو د شمیر همره ثواب ...................................................................................386
ټول قبرونو والا د سفارشي جوړولو عمل .......................................................................387
د پیرانِ پیر صاحِب چیلې وئیل څنګه دي؟ ....................................................................388
د اِیصالِ ثواب مُرَوَّجه طریقه...................................................................................397
د اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د فاتِحه طریقه ...................................................401
د اِیصالِ ثواب د پاره د دُعا کولو طریقه.........................................................................402
د طعام د دعوت اَهَم اِحتیاط.......................................................................................403
په مزار باندې د حاضِرئ طریقه ..............................................................................404



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# دَ اَودَس طريقه (حنفي)

دا رِساله د اوّل نه تر آخِره پورې اولولئ، قوي اِمكان دې چه ستاسو ډيرې غلطئ به ستاسو مخې ته راشي.

## دَ دُرود شريف فضيلت

د سركارِ دوعالَم، نورِمُجسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُبارک دې: چا چه په ورځ او شپه كښې زما طرف ته د شوق او محبَّت په وجه درې درې ځله درود شريف اولوستل، په الله تعالٰى باندې حق دې چه هغه د هغه د هغه ورځې او د هغه شپې ګناهونه اوبخښي.

(المعجم الكبير للطبرانى ج 18 ص 362 حديث 928)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عِشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

حضرتِ عُثمانِ غنى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يو ځل يو مقام ته اورسيدو نو اوبه ئې را اوغوښتې او اَودَس ئې اوكړو بيا يو دم مُسكې شو او ملګرو ته ئې اوفرمائيل، تاسو خبر ئې زه ولې مُسكې شوم؟ بيا ئې د

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

دې سوال جواب پخپله ورکړو او اوئې فرمائيل، يو ځل سرکارِنامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم په دې ځائ اَودَس فرمائيلې وو او د اَودَس نه پس مُسکې شوې وو او صحابهٔ کِرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُم ته ئې فرمائيلې وو، تاسو خبر ئې زه ولې مُسکې شوم؟ صحابهٔ کِرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان عرض اوکړو: وَاللّٰہُ وَرَسُوۡلُہٗ اَعۡلَم يعني الله عَزَّوَجَلَّ او د هغه رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. خوږ خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:"چه کله څوک اَودَس کوي نو د لاسونو وينځلو سره د لاسونو او د مخ وينځلو سره د مخ او د سر د مسح کولو سره د سر او د ښپو وينځلو سره د ښپو ګناهونه اورژيږي".

(مُسندِ اِمام احمد بن حنبل ج۱ ص۱۳۰ رقم الحديث ٤١٥)

وضو کر کے خنداں ہوئے شاہِ عُثماں | کہا، کیوں تبسُّم بھلا کر رہا ہوں
جو ابِ سُوالِ مخاطب دیا پھر | کسی کی ادا کو ادا کر رہا ہوں

مفهوم: اَودَس ئې اوکړو او مُسکې شو عثمان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ او ئې وئيل: چه زه ولې مُسکې شوم؟ پخپله ئې د سوال جواب ورکړو چه زه د چا ادا ادا کووم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اِسلامی وروڼو!** تاسو اوليدل؟ صحابهٔ کِرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان به د سرکارِ خيرُ الاَنام صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هره هره ادا او هر هر سنّت څنګه په شوق او محبّت خپلولو. بله دا چه د دې رِوايت نه د ګناه د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

وينځلو **نُسخه** هم په لاس راغله. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په اَودَس کښې د خُلې وينځلو سره د خُلې، په پوزه کښې د اوبو اچولو سره په پاکولو د پوزې، په مخ وينځلو کښې د بنړو سره د تول مخ، په لاسونو وينځلو کښې د لاسونو سره سره د نوکانو د لاندې پورې، د سر (او د غوږونو) په مسح کولو د سر سره سره د غوږونو، او د ښپو په وينځلو د ښپو سره سره د ښپو د نوکانو د لاندې پورې ګُناهونه رژيږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ګناه د رژيدلو حِکايت

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د اَودَس کوونکي ګناهونه رژيږي په دې باره کښې حضرتِ عَلّامه عبدُالوَهَّاب شَعرانی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو ايمان تازه کوونکې روايت نقل فرمائي چه: يو ځل سَيِّدُنا اِمامِ اعظم ابُو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د کوفې د جامِع مسجد اَودَس خانې ته تشريف يوړو نو يو ځلمي ئې په اَودَس کولو اوليدو، د هغه نه د اَودَس [د استعمال شوو اوبو] څاڅکي څڅيدل. اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ورته اوفرمائيل: اے ځويه! د مور او پلار د نافرمانئ نه توبه اوکړه. هغه فوراً عرض اوکړو: "ما توبه اوکړه"، د يو بل کس د اَودَس [استعمال شوي اوبه ئې چه په] څڅيدلو اوليدې، نو هغه کس ته ئې اوفرمائيل: "اے زما وروره ته د زِنا نه توبه اوکړه"، هغه عرض اوکړو: "ما توبه اوکړه"، د يو



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

بل كس د اَودَس د اوبو څاڅكي ئې اوليدل نو هغه ته ئې اوفرمائيل:"د شرابو د نشې او د سندرو او باجو د اوريدو نه توبه اوكړه" هغه عرض اوكړو: "ما توبه اوكړه". ولې چه سَيِّدُنا اِمامِ اعظم اَبُوحَنِيفه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته به د كَشف په وجه د خلقو عيبونه ښكاره كيدل څكه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په بارګاهِ خُداوندي عَزَّوَجَلَّ كښ د دې كَشف د ختميدو دُعا اوكړه، الله عَزَّوَجَلَّ دُعا قبوله كړه او هغوئي ته د اَودَس كوونكو د ګناهونو رژيدل ښكاره كيدل بند شو.

(الميزان الكبرىٰ ج١ ص١٣٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اَودَس ثواب به نه كيږي

د عَمَلونو دار و مدار په نِيَّتونو دې: كه په يو عمل كښ ښه نِيَّت نه وي نو ثواب نه كيږي. هم دا حال د اَودَس هم دې، د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه د ١٢٥٠ صفحو په چاپ شوي كتاب "**بهارشريعت مُخَرَّجَه** جلد اوّل" صفحه ٢٩٢ كښ دي: په اَودَس باندې د ثواب ګټلو د پاره په حُكمِ اِلٰهي باندې د عمل كولو نِيَّت كول ضروري دي ګني اَودَس خو به اوشي خو ثواب به نه كيږي. اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د اَودَس د نِيَّت نه كولو عادت جوړونكي به ګُنهګار وي، په دې كښ نِيَّت كول سُنّتِ مؤكّده دي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

(فتاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجَه ج 4، ص 616)

## تهول بدن پاک شو

د دوو حديثونو خُلاصه ده: "چا چه بِسمِ الله اولوستله او اَودَس ئې اوکړو د هغه د سر نه د ښپو پورې تهول بدن پاک شو. او چا چه د بِسمِ الله وئيلو نه بغير اَودَس اوکړو د هغه دومره بدن پاک شو په څومره چه اوبه تيرې شوې." (سنن دار قطنی ج۱ ص۱۰۸، ۱۰۹ حديث ۲۲۸،۲۲۹)

دحضرت سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه سرکارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "اے ابو هُريره (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) چه کله ته اَودَس کوې نو بِسمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰه وايَه چه تر څو پورې ستا اَودَس باقي وي تر هغې پورې به ستا فرِښتې (يعني كِرامًا كاتِبين) ستا د پاره نيکئ ليکي." (اَلْمُعجَمُ الصّغير لِلطَّبَرانی ج۱ ص۷۳ حديث ۱۸٦)

## د اَودَس سره د اوده کيدو فضيلت

په حديثِ پاک کښې دي: "د اَودَس سره اوده کيدونکي د روژه په خُله عِبادت کونکي په شان دې." (كنزُ العُمّال ج ۹ ص ۱۲۳ حديث ۲۵۹۹٤)

## که په اَودَس کښې مړ شو نو شهيد دې

د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت سَيِّدُنا انس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته اوفرمائيل: "ځويه! که ته هميشه په اوداسه کښې د اوسيدو طاقت



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: چاچه په ما باندي لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

لري نو هم داسې کوه، ځکه چه مَلَكُ الْمَوْت چه د کوم بنده رُوح د اَودَس په حالت کښې واخلي نو د هغه د پاره شهادت اوليکلې شي.“ (شعب الايمان ج ٣ ص٢٩ حديث ٢٧٨٣)

زما آقا اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ فرمائي: ”هميشه د اَودَس سره اوسيدل مُستحب دي.“

## د مصيبتونو نه د حِفاظت نُسخه

الله عَزَّوَجَلَّ حضرت سَيِّدُنا موسٰی کَلِيمُ الله عَلَيۡهِالصَّلوٰةُوَالسَّلَام ته اوفرمائيل: ”اے موسیٰ! که د بې اَودَسۍ په حالت کښې تا ته څه مُصِيبَت پيښ شو نو بچپله خپل ځان ملامته کوه.“ (شعب الايمان ج ٣ ص٢٩ حديث ٢٧٨٢) په فتاوٰی رضويه کښې دي: ”هميشه د اَودَس سره اوسيدل د اسلام سُنّت دي.“ (فَتاوٰی رَضَوِيّه ج ١ ص ٧٠٢)

## د ”احمد رضا“ د ووه حُروفو په نسبت هر وخت په اَودَس کښې د اوسيدو ووه فضائِل

زما آقا امامِ اهلِسنّت امام احمد رضا خان عَلَيۡهِرَحۡمَةُالرَّحۡمٰن فرمائي: ځيني عارِفين رَحِمَهُمُ اللهُ الۡمُبين فرمائي، څوک چه هميشه په اَودَس کښې اوسي الله تعالٰی به هغه په ووه فضيلتونو مُشرّف کړي:

(١) فرښتې به د هغه صُحبت ته رَغبت کوي (٢) قلم به [مسلسل] د هغه نيکۍ ليکي (٣) د هغه اندامونه به تسبيح لولي (٤) هغه به د تکبيرِاُولٰی



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

نه نه محرومه كيږي (٥) چه كله اوده شي نو اللّٰه تعالیٰ به څه فرښتې را اوليږي چه هغه به د پيريانو او انسانانو د شرنه د هغه حِفاظت كوي (٦) د ځنكدن سختوه به په هغه آسانه وي (٧) چه د كله پورې ئې اَودَس وي په امانِ اِلٰهی كښې به وي. (فَتاوٰی رَضَوِیّه ج١ ص٧٠٢، ٧٠٣)

## يو په دوه ثواب

يقيناً د يخنۍ، ستومانۍ يا نزله، زُكام، د سر درد او بيمارۍ [په حالت] كښې اَودَس كول گران وي. خو چه بيا هم څوك په داسې وخت كښې اَودَس اوكړي هله چه اَودَس كول مشكل وي نو د هغه به د حديث د حُكم مُطابِق دوه همره ثواب كيږي.

(المُعجمُ الاوسط للطبرانی ج ٤ ص ١٠٦ حديث ٥٣٦٦)

## په يخنۍ كښې د اَودَس كولو حِكايت

حضرت عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ د خپل غُلام حُمران نه د اَودَس د پاره اوبه اوغوښتلې او د يخنۍ په شپه كښې ئې باهر ته تلل غوښتل، حُمران وائي: ما اوبه راوړلې، هغوئي مخ او لاس اووينځل نو ما اووئيل: اللّٰه دِ تاسو ته كِفايت اوكړي شپه خو ډيره يخه ده. په دې ئې اوفرمائيل: ما د رَسولُ اللّٰه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: ''كوم بنده چه كامِل اَودَس كوي اللّٰه تعالیٰ د هغه تير شوي او راروان ټول گناهونه بخښي.''


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چې په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذی)

(مُسنَدِ بزار، ج ۲ ص ۷۵ حديث ٤٢٢، بهارِ شريعت ج ۱ ص ۲۸۵)

## د اَودَس طريقه (حَنَفِى)

كعبةُ الله شريف طرف ته مخ كول او په اوچت ځائ كيناستل مُستَحَب دي. د اَودَس د پاره **نِيَّت** كول سنّت دي، نِيَّت د زړه اِرادې ته وائي، په زړه كښې چه نِيَّت وي نو په ژبه سره وئيل هم افضل دي، لهٰذا په ژبه سره داسې نِيَّت اوكړئ چه زه د حُكمِ اِلٰهى عَزَّوَجَلَّ د پوره كولو او د پاكئ حاصلولو د پاره اَودَس كووم. بِسْمِ الله اولولئ، دا هم سنّت دي بلكه بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لله اولولئ چه كله پورې هم اَودَس وي فرښتې به مسلسل نيكئ ليكي. (المُعجمُ الصغير للطبراني ج ۱ ص ۷۳ حديث ۱۸٦) بيا دواړه لاسونه درې درې ځله د ګيټو [يعني مروندونو] پورې وينځئ، (نل بند كړئ او) د دواړو لاسونو د ګوتو خِلال هم اوكړئ، كم نه كم درې درې ځله د غاښونو په ښي طرف، ګڅ طرف كښې او لاندې باندې مِسواك اوكړئ او هره پيره مِسواك وينځئ. حُجّةُ الاسلام اِمام محمّد غزالى عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِي فرمائي: "د مسواك كولو په وخت كښې په نمونځ كښې د قرآنِ مجيد د قِراءت [يعني لوستلو] او د ذِكرُالله عَزَّوَجَلَّ د پاره د خُلې پاكولو نِيَّت كول پكار دي" (اِحياءُالعُلوم ج ۱ ص ۱۸۲) بيا د ښي لاس په درې چونګه اوبو



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

(هره پيره نل بندوئ) په داسې شان درې ځله خُله اووينځئ چه هره پيره د خُلې په هره پرزه با ندې اوبه اوبهيږي كه روژه مو نه وي نوغړغره هم اوكړئ. بيا په ښي لاس باندې درې چونګه (اوس هره پيره نيم چونګ هم كافي دې) سره (هره پيره نل بندوئ) درې ځله د پوزې د نرمې غوښې پورې اوبه اوخيژوئ او كه روژه مو نه وي نو د پوزې جرړې ته اوبه اوخيژوئ، بيا (نل بندكړئ او) په ګڅ لاس پوزه پاكه كړئ او كچه ګوته د پوزې په سورو كښې اووهئ. درې پيرې ټول مخ داسې اووينځئ چه د كوم ځائ نه عادتاً د ويښتو ستې [جرړې] شروع كيږي د هغه ځائ نه واخله د زنې د لاندې پورې او د يو غوږ د لَو [يعني نرمې حصّې] نه د بل غوږ د لَو [يعني نرمې حصّې] پورې هرځائ باندې اوبه اوبهيږي. كه ږِيره مو وي او اِحرام مو نه وي ترلې نو (اول نل بند كړئ بيا) په داسې شان خِلال اوكړئ چه ګوتې دَ مرئ د طرف نه [په ږِيره كښې] داخِلې كړئ او مخې طرف ته ئې اوباسئ. بيا ورومبې ښي لاس د ګوتو د سرونو نه وينځل شروع كړئ او د څنګلې سره ئې اووينځئ. هم دغسې بيا ګڅ لاس اووينځئ. دواړه لاسونه د مټې د نِيمې [يعني د څنګل او د اوږې د مينځه] پورې وينځل مُستحب دي. **اكثر خلق په چونګ كښې اوبه واچوي او هغه د لاس د**


www.dawateislami.net

**بند نه ښكته خنګل طرف ته پرېږدي په دې طريقه اوبه د مټ او د خنګل ډډو ته د نه رسيدو يره ده. لِهٰذا په بيان كړې شوې طريقه باندې لاس وِينځئ نو بيا په چونګ اوبه د خنګل طرف ته د بهيولو ضرورت نشته بلكه** (بغير د صحيح اِجازت نه داسې كول) **د اوبو اِسراف دې.** بيا (نل بند كړئ) او **د سر مسح** په داسې طريقه اوكړئ چه د دواړو لاسونو غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پرېږدئ او باقی د دواړو لاسونو د درې درې ګوتو سرونه د يو بل سره اولګوئ او د تندي په وېښتو يا پوستكي [څرمن] باندې ئې كيږدئ او د څټه پورې ئې داسې راښكاږئ چه تَلِي د سر نه جدا وي، بيا د څټ نه د تندي پورې تلِي په راښكلو راولئ[1] چه په دې دوران كښې د شهادت ګوتې او غټې ګوتې په سر بالكل اونه لګي، بيا د شهادت په ګوتو د غوږونو د دننه غاړو او په غټو ګوتو د غوږونو د باهر غاړو مسح اوكړئ او كچې ګوتې د غوږونو په سُورو كښې داخِلې كړئ. او د ګوتو په شا د څټ مسح اوكړئ، ځينې خلق د مرئ او د وِينځلو شوو خنګلو او متو مسح كوي

[1] په سر د مسح كولو يوه طريقه دا هم ليكلې شوې ده په دې كښې خاص طور د اسلامي خويندو د پاره زياته اساني ده. چناچه ليكلې شوي دي: د سر په مسح كښې د سنت ادا كولو د پاره دا هم پوره دي چه ګوتې د سر په اولنئ حصه كيږدئ او ورغوي د سر په ډډو باندې او لاسونه جوخت د څټ طرف ته راښكاږئ. (فتاوٰی رضويه ج ٤ ص ٦٢١)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله د ذِكر او په نبي باندې درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

دا سنّت نه دي. د سر د مسح كولو نه مخكښ د نل په ښه طريقه سره د بندولو عادت جوړ كړئ. د ضرورت نه بغير نل چالو پريښودل يا نيم بندول چه اوبه ترې څڅيږي دا ګناه ده. بيا مخكښ ښئ ښپه بيا ګڅه ښپه، هره پيره د ګوتو نه وينځل شروع كوئ او د ګيټو [پړكو] نه بره ځائ پورې بلكه مُستَحَب دي چه د نيمې پنډئ پورې ئې درې درې ځله اووينځئ. د دواړو ښپو د ګوتو خِلال كول سُنّت دي(د خِلال په وخت كښ نل بند ساتئ) د دې مُستَحَب طريقه داده چه د ګڅ لاس په كچئ ګوته د ښئ ښپې د كچې ګوتې نه خِلال شروع كړئ او په غټه ګوته ئې ختم كړئ او هم دغه د ګڅ لاس په كچئ ګوته د ګڅې ښپې د غټې ګوتې نه ئې شروع كړئ او په كچه ګوته ئې ختم كړئ. (عامه كُتُب)

حُجَّةُ الاسلام اِمام مُحَمَّد غزالى عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِى فرمائي: "د هر اندام وينځلو په وخت كښ دِ دا اُمّيد لري چه زما د دې اندام ګناهونه لرې كيږي." (اِحياءُ العُلوم ج۱ ص۱۸۳ مُلخّصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اَودَس په پاتې شوو اوبو كښ د 70 بيمارو نه شِفاء

په لوټه [يعني كُوزه] وغيره باندې د اَودَس كولو نه پس پاتې شوې اوبه په ولاړه څښلو كښ شِفاء ده.چنانچه زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په فَتاوىٰ رَضَوِيّه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

مُخَرِّجَه جلد ٤ صفحه ٥٧٥ نه ٥٧٦ كښې فرمائي: د اَودَس نه د پاتي شوو اوبو د پاره شرعاً عَظَمت او احترام دي او نَبِيِّ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ثابت دي چه حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اَودَس اوفرمائيلو او بقِيّه آب (يعني پاتي شوي اوبه) ئې په ولاړه اوڅښلې او په يو حديث كښې رِوايت شوې دې چه **د دې څښل د اوياؤ مرضونو نه شِفا ده.** نو هغه په دې كارونو كښې د آبِ زم زم سره مُشابَهَت [يعني يو شان والي] لري، په داسې اوبو باندې استِنجا كول مناسب نه دي. د "**تنوير**" په "**آدابِ وُضُو**" كښې دي: "د اَودَس نه پس دِ دَ اَودَس نه پاتې اوبه مخ په قبله په ولاړه اوڅښې." علّامه عَبدُالغني نابُلُسي عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْوَالِی فرمائي: ما تجربه كړې ده چه زه كله بيمار شم نو د اَودَس نه پاتې شوو اوبو باندې راته شِفا حاصله شي.[دوئي فرمائي چه] د نبيِّ صادِق صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې صحيح طِبِّ نَبَوِي كښې موجود ارشادِ كِرامي باندې د اعتِماد [يعني يقين] په وجه ما دا طريقه اختيار كړې ده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّت اته واره دروازې بيرته كيږي

**حديثِ پاک** كښې دي: "چا چه په ښه طريقه اَودَس اوكړو او بيا ئې د آسمان طرف ته نظر پورته كړو او كلِمهٔ شهادت ئې اولوستله د هغه د


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره درود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

پاره د جَنَّت آته واړه دروازې بيرته کيږي چه په کومه غوارې داخِل دِ شي." (سنن دارمي ج١ ص ١٩٦ حديث ٧١٦)

## نظر به کله هم نه کمزورې کيږي

څوک چه د اَودَس نه وروستو آسمان طرف ته ګوري او سورة اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ لولي اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د هغه نظر به کله هُم نه کمزورې کيږی.
(مسائِلُ القرآن ص ٢٩١)

## د اَودَس نه پس د سورهٔ قدر لوستلو فضائِل

په **حديث** مُبارَکه کښ دی: "څوک چه د اَودَس نه پس يو ځل سوره قدر اولولي نو هغه د صِدّيقينو نه دې او چه څوک ئې دوه ځله اولولي نو په شُهَداء کښ به شميرلې شي اوچه څوک ئې درې ځله لولي نو الله عَزَّوَجَلَّ به د مَحشر په ميدان کښ هغه د خپلو انبياء (عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) سره ساتي.
(کنزُ العُمّال ج 9 ص 132 حديث 26085، الحاوِی لِلفتاوٰی للسيوطی ج 1 ص 402)

## د اَودَس نه پس د لوستلو دُعا (اول و آخِر درودشريف)

څوک چه د اَودَس کولو نه پس دا کَلِمات اولولي: سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ، اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ **ترجمه**: اے الله! ته پاك ئې او هم ستا د پاره دې ټول صفتونه، زه ګواهي ورکووم چه ستا نه سِوا بل د عبادت لائق نشته، زه ستا نه بخښنه غواړم او ستا په بارګاه کښ توبه کووم. نو په هغې به


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلٰى)

مُهر اولګولې شي او د عرش نه لاندې به كيښودې شي او د قيامت په ورځ به هغه لوستونكي ته وركړې شي.

(شعب الايمان ج3 ص21 حديث 2754)

## د اَودَس نه پس دا دُعا هم اولولئ (مخكښې وروستو درود شريف)

اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡنِيۡ مِنَ التَّوَّابِيۡنَ وَاجۡعَلۡنِيۡ مِنَ الۡمُتَطَهِّرِيۡنَ

اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ما په كثرت سره توبه كونكو كښې شامِل كړې او ما په پاكيزه اوسيدونكو كښې شامِل كړې. (جامِع ترمِذی ج1 ص121 حديث55)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لفظ "اللّٰه" د څلورو حروفو په نِسبت د اَودَس څلور فرض

(1) مخ وينځل (2) د څنګلو سره دواړه لاسونه وينځل (3) د څلورمه حِصّه سر مسح كول (4) د ګِيټو [يعني پړكو] سره دواړه ښپې وِينځل. (فَتاوٰی عالمگیری ج1 ص 3، 4، 5، بهارِ شريعت ج1 ص288)

## د وينځلو تعريف

د يو اندام د وينځلو دا مطلب دې چه د هغه اندام په هره حصّه كم نه كم دوه څاڅكي اوبه اوبهيږي. صرف لمديدو ته يا پرې اوبه د تيلو په شان مږلو ته يا يو څاڅكي بهيدو ته وينځل نه وائي، په دې شان غُسل او اَودَس نه كيږي.

(فَتاوٰی رضَوِيّه ج1 ص218، بهارِ شريعت ج1 ص288)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووم). (اِبنِ بشكوال)

## ''كَرَم يا رَبَّ الْعٰلَمِيْن'' د څوارلسو حروفو په نِسبت د اَودَس څوارلس سنّتونه

د ''اَودَس'' طريقه (حَنَفى) كښې د ځينې سُنّتو او مستحباتو بيان شوې دې، د دې نور وَضاحت اوكورئ: (۱) نِيَّت كول (۲) بِسْمِ الله لوستل. كه د اَودَس نه مخكښې بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰه اولولي نو چه د كله پورې ئې اَودَس وي فرښتې به د هغه د پاره نيكئ ليكي. (۳) دواړه لاسونه د ګيټو [يعني مړوندونو] پورې درې پيرې وينځل (٤) درې ځله مِسواك كول (٥) په درې چونګه درې ځله خُله وينځل (٦) كه روژه نه وي نو غرغره كول (۷) په دريو چونګو درې پيرې پوزه كښې اوبه خيژول (۸) كه كِيره وي (نو د اِحرام د نه ترلو په حالت كښې) د هغې خِلال كول (۹) د لاس او (۱۰) ښپو د ګوتو خِلال كول (۱۱) د پوره سر صرف يو ځل مَسْح كول (۱۲) د غوږونو مَسْح كول (۱۳) په فرائِضو كښې ترتيب قائِم ساتل (يعني په فرض اندامونو كښې اول مخ بيا لاسونه د څنګلو سره وينځل بيا د سر مَسْح كول او بيا ښپې وينځل) او (۱٤) پرله پسې اَودَس كول يعني د يو اندام د اوچيدو نه مخكښې بل اندام وينځل.

(بهارِ شريعت ج 1 ص 293،294 مُلَخَّصاً)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طبراني)

## ”اے خوبِ شَهَنْشاهِ مَدِينه اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلام “

## د ۲۹ حروفو په نِسبت د اَودَس ۲۹ مستحَبّات

(۱) مخ په قبله (۲) په اوچت ځائ (۳)کښيناستل (٤) د اوبو بهيولو په وخت په اندامونو لاس راښکل(٥) په اطمينان سره اَودَس کول (٦) د اَودَس په اندامونو باندې مخکښې اوبه مږل خاص طور د يخنئ په موسم کښې (۷) په اَودَس کولو کښې د ضرورت نه بغير د چا نه مدد نه اغستل (۸) په ښي لاس خُله وينځل (۹) په ښي لاس په پوزه کښې اوبه اچول (۱۰) په ګڅ لاس پوزه پاکول (۱۱) د ګڅ لاس کچئ ګوته په پوزه کښې وهل (۱۲) د ګوتو په شا د څټ مَسْحُ کول (۱۳) د غوږونو د مَسْحُ په وخت کښې لمدې کچې ګوتې د غوږونو په سُورو کښې وهل (۱٤) ګوتئ له حرکت ورکول هله که سَسته وي او دا يقين ئې وي چه د دې نه لاندې اوبه تيرې شوې، او که نخښتې وي نو په خوزولو سره د هغې نه لاندې اوبه بهيول فرض دي.(۱٥) که معذورِ شرعي (د دې تفصيلي احکام هُم د دې رسالې د صفحه ۳۹ نه د ٤۳ پورې اوګورئ) نه وي نو د نمونځ د وخت د شروع کيدو نه مخکښې اَودَس کول (۱٦) څوک چه په پوره طريقه اَودَس کوي يعنې چه د چا يو ځائ هم د اوبو بهيولو نه نه پاتې کيږې د هغه (پوزې طرف ته) د سترګو د ګوتونو، د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

ښپو د ګِيتهو [پړکو]، د پوندو، د تلو، د پوندو نه بره د پيړو پټو، د ګُرتونو او د ځنګلو خاص خيال ساتل او د بې خيالي کوونکو د پاره خو فرض دي چه د دې ځائيونو خاص خيال ساتي ځکه چه اکثر ليدلې شوي دي چه دا ځائيونه اوچ پاتي شي او دا د بې خيالئ نتيجه ده داسې بې خيالي حرامه ده او خيال ساتل فرض دی. (۱۷) د اَودَس لَوټه کڼ طرف ته کېږدئ او که په طشت [يعني ارت لوښی لکه ښانک] يا پتيله وغيره باندې اَودَس کوئ نو ښي طرف ته ئې کېږدئ (۱۸) د مخ وينځلو په وخت کښې په تندي باندې په داسې طريقه اوبه خورې اچول چه د پاس څه حصه هم ورسره وينځلې شي (۱۹) دمخ او (۲۰)د لاسو ښپو رنړا خورول يعني [مطلب دا چه] په خومره ځائ اوبه بهيول فرض دي د هغې خوا و شا څه ځائيونه زيات وينځل مثلاً لاس د ځنګل نه پاس د مټ دنيمی پورې او ښپې د ګيتهو [پړکو] نه پاس د پنډئ دنيمې پورې (۲۱) په دواړو لاسونو مخ وينځل (۲۲) لاس او ښپې وينځلو کښې د ګوتو نه شروع کول (۲۳) د هر اندام وينځلو نه پس د هغې نه د لاس په راښکلو اوبه څڅول چه چرې په بدن يا کپړو اُونه څڅيږي خصوصاً چه کله جُمات ته داخليدل وي ځکه چه د جُمات په فرش باندې د اَودَس اوبه څڅول مکروهِ تحريمي دي. (۲٤) د اَودَس د هر اندام د وينځلو په وخت کښې او د مَسَحُ کولو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

په وخت کښ د اَودَس نِيَّت ياد ساتل (۲۵) په شروع کښ د بِسْمِ اللّٰه سره سره درود شريف او کَلِمهٔ شهادت لوستل (۲٦) د اَودَس اندامونه د ضرورت نه بغير [په کپړه وغيره] مه اوچوئ او که اوچوئ نو ډيرئي مه اوچوئ، څه لمدوالي پرې پريږدئ ځکه چه د قيامت په ورځ به [دا لمد والي] دنيکو په تله کښ اچولې شي (۲۷) د اَودَس نه پس لاس وغيره مه ښنډئ، دا د شيطان پکې [ببوزې] دې. (۲۸) د اَودَس نه پس په خاختک (يعني د پاجامې [يا پرتوګ] هغه حِصّه کومه چه د بَولو د مقام خوا سره وي)د اوبو څاڅکي کول.(د اوبو څاڅکي کولو په وخت کښ مناسِب دا دي چه خاختک د کُرتې [يا قميص] په لمن کښ پټ وي او د اَودَس په وخت کښ هُم، بلکه هر وخت خاختک د کُرتې په لمن کښ يا د څادر وغيره په ذريعه پټ ساتل حيا ته زيات نِزدې دي.) (۲۹) که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته نفل ادا کول چه هغې ته تَحِيَّةُالْوُضُو وائي. (بهارِ شريعت ج 1 ص 300293)

## د اَودَس 16 مکروهات

(۱) د اَودَس د پاره په ناپاکه ځائ کښ کښيناستل (۲) په ناپاکه ځائ کښ د اَودَس اوبه بهيول (۳) د اَودَس د اندامونو نه په لوټه وغيره کښ اوبه څڅول(دمخ وينځلو په وخت کښ د اوبو نه ډکو لاسونو کښ عام طور د مخ نه د اوبو څاڅکي کيږي د دې خيال ساتئ) (٤) قِبلې


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

طرف ته لاړي، بلغم يا د خُلې اوبه تُوكل (٥) بغير د ضرورت نه د دُنيا خبرې كول (٦) اوبه زياتې لګول. (صدرُالشَّريعه مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "بهارِشريعت" جلد اوّل صفحه۳۰۲ او ۳۰۳ كښې فرمائي: په پوزه كښې د اچولو د پاره نيم چونګ كافي دي نو پوره چونګ ډكول اِصراف دي) (٧) اوبه دومره كمې خرچ كول چه سنّت پرې ادا نه شي (بهرحال نل مه دومره زيات چالو كوئ چه اوبه د حاجت نه زياتې توئ شي او مه ئې دومره كم چالو كوئ چه سنّت پرې ادا نه شي بلكه چه درميانه وي.) (٨) مخ په اوبو ويشتل (٩) په مخ اوبه اچولو وخت كښې پوكې كول (١٠) په يو لاس مخ وينځل ځكه چه دا د روافِض او هِندوانو نښه ده (١١) د مرئ مَسْحُ كول (١٢) په كِڼ لاس خُلې ته يا پوزې ته اوبه اچول (١٣) په ښي لاس پوزه پاكول (١٤) درې ځله اوبو راغستلوسره درې ځله د سر مَسْحُ كول (١٥) د نمر په تَودو اوبو اَودَس كول (١٦) شونډې يا سترګې په زوره بندول او كه څه اوچ پاتې شو نو هډو اَودَس اونه شو. د اَودَس هر سُنَّت پرېښودل مكروه دي دغسې د هرمَكروه پرېښودل سُنَّت دي. (بهارِ شريعت ج1 ص300 301)

## د نمر د تَودو اوبو وضاحت

صدرُالشَّرِيعه، بدرُالطَّرِيقه حضرت علّامه مولانا مُفتي مُحَمّد امجد علي اعظمي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه د چاپ شوي **بهارِ شريعت**


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

**مُخرّجه جلد اوّل د صفحه ۳۰۱** په حاشيه كښې ليكي: ”كومې اوبه چه په نمر تودې شوې وي په هغې مُطلقاً اَودَس كول مكروه نه دي بلكه په هغې كښې يو څو قيود [وجهې] شته دې. چه د هغې ذِكر به د اوبو په باب كښې راځي او په هغې د اَودَس كولو كراهت تنزيهي دې تحرِيمي نه دې.“ د اوبو د باب په صفحه ۳۳٤ كښې ليكي:”كومې اوبه چه په ګرم مُلك كښې په ګرم موسم كښې [په نمر باندې] د سرو او د سپينو زرو نه علاوه د [بل هر قسم] اوسپنې په لوښې كښې تودې شوې، چه تر څو تودې وي په هغې اَودَس او غسل نه دي كول پكار، نه هغه څښل پكار دي بلكه بدن ته په هيڅ حال كښې رسيدل نه دي پكار، تر دې چه كه په هغې كپړه لـمده شي نو چه تر څو يخه شوي نه وي د هغې د اغوستلو نه ځان ساتئ ځكه چه د دې اوبو په استعمال كښې د برص (يعني په بدن باندې د سپين داغ د مرض) [يعني برګي مرض] يره ده، بيا هم كه چا پرې اَودَس او غسل اوكړو نو اوشو.“

(بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰۱، ۳۳٤)

## د مستعمَلو اوبو اهم مسئَله

كه د بې اَودَسه كس لاس يا ګوته يا د ګوتې بند يا نُوک يا د بدن هغه يوه حِصّه چه په اَودَس كښې وينځلې شي قصداً يا په هيره سره د ”دَه دَر دَه“ (10×10) [يعني ۱۰۰ شرعي ګز] نه كمو اوبو (مثلاً د اوبو نه ډک



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےﷺ: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

بالټې يا لوټه وغيره) کښې پرېوځي نو اوبه **مُستَعْمَلې** (يعني استعمال شُده) شوې او اوس د اَودَس يا غسل کولو لائِق پاتې نه شوې. هُم دغه شان چه په چا باندې غسل فرض وي د هغه د بدن کومه نا وينځلې شوې حصّه که په اوبو کښې اولګي نو هغه اوبه د اَودَس او د غسل د کار پاتې نه شوې.خو که وينځلې شوې لاس يا د بدن بله کومه وينځلې شوې حصّه پکښې اولګي نو څه باك نشته. (بهارِشريعت ج1ص333) (د مستَعْمَلو اوبو، د غسل او د اَودَس تفصيلي احکام زده کولو د پاره بهارِشريعت ج1 حصّه 2 اولولئ)

## خاورو سره ګډو اوبو باندې اَودَس کيږي که نه؟

◉ په اوبو کښې که شګه يا خټې ګډې شي نو تر څو چه رقيق (يعني نرئ) وي په هغې اَودَس جائِز دې. **اَقُول** (اعلٰحضرت رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي چه: ”زه وايم“) خو بې ضرورته په ختو کښې ګډو (اوبو) باندې اَودَس کول منع دي ځکه چه دا **مُثله** يعني شکل ورانول دي او دا شرعاً حرام دي. (فَتاوٰی رَضَوِيّه ج4ص650) (معلومه شوه چه په مخ په داسې شان خاوره پورې کول چه شکل وران شي يا مخ تورول، ځنګه چه کله کله د غل مخ په سکارو وغيره باندې تور کړې دا حرام دي، قصداً د کافِر مُثله کول يعني مخ ورانول هم جائِز نه دي) ◉ په کومو اوبو کښې چه څه بدبوئ لرونکې خيز ګډ شي په هغې باندې اَودَس کول مکروه دي خصوصاً که د هغې


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښ په مابانديې درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښ وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

بدبوئي په نمانځه کښ هم پاتې وي ځکه چه (په دې به نمونځ) مکروهِ تحريمي شي. (فَتاوٰی رضَویّه ج4 ص650)

## پان خوړونکي تَوَجُّه اوکړئ

زما آقا اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت اِمام اَحمَد رَضا خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ الرَّحْمٰن فرمائي: د پانونو په کثرت سره خوړولو والا خُصوصاً چه کله ئې په غاښونو کښ چاودې جُدا جُدا وي، په تجربه سره پوهيږي چه د چاليه وړې وړې زرّې او د پان بالکل وړې وړې ټُکړې د خُلې په ډډو او کوټونو کښ داسې نخښلي چه درې څه بلکه کله کله لس دولس ځله خُله وِينځل هم د دې د تصفيِهٔ تام (يعني مکمّلې صفائې) د پاره کافي نه وي، نه د خِلال سره هغه اوځي او نه د مِسواک سره، سِوا د دې نه چه اوبو له په خُله کښ حرکت ورکړې شي او هغه د غاښونو په سُورو کښ اوځي ننوځي او لړې لړې زرّې راخلاصوي، د دې هم څه تَحدِيد (يعني حد بندي) نه شي کيدې او دا کامِله تصفيّه (يعني مکمله صفائي) هُم ډيره مُؤَکَّد ده (يعني د دې ډير سخت تاکِيد دې) په ډيرو حديثونو کښ ارشاد شوې دې چه کله بنده په نما نځه اودريږي نو فرښته د هغه په خُله باندې خپله خُله کيږدي دا چه څه لولي هغه د ده د خُلې نه اوځي او د فرښتې په خُله کښ داخليږي، په دغه وخت کښ که څه د خوراک څيز د ده په غاښونو کښ وي نو د


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

هغې نه فرښتې ته داسې سخت تڪليف رسي چه بل د يو شي نه هم [دومره تڪليف] نه ور رسي.

**حُضورِاکرم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، چه کله په تاسو کښې څوک د شپې په نمانځه اودريږي نو پڪار دَه، چه مِسواک اوکړي ځکه چه هغه کله په خپل نمونځ کښې قِراءَت کوي نو فرښته خپله خُله د هغه په خُله باندې کيږدي او څه شې چه د دَه د خُلې نه اوځي هغه د فرښتې په خُله کښې داخِليږي. (شعب الایمان ج۲ ص۳۸۱ حديث:۲۱۱۷) او طَبَرانی په کَبِير کښې د حضرتِ سَيِّدُنا ابو ايُّوب انصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت کړې دي چه په دواړو فرښتو باندې د دې نه زيات څه څيز سخت نه وي چه هغوئي خپل ملګرې په نمانځه اووينې او د هغه په غاښونو کښې د خوراک زرې نخښتې وي.

(المُعجمُ الکبیر ج٤ ص١٧٧، حدیث:٤٠٦١ ، فَتاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج١ ص٦٢٤تا٦٢٥)

## دَ تَصَوُّف عظيمه مَدَنې نُسخه

حُجَّةُ الاسلام امام محمّد غزالی عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْوَالِي فرمائي: "د اَودَس نه د فارِغ کيدلو نه پس چه کله تاسو نمانځه طرف ته مُتَوَجِّه شئ نو هغه وخت دا تَصَوُّر اوکړئ چه په کومو ظاهِري اندامونو چه د خلقو سترګې لګې هغه خو په ښکاره طاهِر (يعنې پاک) شوي دي خو د زړه د پاکولو نه بغير په بارګاهِ اِلٰهی کښې مُناجات [يعنې دُعا] کول د حيا


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

خِلاف دي ځکه چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د زړونو لِيدونکي هم دې. نور فرمائي: د ښکاره [بدن] اَودَس کونکو لره دا خبره هم ياده ساتل پکار ده چه د زړه طهارت (يعني صفائي) په توبه کولو او د گُناهونو په پريښودو او د ښو اخلاقو په اختيارولو کيږي. څوک چه زړه د گُناهونو د گند نه نه پاکوي، صرف ښکاره طهارت (يعني صفائي) او ډول سِنګار کافي گڼړي د هغه مثال د هغه کس په شا ن دې څوک چه بادشاه له دعوت اوکړي او خپل کور د باهر نه ښه ښکلې کړي او رنګ روغن ئې اوکړي خو د کور د دننه حصّې په صفائې باندې هيڅ توجُّه ورنه کړي، چه کله بادشاه د هغه کور ته ورداخل شي اوګندونه اووينې نو هغه به خفه کيږي که خوشحاليږي به، په دې هر عقلمند پخپله پوهيدې شي." (اِحياء العلوم جلد۱ ص ۱۸۵ مُلخّصاً)

## د زخم وغيره نه د وينې وتلو پينځه احکام

(۱) وِينه، نَو يا زيړې اوبه د څه ځائ نه اووتې او اوبهيدې او د هغې په بهيدلو کښې داسې ځائ ته د رسيدو صلاحيّت وو کوم ځائ چه په اَودَس يا غسل کولو کښې وِينځل فرض دې نو اَودَس **مات شو.** (بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰٤) (۲) وينه که اوځليده يا هسې راپورته شوه خو اونه بهيدله لکه څنګه چه [کله څه ځائ] د ستنې په څوکه يا د چاقو په ډډه اولږي او وينه هسې غوټه شي يا اوځليږي، يا د خِلال کولو يا


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

مِسواک کولو سره يا په ګوته باندې د غاښونو د مړيو سره يا په غاښ باندې د څه شي مثلاً سيب وغيره نه چک کولو سره په هغې باندې څه د وينې اثر ښکاره شو يا په پوزه کښې د ګوتې وهلو سره په هغې د وينې سُرخي راغله خو [په دې ټولو صورتونو کښې] که هغه وينه د بهيدلو قابله نه وه نو اَودَس **مات نه شو.** (ايضًا) (۳) که اوبهيدله خو داسې ځائ ته رانغله کوم ځائ چه په اَودَس يا غسل کولو کښې وينځل فرض وي مثلاً په سترګه کښې دانه وه او ماته شوه او دننه خوره شوه باهر را اونه وتله، او نَو يا وِينه د غوږونو په سُورو کښې دننه پاتې شو نو په دې صورتونو کښې اَودَس مات نه شو. (ايضًاص۲۷) (٤) زخم که هر څومره غټ وي او لـمدوالي پرې هم ځليږي خو چه تر څو بهيدلې نه وي اَودَس پرې نه ماتيږي (ايضًا) (٥) د زخم وِينه بيا بيا په اوچولو سره که د بهيدلو نوبت رانغلو نو سوچ اوکړئ چه دا څومره وينه ترې پاکه شوې ده که دا مو نه پاکولې نو دا به بهيدلې وه نو اَودَس مات شو. که [د بهيدلو همره به] نه وه نو [مات] نه [شو]. (ايضًا)

## که د يخنئ نه اندامونه چاودلي وي نو....

د يخنئ وغيره نه که اندامونه چاودلي وي، که وينځلې ئې شي نو اُو دِ ئې وِينځي،که يخې اوبه نقصان کوي نو که تَودَوَلې ئې شي نو واجب دي، او که تَودې هم نقصان کوي نو مسح دِ اوکړي، که مسح هم


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

نقصان کوي نو په هغې باندې چه کومه پټۍ يا د دوائي مخ [اخير، ليو] لګيدلې دې په هغې دِ اوبه اوبهيوي، که دا هم نقصان کوي نو د هغه پټۍ يا [د دوائي په هغه] مخ [اخير، ليو] په ټول دِ مسح اوکړي. که د دې نه هم نقصان کيږي نو نه دِ ئې کوي، معاف ده. (فتاوٰی رضويه ج4 ص620)

## په اوداسه کښې د نکريزو او رانجو مسئَله

(1) که د زنانه په لاسونو او ښپو د نکريزو پاترې پاتې شو او پرې پوهه نه شوه نو اَودَس او غسل به اوشي. خو چه کله پرې پوهه شي نو لرې دِ ئې کړي او په هغه ځائې دِ اوبه اوبهيوي. (فتاوٰی رضويه ج4 ص613) (2) که رانجه د سترګې په ګوټ کښې په بانړه پورې پاتې شو او پرې پوهه نه شو نو ظاهِراً پکښې باك نشته او د نمانځه نه پس که د سترګې په ګوټ کښې محسوس شوه نو اصلاً باك (يعني بالکل يره) نشته (مطلب دا چه نمونځ اوشو) (ايضًا)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په اِنجِکشن لګيدلو اَودَس ما تيږی که نه؟

(1) په غوښه کښې د انجکشن لګولو سره به صِرف په دې صورت کښې اَودَس ماتيږي چه د بهيدلو په مقدار وِينه اوځي. (2) د رګ د ستنې په لګولو کښې اول بره طرف ته وِينه راښکاږي او هغه د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

بهيدلو په مقدار وي لِهٰذا د هغې سره اَودَس ماتيږي (3) هم دغسې د ګلوکوز وغيره ډرِپ په رګ کښ د لګولو سره به هم اَودَس مات شي ځکه چه د بهيدلو په مِقدار وِينه اوځي او نلکئ ته راشي. خو که د بهيدلو په مقدار وِينه نلکئ ته رانه شي نو اَودَس نه ماتيږي (4) د سِرِنج په ذريعه د ټيسټ کولو دَ پاره دَ وينې ويستلو سره اَودَس ماتيږي ځکه چه دا د بهيدلو په مقدار کښ وي او دا وِينه د بَولو په شان ناپاکه هم ده د دې وِينې ډک بوتل چه په جيب کښ وي او نمونځ ئې اوکړو نو اونه شو، د وينې او د بَولو بوتل که په ښه طريقه سره بند وي نو هم جُمات ته ئې نه شي راوړې ، که را ئې وړو نو ګنهګار به شي

## د خُوګ سترګې اوښکې

(1) د سترګې د بيمارئ په وجه چه کومې اوښکې د سترګو نه اوبهيږي هغه ناپاکه دي او اَودَس به هم ورسره مات شي. (بهارِشريعت ج۱ص۳۱۰)

افسوس! اکثر خلق د دې مَسئَلې نه ناخبره وي او د خوګ سترګې نه د مرض په وجه بهيدونکې اوښکې د نورو اوښکو په شان ګنړي او په لِستونړی يا د کُرتې [قميص] په لمن ئې اوچوي او جامې پرې ناپاکه کوي. (2) د نابينا د سترګې نه چه کوم رطوبت [يعني لمدوالې] د مرض په وجه اوځي هغه ناپاکه دې او په هغې اَودَس هم ماتيږي.

(ماخوذ از بهارِشريعت ج۱ص ۳۰۶)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## پاك او ناپاك رُطُوبت (لـمدوالي)

کوم رُطُوبت [يعني لـمدوالي] چه د انساني بدن نه خارج شي او اَودَس نه ماتوي هغه ناپاکه نه دې، مثلاً وِينه يا نَو، چه بهر اُو نه بهيږي يا لرې شان اُلتِئ چه په ډکه خُله نه وي. (بهارِشریعت ج۱ص۳۰۹)

## تنړاکه [دانه، پونړاکه] او پولۍ

(1) پولۍ ئې اوشو کوله که د هغې اوبه اوبهيدلې نو اَودَس مات شو کنې نه [يعني که د بهيدو په مقدار نه وي نو مات نه شو] (بہارِشریعت ج۱ص۳۰۵)
(2) دانه بالکل ښه شوه او د هغې مره خرمن پاتې ده د هغې پاس طرف ته خُله ده او دننه ډِړه ده، که هغه د اوبو نه ډکه شوه او په زور کولو ترې [اوبه] خارج شوې نو نه اَودَس مات شو او نه هغه اوبه ناپاکه دې خو که په هغې کښې څه لـمد والې د وينې وغيره وي نو بيا اَودَس هم مات شو او هغه اوبه هم ناپاکه دي. (فَتاوٰی رَضَوِیه ج۱ص۳۵۵، ۳۵۶) (3) که په خارخت يا پولو کښې بهيدونکې رطوبت [يعني لـمدوالې] نه وي صرف [دومره وي چه په جامو پورې] نخښلې، او جامې د هغې سره بيا بيا لګې تر دې چه [د دې په لګيدو لګيدو] هر څومره کلکه شي پاکه ده. (بہارِشریعت ج۱ص۳۱۰) (4) پوزه ئې پاکه کړه په هغې کښې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

اوچه شوې وِينه را اووتله، اَودَس مات نه شو، اَنسَب (يعني زيات مُناسِب) دا دي چه اَودَس دِ اوکړي. (فتاوٰی رضويه ج۱ ص۲۸۱)

## په ګرځون کولو اَودَس کله ماتيږي؟

په ډکه خُله ګرځون [يعني اُلتئ] د خوراک، اوبو يا صَفرا (يعني د زيړ رنګ ترخو اوبو) اَودَس ماتوي، کومې اُلتئ چه په آسانئ سره څوک نه شي حصارولې هغې ته په ډکه خُله اُلتئ وائي. په ډکه خُله اُلتئ د بَولو په شان ناپاکه وي د دې د څاڅکو نه خپلې جامې او بدن بچ ساتل ضروري دي. (ماخوذ از بهارِ شريعت ج۱ ص۳۰٦، ۳۹۰ وغيره)

## د خندا احکام

(1) د رُکوع او سُجود والا نمونځ کښې بالِغ په دومره آواز کښې اوخندل چه خوا و شا والؤ واوريده نو اَودَس ئې هم مات شو او نمونځ ئې هم مات شو، او که په دومره آواز کښې ئې اوخندل چه صرف ځځپله ئې واوريده نو نمونځ ئې مات شو خو اَودَس ئې مات نه شو، د مُسکـې کيدو سره نه نمونځ ماتيږي او نه اَودَس، په مُسکـې کيدو کښې آواز بالکل نه وي صرف غاښونه ښکاره شي. (مراقی الفلاح ص64) (2) بالِغ د جنازې په نمونځ کښې قَهقَهه اولګوله [يعني په دومره آواز کښې ئې اوخندل چه خوا و شا والؤ اوريدې شوه] نو نمونځ ئې مات شو خو اَودَس ئې مات نه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس (یعني شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

شو. (ایضاً) (3) د نمانځه نه علاوه قَهقَهه لګولو [یعني په زوره خندا] سره اَودَس نه ماتیږي خو بیا اَودَس کول مُستحب دی. (مراقی الفلاح ص ٦٠) زمونږ خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله هم قهقهه نه ده لګولي [یعني کله ئې هم په زوره نه دي خندلي] لِهٰذا مونږ له هم کوشش کول پکار دي چه دا سُنَّت هم ژوندي شی او مونږه په زوره زوره نه خاندو. **فرمانِ مُصطفی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **اَلْقَهْقَهَةُ مِنَ الشَّيْطٰنِ وَالتَّبَسُّمُ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى یعني قَهقَهه د شیطان د طرف نه ده او مُسکـي کیدل د الله** عَزَّوَجَلَّ **د طرف نه دي.**

(المُعجَمُ الصَّغیر لِلطَّبَرانی ج ٢. ص ١٠٤)

## آیا د سَتر په لیدلو اَودَس ماتیږي؟

په **عوامو** کښې دا خبره مشهوره ده چه د زنګون یا سَتر په ښکاره کیدو او خپل یا د بل چا سَتر ته په کتلو اَودَس ماتیږي دا بالکل غلط دي. خو د اَودَس په آدابو کښې دي چه د نامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره تول سَتر پټ وي بلکه د استنجا نه پس فوراً پټول پکار دی، ځکه چه د ضرورت نه بغیرسَتر ښکاره ساتل منع او د نورو په مخکښې سَتر ښکاره کول حرام دي. (بهارِ شریعت ج1 ص309)

## د غُسل اَودَس کافي دي

د **غسل** د پاره ئې چه کوم اَودَس کړې وو هُم هغه کافي دي اوس که په بربنده هُم اولامبي، نو بیا هم د غسل نه وروستو اَودَس کول


www.dawateislami.net

ضروري نه دې بلکه که اَودَس ئې هم نه وو کړې نو د غسل کولو سره د اَودَس په اندامونو باندې هم اوبه بهيږې ځکه اَودَس هم اوشو، د کپړو بدلولو سره هم اَودَس نه ماتيږي.

## په لاړو کښې وِينه

(1) د خُلې نه وينه اووتله که په لاړو باندې غالبه [يعني زياته] وي نو اَودَس مات شو کنې نه [يعني که غالبه نه وي نو مات نه شو] د غلبې نخښه داده چه که د **لاړو** رنګ سور شو نو وِينه به غالبه ګنړلې شي او اَودَس به مات شي، دا سرې لاړې ناپاکه هم دي. که **لاړې** زيړې وي نو په وينه به لاړې غالبې منلې شي، لِهٰذا اَودَس مات نه شو او دا زيړې لاړې هم ناپاکه نه دي. (بهارِشريعت ج١ ص٣٠٥) (2) د خُلې نه دومره وِينه اووتله چه لاړې پرې سرې شوې او لوټه يا ګلاس ته ئې خُله اولګوله او د خُله پاکولو د پاره ئې ترې اوبه په خُله کښې واغستې نو لوټه ګلاس او ټولې اوبه نَجِس [يعني ګنده، ناپاکه] شوې لِهٰذا په داسې موقع باندې په لاس کښې اوبه واخلئ او په احتياط سره خُله پاکه کړئ او دا احتياط هم کوئ چه ستاسو جامو ته څاڅکې اونه شي.

## په اَودَس کښې د شک راتلو پينځه احکام

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللهُتَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

(1) که د اَودَس کولو په دوران کښې درته د کوم يو اندام په وينځلو کښې شک شي او دا د ژوند وړومبۍ واقعه وي نو هغه اووينځئ او که اکثر درته شک پريوځي نو د دې طرف ته توجّه مه ورکوئ. او که هم دغسې درته د اَودَس نه وروستو هم شک پريوځي نو د دې هيڅ پرواه مه کوئ. (بهارِشريعت ج1ص310) (2) ستاسو اَودَس وو او اوس هم شک پيدا شو چه پته نشته چه اَودَس مې شته او که نه، په داسې صورت کښې ستاسو اَودَس شته دې ځکه چه صرف په شک اَودَس نه ماتيږي. (ايضاًص311) (3) د وسوسې په صورت کښې احتياطًا اَودَس کول احتياط نه دې بلکه د شيطان اِتّباع ده [يعني د شيطان منل دي] (ايضاًص311) (4) يقيناً د هغه وخته پورې ستاسو اَودَس قائِم دې ترڅو چه د اَودَس دماتيدو داسې [پوخ] يقين اونه شي چه قسم پرې کولې شئ. (5) يو اندام د وينځلو نه پاتې شوې دې خو دا ياد نه دي چه کوم يو اندام وو نو ګڅه ښپه اووينځئ. (درمختارج1ص310)

## د اُوده کيدو سره د اَودَس د ماتيدو او نه ماتيدو بيان

په اوده **کيدو** د اَودَس ماتيدو دوه شرطونه دی: ﴿۱﴾ چه دواړه سُرِين [يعني د کيناستلو دواړه طرفونه] جوخت لګيدلي نه وي. ﴿۲﴾ په داسې حالت اوده شو چه د غفلت سره په اوده کيدو کښې رُکاوټ نه وي. چه کله دواړه شرطونه جمع شي يعني چه سُرِين هم په صحيح


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

طريقه جوخت نه وي لګيدلي او په داسې حالت كښې اوده شوې وي چه د غفلت سره په اوده كيدو كښې رُكاوټ نه وي نو د داسې اُوده كيدو سره اَودَس ماتيږي. او كه يو شرط موجود وي او بل شرط موجود نه وي نو اَودَس نه ماتيږي.

## د اوده كيدو هغه لس طريقې چه د هغې سره اَودَس نه ماتيږي

﴿۱﴾ په داسې طريقه اوده كيدل چه دواړه سُرِين په زمكه جوخت لګيدلي وي او دواړه ښپې ئې يو طرف ته خورې كړې وي. (په كُرسۍ، او د ريل او د بس په سِيټ د ناستې هم دا حكم دې) ﴿۲﴾ په داسې شان اوده كيدل چه سُرِين په زمكه جوخت لګيدلي وي او دواړه پنډۍ د دواړو لاسو په حلقه [يعني ګيره] كښې اونيسي اګر كه لاس په زمكه وغيره باندې يا سر په زنګونانو كيږدي ﴿۳﴾ پلَتئ [يعني پرلت] اووهي او كښيني كه په زمكه وي او كه په تخت وي او كه په كټ وغيره كښې وي ﴿٤﴾ د اَلتَّحِيّات په شان سِيده ناست وي ﴿۵﴾ په آس يا قچر وغيره باندې په زِين د پاسه ناست وي ﴿٦﴾ د [خاروي] په بربنډه ملا ناست وي خو چه خاروي مخ په بره خيژي يا لاره هواره وي. ﴿۷﴾ بالښت ته ئې په داسې طريقه ډډه وهلي وي چه سُرِين ئې صحيح جوخت لګيدلي وي اګر چه د بالښت لرې كولو سره دې اولويږي ﴿۸﴾ چه ولاړ وي ﴿۹﴾ چه د رُكوع په حالت كښې وي ﴿۱۰﴾ د سنّت مطابق څنګه چه نارينه سجده كوي چه داسې سجده اوكړي چه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

خيته ئې د ورنونو نه او متې ئې د ډډو نه جُدا وي دا ذِكر كړې شوي حالتونه كه په نمانځه كښې پيښ شي او كه د نمانځه نه بهر، نو اَودَس ورسره نه ماتيږي او نه ورسره نمونځ ماتيږي اګر كه ارادتاً اوده شي، البَتَّه چه كوم رُكن ئې بالكل په اودو ادا كړو د هغې اِعاده (يعنې بيا كول) ضروري دي او كه په ويښه ئې شروع كړې وو او بيا خوب ورغلو نو چه كومه حصه ئې په ويښه ادا كړه هغه ادا شوه بقيه به ادا كول وي.

## د اوده كيدو هغه لس طريقې چه په كومو اَودَس ماتيږي

(1) د ښپو په سر داسې ناست وي چه دواړه زنګونان ئې ولاړ وي (2) داسې ملاست وي چه ملا ئې لګيدلې وي (3) داسې اوده وي چه خيته ئې لګيدلې وي (4) په ښئ يا ګڅه ډډه ملاست اوده وي. (5) په يو څنګل ئې ډډه وهلې وي او اوده وي (6) په ناسته داسې اُوده وي چه يو طرف ته تِيټ شوې وي چه د هغې په وجه ئې يو يا دواړه سُرين اوچت شوي وي (7) [د څاروي] په لغړه ملا سور [اوده شوې] وي او څاروې مخ په ښكته كوزيږي(8) خيته ئې په ورنونو لګولې وي او داسې اوده وي چه سُرين ئې جوخت نه وي لګيدلي. (9) چه پرلت ئې وهلې وي او داسې ناست وي چه سر ئې په ورنونو يا په پنډو اېښودې وي [او اوده وي] (10) څنګه چه زنانه سجده كوي په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

دغه انداز سجده كښې اوده شو چه خيټه ئې د ورنونو سره او متې ئې د ډډو سره لګيدلي وي يا ئې مړوندونه په زمكه خواره پراته وي. دا ذِكَر كړې شوي حالتونه كه په نمانځه كښې پيښ شي او كه د نمانځه نه علاوه، اَودَس پرې ماتيږي. بيا په دې صورتونو كښې كه قصداً اوده شوه نو نمونځ ئې فاسِد [يعني مات] شو او كه بِلا قصد [يعني بې اِراده] اوده شوه نو اَودَس ئې مات شو خو نمونځ ئې مات نه شو. د اودس كولو نه پس [د مخصوصو شرطونو سره] باقي نمونځ په هم هغه ځائ كولې شي په كوم ځائ چه خوب ورغلې وو. كه شرائِط ورته نه وي معلوم نو د سره دِ بيا نمونځ اوكړي. (ماخوذ از فتاوىٰ رَضَوِيه ج١ ص٣٦٥ نه ٣٦٧)

## د انبياءِ كرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام اَودَس او خوب مبارك

د انبياءِ كرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام اَودَس په اوده كيدلو نه ماتيږي.

**فائِده:** د انبياءِ كرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ستركې اودې كيږي، زړه ئې كله هم نه اوده كيږي.(1) د اَودَس ځيني نواقِص (يعني د اَودَس ماتولو خيزونه) د انبياءِ كرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د پاره د اَودَس د ماتولو سبب نه وي ځكه چه د هغې كيدل د هغوئې د پاره مُحال دي (يعني هډو كيدې نه شي) لكه جُنون [يعني ليونتوب] يا په نمانځه كښې قهقهه [خندا] (2) بيهوشي هم د انبياءِ كرام عَلَيۡهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په ظاهري بدن


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

راتلې شي، زړه مُبارك به ئې په دې حالت كښې هم بيدار او خبردار وو.
(فتاوٰی رَضَوِيّه مُخرَّجه ج 4 ص 740)

## د جُماتونو اَودَس خانې

مِسواک کولو سره ځینې وخت د غاښونو نه وِینه راځي او لاړې هم د سُور والی په وجه ناپاکه شي، خو افسوس چه خلق احتياط نه کوي. د جُماتونو اَودَس د خانې نالۍ هم اکثر کمې جوَړې وي چه د هغې په وجه جامو او بدن ته د سرو لاړو د خُلې د اوبو څاڅکي کيږي او د کور د غسل خانې په پوخ فرش باندې د اَودَس کولو سره د دې نه هم زيات څاڅکی کيږي.

## په کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ

**نن** صبا په بيسن [يعني د لاس وينځلو په ځائ] کښې په ولاړه ولاړه د اَودَس کولو رواج دې او دا خلافِ مستحب دې. افسوس! خلق د سهولتونو نه ډکې غټې غټې بنګلې خو جوړوي خو په هغې کښې د اَودَسونو [جُدا] ځائ نه جوړوي. د سنّتو درد لرونکو اسلامی ورونړو په خدمت کښې مدني عرض دې چه که کيدې شي نو په خپل کور کښې کم نه کم د يوې تپتۍ د اَودَس ځائ ضرور جوړ کړئ. په دې کښې دا احتياط ضرورساتئ چه د تپتۍ داره سِيده په فرش باندې د لګيدو په ځائ په زوَرې [يعني ښوَينده ځائ باندې] لګې که نه وي نو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

دغاښونو نه د وينې وغيره راتلو په صورت کښې به هم هغه د ښاخکو لګيدو مسئَله جوړيږي. که تاسو محتاط اَودَس خانه جوړول غواړئ نو هم د دې رِسالې شاته ورکړې شوې نقشې نه مدد واخلئ. په ډبليو سی (W.C) کښې په اوبو باندې د استنجا کولو سره عام طور د دواړو ښپو کِيتمو [پړکو] طرف ته ښاخکې کيږي لِهٰذا د فراغت نه پس احتياطاً د ښپو دا حصّې وينځل پکار دي.

## د اَودَس خانې جوړولو طريقه

د کور د يو نل اَودَس خانې ټول پيمائِش يعنې اوګدوالې دوه نيم خلويښت اِنچ او پلن والي ئې پاؤکم پنځوس اِنچ، اوچت والي د زمکې نه پاؤکم څوارلس اِنچ، په هغې د پاسه ووه نيمې انچې نور د ناستې سِيټ د هغې عرض (يعنې پلن والې) دوه نيم ديرش اِنچ او اوګدوالي د يو سر نه واخله د بل سره پورې يعنې د پوړئ په شان، د دې ناستې د سِيټ او د مخامخ ديوال د مينځ فاصله 25 اِنچ، مخې طرف ته داسې چړهن [زوَړې] (Slope) جوړ کړئ چه نالئ د ووه نيم اِنچه نه زياته اَرته نه وي، د ښپو ايښودو د ځائ د ښپو د اوګدوالی نه معمولي زيات مثلاً چه ټول پاؤ باندې يوولس انچ وي، د ټول ځائ مخې ته حصه څلور نيم انچ زِيګ اوساتئ چه په هغې باندې مرِلو سره د ښپو خيرې (خاص طور په ګخنئ کښې) لرې کولې شي. د L



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

(ايل) يا U (يُو) په شان "مِکسچرنَل" [يعنې توتئ] د نالئ د زمکې نه 32 انچ پاس اولګوئ، د دې ترکيب داسې جوړ کړئ چه د اوبو داره په ښوينده ځائ (Slope) باندې پريوځي او ستاسو د پاره به د غاښونو د وينې وغيره نجاست نه بچ کيدلاِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ آسان شي. د معمولي تبديلئ سره په ځماتونو کښې هم په دې ترکيب سره اَودَس خانې جوړيدې شي.

**نوټ:** که چرې ټائلونه لګوئ نو په ښوَينده ځائ باندې سپين ټائلونه اولګوئ چه که چرې د مسواك کولو سره د غاښونو نه وينه راشي نو چه په لاړو وغيره کښې ښکاري.

## د "يا رَسُولِ خدا" د نهه حُروفو په نِسبت د اَودَس خانې 9 مدنی ګلونه

(1) که کيدې شي نو هم د دې رِسالې شاته ورکړې شوي نقشې نه رهنمائي حاصله کړئ او په خپل کور کښې اَودَس خانه جوړه کړئ.

(2) (د ګيلګار دليلونه مه منئ او) د ورکړې شوې نقشې مطابق په کور کښې د جوړې شوې اَودَس خانې د پاسنې (يعنې د ښپو د ايښودو د) فرش ليول دوه انچه مخ په ښکته (Slope) اوباسئ.

(3) که د يو نه زيات نلونه لګول غواړئ نو د يو نل نه د بل نل پورې د 25 اِنچه فاصله پريږدئ.


www.dawateislami.net

(4) د اَودَس خانې تونټۍ [د اوګدولو د پاره د تونټۍ نه مخکښ] د ضرورت مطابق نِيل اولګوئ.

(5) که پائِپ د ديوال د باهر نه لګوئ نو حسبِ ضرورت د ناستې سِيټ يو يا دوه اِنچ نور شا ته کړئ .

(6) غوره داده چه اول ئې کچه جوړ کړئ او يو دوه ځله په هغې کښېنئ يا پرې اَودَس اوکړئ او په ښه طريقه ئې اوګورئ، د هغې نه پس ئې بيا پوخ کړئ.

(7) د اَودَس خانې يا د حَمام وغيره په فرش که ټائِلونه لګوئ نو زاګه (Slip Resistance Tiles) ټائيلونه پرې لګوئ چه د ښوئيدو خطره کمه شي.

(8) د ښپو ايښودو د ځائ سر او د هغې سره ښکته د زوَرې ځائ کم نه کم دوه دوه اِنچه حصې باندې ټائل مه لګوئ بلکه هغه حصه په سيمنټو ښه زِيګه او کول جوړه کړئ چه ضرورتاً پرې د مرلو سره د ښپو نه خِيرې لرې کولې شي.

(9) د پخلي ځائ، غسل خانه، د بيتُ الخلا فرش، ارت انګنړ [صحن، غولې]، چت، د جُمات اَودَس خانه اوکوم کوم ځائ چه د اوبو د بهيولو ضرورت پريوځي د هغه ځائيونو د فرش مخ په ښکته (Slope) چه درته ګيلکار خومره اووائې د هغې نه يو په يوه نيمه (مثلاً که هغه دوه اِنچه اووائې نو تاسو ئې درې اِنچ) کړئ. ګيلکار خو به هم دا وائې چه تاسو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

فِکر مه کوئ يو ځاځکې اوبه به هم نه اودريږي،که تاسو د هغه په خبرو کښې راغلئ نو کيدې شي چه مخ په ښکته سلوپ به صحيح جوړ نه شي لِهٰذا که د هغه په خبره اِعتِماد اونه کړئ نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د دې فائده به تاسو پخپله اووينئ ځکه چه مُشاهِده هم داده چه اکثر په فرش وغيره باندې ځائ په ځائ اوبه ولاړې وي.

## د چا چه اَودَس زر ماتيږي د هغه د پاره شپږ احکام

(1) [ د بَولو وغيره] د ځاځکی راتلو، د شا طرف نه هوا خارج کيدو، د زخم د بهيدو، د خُوږ سترګې نه د مرض په وجه اوښکې بهيدلو، د غوږ، نوم، سينې نه د اوبو وتلو، د دانې يا ناسُور نه رطوبت [يعني لوند والې] بهيدلو او د دست راتلو سره اَودَس ماتيږي که چا ته داسې مرض مسلسل جاري وي او د شروع نه د آخره پورې يو وخت تير شو چه د اَودَس سره ئې فرض نمونځ ادا نه کړې شو هغه شرعاً مَعذور دې. په يو اَودَس باندې په هغه وخت کښې چه څومره نمونځونه غواړي او دې ئې کړي. د هغه اَودَس به په دې مرض نه ماتيږي.

(بهارِشريعت ج1 ص385، درمختار و ردالمحتار ج1 ص553)

دا مسئله په اسانو لفظونو کښې د بيانولو کوشش کووم. داسې قسم مريض او مريضه دِ د خپل عُذرِ شَرعي کيدو يا نه کيدو اندازه داسې اوکړي چه د دوو فرض نمونځونو د مينځ په وخت کښې دِ کوشش


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طبرانی)

اوکړي چه اَودَس اوکړي او د پاکئ سره کم از کم فرض نمونځ ادا کړي شي. د پوره وخت په مينځ کښې د بيا بيا کوشش کولو باوجود که دومره مهلت مِلاؤ نه شو، هغه داسې چه کله خو د اَودَس په مينځ کښې عُذر لاحق شي او کله د اَودَس مکمل کيدو نه وروسته د نمانځه په ادا کولو کښې، تر دې چه آخري وخت راغې نو اوس هغوئي ته اجازت دې چه اَودَس اوکړي او نمونځ ادا کړي، نمونځ به اوشي، اوس که د نمانځه په دوران کښې د بيمارئ په وجه د بدن نه نجاست هم خارج کيږي [نمونځ به اوشي]. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام فرمائي: که د چا پوزه ماته شوه يا د هغه زخم په بهيدو شو نو هغه دِ د آخري وخت انتظار اوکړي که وِينه بنده نه شي (بلکه که مسلسل يا ساعت په ساعت جاري وي) نو د وخت د وتلو نه دِ مخکښې اَودَس اوکړي او نمونځ دِ ادا کړي. (اَلْبَحْرُالرَّائِق ج1 ص374373)

(2) د **فرض** نمونځ د وخت په تيريدو د مَعذور اَودَس ماتيږي لکه څنګه چه چا د ماذيګر په وخت کښې اَودَس کړې وو نو د نمر د پريوتو سره د هغه اَودَس مات شو او که چا د نمر د راختلو نه وروستو اَودَس اوکړو نو چه د څو پورې د ماسپښين وخت ختم نه وي اَودَس به ئې نه وي مات، ځکه چه تر اوسه پورې د يو فرض نمونځ وخت نه دې تيرشوې. د فرض نمونځ وخت چه څنګه تير شي نو د معذور


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

اَودَس مات شی او دا حكم به په دې صورت كښې وي چه د مَعذور عُذر د اَودَس كولو په دوران كښې يا د اَودَس نه وروستو ظاهر شي كه داسې نه وي او بل څه حدث (يعني د بې اَودَسۍ څه بل سبب) هم نه وي پيښ شوې نو د فرض نمونځ د وخت په تيريدو به اَودَس نه ماتيږي. (بهارِشريعت ج1ص386، درمختار، رَدُّالْمُحتار ج1 ص555)

(3) چه عُذر ثابِت شو نو د خو پورې چه د نمانځه په يو پوره وخت كښې يو پيره هم هغه عُذر پيښ شي نو معذور به ګڼرلې شي. مثلاً د چا چه په پوره وخت كښې خاڅكې راتلو او هغه ته دومره موقع هم مِلاؤ نه شوه چه هغه اَودَس اوكړې او فرض ادا كړې نو مَعذور شو. بيا په نورو وختونو كښې ورته دومره موقع ملاويږي چه اَودَس اوكړې او نمونځ اوكړې خو يو ځل نيم ئې خاڅكې راځې نو اوس هم مَعذور دې. خو كه پوره يو وخت داسې تير شو چه يو ځل هم خاڅكې رانغلو نو مَعذور پاتې نه شو بيا چه كله هغه مخكښني حالت راغلو (يعني پوره وخت مسلسل مرض شو) نو بيا معذور شو. (بهارِشريعت ج1 ص385)

(4) د مَعذور اَودَس په هغه شي نه ماتيږي د څه په وجه چه هغه مَعذور دې خو كه بل څه اَودَس ما توونكې خيز پيښ شي نو اَودَس ئې مات شو. مثلاً د چا چه د هوا د خارج كيدو مرض وي نو د



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووم). (اِبنِ بشكوال)

خاڅكى په وَتلو سره به د هغه اَودَس مات شي او د چا چه د خاڅكي مرض دې د هغه به د هوا د خارج كيدو سره اَودَس مات شي.

(بهار شريعت ج1 ص386)

(5) مَعذور د څه حدث (يعني د اَودَس ماتونكي څه عمل) نه پس اَودَس اوكړواودَاَودَس كولو په وخت كښ هغه څيزنشته دَځه په وجه چه مَعذور دې بيا د اَودَس نه پس هغه د عُذر والا څيز پيښ شو نو اَودَس مات شو(دا حكم به په هغه صورت كښ وي چه كله معذور د خپل عذر نه سِوا څه په بله وجه اَودَس كړې وي او كه د خپل عذر په وجه ئې اَودَس كړې وي نو د اَودَس نه پس دَعذر پيښيدو په صورت كښ به ئې اَودَس نه ماتيږي)مثلاً چه د چا خاڅكي راتلل او د هغه هوا خارج شوه او هغه اَودَس اوكړو او د اَودَس كولو په وخت كښ ئې خاڅكي بند وو او د اَودَس كولو نه پس ئې خاڅكي راغي نو اَودَس ئې مات شو. خو كه د اَودَس په مينځ كښ ئې خاڅكي جاري وو نو اَودَس مات نه شو.

(بهار شريعت ج1 ص387، درمختار، رَدُّالْمُحتار ج1 ص557)

(6) كه معذور ته داسې عذر وي چه د هغې په وجه كپړې ناپاكه كيږي نو كه د يو دِرهم نه زياتي ناپاكه شوې او پوهيږي چه دومره وخت شته دې چه دا وينځلې شم او په پاكو كپړو كښ نمونځ كولې شم نو فرض دي چه دا اووينځي او نمونځ پكښ اوكړي او كه پوهيږي چه په نمونځ كولو كولو كښ به بيا هم هغه همره ناپاكه شي نو بيا

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ماباندې درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

وينځل ضروري نه دي. هم په دغه [كپړو] كښې دې ئې اوكړي اګر كه مُصلّٰی هم ګنده شي بيا به هم د هغه نمونځ اوشي. (بهارِ شريعت ج1 ص387)
(دمعذور د اَودَس تفصيلي مسائِل فَتاوٰی رَضَوِيّه جلد4 صفحه367 تا 375، بهارِ شريعت جلد 1 صفحه 385 تا387 نه معلوم كړئ)

## ووه مُتفرِّقات

(1) واړه بَول، غټ بَول، وَدي، مَذي، مَني، چينجي يا شګه دَ نارينه يا دَ زنانه دَمخكښې ياد َ شادَ مقام نه اوځي نو اَودَس به مات شي. (فَتاوٰی عالمګيری ج1 ص9) (2) د نارينه يا دَ زنانه دَ شا دَ مقام نه معمولي شان هوا هم خارجه شوه اَودَس مات شو. دَ نارينه يا دَ زنانه دَ مخكښې مقام نه هوا خارجه شوه نو اَودَس ورسره نه ماتيږی. (ايضاً، بهارِ شريعت ج1 ص304) (3) د بيهوشه كيدو سره اَودَس ماتيږي. (فَتاوٰی عالمګيری ج1 ص12) (4) ځيني خلق وائي چه دَ خِنزير د نوم اغستو سره اَودَس ماتيږي ادا غلطه ده. (5) د اَودَس كولو په دوران كښې كه هوا خارجه شي يا په بله څه وجه اَودَس مات شي نو دَ نوي سر نه اَودَس اوكړئ مخكښې وِينځلي شوي اندامونه ناوينځلي شو. (فَتاوٰی رَضَوِيّه مُخرَّجه ج1 ص255) (6) قُرآنِ پاک يا د دې يو آيت يا كه په هره ژبه كښې د قُرآنِ پاک ترجَمه وي هغې ته بې اَودَسه لاس لګول حرام دي. (بهارِ شريعت ج1 ص326، 327 وغيره) (7) آيت ته د لاس لګولو نه بغير په كتلو يا په يادو بې اَودَسه لوستلو كښې باک نشته.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

## دَ آيت ليکلي شوي کاغذ شا ته د لاس لګولو مسئله

په **کتاب** يا **اخبار** [وغيره] کښې چه کوم ځائ آيت ليکلې شوې وي، خاص هغه ځائ ته بې اَودَسه لاس لګول جائِز نه دي. که هم هغه طرف ته چا لاس اولګوو په کوم طرف چه آيت ليکلې شوې دې يا د هغې شا ته (يعني د ليکلي شوي آيت رسا شا ته) دواړه **ناجائِزه** دي. (آيت يا د هغې رسا شا ته حصّې نه علاوه)، باقي پاڼرې ته په لاس لګولو کښې باك نشته، لوستل بې اَودَسه هم جائِز دي. که د لامبلو حاجت [يعني غسل کول فرض] وي نو (لوستل) هم حرام دي. وَاللّٰہُ تَعَالٰی اَعلَم.

(فَتاوٰی رَضَوِيّه مُخرّجه ج 4 ص 366)

## بې اَودَسه د قرآن مجيد يو ځائ ته هم لاس نه شي لګولې

**بې اَودَسه** آيت ته لاس لګول خو حرام دي اګر که آيت په بل کوم يو کتاب کښې ليکلې شوې وي خو د قرآنِ مجيد ساده حاشيه بلکه [د هغې ګټې]، بلکه کومه کپړه يا خرمن چه په ګټه پورې نخښتې يا ګنډلې شوي وي هغې ته لاس لګول هم حرام دي، خو که په "کخوړه" کښې وي نو کخوړې ته لاس لګولې شي. بې اَودَسه خپلې سينې ته هم قرآن شريف نه شي لګولې. که د بې اَودَسه په څټ [يا اُوګه وغيره] باندې د اوګد ځادر يو ګوټ پروت وي او د هغې بل ګوټ په لاس کيږدي او قرآن شريف ته لاس لګول غواړي، که ځادر دومره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

اوکډ وي چه د دې کس د کښیناستو پاشیدو سره د هغې بل کوټ ته حرکت نه رسي [یعني نه خوزیږي] نو جائِز دي، کنې نه [یعنې که داسې نه وي نو ناجائِزه دي]. (فتاوٰی رَضَوِیّه مُخرّجه ج4 ص724،725)

## په اَودَس کښې د اوبو اِسراف

نن صبا اکثر خلق په اَودَس کولو کښې تیز نل چالو کړي او ډیرې زیاتې اوبه تویوي. تر دې چه ځینې چه څنګه اَودَس خانې ته را اورسي نو مخکښې نل چالو کړي او د هغې نه وروستو بیا لِستونړي په بره کوي د دومره وخته پورې مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ اوبه ضائِع کیږي، هم دغسې د مَسَحُ کولو په دوران کښې اکثر خلق نل چالو پریږدي! مونږ ټولو له د الله عَزَّوَجَلَّ د ډیرې په وجه د اِسراف نه بچ کیدل پکار دي، د قیامت په ورځ به د زرّې زرّې او د خاخکې خاخکې حساب کیږي. د اِسراف د مُذَمَّت په باره کښې څلور احادیثِ مبارکه اولولئ او د خوفِ خداوندي عَزَّوَجَلَّ نه اولړزیږئ.

## (1) په جارۍ نهر باندې هم اِسراف

دَ الله عَزَّوَجَلَّ خوږ رسول، رسولِ مَقبول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ باندې ورغلو هغوئي اَودَس کولو. اِرشاد ئې ورته اوفرمائیل: دا اِسراف څنګه؟ عرض ئې اوکړو، آیا په اَودَس کښې هم اِسراف شته؟ اوئې فرمائیل: "آو اګر که ته په جارۍ نهر ئې".


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم.(شُعَبُ الاِيمان)

(ابنِ ماجه، ج1ص254، حديث425)

# د اعلٰحضرت فَتوٰی

زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د دې حديث لاندې فرمائي: حديث په جارى نهر کښې هم اِسراف ثابِت کړو او اِسراف په شَرع کښې د شروع نه مذموم راغلي دې، آية کريمه:

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الۡمُسۡرِفِيۡنَ ﴿۱۴۱﴾ (پ8الاِنعام 141)

(مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: بيشکه بې ځايه خرچ کوونکې هغه نه خوښوي)

مُطلَق دې نو دا اِسراف به هم ضرور مَذموم او منع وي **بلکه بخپله اِسراف فِي الوضو کښې صِيغهٔ نهي وارِد او نَهي حَقِيقَةً مُفيدِ تَحرِيم.**(يعني په اَودَس کښې د اِسراف د منع حکم راغلي دې او په حقيقت کښې د منع کولو حکم حرام کيدل ثابِت کوي). (فَتاوٰی رَضَويه ج1 ص 731)

# د مُفتي احمد يار خان تفسير

مُفَسِّرِ شهير حضرت مفتى احمد يار خان عَلَيۡهِ رَحۡمَةُ اللّٰهِ الۡحَنَّان د اعلٰحضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په فَتوٰی کښې ذکر کړې شوي د سُورةُ الاَنعام د 141 نمبر آيت لاندې د بې ځايه خرچ (يعني اِسراف) په باره کښې ليکی:"په ناجائِزه ځائ کښې خرچ کول هم بې ځايه خرچ دې او د ټول مال په خرچ کولو خپل بال بچې فقيران جوړول هم بې ځايه خرچ دې، د ضرورت نه زيات خرچ کول هم بې ځايه خرچ دې ځکه د اَودَس



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه.(طَبَرَانِي)

اندامونه (د شريعت د اِجازت نه بغير)څلور ځله وينځل اِسراف منلي شوي دي". (نورالعرفان ص 232)

## (2) اِسراف مه کوه

حضرت سَيِّدُنا عَبدُ الله بِن عُمر رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُمَا فرمائي: د الله عَزَّوَجَلَّ خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يو کس په اَودَس کولو اوليدو اوئي فرمائيل: " اِسراف مه کوه اِسراف مه کوه."

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج 1 ص 254 حديث 424)

## (3) اِسراف شيطاني کار دي

د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُ نه رِوايت دي، په اَودَس کښې ډيرې زياتې اوبو بهيولو کښې هيڅ خير نشته او دغه کار د شيطان له طرفه دي. (کَنزُالعُمَّال ج 9 ص 144 حديث 26255)

## (4) دَ جَنَّت سپين محل غوښتل څنګه دي؟

حضرت سَيِّدُنا عَبدُ الله اِبنِ مُغَفَّل رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُ د خپل ځوئ نه داسې دُعا واوريده چه يا اِلٰهی! عَزَّوَجَلَّ زه ستا نه د جنّت د ښې طرف والا سپين محل غواړم.نو ورته ئې اوفرمائيل: اے زما ځويه! د الله عَزَّوَجَلَّ نه جنّت غواړه او د دوزخ نه د هغه پناه غواړه. ما دَ رَسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چه په دې اُمَّت کښې به هغه قوم


www.dawateislami.net

وي چه په اَودَس او دُعا کښې به د حد نه تَجاوز کوي [يعني د حد نه به اوړي]. (سنن ابو داؤد ج 1 ص 68 حديث 96)

مُفَسِّرِ شهير حَكِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتی احمد يارخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الْحَنَّان دَ دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: "په دُعا کښې د حد نه اوړيدل خو دا دې چه د داسې خبرې تَعَيُّن اوکړې شي چه د هغې ضرورت نه وي څنګه چه د هغوئ صاحبزاده [يعني د هغوي ځوئ] اوکړو. فِردوس (کوم چه د ټولو نه اعلیٰ جنّت دې د هغې) غوښتل ډير غوره دي ځکه چه په هغې کښې شخصي تعيُّن (يعني د خپل طرف نه مقرر کول) نشته، نوعي تَقَرُّر دې (يعني قِسم مقررکول دي) او د دې حکم ورکړې شوې دې.
(مِراٰةالمناجيح ج 1 ص 293)

## بد ئې اوکړل او ظُلم ئې اوکړو

يو اَعرابِي د حضور سَيِّدِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اقدس کښې حاضر شو او د اَودَس په باره کښې ئې تپوس اوکړو، حُضورِ اَقدس صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئې په مخکښې اَودَس اوکړو چه په هغې کښې ئې يو يو اندام درې درې ځله اووِينځلو بيا ئې اوفرمائيل: اَودَس داسې دې، نو چه څوک د دې نه زيات اوکړې يا کم اوکړې هغه بد اوکړل او ظُلم ئې اوکړو. (سُنَن نَسائی ص 31 حديث 140)

## اِسراف صرف په دوو صورتونو کښې ګناه ده


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

زما آقا اعلٰحضرت امام احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن ليكي: دا وَعِيد په دې صورت كښې دې چه كله په دې عقيده زياتې اوكړې چه زياتي كول سُنّت دي. خو كه تَثلِيث (يعني درې ځله وينځل) ئې سُنَّت اومَنل او په اَودَس دَ پاسه د اَودَس كولو په اراده يا دَ شك په وخت كښې د زړه دَ تَسَلِّیٔ د پاره يا تَبرِيد(تَب.رِيد يعني د اندامونو د يخولو د پاره) يا تَنظِيف (يعني د صفائي)د پاره ئې زيات اوكړل يا ئې د څه حاجت په وجه كمي اوكړو نو هيڅ باك نشته. **صرف په دوو صورتونو كښې اِسراف** [يعني زيات خرچ كول] **ناجائِزه او ګناه ده يو دا چه څه د ګناه په كار كښې ئې خرچ او استعمال كړي، بل دا چه صرف بيكاره خپل مال ضائع كړي.** په اَودَس او غُسل كښې د درې ځلو نه زيات اوبه اړول هله چه د صحيح غرض (يعني جائِز مقصد) د پاره وي هيڅ كله اِسراف نه دې ځكه چه د جائِز غرض دَ پاره خرچ كول نه بخپله ګناه ده نه بيكاره ضائع كول دي. (فَتاوٰی رَضَوِيه ج 1 جزب ص 940 تا 942)

## عملي طور اَودَس زده كړئ

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چه د ښودنې د پاره بخپله عملي طور د بل په مخكښې اَودَس كول د سنّت نه ثابِت دي. مُبَلِّغينو ته پكار دي چه په دې باندې عمل اوكړي او بغير د اِسراف نه صِرف د ضرورت مطابق په اوبو بهيولو د درې درې ځله اندامونو وِينځلو سره د ښودنې د پاره د اسلامى ورونړو په مخكښې


www.dawateislami.net

اَودَس اوکړي. بالکل د شریعت د اِجازت نه بغیر چه یواندام هم څلور ځله اونه وِینځلې شي د دې خیال ساتل پکار دي، بیا که څوک په خپله طَبعه خپله اِصلاح کول غواړي هغه دِ هُم دَ مُبَلِّغ په مخکښې اَودَس اوکړي او دَ مُبَلِّغ په ذریعه دِ خپلې غلطیانې لرې کړي. د دعوتِ اِسلامی د **سُنّتونو د تربیّت** په مدني قافِلو کښې د **عاشِقانِ رسول** په صُحبَت کښې دا مَدَني کار په ډیره ښه طریقه سره کیدې شي. صحیح اَودَس کول ضرور ضرورضرور زده کړئ. صرف یو دوه ځله د اَودَس طریقه په لوستو سره په صحیح مَعنوکښې اَودَس کول زده شي دا ډیر مشکل دي. بیا بیا مَشق کول غواړي.د اَودَس زده کولو دپاره د دعوتِ اسلامي اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه** نه جاري شوي V.C.D بنام ''وضو کا طریقه'' کتل ډیر زیات فائده مند دي.

## د جُمات او د مدرَسې د اوبو اِسراف

د جُمات او د مدرسې د اَودَس خانو اوبه د ''وقف'' په حکم کښې دي. د دې او د خپل کور د اوبو په احکامو کښې فرق دې. کوم خلق چه د جُمات په اَودَس خانو کښې په بې دردئ سره اوبه بَهیوي بلکه په اَودَس کښې بې ضرورته صرف د غفلت یا د جَهالت په وجه د دریو نه زیات ځله اندامونه وِینځي هغه دِ په دې مُبارَکه فَتویٰ غور اوفرمائي، د الله عَزَّوَجَلَّ د یري نه دي اورلزیږي او توبه دِ اوکړي. چنانچه زما آقااعلٰحضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ عَلّامه مولانا اَلشّاه اِمام اَحمَد



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس (يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

رَضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: ''که دَ وقف په اوبو ئې اَودَس اوکړو نو زيات خرچ کول بِالاِتِّفاق حرام دي ځکه چه په دې کښې د زيات خرچ کولو اِجازت نه دې ورکړې شوې او د مَدرسو اوبه هم د دې قِسم نه دي چه هغه د هغه خلقو دپاره وقف وي څوک چه شَرعي اَودَس کوي.'' (فَتاوٰی رَضَوِيّه ج1 ص658)

خوږو خوږو اِسلامی وروڼړو! څوک چه ځان د اِسراف نه بچ کوي هغه لره پکار دي چه مملوکه (يعني د خپل مِلکِيت) مثلاً د خپل کور په اوبو اَودَس کوي. مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د دې دا مطلب نه دې چه د ذاتي اوبو د اِسراف اِجازت دې بلکه په کور کښې دِ ښه مَشق اوکړي چه شَرعي اَودَس کول زده کړي چه بيا دَ جُمات د اوبو د اسراف کولو د حرام مُرتَکِب نه شي.

## د''احمد رضا'' د ۷ حروفو په نِسبت د اعلٰحضرت له طرفه د اِسراف نه د بچ کيدو۷ طريقې

(1) ځيني خلق په چونګ کښې اوبه داسې اچوي چه د ډکيدو سره ترې اخوا ديخوا واوړي حالانکه کومې چه واوښتې هغه بيکاره لاړې د دې احتياط پکاردې.

(2) هر چونګ ډک ضروري نه دې بلکه چه د کوم کار د پاره ئې اخلئ د هغې اندازه کوئ مثلاً په پوزه کښې دَ نرم هډوکي پورې د اوبو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

خيژولو د پاره د پوره چونګ څه ضرورت دې، نيم هم کافي دې بلکه ډک چونګ خو د خُلې د وِينځلو د پاره هم نه دې پکار.

(3) د **لوټې** تونټئ درميانه پکار ده، نه دومره تنګه چه اوبه په ډير وخت کښې راپريږدي او نه دومره فراخه چه د حاجت نه ډيرې اوبه اړوي، د دې فرق داسې معلوميدې شي چه په کټورو [يعني د غټې خلې په لوښو] کښې اوبه واخلې او اَودَس پرې اوکړې نو ډيرې اوبه خرچ کيږي هم دغسې د فراخه تونټئ نه بهيول د زيات خرچ باعث دې.که لوټه داسې (يعني فراخه تونټئ والا) وي نو احتياط دِ کوي، پوره داره دِ ترې نه اړوي بلکه نرئ [داره دِ استعمالوي] (په نل چالو کولو کښې هم د دې خبرو خيال ساتئ)

(4) د **اندامونو** د وِينځلو په وخت کښې دِ په هغې باندې لوند لاس راښکاږي بيا پرې اوبه بنې بهيږي او لږې (اوبه) د ډيرو (اوبو) کار ورکوي خصوصاً د يخنئ په موسم (يعني په جمې) کښې د دې زيات حاجت دې ځکه چه په اندامونو کښې خُشکې وي او بهيدونکې داره په مينځ کښې خالې ځائ پريږدي څنګه چه مُشاهِده (يعني ليدلې کتلې خبره) ده.

(5) که په **مرِوندونو** هم ويښته وي نو او ئې تراشئ [يعني مشين ئې کړئ] ځکه چه دا وي نو اوبه زياتې غوارې او د خرَئِيلو سره سختيږي



www.dawateislami.net

او تراشل ئې په مشين غوره دي ځکه چه ښه صفائي کوي او د تهولو نه اَحسَن او اَفضَل نُوره(يو قِسم بال صفا پوډر) دي ځکه چه په دې اندامونو کښې هم دا د سنّت نه ثابت دي. چنانچه اُمُّ الْمُؤمِنِين سيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه کله د نُوره استعمال فرمائيلو نو په سَترِ مُقَدَّس به ئې پخپلو لاسو مُبارکو لګولو او په باقي بدنِ مُنَوَّر باندې به ورته ازواجِ مُطهَّرات رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُنَّ لګولو. (ابنِ ماجه ج٤ ص ٢٢٦ حديث٣٧٥١) او که داسې اُونه کړئ نو د وِينځلو نه مخکښې ئې په اوبو ښه لامده کړئ چه تهول وينښته خواره شي، ګنې که د وينښتو په جرړو اوبه تيرې شوې او په څوکو ئې اُونه بهيدلې نو اَودَس اُونه شو.

(6) په لاسونو او ښپو چه د لوتې د توتېۍ نه اوبه اچوئ نو د نوکانو نه د ښنګلې پورې يا [د ښپو د نوکانو نه] د ګيټو [پړکو] پورې ئې عَلَى الْاِتِّصَال (يعنې مسلسل) کوزوئ چه په هرځائ باندې يو پيره اوبه تيرې شي. چه کله اوبه توئيږې او لاس په خوزيدو کښې ډير وخت اخلې نو په يو ځائ به مُکرّر (يعنې بيا بيا) تويږي (او دغسې به د اِسراف صورت پيدا کيږي).

(7) څينې خلق داسې کوي چه د [لوټې توټېۍ د لاس د] نوکانو نه د ښنګلې پورې يا (د ښپو) د ګيټو [پړکو] پورې په بهيولو راولې بيا د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شریف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را لیږي. (ابن عدي)

دویم یا دریم ځل د پاره چه بیرته د نوکانو طرف ته بوځي نو لاس نه اودروي او په بهیدلي داره [توتې د نوکانو طرف ته] بوځی، داسی مه کوئ ځکه چه د درې په ځائ به پینځه ځله شي بلکه هره پیره ښنګل یا د ښنپې ګیتې [پرکي] ته چه را اورسي نو بهیول بند کړئ او بنده توتې د نوکانو پورې یوسئ او د هغه ځائ نه [بیا اوبه بهیول] شروع کړئ چه سنّت هم دا دي چه د [لاسونو د] نوکانو نه د ښنګلو او [د ښپو د نوکانو نه] ګیتو [پرکو] طرف ته اوبهیږي، نه چه د دې مخالِف. (یعني د ښنګل یا د ګیتو [پرکو] نه نوکانو طرف ته اوبه په بهیولو سره ورل سنّت نه دي)

**قولِ جامِع** دا دې چه د سلیقې [یعني دمناسب طریقې] نه کار اخلئ. اِمامِ شافِعی رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیہ څه ښه فرمائیلی دی: ''که په سلیقه سره ئې راواخلئ نو لږ هم کافي دي او که په بدسلیقګۍ سره وي نو ډیر هم کفایت نه کوي.''[2]

## د اِسراف نه د بچ کیدو 14 مدني ګلونه

(1) دنن پورې چه هم څومره ناجائِزه اِسراف کړې دي، د هغې نه توبه اوکړئ او آئِنده د بچ کیدو پوره کوشش شروع کړئ.

(2) **سوچ او فکر** اوکړئ چه داسې صورت مُتَعَیَّن شي چه اَودَس او غُسل هم د سُنَّت مُطابِق اوشي او اوبه هم کم نه کم خرچ شي،

[2] از افادات فتاوی رضویه ج1 ص765 تا 770


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذِی)

خپل ځان اويروئ چه د قيامت په ورځ به د يوې يوې زرّې او د خاخکې خاخکې حساب کيږي. الله تبارك وتعالٰی په سيپاره 30 سُوۡرَۃُ الزِّلۡزَال آيت نمبر7 او8 کښې ارشاد فرمائي:

فَمَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّۃٍ خَیۡرًا یَّرَہٗ ؕ﴿۷﴾ وَ مَنۡ یَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّۃٍ شَرًّا یَّرَہٗ ﴿۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: خوك چه د يو زرّې همره نيکي اوکړي هغه به ويني او خوك چه د يو زرّې همره بدي اوکړي هغه به ويني.

(3) د اَودَس په وخت کښې نَل په احتياط سره چالو کوئ، که کيدې شي نو د اَودَس په وخت کښې يو لاس د نل د پاسه ساتئ او د ضرورت په پوره کيدو سره زر زر نل بندوئ.

(4) د نل په مُقابَله کښې په لوټه اَودَس کولو کښې اوبه کمې خرچ کيږي. که د چا نه کيدې شي نو هغه دِ په لوټه اَودَس کوي، که د نل نه بغير ګزاره نه شي کيدې نو داهم کيدې شي چه د کومو اندامونو په وِينځلو کښې آساني وي هغه په لوټه اووينځئ. په نل اَودَس کول جائِز دي، بس په څه شان د اسراف نه د بچ کيدو طريقې اختيارول پکار دي.


www.dawateislami.net

(5) د **مسواک** کولو، د خُلې وِينځلو، د غرغرې کولو، د پوزې پاکولو، د کِيرې او د ګوتو د خِلال او د مسح کولو په وخت کښې يو ښاخکې هم نه خلاصوئ، داسې د نل صحيح بندولو عادت جوړ کړئ.

(6) خاص طور په جمې کښې د اَودَس يا د غسل کولو او د لوښو يا جامو وِينځلو د پاره د ګرمو اوبو د حاصلولو د پاره په پائِپ کښې جمع شوې يخې اوبه هسې د بهيولو په ځائ مخکښې په څه لوښې کښې د ويستلو ترکيب جوړوئ.

(7) **لاس** يا مخ وينځلو د پاره د صابون زګ جوړولو کښې هم اوبه په احتياط سره خرچ کوئ. مثلاً د لاس وِينځلو د پاره په لاس کښې د اوبو يو څو ښاخکې اچولو سره د صابون زګ جوړيدې شي او که د مخکښې نه هم صابون په لاس کښې وې او اوبه پرې را واچوئ نو اوبه زياتې خرچ کيدې شي.

(8) د **استعمال** نه پس په داسې صابون دانئ کښې صابون کيږدئ چه په هغې کښې اوبه بالکل نه وې، قصداً په اوبو کښې صابون اينښودلو سره به صابن په وِيلې کيدو سره ضائِع شي. د لاس وينځلو د بيسن په غاړو هم صابن اينښودل نه دي پکار، ځکه چه د اوبو په وجه هغه زر وِيلې کيږي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بېشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

(9) د ښنبلو نه پس په ګلاس کښې پاتې شوې اوبه د اړولو په ځائ په بل ځا اوښنبئ يا په بل څه کښې ئې استعمال کړئ.

(10) نن صبا په ميوه، کپړو، لوښو، فرش، بلکه د چائے پيالئ يا يوه قاشوغه وِينځلو کښې د غيرضروري اوبو بهيولو دومره زيات رواج دې چه حَسَّاس او زړه سواندي کس ورته کتلې نه شي!!! اے کا ش!

شايد که اُتر جائے ترے دل ميں مِری بات

مفهوم: کيدې شي چه زما خبره ستا زړه ته کوزه شي

(11) په **اکثرو** جماتونو،کورونو، دفترونو، دُکانونو وغيره کښې بې فائِدې شپه او ورځ بلبونه بَل، A.C او پکي چليږي، د ضرورت پوره کيدو نه پس بلبونه، او پکي او A.C او کمپيوټر وغيره د بندولو عادت جوړ کړئ، مونږ ټولو ته د آخِرت د حِساب نه يريدل او په هره معامله کښې د اِسراف نه هميشه بچ کيدل پکاردي.

(12) په **اِستِنجاخانه** کښې لَوټه استِعمالوئ ځکه چه په فُواره باندې په طهارت [يعني استنجا] کولو کښې اوبه هم زياتې خرچ کيږي او ښيو ته هم اکثر داري کيږي. هر يو لره پکار دي چه هره پيره د بَولو نه د فارِغ کيدو نه پس يوه لوټه اوبه لړې د W.C په غاړو باندې اوبهيوي او بيا لړ دَ بَره نه (خو د څاڅکو نه د بچ کيدو د احتياط سره) په غټ سُورې کښې وَر واړوي اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ په بدبوئ او د جراثيمو په پيدا کيدو


www.dawateislami.net

کښې به کمې کيږي. د "فلش ټينک" په ذريعه د صفائې سره اوبه ډېرې زياتې خرچ کيږي.

(13) که د نَل نه اوبه څڅيږي نو د دې فوراً څه حَل اوباسئ که نه وي نو اوبه به مسلسل ضائع کيږي، اکثر د جماتونو او د مدرسو نلونه خاڅي او د دې څوك تپوس کونکې نه وي، انتِظاميه ته پکار دي چه د خپلې ذمه دارئ احساس کوي او د خپل آخِرت د بهترئ د پاره فوراً څه ترکيب جوړوي.

(14) د ډوډئ خوړلو. چائے يا نور د څه څښلو، ميوه پريك کولو وغيره کارونو کښې ښه احتياط کوئ چه هره دانه، هره ذرّه او هر يو څاڅکې استعمال شي.

## د 40 مدني ګلونو رَضَوِي ګلدسته

(ټول مدني ګلونه د فتاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه د ج 4 په آخره کښې ورکړې شوې د "فوائد جليله" صفحه 613 تا 746 نه اخستې شوې دي)

(1) په **اوداسه** کښې دِ سترګې کلکې نه بندوي خو [که بندې ئې کړې نو] اَودَس به اوشي (2) که شونډې ئې ښې کلکې بندې کړې او **اَودَس** ئې اوکړو او خُله ئې او نه وينځله نو اَودَس به نه کيږي. (3) د اوداسه اوبه به د قيامت په ورځ د نيکو په **تَلَه** کښې اينښودلې شي. (خو ياد ساتئ د ضرورت نه زياتې اوبه توئ کول اسراف دې) (4) که مسواك موجود وي نو په ګوته



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

باندې غاښونه مړل د **سُنّت** ادا كولو او د ثواب ګټلو د پاره كافي نه دي، خو كه مسواك نه وي نو ګوته يا زګه كپړه باندې به **سُنّت** ادا شي او د ښځو د پاره كه مسواك موجود وي بيا هم په [ګوته وغيره] **مړل** كافي دي (5) كه ګوتئ سَسته وي نو په **اوداسه** كښې په تاوهلو سره په **هغې** اوبه اچول **سُنّت** دي او كه تنګه وي چه د خوزولو نه بغير اوبه نه رسي نو **فرض** دي، هم دا حڪم د والَئ (د غوږ د كالي) وغيره دې (6) اندامونه په مړلو مړلو وِينځل په **اَودَس** او **غسل** دواړو كښې **سُنَّت** دي (7) د اَودَس د اندامونو په وينځلو كښې د شرعي حد نه دومره معمولي شان لِيكه (يعنې د هر طرف نه معمولي غوندې) زياتول چه په هغې د شرعي حد پوره كيدو كښې شك پاتي نه شي **واجب** دي. (8) په اَودَس كښې په خُله يا پوزه كښې اوبه نه اچول مكروه دي او كه دا عادت جوړ كړي نو ګنهګار به وي. دا مسئَله دِ هغه خلق ښه ياده لري څوك چه خُله داسې نه وينځي چه د حلقه پورې هر ځاۓ اووينځلې شي او هغه خلق چه اوبه صرف پوزې ته اولګوي، په راښكلو ئې پورته نه خيژوي دا خلق ټول **ګنهګار** دي، او كه په غسل كښې داسې اُونه كړي نو د سَرَه به نه **غُسَل** كيږي او نه نمونځ (9) په اَودَس كښې د هر يو اندام پوره درې ځله وينځل **سُنّتِ مُؤَكَّده** دي، د پرېښودلو په عادت به ګنهګار وي (10) په اودس كښې تادي نه ده پكار بلكه په اِطمِينان او احتياط سره دِ ئې كوي.په عوامو كښې چه دا مشهوره ده چه ''اَودَس د ځوانانو په شان، او نمونځ د بوډاګانو په شان'' دا دَ اَوداسه په باره كښې



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

غلطه ده (11) په مخ وينځلو کښې دِ اوبه نه په اننګو باندې اچوي نه په پوزه نه په زوره په تندي باندې، دا ټول کارونه د جُهّال (يعنې د جاهلانو) دي بلکه په قلاره دِ ئې د **تندي** د بره نه اچوي چه د **زنې** پورې ښکته رابهيږي (12) که چا په اَودَس کښې د مخ نه راتوئيدونکي اوبه [په بل اندام] مثلاً په مړوند اوبهيولې په دې اَودَس نه کيږي (يعنې په مخ وينځلو کښې د مخ نه را بهيدونکو اوبو باندې د لاس مړوند وغيره نه شي وينځلې) او په غسل کښې (معامله جُدا ده) مثلاً د سر اوبه چه د ښپو پورې د کوم کوم ځائ پورې بهيږي هغه ځائ به پاکوي هلته د نوو اوبو حاجت نشته (13) که څوک اَودَس ته کښيناستو او بيا ئې د څه رُکاوټ په وجه مکمل نه کړې شو نو چه څومره افعال ئې کړي وو [يعنې څومره اَودَس ئې چه کړې وو] د هغې به ثواب مومي اګر چه اَودَس ئې اُونه شو (14) چا چه پخپله اراده اوکړه چه نيم اَودَس به کوي نو هغه به په دې افعالو ثواب نه مومي، هم دغسې چه څوک اَودَس ته کښيناستو او بې د عُذره ئې نيمګړې پريښودو نو هغه هم چه څومره افعال [يعنې د کوم حده پورې اَودَس] کړې وو په هغې باندې د ثواب حقدار جوړيدل نه دي پکار.(15) که په سر باندې د باران ځاځکي دومره اوشو چه څلورمه حصّه سر لوند شو نو مسح اوشوه، اګر چه هغه کس ورته نه لاس لګولې دې او نه ئې قصد (يعنې نيّت او اراده) کړې وه. (16) په پرخه [چنړئ] کښې سرتور سر کښيناستو او په هغې ئې څلورمه حصّه سر لوند شو، مسح اوشوه (17) په دومره تودو او


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

دومره ځو اوبو اَودَس کول مکروه دي کومي چه په بدن باندې په ښه طريقه نه اچول شي، سنّت پرې نه شي پوره کيدې، او که په کوم يو فرض پوره کولو کښ رُکاوټ جوړ شو نو د سره به اَودَس نه کيږي. (18) اوبه بيکاره خرڃ کول يا توئ کول حرام دي. (بچپله يا د بل د خښلو نه پس د ګلاس يا د جګ اوبه هسې توئ کونکي دِ توبه اوکړي او د بيا د پاره دِ دَ دې نه ځان ساتي) (19)که د نوم نه زيږې اوبه په بهيدلو اوځي نو اَودَس ماتيږي (20) وِينه يا نو په سترګه کښ اوبهيدو خو د سترګې نه باهر اُونه وَتلو نو اَودَس به نه ماتيږي هغه که په کپړه باندې اوچ کړې شي او[هغه کپړه] په اوبو کښ واچولې شي نو (اوبه) به نه ناپاکه کيږي. (21)په زخم پټۍ ترلې شوي ده په هغې وِينه وغيره اولګيدله که دومره وه چه که مخه ورته بنده نه وې نو بهيدلې به وې نو اَودَس مات شو ګني نه، او نه پټۍ ناپاکه شوه (22) خاخکې راروان شو يا وينه وغيره په ذَکر [يعني د بولو په ځائ] کښ دننه اوبهيدله چه تر څو پورې د هغې د سورې نه باهر ته نه وي راوَتلې اَودَس به نه ماتيږي. او د ورو بولو صرف د سورې په خُله کښ ځليدل (د اَودَس ماتولو د پاره) کافي دي (23) د نابالغ اَودَس کله نه ماتيږي او نه پرې غسل اوړي. دوئي (يعني نابالغو) ته د اَودَس او غُسل حکم د عادت اچولو د پاره او ادب زده کولو د پاره دې، ګني په هيڅ قسم حدث [يعني اَودَس ماتونکي کار] د دوئي اَودَس نه ماتيږي او نه د جِماع سره په دوئي غُسل فرض کيږي (24) اَودَس لرونکي د مور او پلار کپړې يا د هغوئ د خوړلو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

د پاره ميوه يا د جُمات فرش د ثواب د پاره اووِينځلو، اوبه به نه مُسْتَعْمَله كيږي اګر چه دا كارونه د قُربت (يعني د الله د رضا) دي. (25) د نابالغه پاك لاس يا د بدن كومه يوه حصه اګرچه د هغه اَودَس نه وي په اوبو كښ د وهلو سره به اوبه د اَودَس قابلې وي. (26) بدن پاك ساتل، خيري لرې كول د شَرع تقاضه ده ځكه چه د اسلام بُنياد په پاكئ دې. په دې نِيَّت كه اَودَس لرونكي [خپل] بدن اووينځو نو بيشكه قُربت (يعني د ثواب كار) دې خو اوبه مُستَعمَل نه شوې. (27) مُستَعمَل اوبه پاكې دي په دې باندې كپړې وينځلې شئ خو په دې اَودَس نه شي كيدې او د دې څښل او په دې وړه اښكل مكروهِ (تنزيهي) دي. (28) پردئ اوبه ئې بې اِجازته يوړلې اګرچه په زور يا په غَلا، په هغې به اَودَس اوشي خو [داسې كول] حرام دي، البته كه د چا مملوك (يعني د هغه د ذاتي) كوهي نه بل چا د هغه د منع كولو باوجود هم اوبه واغستلې، د هغې استعمال جائِز دې (29) كومو اوبو ته چه د مُستَعمَلو [يعني استعمال شوو] اوبو داره اورسيدله يا پكښ ښكاره خاځكي اوشو په هغې باندې اَودَس نه كول بهتر دي (30) په يخنئ كښ د اَودَس كولو په وجه كه يخني ډيره كيږي، د هغې په وجه به تكليف هم كيږي خو كه د څه مرض يره نه وي نو د تَيَمُّم اِجازت نشته (31) كه د شيطان د تُوكلو او پوكې كولو سره په نمانځه كښ د څاځكي راتلو يا د هوا خارج كيدو شك اوشي، حكم دا دې چه تر څو داسې يقين اُونه شي چه په هغې قسم كولې شي نو د دې (وسوسې) دِ پروا نه كوي، كه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

شیطان ورته وائي چه ستا اَودَس خو مات شو نو دا دِ ورته وائي چه خبیثه ته دروغژن ئې، او په خپل نمانځه کښ دِ مشغول اوسي (32) جُمات هر د کرَکژن څیز نه پاك ساتل واجِب دي اګر چه پاك وي، لکه لُعابِ دهن (یعني د خُلې لاړې، بَلغم)، د پوزې اوبه (یعني قنړې، یا د نزلې اوبه، د اوداسه اوبه[وغیره]) (33) **خبرداري:** څینې خلق د اوداسه نه پس د خپل مخ او لاسونو نه اوبه لرې کړې او لاسونه په جُمات کښ اوڅنډي (دا) بالکل **حرام** او ناجائِز دي (34) په اوبو کښ بَول کول مطلقاً مکروه دي اګرچه په دریاب کښ وي (35) کوم ځائ چه څه نَجاست [یعني ګند] پروت وي [هلته] تلاوت مکروه دې (36) اوبه ضائع کول حرام دي (37) مال ضائع کول حرام دي (38) په زم زم شریف غسل او اَودَس کول بې د کراهته جائِز دي (او د بَول وغیره کولو نه پس) په لُوټې (د اوچولو) نه پس (په آبِ زم زم) اِستنجا کول مکروه او نجاست [یعني ګند] وِینځل (مثلاً د بَولو کولو نه پس په ټِیشو پیپر وغیره د اوچولو نه بغیر وِینځل) ګُناه ده. (39) (هغه) اسراف (کوم) چه ناجائِز او ګناه دې (هغه) صِرف په دې دوو صورتونو کښ دې، یو دا چه په څه ګُناه کښ خرچ او استعمال کړې شي او بل هسې بیکاره خپل مال ضائع کول (40) چا ته د مړي د غسل ورکولو طریقه زده کولو د پاره ئې مړې اولمبولو او هغه ته ئې د غسل ورکولو نِیَّت اُونه کړو نو هغه هم پاك شو او د ژوندو نه هم فرض لرې شو ځکه چه فعل بِالقَصد کافي دې، خو د نیّت نه بغیر به ثواب نه کیږي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

**يارَبِّ مصطفٰى** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د اسرا ف نه د بچ كيدو او د شرعى اَودَس كولو سره هر وخت په اَودَس كښ د اوسيدو توفيق رانصيب كړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په اوداسه كښ مړ كيدو والا شهيد دې

**فرمانِ مُصطفٰى** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كه ته هميشه په اوداسه كښ د اوسيدلو وَس لرې نو هم داسې كوه، ځكه چه **مَلَكُ الْمَوْت** د كوم بنده رُوح د اوداسه په حالت كښ واخلي د هغه د پاره شهادت ليكل شي.

(شُعَبُ الايمان ج3 ص29 حديث2783)

## په پيدائِش كښ د آسانئ نسخه (د مريم بي بي ګل)

د **مريم بي بي ګُل**3 دِ د ماشوم د پيدائِش د درد په شروع كيدو د غتې خُلې په لوښي يا ډبه كښ په اوبو كښ واچول شي نو چه څنګه څنګه لمديږي دا به سپړدلي كيږي او د **اللّٰه** رَبُّ العِزَّت په عنايت د مريم بي بي د ګُل په بركت سره د ماشوم په پيدا كيدو كښ آساني كيږي.

## د آپريشن نه بغير ماشوم پيدا شو (د مريم بي بي د ګل فائده)

د **دعوتِ اِسلامي** د جامِعَةُ المدينه د يو مُدرِّس اسلامي وررور بيان دې چه زما د دويم ماشوم د پيدا كيدو ورځ وه، زما د بچو مور د اسپتال مخصوصي كوټې (ليبر

---

3 دې ته "مريم بوټې" او "د مريم پنجه" هم وائي، د پنجې په شكل كښ په اوچ حالت كښ وي. د پنسارې (د يوناني دوايانو د دُكان نه تر لاسه كيدې شي، په مكّه او مدينه كښ د هغه ځائ زنانه او ماشومانو د خرڅولو د پاره ښيزونه په زمكه اينبې وي هغوئ سره هم پيدا كيدې شي، د دې د خاصيّت او بركت نه خبر عاشِقانِ رسول ئې د بركت د پاره وطن ته راوړي او نورو ته ئې په تحفه كښ هم وركوي. چه چا ته ئې وركوئ هغه ته د استعمال طريقه ښودل هم ضروري دي. چه ډير زوړ نه وي نو زيات غوره دي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

روم) ته رسيدلي وه، لږ ساعت پس په ما د مدني ماشوم د پيدا كيدو زيرې اوشو. د اسپتال په انتظارګاه كښې د يو كس سره زما مُلاقات اوشو نو هغه په خبرو خبرو كښې **د مريم بي بي د ګل** ذِكر اوكړو نو زما په تپوس هغه اووئيل چه د پيدائِش د درد په شروع كيدو دِ دا وَچ ګُل د غټې خُلې په يو لوښي يا ډبه كښې په اوبو كښې واچولې شي نو چه څنګه څنګه دا لمديږي نو سپړدلې كيږي به، او د دې فائِده دا كيږي چه د ماشوم په پيدائِش كښې آساني كيږي. بيا چه زيات و كم دوه كاله پس د دريم ماشوم د پيدائِش وخت راغې نو ليډي ډاكټرې زما د بچو مور ته د آپريشن د پاره ذهني طور د تيار اوسيدو اووئيل، ما ته د مريم بي بي د ګل خيال راغې نو ما د پنساري (د حكيمي دوايانو) دَ دُكان نه **مريم بوټي** واخستو او چه كله د پيدائِش وخت رانِزدې شو نو هغه مې په اوبو كښې واچولو، د **الله** تعالٰى په كرم سره د آپريشن نه بغير مدني ماشومه پيدا شوه. يو موده پس په څلورم ماشوم هم ډاكټرې د آپريشن اووئيل خو د نورو اوراد او وَظائفو (كوم چه د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه په چاپ شوي كتاب "ګهريلو عِلاج" كښې موجود دي) سره سره مو "**مريم بوټي**" هم استعمال كړو، هم دغسې يو ځل بيا د آپريشن نه بغير مدني ماشومه پيدا شوه. د هغې نه زيات و كم دوه كاله پس چه د پينځم ماشوم د پيدائِش توقع وه نو مونږه خپل كور ته نزدې اسپتال ته لاړو، هلته هم ډاكټرې د ميډيكل رپورټونو او د خپلې تجربې په رڼړا كښې د آپريشن اووئيل ما په كوشش سره د رقم انتِظام هم اوكړو او د اوراد و وظائِف سره سره مې د پيدائِش د وخت په نيزدې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

کيدو ”**مريم بوټي**“د غټې خُلې په يو لوښي کښې په اوبو کښې واچولو، ډاکټرې د آپريشن نه بغير د پيدائِش د پاره ډېر کوشش کولو نه پس د آپريشن د پاره د رقم جمع کولو اووئيل چه اوس د آپريشن نه بغير هيڅ اَسره نشته او د آپريشن انتِظام ئې شروع کړو، رقم په بينك کښې وو، ما اسپتال ته نيزدې د اے ټي ايم (A.T.M) د مشين نه رقم را او ويستلو او په کاونټر ې جمع کړو، خو د آپريشن نه مخکښې راباندې د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په عطا د روغ رمټ مدني ماشوم د پيدا کيدو زيرې اوشو. د ”**مريم بوټي**“ د استعمال ما خلور يا پينځه اسلامي وروڼو ته مشوره ورکړه په هغې کښې څينو ته ډاکټر د آپريشن وئيلي وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئ کره هم د آپريشن نه بغير ماشومان پيدا شو.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو　　لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

سُنّتونه زده کولو د پاره قافلو کښې لاړ شئ
رحمتونه ګټلو د پاره قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړشئ
شي به ختم مصِيبتوبتونه قافلو کښې لاړشئ

### دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د **مَکتَبَةُ الْـمَدِينه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو اېښودلو عادت جوړ کړئ، د اخبار خرڅونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډېر ثوابونه اوګټئ.

طالب غم مدینہ بقیع و مغفرت وبے حساب جنّت الفردوس میں آقاکاپڑوس



www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# اودس او سائنس*

دا بیان پوره اولولئ اِنۡ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ تاسو ته به د اودس په باره کښې عجيبه عجيبه معلومات حاصل شي.

## ددرود شريف فضيلت

**د الله عَزَّوَجَلَّ د محبوب، دانائے غُيُوب، مُنَزَّهٌ عَنِ العُيُوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان عظمت نشان دې: د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره په خپل مينځ کښې محبت کونکي چه کله د يو بل سره مِلاؤ شي او مصافحه اوکړي (يعني لاس ميلاؤ کړي) او په نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شريف اولولي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو مخکښني او راروان ګناهونه اوبخښلي شي. (مسند ابی یعلی ج 3 ص95 حديث 2951)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

* دا بيان امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د تبليغ وقرآن وسنت عالمګير غير سياسي تحريک دعوتِ اسلامي د طلبه د دوه ورځو په اجتماع کښې(محرم الحرام 1421هـ/ 2000-04-06) په نواب شاه پاکستان کښې فرمائيلي وو. د ضروري ترميم سره ستاسو په خدمت کښې ليکلي شوې حاضر دې)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هېر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

## د اودس حکمت اوريدلو په وجه د اسلام قبلول

د يو كس بيان دې: ما د بيلجيم يونيورستۍ يوطالب عِلم ته د اسلام دعوت ورکړو. هغه رانه تپوس اوکړو چه په اودس کښې څه څه سائنسي حکمتونه دی؟ زه لاجوابه شوم. ما هغه د يو عالِم خوا ته بوتلو خو هغه ته هم د دې معلومات نه وو. تر دې چه سا ئنسي معلومات لرونکي يو کس هغه ته څه ډېر صفتونه بيان کړل خو د څټ د مَسْحې د حکمت نه هغه هم ناخبره وو. هغه غير مسلم ځوان لاړو، څه موده پس راغې او وئيل ئې زمونږ پروفيسر د ليکچر په مينځ کښې اووئيل که د څټ په شا او ډېرو باندې هره ورځ د اوبو يو څو خاڅکي اولګولې شي نو د ملا د هډوکي او د حرام مغز د خرابۍ نه پيدا کيدونکي مرضونو نه حفاظت مِلاويږي، د دې د اوريدو سره په اودس کښې د څټ د مَسحې حِکمت باندې پوهه شوم لِهٰذا زه مسلمانيدل غواړم او هغه مسلمان شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مغربي جرمني سيمينار

مغربي مُلکونو کښې د مايوسۍ يعني (Depression) مرض په ترقۍ کښې دې، دِماغ فيل کيږي، د پاګل خانو تعداد په زياتيدو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نيزدې هغه وي چې په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

دې، د نفسياتي مرضونو ماهرينو ته د مريضانو قطارونه ولاړ وي. د يو پاکستاني فزيوتهراپسټ وَينا ده: چه په مغربي جرمني کښې يو سيمينار اوشو چه موضوع ئې وه ”د مايوسئ (Depression) علاج د دوايانو نه علاوه په نورو کومو طريقو سره ممکن دې.“ يو ډاکټر په خپله مقاله کښې دا حيران کونکې خبره ښکاره کړه. چه ما د ډِپريشن د يو څو مريضانو هره ورځ پينځه ځله مخ او وينځلو، څه وخت پس د هغوئ بيماري کمه شوه. بيا هُم د داسې مريضانو د بل ګروپ هره ورځ مخ او لاسونه او پښې اووينځلې نو په مرض کښې ئې ډير کمې راغې، هم دې ډاکټر د خپلې مقالې په آخره کښې دا اومنله: چه په مسلمانانو کښې د مايوسئ مرض ډير کم دې. ځکه چه هغوئ په ورځ کښې څوڅو ځله خپل مخ لاسونه او پښې وينځي (يعني اودس کوي).

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اودس او هائي بلډ پريشر

د زړونو د يو ماهر ډاکټر د پوخ يقين سره وينا ده: چه دهائي بلډ پريشرمريض باندې دې اودس اوکړې شي او بيا دې د هغه بلډ پريشر چيک کړې شي نو ضرور به کم وي. د يو مسلمان ماهرِ


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عبدالرزاق)

نفسيات ډاکټروينا ده: **د نفسياتی مريضانو غوره علاج اودس دې.**
مغربي ماهرين د نفسياتي مريضانو په بدن باندې د اودس په شان څو څو ځله اوبه اچوي:

## اودس او فالج

په اودس کښې چه کوم اندامو نه په ترتيب سره وينځلې شي، دا هم د حکمت نه خالي نه دي. اول په لاسونو اوبه اچولو سره د بدن اعصابي نظام خبر شي او بيا په قلاره قلاره د مخ او د دِماغو رګونو طرف ته د دې اثرات رسي. په اودس کښې اول لاس وينځل بيا خله او پوزه کښې اوبه اچول، بيا مخ او نور اندامونه په ترتيب سره وينځل د فالج نه د حفاظت د پاره فائده مند دي.که د مخ وينځلو او د مسح کولو نه شروع اوکړې شي نو بدن په ډېرو بيمارو کښې اخته کيدې شي.

## د مسواک قدردان

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** په اودس کښې ډېر سنتونه دي او هر سنت د حکمت خزانه ده. مسواک به واخلو، بچې بچې پوهه دې چه مسواک کول په اودس کښې سنت دي او د دې سنت د برکتونو به څه وائې! د يو سوداګر بيان دې چه په سوئيزرلينډ کښې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشکوال)

مي د يو نومسلم [نوې اسلام راوړونکي کس] سره ملاقات اوشو، په تحفه کښې مي ورله مسواک ورکړو، هغه په خوشحالئ سر ه واخستو او ښکل ئې کړو او سترګو ته ئې اولګوو او يو دم ئې د سترګو نه اوښکې رواني شوې، هغه يو رومال د جيب نه را اوويستلو، چه او ئې سپړدلو نو په هغې کښې تقريبًا دوه انچه وړوکي د مسواک يوه ټوټه راښکاره شوه، اوئې وئيل د مسلمانيدو په وخت کښې مسلمانانو ما له دا تحفه راکړې وه، ما په ډير خيال سره استعمالولو، بس دا په ختميدو وو او ما سره ډير فکر وو خو **الله** عَزَّوَجَلَّ کرم اوکړو او تا راله مسواک راکړو. بيا راته هغه اووئيل: چه د ډيرې مودې راځې زه د غاښونو او ورو په تکليف کښې اخته ووم. تر دې چه ډينټسټ (د غاښونوماهر) سره ئې هم علاج نه وو. ما د دې مسواک استعمال شروع کړو نو په لږو ورځو کښې زه ښه شوم. زه ډاکټر ته لاړم نو هغه حيران شو او تپوس ئې اوکړو چه زما د دوائې سره خو دومره زر ستا مرض نه شو ښه کيدې، سوچ اوکړه څه بله وجه به وي. ما چه په ذهن زور واچولو نو راياد شو چه زه خو مسلمان شوې يم او دا ټول برکتونه د مسواک دي. ما چه کله ډاکټر ته مسواک ورښکاره کړو نو هغه هم حيران پاتي شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

## د قوتِ حافظه د پاره

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** په مسواک کښې بې شميره ديني او دُنياوي فائدې دي. په دې کښې ډير کيمياوي اجزاء دي چه غانښونه د هر قِسم بيمارو نه بچ کوي. په حاشية الطحطاوي کښې دي: **مسواک سره قوت حافظه زياتيږي، د سر درد لرې کيږي. او د سر رګونو ته آرام مِلاويږي، بلغم ختميږي، نظر تيزيږي، معده ښه کيږي او خوراک هضميږي، عقل زياتيږي، د بچو په پيدائش کښې اضافه کيږي، بوډاوالې زر نه راځي او ملا مضبوطه کيږي.**

(حاشية الطحطاوی علٰی مراقی الفلاح ص69)

## د مسواک په باره کښې دوه حديثونه

(1) کله به چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور ته ننوتو نو د هر څه نه مخکښې به ئې مسواک کولو- (صحيح مسلم ص 152حديث 253)

(2) کله به چه سرکارِنامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوب نه رابيدار شو نو مسواک به ئې کولو. (سنن ابو داؤد ص54 حديث 57)

## دخُلې د بخيدو علاج

**د طبيبانو** وينا ده: ځينې وخت د ګرمۍ او د معدې د تيزابيت نه په خله کښې پولۍ راځيږي، د دې مرض نه څه خاص


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله دروډِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشکوال)

جراثيم په خله کښې خوريږي، د دې د علاج د پاره په خله کښې تازه مسواک اومږئ او د هغې توکانړي [يعني لاړې] لرې وخت دپاره په خُله کښې دننه واړوئ را واړوئ .هم داسې ډير مريضان ښه شوي دي.

## دغاښونو د برش نقصانونه

د ماهرينو د تحقيق مطابق: 80 فيصد مرضونه د معدې (ګيډې) او د غاښونو دخرابئ نه پيداکيږي. عموماً دغاښونو د صفائي خيال نه ساتلو په وجه په ورو کښې قِسماقسم جراثيم پيدا کيږي، بيا په معده کښې د قِسماقسم مرضونو سبب جوړيږي. د غاښونو برش د مسواک نعم البدل نه دې بلکه پوهان اعتراف کوی: (1) کله چه يو ځل برش استعمال کړې شي نو د هغې په ويخ کښې جراثيم جمع شي، په اوبو وينځولو سره هم هغه جراثيم نه لرې کيږي، بلکه هم هغلته پرورش اخلي (2) د برش په وجه د غاښونو پاسنې قدرتي زليدونکې مخ لرې کيږي (3) د برش په وجه ورئ په قلاره قلاره خپل ځائ پريږدي د هغې په وجه د غاښونو او ورو په مينځ کښې خلا (Gap) پيدا کيږي او بيا په هغې کښې د خوراک زرات نخښلي، سخا کيږي او جراثيم پکښې خپل کور جوړوي. د دې نه د نورو بيمارو نه علاوه د سترګو قِسما قسم مرضونه هم پيدا کيږي. دې سره نظر هم کمزورې کيږي بلکه کله کله انسان ړوند هم شي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** د ذِکر او په **نبي** باندې درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

# آيا تاسو له د مسواک کولو طريقه درځي؟

کِيدې شی چه ستاسو په زړه کښې به داخيال وي چه زه خو د کلونو نه مسواک استعمالووم خو زما غاښونه او خِيته دواړه خراب وي زما ساده اسلامی وروره پدې کښې د مسواک نه بلکه ستا قصور دې. زه (سګِ مدينه عُفِیَ عَنْہُ) دې نتيجې ته رسيدلې يم چه کيدې شي په لکونو خلقو کښې څه يو نيم کس داسې وي چه د صحيح اصولو مطابق د مسواک استعمال کوي مونږه خو زَر زَر په غاښونو مسواک اومږو اودس اوکړو او ځو يعنې داسې به اووايو چه مونږ مسواک نه بلکه "رسمِ مسواک" اداکوو.

## دمسواک 20مدنی ګلونه

**د خوږ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **دوه حديثو نه:** (1) دوه رکعته د مسواک کولو سره ادا کول د بغير مسواک د 70رکعتونو نه غوره دي. (اَلتّرغِيب وَالتّرهِيب ج 1 ص 102حديث 18) (2) د مسواک استعمال لازم کړئ ځکه چه دا خُله صفاکوي او رب راضي کوي. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج2ص438 حديث5869) (3) حضرت سيِّدُنا ابنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه مسواک کښې لس صفتونه دي: خُله صفا کوي، ورێ مضبوطې کوي، نظر تيزوي، بلغم ختموي، دخُلې بدبوئي ختموي،


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښ 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشکوال)

د سنّت موافق دې، فرښتې خوشحاليږي، رب راضي کيږي، نيکۍ زياتيږي او مِعده صحيح کيږي. (جَمعُ الجَوامِع للسُّيوطی ج5ص 249 حديث 14867)

(4) سيِّدُنا امام شافعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائيلى دي: څلورو څيزونو سره عقل زياتيږي: د فضول خبرو نه پرهيز، د مسواک استعمال، د نيکانو صحبت، او په خپل علم عمل کول. (حياة الحيوان للد ميری ج 2ص 166)

(5) **حِکايت**: حضرت سيِّدُنا عبدالوهاب شعراني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي: يو ځل حضرت سيِّدُنا ابوبکر شبلي بَغدادي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته د اودس په وخت کښ د مسواک ضرورت شو خو د ډير کوشش باوجود مِلاؤ نه شو نو په يو دينار (يعني دسرو زرو په اشرفۍ) ئې مسواک واخستو او استعمال ئې کړو ځينې خلقو ورته اووئيل: دا خو تاسو ډيره خرچه اوکړه! دومره ګران مسواک څوک اخلي؟ نو وې فرمائيل: بيشکه دا دنيا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نِيز د ماشي د وزر همره هم حَيثِيَّت نه لري، که په ورځ د قيامت **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما نه د دې پوښتنه اوکړې نو څه جواب به ورکوم : "چه تا زما د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سنت (مسواک) ولې ترک کړې وو؟" ما تا له مال دولت درکړې وو چه د هغې حقيقت زما په نيز د ماشي د وزر برابر هم نه


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره درود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

وو، نو آخر داسې حقير دولت د دومره عظيم سنت (مسواک) په حاصلولو ولې خرچ نه کړې شو؟. (مُلخّص ازلواقح الانوار ص 38)

(6) د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارې مکتبةالمدينه چاپ شو ي کتاب **بهارِشريعت** ج1ص228 باندې صدرُالشريعة بدرُالطَّريقه، حضرت علاّمه مولانا مفتي **محمد امجد علي اعظمي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ليکلي دي، مشايخ کرام فرما ئي: کوم کس چه د مسواک عادت لري، د مرګ په وخت به ورته کَلِمه وئيل نصيب کيږي او څوک چه افيم خوري نو د مرګ په وخت به ورته کَلِمه نه نصيب کيږي.

(7) مسواک د پيلو يا د زيتون يا د نيم وغيره تريخ لرګي پکار دي.

(8) د مسواک پيړوالي د کچئ يعني وړوکي ګوتې برابر پکار دي.

(9) مسواک دِ د يو لويشت نه اوګد نه وي، ګنې شيطان پرې کښيني.

(10) د مسواک سر نَرم پکار دې ځکه که سخت وي نو بيا د غاښونو او ورو په مينځ کښې خَلا (Gap) پيدا کوي.

(11) مسواک که تازه وي نو ډير ښه، که نه وي نو بيا د دي يو سر لږ ساعت په اوبو کښې نرم کړئ.


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلىٰ)

(12) د مسواک سَر هره ورځ كټ كوئ ځكه چه دا تر هغې فائده مند وي تر څو چه په هغې كښې تريخ والي وي. (13) دغاښونو په پلن والي مسواک كوئ. (14) كله هم چه مسواک كوئ نو كم نه كم درې ځله ئې كوئ. (15) هر ځل ئې وينځئ. (16) مسواک په ښي لاس څه داسې كوئ چه كچۍ ګوته ترې لاندې وي او نورې درې ګوتې پرې د پاسه وى او غټه ګوته ئې په سر باندې وي. (17) اول د ښي طرف پاس غاښونو بيا د ګڅ طرف پاس غاښونو بيا د ښي طرف لاندې غاښونو بيا د ګڅ طرف لاندې غاښونو كښې مسواک كوئ. (18) په موټي كښې مسواک نيولو سره د بواسيرو خطره وي. (19) مسواک د اودس سنَّتِ قَبلِيَّه دې. البته كله چه خُله بدبو داره شي نو بيا سنتِ مؤكده دې: (ماخوذ ازفتاوٰی رضویه ج 1 ص 623) (20) مسواک چه كله د استعمال قابل پاتې نه شي نو هغه مه غورځوئ. ځكه چه دا د سُنّت د ادا كولو څيز دې. په كوم يو ځائ كښې ئې په احتياط سره كيږدئ. يا ئې ښخ كړئ يا كاڼړې وغيره څه وزن وريورې اوتړئ او سمندر كښې ئې ډوب كړئ (د تفصيلى معلوماتو دپاره د مكتبةالمدينه چاپ شوې كتاب بهارشريعت ج۱ ص294 تا 295اولولئ)

## دَ لاس وِينځلو حكمتونه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشکوال)

په اودس کښې د تېولونه مخکښې لاسونه وينځلې شي د هغې حکمتونه اوګورئ: په مختلفو څيزونو کښې لاس وهلو سره په لاسو پورې قِسما قِسم کِيمياوي اجزاء او جرا ثِيم نخښلې، که تېوله ورځ او نه وينځلې شي نو ډېر زر دخرمنې په دغه بيمارو کښې اخته کيدې شي (۱) په لاسونو ګرمکې(۲) د خرمنې سوزيدل (۳) ايګزيما (۴) د خرمنې سخا پوستکې نيول[4] (۵) دخرمنې رنګ بدليدل وغيره.کله چه مونږ لاسونه وينځو نو د ګوتو د سرونو نه شُعاګانې (Rays) اوځي او يو داسې حلقه جوړوي چه د هغې په وجه زمونږ اندرو بر نظام په حرکت کښې راځي او د يو حده پورې برقی رَو [چپه] زمونږه لاسونو ته راګُرځيدېږي، چه د هغې په وجه زمونږ په لاسونو کښې ښايست پيدا کيږي.

## د خُلې د وينځلو حکمتونه

**اول** لاسونه اووينځلې شي د هغې سره جراثيم پاک شي. ګنې دا د خُلې وينځلو په ذريعه خُلې او بيا خيټې ته د تللو په وجه د ډېرو بيمارو باعث جوړيدې شي. د هوا په ذريعه بيشماره خطرناك جراثيم هم دا شان د خوراک اجزاء زمونږ په خُله او غاښونو کښې د توکانړو [يعني لاړو] سره اونخښلې. نو په اَودس کښې د خُلې وينځلو او

[4] د يو قسم جراثيم په وجه کوم چه په څه څيز پورې د چنرياسې پشان نخښلې.


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله درود پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طبراني)

مسواک سره د خُلې ډېره ښه صفائي كيږي. كه خُله پاكه نه كړې شي نو د دې مرضونو د پيدا كيدو خطره وي (۱) ايډز (Aids)، چه د دې ابتدائي علاماتو كښې د خُلې پخيدل هم شامل دي. د ايډز تر اوسه پورې علاج نه دې معلوم شوې، په دې مرض كښې د بدن مُدافعتي نظام بيكاره شي په هغې كښې د مرض د مقابله كولو قوت نه وي او مريض د ډېرې كمزورئ په وجه مړ شي (۲) دخُلې غاړې چاؤدَل (۳) د خُلې او د شونډو دادقُوبا (Moniliasis) [يعني سخا پاترې نيول] (۴) د خلې د چنړياسې پشان پوستكې نيولو بيماريانې او خله پخيدل وغيره. او كه روژه مو نه وه نو د خُلې وينځلو سره غړغړه كول هم سنت دي او په پابندئ سره غړغړه كونكې د ټانسلو (Tonsil) د غټيدو او د مرئ د ډيرو زياتو مرضونو نه تر دې چه د مرئ د كينسر نه هم په حفاظت كښې وي.

## په پوزه كښې د اوبو اچولو حكمتونه

سږكي [يعني پرپوس، پهيپهړو] ته څه داسې هوا پكار ده چه د جراثيمو، لوګي، دوړو او ګرد نه پاكه وي او په هغې كښې 80 فيصده لمدوالې وي د داسې هوا وركولو د پاره **الله** عَزَّوَجَلَّ مونږ له پوزه را كړې ده، په هوا كښې لوندوالې پيدا كولو د پاره پوزه هره ورځ تقريباً د ګيلن څلورمه حصه لوندوالې پيدا كوي. صفائي او نور



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

سخت کارونه د پوزې وېخته پوره کوي، په پوزه کښې دننه يوه خُردبِينى (Microscopic) جارُو ده. په دې جارو کښې نه ښکاره کېدونکي مالوچ وي، هغه د هوا په ذريعه داخليدونکي جراثيم وژني. هم دا شان د دغه نه ښکاره کېدونکو مالوچو په ذمه يو بل دفاعي کار هم دې چه هغې ته په انګريزۍ کښې (lysozyme) لَيسوزائم وائي، پوزه د دې په ذريعه سترګې د Infection (يعنې د جراثيمو) نه په حفاظت کښې ساتي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اودس کونکي پوزه کښې اوبه اچوي چه د هغې په وجه د بدن د ډېرې غوره آلې پوزې صفائي کيږي او په اوبو کښې دننه کار کونکي برقي رو [چپې] سره د پوزې دننه د نه ښکاره کېدونکي مالوچو کارکردګۍ ته قوت ميلاويږي او مسلمانان د اودس په برکت سره د پوزې د ډېرو سختو بيمارو نه بچ کيږي. دائمي نزله او د پوزې د زخم د مريضانو د پاره په پوزه کښې د اودس په شان اوبه اچول ډېر فائده مند دي-

## د مخ وينځلو حکمتونه

نن صبا په هوا کښې د لوګو وغيره ګندګياني زياتيږي، مختلف کيمياوي مادې د خِيرې په شکل کښې په مخ او سترګو نخښلې که مخ اونه وينځلې شي نو مخ او سترګې به د څه ډېرو بيمارو سره مخامخ شي. يو يورپين ډاکټر يوه مقاله ليکلې ده چه نوم ئې


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

دېږ: **سترګې، اوبه، صحّت** (Eye,Water,Health) په دې مقاله کښې هغه په دې خبره ډير زور ورکړې دې چه "خپلې سترګې په ورځ کښې څوڅوځله وينځئ که نه وي نو د خطرناکو مرضونو سره به مخامخ شئ." د مخ وينځلو سره په مخ دانې نه راخيژي ياکمې راخيژي. د ښائست او صحِت ماهران په دې خبره متَّفِق دي چه هر قسمه کرِيم (Cream) او لوشن (Lotion) وغيره په مخ باندې داغونه پريږدي، د مخ د ښائست دپاره مخ څو څو ځله وينځل ضروري دي. د "امريکن کونسل فار بيوټي" يوې غوره ممبرې "بَيچر" څه ښه انکشاف کړې دې وائي: "**مسلمانانو ته دهيڅ قسمه کيمياوي لوشن حاجت نشته، اودس سره د هغوئ مخ وينځلې کيږي او د ډيرو بيمارونه بچ کيږي.**" د محکمه ماحوليات د ماهرينو وَينا ده: "د مخ الرجي [دانې وغيره] نه د بچ کيدو د پاره مخ بيا بيا وينځل پکاردي." اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! داسې صرف د اودس سره ممکن دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! په اودس کښې مخ وينځلو سره د الرجي نه د مخ حفاظت کيږي، د مخ مالش کيږي، وِينه د مخ طرف ته روانه شي، خِيرې هم لرې شي او د مخ ښائست يو په دوه شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

## د ړنديدلو نه حفاظت

**خوږو خوږو اسلامی وروڼړو!** د سترګو يو مرض دي چه په هغې کښې د سترګو رطوبتِ اصلِيَّه يعني اصل لوندوالي کم ياختم شي او په قلاره قلاره آخِر مريض ړوند شي د طِبّي اصولو مطابق که بانړه وخت په وخت لامده کړې شي نو د دي يرونکي مرض نه حفاظت ميلاويدې شي. اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّاودس کونکې مخ وينځي او د هغې سره د هغه بانړه هم لمديږي. د عاشقانِ رسول ګيرې هم په اودس کښې لمديږي د دې هم ډير ښه حکمتونه دي، ډاکټر پروفيسر جارج ايل وائي: د مخ وينځلو سره په ګيره نخښتي جراثيم اوبهيږي، د ويخ پورې اوبه رسولو سره د ويښتو جرړې مضبوطيږي، د ګيرې خلال سره د سپکو خطره هم لږي شی، په ګيره کښې د اوبو لوندوالي حصاريدو سره د څټ د رګونو، تهائي رائيډ ګلينډ[غُدود] او د مرئ د مرضونو نه حفاظت کيږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د څنګلو وينځلو حکمتونه

په څنګلو کښې درې غټې رګونه دي چه د هغې تعلق د زړه ځيګر او دماغو سره وي او د بدن دا حصه عام طور پټه وي که په دې اوبه او هوا اونه لګي نو څه ډير دماغي او اعصابي مرضونه پيدا



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

کيدې شي. **په اودس کښې لاسونه تر څنګلو پورې وينځلو سره زړه، ځيګر او دماغو ته قوت ميلاويږي،** او هم داشان به اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ بنده د دې مرضونو نه په حفاظت کښې وي. بله دا چه لاسونه تر څنګلو پورې وينځلو سره په سينه کښې جمع شوې رڼراګانو سره براه راست د انسان تعلق قائم شي او د رڼړا ګانو ګڼروالې د يوې بهيدونکي چپې شکل اختياروي، د دې عمل سره د لاسونو د پټو هره پرزه نوره هم طاقت منده شي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د مسح حِکمتونه

د سر او څټ په مينځ کښې حَبلُ الوَرِيد يعنې شه رګ دې، د هغې تعلق د ملا د هډوکي، حرام مغز او د بدن د هر يو جوړ سره دې. کله چه اودس کونکې د څټ مسح کوي نو د لاسونو نه برقي رَو (چپه) ووځي او شه رګ کښې جمع کيږي او د ملا د هډوکي نه د بدن تمام اعصابي نظام کښې خوريږي او دې سره اعصابی نظام ته قوت ميلاويږي.

## د لِيوَنو ډاکټر

د يو کس وَينا ده: چه په فرانس کښې مې يو ځائ کښې اودس کولو يو کس راته ډير په غور کتل کله چه زه فارغ شوم نو هغه زما


www.dawateislami.net

نه تپوس اوکړو: چه ته څوک ئې او د کوم وطن ئې؟ ماورته وئيل: پاکستانې مسلمان يم. تپوس ئې اوکړو: په پاکستان کښې څو پاګل خانې دي؟ په دې عجيبه سوال حيران شوم خو ورته مې اووئيل: دوه څلور به وي. نو تپوس ئې اوکړو: تا لږ مخکښې څه کول؟ ما ورته اووئيل: اودس. هغه او وئيل: آيا هره ورځ ئې کوې؟ ما ورته وئيل: آو، بلکه پينځه وخته. هغه په حيرانتيا سره اووئيل:زه په Mental Hospital (د ليونو هسپتال) کښې سرجن يم او د ليونتوب په سببونو تحقيق کول زما کار دې. زما دا تحقيق دې چه دماغو نه ټول بدن ته سِګنلې [يعني اشارې] ځي او اندامونه کار کوی، زمونږ دماغ هر وخت Fluid (مايع) کښې دننه Float (لامبو) کوي. ځکه زمونږ منډو ترړو سره دماغو ته څه نقصان نه رسي، که دا څه Rigid (سخت) څيز وې نو تر اوسه به مات وې. د دِماغو نه يو څو باريک رګونه (Conductor) (رسونکي) جوړشوي زمونږ د څټ نه ټول بدن ته ځي که چرته وينښته ډير اوګده کړې شی اوخټ وَچ پريښودلې شي نو په دې رګونو يعنې (Conductor) کښې د خُشکئ پيدا کيدو خطره وي او ډير ځله داسې هم اوشي چه د بنده دماغ کار پريږدي او ليونې شي لِهٰذا ما دا سوچ اوکړو چه څټ په ورځ کښې دوه څلور ځله ضرور لوند کړې شي. اوس ما اوليدل چه د مخ لاس وينځلو سره


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئېلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس (شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

سره تا په څټ کښې هم څه عمل اوکړو، نو واقعي چه تاسو نه شئ ليوني کيدې. نور دا چه مسح کولو سره د ګرمئ او څټ ماتوونکي [ګردن توړ] تبې نه هم حفاظت کيږي.

## د پښنو وينځلو حکمتونه

پښې د ټولو نه زياتې دُوړو کښې ککړيږي. اول نه اول Infection (يعني جراثيم) د پښنو د ګوتو د مينځ نه شروع کيږي په اودس کښې د پښنو وينځلوسره ګرد او دوړې او جراثيم اوبهيږي او که کوم پاتې وي نو هغه د ګوتو د خلال سره اوځي. لِهٰذا په اودس کښې د سنّت مطابق پښنو وينځلو سره د خوب کمې، د دماغو خشکي، د يرې او مايوسئ (Depression) غوندې پريشانه کونکي مرضونه لرې شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## داودس نه پاتې شوې اوبه

اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودس اوکړو پاتې شوې اوبه ئې په ولاړه اوڅښلې، او په يو حديث کښې راغلي دي: چه په دې اوبو کښې د 70مرضونو نه شِفاده. (فتاوٰی رضويه،ج1ص44) فُقهائےکرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي: که په


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

خه لوښي يا لوټه [کُوزه] باندې ئې اودس کړې وي نو د هغې پاتې اوبه مخ په قبله په ولاړه څښل مستحب دى. (تَبيِينُ الحقائق ج 1 ص44)

د اودس نه پاتې شوو اوبو په باره کښې د يو مسلمان ډاکټر وَينا ده:
(۱) د دې اولنې اثر په مثانه پريوزي، د وړو بولو رکاوټ لرې کيږي، او واړه بول ښه فراخه کيږي. (۲) دې سره ناجائزه شهوت لرې کيږي.
(۳) دې سره د ځيګر، معدې او مثانې ګرمي لرې کيږي.

## انسان په سپوږمۍ

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د **اودس او سائنس** بيان کيدلو، نن صبا د سائنسي تحقيقاتو طرف ته د ځينې خلقو زياته توجُّه وى، بلکه په معاشره کښې څه داسې کسان هم موندلې کيږي چه د انګريز تحقيق کارو او سائنسدانانو نه ډير متاثِره وي، د هغوئ په خدمت کښې دا عرض دې چه ډير زيات حقائق داسې دي چه د هغې په تلاش کښې سائنسدانان نن هم سرګردانه دي او زما خوږ خوږ مَکّي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د مخکښې نه بيان کړې دي.
اوګورئ! د خپلې دعوې مطابق سائنسدان اوس سپوږمۍ ته اورسيدل خو زما آقا مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې لفظونو ليکلو په وخت (يعني مُحَرَّمُ الحرام۱۴۳۴) تقريباً 1434 کاله مخکښې سفرِ معراج کښې د سپوږمۍ نه هم ډير زيات بره تشريف وړې وو زما د آقا


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د عرس شريف په موقع په دارالعلوم امجديه عالمگير روډ باب المدينه کراچئ کښې مقرر کړې شوي مشاعره کښې د شرکت موقع مِلاؤ شوه، چه په هغې کښې د حدائِق بخشش شريف نه دا مصرع منتخب کړې شوې وه.

سروہی سر جو ترے قدموں پہ قربان گیا

**مفهوم:** سر خو هم هغه سر دې کوم چه ستاسو په قدمونو قربان شو.

د **حضرت صَدرُالشَّرِيعت، بَدرُالطَّرِيقَت، مُصَنِّفِ** بهارِشريعت، خليفه اعلٰی حضرت، مولانا مفتی محمد امجد علی اعظمی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه شهزاده [يعنې ځوئ] مُفَسِّرِ قرآن، حضرت علامه عبدالمصطفٰی ازهری رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په هغه مشاعره کښې چه کوم کلام پيش کړې وو د هغې يو شعرخه داسې دې.

کہتے ہیں سطح پہ چاند کی انسان گیا

عرشِ اعظم سے ورَاء طیبہ کا سلطان گیا

وائي چه سپوږمئ ته انسان لاړو    د عرشِ اعظم نه ډير لرې د مديني سلطان لاړو

يعنې دا وئيل شي چه اوس انسان سپوږمئ ته اورسيدو! رښتيا خو دا ده چه سپوږمئ ډيره نيزدې ده، زما خوږ خوږ د مديني عظمت لرونکي سلطان، شَهَنشاه دَ زمکې او آسمان، رحمتِ عالَميان، سردارِ


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج په شپه سپوږمۍ ډیره وروستو پریښې وه، دعرش عظیم نه ئې هم بره تشریف وړې وو.

عرش کی عقل دنگ ہے چرخ میں آسمان ہے    جانِ مراد اب کدھر ہائے ترا مکان ہے

مفهوم: د عرش عقل حیران، او سرګردانه نن آسمان دې
اے د زړه مراده چه اوس چرته ستا مکان دې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نور کهلونه

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** پاتې شوه سپوږمۍ چه سائنسدان ورته اوس د ختلو دعوٰی کوې هغه سپوږمۍ خو زما د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تابعداره ده لکه څنګه چه "**دَلائِلُ النُبوة**" کښې دي، د سلطان دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره حضرت سیِّدُنا عبّاس بن عبدالمُطَّلِب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائې: ما په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما (ستاسو په مبارك ماشوموالي کښې) په تاسو کښې داسې خبره لیدلې وه چه هغه ستاسو په نبوت دلالت کوې او زما د ایمان راوړلو د اسبابو نه یو سبب دا هم وو. چنانچه ما اولیدل تاسو په ځانګو کښې ملاست وئ سپوږمۍ سره به مو خبرې کولې او کوم طرف ته به چه تاسو په ګوته اشاره کوله



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

سپوږمئ به هم هغه طرف ته تله. سرکارِ نامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ''مابه هغې سره خبرې کولې هغې به ما سره خبرې کولې او زه به هغې قلارَوَلم او ما به د هغې د پریوتو آواز اوریدلو کله به چه هغه د عرشِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ نه لاندې په سجده کښې پریوته.''

(دلائل النبوة للبيهقی ج 2 ص 41)

اعلی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي:

چاند جھک جاتا جدھر انگلی اُٹھاتے مہد میں کیا ہی چلتا تھا اشاروں پر کھلونا نور کا

مفهوم: سپوږمئ به ښکته کیده کوم طرف ته به ئې چه ځانګو کښې ګوته اوچته کړه څه ښه به تله په اشارو کھلونه د نور

یو محبت کونکې وئیلې دي:

کھیلتے تھے چاند سے بچپن میں آقا اسلئے یہ سراپا نور تھے وہ تھا کھلونا نور کا

مفهوم: په ماشوم والې کښې به آقا د سپوږمئ سره لوبې ځکه کولې چه دوئ سراسر نور وو او هغه کھلونه د نور وه.

## مُعجِزه شقُّ القمر

په بخاري شریف کښې دي: د مکّې کافرانو د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د مُعجِزې ښودلو مطالبه اوکړه نو هغوئ صَلَّى اللّٰه تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کافرانو ته سپوږمئ دوه ټکړې کړه. (بخاری ج 2 ص 579


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلیٰ)

حديث 3868) **اللّٰه** تبارَكَ وتعالٰى سپاره27 سورةُ القمر په اولني او دويم آيت كښې فرمائي:

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اِقۡتَرَبَتِ السَّاعَۃُ وَ انۡشَقَّ الۡقَمَرُ ﴿۱﴾ وَ اِنۡ یَّرَوۡا اٰیَۃً یُّعۡرِضُوۡا وَ یَقُوۡلُوۡا سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴿۲﴾

مفهوم ترجمه كنزالايمان: د الله په نوم شروع چه ډير مهربان رحم كونكې دې. نيزدې راغې قيامت او اوچودله سپوږمئ او كه اوويني دوئ څه نښه نو مخ اړوي او وائي دا خو جادو دې د پخوا نه راروان.

مُفَسِّر شهير حَكيمُ الاُمَّت حضرت مُفتِي احمد يارخان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن ددې آيت وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ (يعني: اوچودله سپوږمئ) لاندې فرمائی: په دې آيت كښې د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يوې لوئې مُعجِزې شَقُّ القَمَر (دسپوږمئ دوه ټكړې كيدو) ذكر دې. (نورالعرفان ص843)

اشارے سے چاند چیر دیا چُھپے ہوئے خور کو پھیر لیا
گئے ہوئے دن کو عَصر کیا یہ تاب وتواں تمھارے لئے

مفهوم: په اشاره ئې سپوږمئ دوه ټكړې كړه، ډوبه د نمر ستركه ئې راواپس كړه، تيره شوې ورځ ئې مازيگر كړه، دا برداشت او قوت ستاسو د پاره

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

## صرف د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دپاره

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د اودس طبّي فائدو اوريدو سره به تاسو خوشحاله شوي ئې خو زه دا وايم چه ټول فَنِّ طِب په ظَنّيات [يعني په گُمان] مبني دي. او سائنسي تحقيقات هم حَتمي (يعني اټل) نه وي بدليږي رابدليږي. خو د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ او د **رسول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم احکامات اټل وي هغه نه بدليږي. مونږ له په سنتو عمل د طِبّي فائدو دپاره نه بلکه صرف او صرف د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ په خاطر پکار دي. لِهٰذا د دې دپاره اودس کول چه بلډپريشر مي نارمل شي يا تازه دم شم يا د کم خوراک د پاره روژه نيول چه د لوږي فائدې حاصلي شي يا د مدينې سفر ځکه کوم چه آب هوا مي بدله شي او دکور او کاروبار دجنجال نه يو څو ورځې ارام ميلاؤ شی يا ديني مطالعه ځکه کوم چه وخت مي پاس شي د داسې نيتونو سره عمل کونکي ته ثواب نه ورکول کيږي که مونږ عمل د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ دخوشحاله کولو دپاره اوکړو نو ثواب به هم راکړې شي او ورسره ورسره به د هغې فائدې هم راورسي. لِهٰذا د ظاهري او باطنی آدابو خيال ساتلو سره اودس هم مونږ له د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره پکاردي.

### د تصوف لويه مدنی نسخه


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره درود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

حُجّةُ الاسلام امام محمد بن محمد بن محمد غزالی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د اودس كولو نه وروستو چه كله تاسو د مانځه طرف مُتوجې شئ نو دا تَصَوُّر اوكړئ چه په كوم ظاهرى اندامونو چه د خلقو نظر پريوزي هغه خو په ښكاره پاك شو خو د زړه د پاكئ نه بغير په بارګاه اِلٰهِى عَزَّوَجَلَّ كښې مُناجات [يعني دعاګاني] كول د حيا خلاف دي ځكه چه الله عَزَّوَجَلَّ خو زړونه هم وينى. بيا فرمائي: ظاهري اودس كونكي لره داخبره ياد ساتل پكار دي چه د زړه پاكوالي په توبه كولو، ګناه پريښودلو او په ښه اخلاقو خپلولو سره كيږي. كوم كس چه زړه د ګناهو نو د ګندګئ نه نه پاك كوي، صرف ظاهري صفائي او ښائست كافي ګڼړي، د هغه مثال د هغه كَس په شان دي چه بادشاه لره ئي دعوت وركړې وي او خپل كور د باهر نه ښه ښائسته او رنګ دار كړي خو د كور د دننه حصې د صفائي خيال اونه ساتي، نو په دې صورت كه بادشاه دكور دننه ګندګي اووينى نو خفه به شي كه خوشحاله. په دې هريو عقلمند ښه پوهيږي.

(احياءالعُلوم ج 1 ص185 ملخصًا)

## سنّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** ياد ساتى! زما د آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي او زمونږ مقصد د سائنس تابعداري كول نه دي بلكه د سُنت تابعداري كول دي زه به دا اووايم


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

چه کله د یورپ ماهرین د ګلونو د محنت او خوارئ نه پس د څه نتیجې دروازه بیرته کړي نو هغوئ ته مخامخ خندیدونکي او رنړاګانې وروکي سُنت مصطفوي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکاره شي! په دُنیاکښې په لکُونو ځل سیل او سیاحت اوکړئ، خومره چه غواړئ عیش او عشرت اوکړئ خو ستاسو زړه ته به حقیقي راحت نصیب نه شي، د زړه سکون صرف او صرف د الله عَزَّوَجَلَّ په یاد نصیب کیږي، د زړه قرار د سرورِکونین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عشق سره مِلاویږي، د دُنیا او آخرت سکون په سائنسي آلاتو .TV . INTERNET .VCR کښې نشته بلکه دا په اتباع سُنت کښې نصیب کیږي که تاسو واقعي د دواړو جهانونو کامیابي غواړئ نو مونځونه او سُنت مضبوط اونیسئ او د دې د یادولو د پاره د دعوتِ اسلامی په مدني قافلو کښې سفر د ژوند حصه اوګرزوئ، هر یو اسلامی ورور دې دا نیت اوکړي چه په ژوندکښې به کم از کم یو ځل 12میاشتې، هرو دولسو میاشتو کښې یوه میاشت او هره میاشت 3 ورځې د سنتو د تربیت د پاره په مدني قافلو کښې سفر کوم. اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ

تری سنتوں پہ چل کر مری روح جب نکل کر  چلے تم گلے لگانا مدنی مدینے والے

مفهوم: چه په سنّت ستاسو راون یم روح مي اوځي
خپلي غاړي ته مي تینګ کړئ مدني مدینې والے


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د غُسل طريقه (حَنَفي)

دا رِساله د اوّل نه تر آخِره پورې اولولئ، قوي اِمکان دې چه ستاسو ډېرې غلطۍ به ستاسو مخې ته راشي. کړئ.

## د د رود شريف فضيلت

د سرکارِ مدينه، سلطانِ باقرينه، قرارِقلب و سينه، فيضِ گنجينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشادِ رحمت بُنياد دې، په ما باندې د درودِ پاک کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره طَهارت دې [يعني پاکي ده].[5]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عجيبه سزا

حضرتِ سيِّدُنا جُنيد بَغدادي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْهَادِى فرمائي اِبنِ الکُريبي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِى وائي چه يوځل ما ته احتِلام اوشو [يعني په خوب کښې راباندې اودس واووښتو] ما اِراده اوکړه چه اوس په دې ساعت غُسل کووم. خو د سختې يخنۍ شپه وه ځکه مې نفس سستي اوکړه او مشوره

[5] مسندِ ابي يعلٰى ج5 ص458 رقم الحديث 6383 دار الکتب العِلميه بيروت


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَجنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَاني)

ئي راکړه، ”چه اوس خو لويه شپه پرته ده دومره تادي ولې کوې! سحر به په قلاره غُسل اوکړې.“ ما فوراً نفس ته د عجيبه سزا ورکولو د پاره قسم اوخوړلو چه اوس په دې ساعت به د جامو سره لامبم او د لـمبلو نه پس به جامې هم نه نچوړووم اوجامې به په خپل بدن اوچووم. او ما هم دغسې اوکړل. واقِعي چه د الله عَزَّوَجَلَّ په کار کښې سستي کوي د داسې سرکشه نفس هم دا سزا ده.

(کيميائے سعادت ج 2 ص 892 کُتُب خانه عِلمي ايران)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** تاسواوليده! زمونږه اسلاف رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به د خپل نفس د چالونو د ناکامولو د پاره څنګه څنګه مصيبتونه تيرول. د دې نه دِ هغه اسلامي وروڼړه درس حاصل کړي څوک چه د شپې د احتِلام کيدو په صورت کښې د آخرت خوفناک شرم هير کړي او صرف د کور د خلقو نه د شرم په وجه يا د غُسل په باره کښې د سستۍ په وجه د سحر د مونځ جَمعه ضائِع کړي بلکه معاذالله عَزَّوَجَلَّ مونځ هم قضا کړي! چه کله هم غسل فرض شي نو فوراً غسل کول پکار دي. په حديثِ پاک کښې راځي، ”فرِښتې هغه کور ته نه داخِليږي په کوم کښې چه تصوير او سپي او جُنُب وي (يعني په چا باندې چه د جِماع يا احتِلام يا د شهوت سره د مني خارِج کيدو په وجه غُسل فرض شوی وي)“

(سُنَن ابي داؤد ج 1 ص 34)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

# د غُسل طريقه (حَنَفِي)

د ژبې خوزولو نه بغير په زړه کښې داسې نيّت اوکړئ چه څه د پاکئ حاصلولو د پاره غُسل کوم. مخکښې دواړه لاسونه د ګِيټو [مړوندونو] پورې درې درې ځله اووينځئ، بيا د استنجا ځائ اووينځئ که نجاست پرې لګيد لې وي اوکه نه، بيا که په بدن باندې چرې نَجَاست لګيد لې وي نو هغه لرې کړئ بيا د مونځ په شان اودس اوکړئ خو ښپې مه وينځئ، خو که په چوکئ [کټکي] وغيره باندې غُسل کوئ نو بيا ښپې هم اووينځئ، بيا په بدن باندې د تيلو په شان اوبه اومږئ، خصوصًا په جمِي کښې (په دې دوران کښې صابُن هم لګولې شئ) بيادرې ځله په ښئ اُوګه باندې اوبه اوبهيوئ بيا درې ځله په ګڅه اُوګه باندې، بيا په سر باندې او په ټول بدن باندې درې ځله، بيا د غسل د ځائ نه جُدا شئ، که د اودس په وخت کې مو ښپې نه وې وينځلې نو اوس ئې اووينځئ، په لمبلو کښې قبلې ته مه مخ کوئ، په لمبلو کښې په ټول بدن باندې لاس راښکارېږئ او مږئ ئې،په داسې ځائ کښې لامبئ چه څوک هم نه وينې او که داسې [ځائ] نه وي نو نارينه دِ خپل ستر (د نامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره) په څه پيړه کپړه باندې پټ کړي، که پيړه کپړه نه وي نو د ضرورت مطابق دِ دوه يا درې کپړې د ځان نه راتاو کړي ځکه چه که نرئ کپړه وي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

نو د اوبو سره به په بدن پورې اونښلي او مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ زنګونان يا ورَنونه به پکښې زليږي. زنانه ته خو نور هم د ډېر احتياط ضرورت دې. د غسل په د وران کښې د هيڅ قِسم خبرې مه کوئ، څه دُ عا هم مه لولئ، د لمبلو نه پس په توليه وغيره باندې بدن اوچولو کښې څه باک نشته، د لمبلو نه پس فوراً کپړې واغوندئ. که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته ادا کول مُستحب دي. (عامۂ کُتُب فقه حنفي)

## د غُسل درې فرائِض

(1) خُله کښې اوبه اچول (2) په پوزه کښې اوبه خيژول (3) په ټول ښکاره بدن باندې اوبه بهيول. (فَتوٰي عالمګيري ج 1 ص 13)

### (1) خُله وينځل (يعني په خُله کښې اوبه اچول)

په **خُله** کښې لږې شان اوبه اچول او هغه تُوکل خُله وينځل نه دي بلکه چه د خُلې په هره پرزه، په هرګُټ، د شُونډو نه واخله د حلق د جرړې پورې په هر ځائ اوبه اوبهيږي. (خلاصةُالفَتَاوٰي ج1 ص21) هم دغه شان د [جامنو] د غاښونو شا ته د اننګو دننه بيخ باندې، دغاښونو په سُورو او جرړو او د ژبې په هره ډډه باندې بلکه د حلق د غاړې پورې اوبه اوبهيږي. (الدالرالمختار معه ردالمُختار ج 1 ص254) که روژه مو نه وي نو غرغره هم اوکړئ ځکه چه دا سنّت ده. که په غاښونو کښې مو د چهاليه داني يا د غوښې تِيلئ نښتي وي نو هغه راخلاصول ضروري دي. خو که په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

راخلاصولو کښې د ضرر (يعني نقصان) يره وي نومعاف دي. (فَتاوٰي رَضَوِيّه ج1 ص441 رضا فاؤنڊيشن لاهور) د غُسل نه مخکښې که په غا ښونو کښې تِيلئ وغيره محسوس نه شوې او پکښې پاتې شوې او مونځ ئې هم اوکړو، وروستو معلومې شوې نو هغه دِ راخلاصې کړې او اوبه بهيول پرې فرض دي. مخکښې ئې چه کوم مونځ کړې وو هغه اوشو. (ماخوذاز فتاوٰي رَضَوِيّه ج1 ص206) کوم رڼيدلي غاښ که په مساله ټِينګ کړې شوې وي يا په سِيم ترلې شوې وي او د سِيم يا مسا لې نه لاندې اوبه نه رسي نو معاف دي. (فتاوٰي رَضَوِيّه ج2 ص453) په څه طريقه چه د غُسل د پاره يو ځل خُله وينځل فرض دي په دغه طريقه درې ځل خُله وينځل په اودس کښې سُنّت دي.

## (2) په پوزه کښې اوبه خيژول

**په تادئ تادئ** د پوزې سر ته اوبه لګولو باندې کار نه کيږي بلکه دکوم ځائ پورې چه نرم ځائ دې يعني د سخت هډوکي د شروع پورې وينځل لازمي دي. (خُلاصةُ الفَتاوٰي ج1 ص21) او دا هله کيدې شي چه اوبه د بوئ کولو په شان پورته راښکاږئ. دا خيال ساتئ چه د ويښته هُمره ځائ هم د وينځلو نه پاتې نه شي ګني غُسل به نه کيږي. په پوزه کښې دننه که خنړې اوچ شوې وي نو د هغې راخلاصول فرض دي. (فتاوٰي عالمګيري ج1 ص13) او د پوزې د ويښتو وينځل هم فرض دي.
(بهارِ شريعت حصّه2 ص34 مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډېر زيات كنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## (3) په ټول ښكاره بدن باندې اوبه بهيول

د سر د ويښتو نه واخله د ښپو د تلو پورې د بدن په هره پرزه او هر هر ځائ باندې اوبه بهيدل ضروري دي، د بدن ځيني ځائېونه داسې دي چه كه احتياط او نكړې نو هغه به اوچ پاتې شي او غُسل به او نه شي. (فتّاوٰي عالمگيري ج1 ص14)

## د "صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللّٰه" د يوويشت حروف په نسبت د نارينه او زنا نه دواړو د پاره د غُسل يوويشت احتيا طونه

(1) كه د نارينه ويښته چونټه شوې وي نو د هغې خلاصول او د جرړې نه د څوكې پورې اوبه بهيول فرض دي او (2) د زنا نه د پاره صرف جرړې لـمدول فرض دي خلاصول ضروري نه دي. خو كه چونټه دومره سخته وهلې شوې وي چه د خلاصولو نه بغير به ئې جرړې نه لـمديږي نو خلاصول ضروري دي. (فتاوٰي عالمگيري ج1 ص13) (3) كه په غوږونو كښې والئ يا په پوزه كښې د نتكئ سُورې وي او هغه بند نه وي نو په هغې كښې اوبه بهيول فرض دي. په اودس كښې صرف د پوزې [د نتكئ او ميخكي] په سُورې كښې او په غُسل كښې كه په پوزه او غوږ دواړو كښې سُورې وي نو په دواړو كښې اوبه اوبهيوئ (4) د وروزو، بريتو او د ږيرې هر وِيښته د جرړې نه د څوكې پورې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

او د هغې نه لاندې د څرمن وينځل هم ضروري دي (5) د غوږ هره پرزه او د هغې د سُوري خُله اووينځئ (6) د غـوږونو شا ته ويښته لرې كړئ او اوبه پرې اوبهيوئ (7) د زني او د مرئ جوړ كه مخ پورته نه كړې نو نه وينځل شي (8) لاسونه ښه پورته كړئ او ترخُونه اووينځئ (9) د مټو هره ډډه اووينځئ (10) د شا هره زرّه اووينځئ (11) د خيټې ګونجې پورته كړئ او اوئې وينځئ (12) په نوم كښې هم اوبه واچوئ او كه په اوبو بهيدلو كښې شک وي نو په نوم كښې ګوته اووهئ او اوئې وينځئ (13) د بدن هر ځائ د جرړې نه د څوكې پورې اووينځئ (14) د ورون او د خيټې جوړ اوينځئ (15) چه كله په ناسته لامبئ نو د ورون او د پنډئ په جوړ باندې اوبه بهيول ياد ساتئ (16) د دواړو سُرينو د يو ځائ كيدو د ځائ خيال ساتئ خُصوصاً چه كله په ولاړه لامبئ (17) د ورنونو چاپيره او (18) د پنډو په ډډو اوبه اوبهيوئ (19) د ذَكَر او اُنثَيَين لاندينئ ډډه د جوړه پورې او (20) د اُنثَيَين نه لاندې ځائ د جرړې پورې اووينځئ (21) د چا ختنه [يعني سُنّت]چه نه وي شوې، د هغه كه پوټكې پورته كيدې شي نو پورته دِ ئې كړي او په پوټكي كښې دننه دې اوبه اوخيژوي. (مُلخَّص از بهارِ شريعت حصّه 2 ص34)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبرَاني)

## د مستُوراتو د پاره شپږ احتياطونه

(1) زوړند پستان اوچت کړئ او اوبه پرې اوبهيوئ (2) د پستان او د خيټې د جوړ کرښه اووينځئ (3) د فَرجِ خارِج ( يعنې د زنانه د شرم ګاه د باهرحصّې) هرګټ هره ټُکره لاندې باندې په ښه احتياط سره اووينځئ (4) فَرجِ داخِل (يعنې د شرم ګاه دننه حصّه) په ګوته داخِلولو سره وينځل فرض نه دې مُستَحَب دې (5) که د حيض يا نِفاس نه په فارِغ کيدو غُسل کول وي نو په څه زړه توټه [کپړه] د فَرجِ داخِل دننه نه د وِينې اثر پاکول مُستَحَب دې (بهارِ شريعت حِصّه2 ص35) (6) که نَيل پالش [يعنې د نوکانو پالش] په نوکانو لګيدلې وي نو د هغې هم لرې کول فرض دې ګني غُسل به نه کيږي، د نکريزو په رنګ کښې باک نشته.

## د زخم پټۍ

که په زخم باندې پټۍ وغيره تړلې شوې وي او د هغې په خلاصولو کښې نقصان يا څه باك وي نو په پټۍ باندې مسح کول کافي دې او که په څه ځاے باندې د مرض يا د درد په وجه اوبه بهيول نقصان کوي نو په هغه پوره اندام باندې مسح اوکړئ. پټۍ چرې د ضرورت نه زيات ځاے نه وي کير کړې ګني مسح به کافي نه وي. که د ضرورت نه زيات ځاے ګيريدو نه بغير پټۍ نه شي تړله کيدې مثلاً په مټ باندې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

زخم دې خو پټئ د مټ نه چاپيره تړلي شوي ده او د هغې په وجه د مټ روغه حصّه هم د پټئ نه لاندې پټه ده، نو كه خلاصول ئې كيدې شي نو خلاصول ئې ضروري دي او د هغه ځائ وينځل فرض دي. او كه نه شي كيدې يا خلاصيدې خو شي خو بيا ئې ﻫُغسې نه شي تړلې او دغسې زخم وغيره ته د نقصان رسيدو يره ده نو په ټوله پټئ باندې مسح كول كافي دي. د بدن هغه روغه حصّه به هم د وينځلو نه معاف شي (حاشِية الطحطاوي و مراقي الفلاح ص143)

## د غُسل فرض كيدو 5 اسباب

(1) مني د خپل ځائ نه د شهوت سره په جُدا كيدو د عُضوُ نه خارج كيدل. (فَتاوٰي عالمگيري ج1 ص4) (2) اِحتِلام يعني په اودو كښې د مني وتل. (خلاصةُ الفَتاوٰي ج1 ص13) (3) په شرمګاه كښې حشفه (سُپاري) داخليدل كه شهوت وي او كه نه وي،كه اِنزال اوشي او كه نه، په دواړو باندې غُسل فرض شو. (مراقي الفلاح معه حاشية الطحطاوي ص97) (4) د حيض نه فارِغ كيدل. (ايضاً97) (5) د نِفاس (يعني د اولاد كيدو سره چه كومه وينه راځي د هغې) نه فارِغ كيدل. (تبيين الحقائِق ج1 ص17)

په **اكثر** زنانو كښې دا مشهوره ده چه د اولاد كيدو نه پس ښځه د څلويښتو ورځو پورې لازمي طور ناپاكه وي دا بالكل غلطه ده. برائے كرم! د نِفاس ضروري وضاحت اولولئ:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكۍ ليكي. (تِرمِذِی)

# د نِفاس ضروري وضاحت

د **اولاد** كيدو نه پس چه كومه وِينه راځي هغې ته نِفاس وائي د دې زيات نه زيات موده څلويښت ورځې ده يعني كه د څلويښتو ورځو نه پس هم بنده نه شي نو مرض دې. لِهٰذا چه څنګه څلويښت ورځې پوره شي نو غُسل دِ اوكړي او كه د څلويښت ورځو نه مخكښې بنده شي خواه كه د ماشوم د پيدا كيدو نه پس په يو مِنَټ كښې هم بنده شي نو چه څه وخت هم بنده شي نو غسل دِ اوكړي او مونځ او روژه شروع شو. كه په څلويښتو ورځو كښې دننه دوباره وِينه راغله نو د وِلادت [يعني د ماشوم د پيدا كيدو] نه واخله د وِينې د ختميدو پورې ټولې ورځې به په نِفاس كښې شمارل شي. مثلاً د وِلادت نه پس د دوه مِنټو پورې وِينه راتله او بيا بنده شوه او زنانه غسل اوكړي او مونځ روژه وغيره كوي، په څلويښتو ورځو پوره كيدو كښې صرف دوه مِنَټه پاتې وو چه بيا وِينه راغله نو ټوله چِلَّه يعني مكمّل څلويښت ورځې به د نِفاس ګڼړل شي. چه څه مونځونه ئې كړي وو يا ئې روژې نيولي وې ټول بيكاره لاړل، تر دې چه كه په دې دوران كښې ئې د فرض او واجب مونځونو يا روژو قضاءُ راګرزولي وې هغه دِ هم دوباره ادا كړي.

(ماخوذ از فَتاوٰي رَضَوِيّه ج 4 ص 354 نه 356 پورې، رضا فاؤنډيشن لاهور)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنۡزُالۡعُمَّال)

# پينځه ضروري احکام

(1) مَني د شهوت [يعني د خوند] سره د خپل ځائ نه جُدا نه شوه بلکه د وزن اوچتولو يا د اوچت ځائ نه د غورزيدلو په وجه يا د ډکو بَولو د خارِج کولو د پاره د زور لګولو په وجه خارِج شوه نو غسل به فرض نه وي. اودس به په هرحال کښ مات شي.

(مراقي الفلاح معه حاشية الطحطاوي ص 96)

(2) که مني نرئ شوه او د بَولو په وخت کښ يا هسې بغير د شهوت نه د دې څاڅکي رااووتل غسل فرض نه شو اودس به ما ت شي.

(بهارِ شريعت حصّه2 ص38 مکتبه رَضَويّه)

(3) اِحتِلام کيدل ياد دې خو د هغې څه اثر په کپړو وغيره نشته نو غسل فرض نه دې. (فَتاوٰي عالمګيري ج1 ص15)

(4) په مانځه کښ شهوت وو او مني په ښکته راتلل محسوس شوه خو د بَهَر راوتو نه مخکښ ئې مونځ پوره کړلو بيا خارج شوه نو مونځ اوشو خو اوس غسل فرض شو. (فتحُ القدير ج1 ص54)

(5) په خپلو لاسو مادّه خارج کولو سره غسل فرض کيږي. دا د ګناه کار دې. په حديثِ پاک کښ داسي کونکي ته مَلعُون [يعني لعنتي] وئيلي شوي دې. (مراقي الفلاح معه حاشية الطحطاوي ص96) داسي کولو سره مردانه کمزوري پيدا کيږي او ډير ځل ليدلي شوي دي چه آخر سړي د واده لائِق پاتي نه شي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

# د مُشت زنئ عـذاب

د **سرکارِاعلٰحضرت**،امامِ اهلِسنّت مولٰينا شاه امام احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن په خِدمت کښې عرض اوکړې شو، يو کس **مَجلُوق** (يعني د خپل مُوټي سره زِنا کونکې) دې هغه د دې فِعل نه نه بس کوي، ډيرځل هم هغه پوهه کړې دې، تاسو اوفرمائې، د هغه به څه حشر کيږي او هغه لره کومه دعا لوستل پکار دي چه د هغې سره د هغه دا عادت ختم شي؟

**اِرشادِ اعلٰحضرت**: هغه ګناه ګار دې، عاصي دې، د اِصرار[يعني د بيا بيا کولو] په سبب مُرتَکِبِ کبيره دې، فاسِق دې، په حشر کښې به د داسې خلقو (يعني د مُوټي سره زنا کونکو) لاسونه "بلارب" راپاڅي چه د هغې په وجه به په **مجمعِ** اعظم [يعني په لويه ګنړه] کښې د هغه رُسوائي کيږي که توبه اونکړي نو هله، او اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بخښنه ورکوي چا لره چه اوغواړي، او عذاب ورکوي چا لره چه اوغواړي، هغه ته پکار دي چه د **لَاحَول شريف** کثرت کوي او چه کله ئې شيطان د دې حرکت طرف ته غواړي نو فوراً دِ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ طرف ته متوجّه کيږي او لاحول دِ لولي. د پينځه وخته مونځ پابندي دِ کوي او د سحر د مانځه نه پس دِ بې ناغه د سُورهٔ اِخلاص شريف وظيفه کوي. وَاللّٰهُ تَعاليٰ اَعلم[6] (شَجَرهٔ عطّاريّه ص16 کښې دي هر سحر دِ سورهٔ

[6] فتاوٰی رضويه شريف ج22 ص244



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

اِخلاص 11 ځل لولي که شيطان سره د لښکره کوشش اوکړي په ده به ګناه او نه کړې شي ترڅو چه ئي دا ټخپله اونه کړي.)[7]

## په بَهیندہ اوبو کښې د غُسل طریقه

که په بهینده اوبو مثلاً په دریاب ، یا نهر کښې ئې اولمبل نو په هغې کښې د لږ ساعت تیرولو سره به د درې ځله وينځلو، ترتيب او اودس دا ټول سنّتونه ادا شي. د دې هم ضرورت نشته چه اندامونو ته درې ځل حرکت ورکړې شي. که په تالاب وغیره ولاړو اوبو کښې ئې اولمبل نو اندامونو ته درې ځل حرکت ورکولو يا ځائ بدلولو سره به تَثلِيث يعني د درې ځله وِينځلو سُنّت ادا شي. په باران کښې (يا د نل يا فُوارې لاندې) اودرېدل په بهينده اوبو کښې د اودرېدلو په حکم کښې دي. په بهينده اوبو کښې ئې اودس اوکړو نو هم هغه لږ ساعت په هغې کښې اندام حصارول او په ولاړو اوبو کښې حرکت ورکول د درې ځل وينځلو قائِم مقام دي. (الدالرالمختارمعہ ردالمختارج1ص320) د اودس او د غسل په دې ټولو صورتونو کښې خُله وينځل او په پوزه کښې اوبه خيژول ضروري دي.

---

[7] د جَلَق د حیرانونکو نقصاناتو تفصیلی معلوماتو د پاره د سگِ مدینه عفی عنه صرف د 18 پانړو رِساله''امرد پسندی کی تباہ کاریاں'' اولولئ.


www.dawateislami.net

## فوّاره د جاري اوبو په حکم کښې ده

فَتاوٰي اهلِسُنّت (غیرمطبوعه) کښې دي، د فوّارې (یا نل) نه لاندې غسل کول په جاري اوبو کښې د غسل کولو په حکم کښې دي لِهٰذا د دې نه لاندې د غسل کولو په وخت کښې که د اودس او غسل کولو د وخت هُمره پاتې شو نو د تَثلِیث [یعني درې ځله] سنّت به ادا شي چنانچه په دُرِّمُختارکښې دي،"که په روانو اوبو، غټ حوض [یعني تالاب] یا په باران کښې د اودس او غُسل کولو د وخت همره پاتې شو نو هغه پوره سُنّت ادا کړل. (دُرّمختار مع ردالمختار ج1 ص291) یاد ساتئ په غسل یا اودس کښې خُله وینځل او په پوزه کښې اوبه خیژول وي.

## د فوّارې احتیاطونه

که ستاسو په غسل خانه کښې فوّاره (SHOWER) وي نو هغه په ښه طریقه سره اوګورئ چه د هغې طرف ته مخ کولو کښې په بربنډه لــمبلو کښې مخه یا شا خو د قبلې شریف طرف ته نه کیږي. په استنجاخانه کښې هم په هم دې شان احتیاط اوکړئ. د قبلې طرف ته مخه یا د شا کیدو مطلب دادې چه د 45 درجه په زاویه کښې دننه دننه وي. لِهٰذا دا احتیاط هم ضروري دې چه د 45 ډګرې د زاویه نه باهر وي. د دې مَسْئَلې نه اکثر خلق ناخبره دي.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

# د W.C رُخ صحيح کړئ

**مهرباني** اوکړئ د خپل کور وغيره د ډبليو.سي (W.C) او د فوّارې رُخ په پرکار يا د کومې آله په ذريعه معلوم کړئ او اوګورئ که غلط وي نو د دې اصلاح اوکړئ چه د دنيا دا لږ شان تکليف د آخرت د خوفناک مصيبت نه د حفاظت سبب جوړ شي.

**زيات** احتياط په دې کښې دې چه W.C د قبلې نه د 90 په درجه باندې يعنې په مانځه کښې د سلام ګرزولو په طرف کړئ [يعني د قبلې نه داسې په ډېره چه بَولو ته ناست ئې او د سلام ګرزولو په شان خپلې اُوګې ته اوګورئ نو ستاسو مخ قبلې ته راشي]. ګيلکار عام طور د تعميراتي سهولت او د ډيزائِن خيال ساتي د قبلې د آدابو پرواه نه کوي. مسلمانانو ته د مکان د فاني بهترئ په ځائ د آخرت په حقيقي بهترئ باندې نظر ساتل پکار دي.

کچھ نیکیاں کمالے جلد آخِرت بنالے　　　　بھائی نہیں بھروسہ ہے کوئی زندگی کا

څه نيکئ اوکړه ، زر جوړ کړه آخِرت
هيڅ يقين نشته اے وروره د دې ژوند

# کله غُسل کول سُنّت دي

جُمُعه، عِيدُالفِطر، بَقَرعِيد، د عرفه په ورځ (يعني 9 ذُوالحجّةُالحرام او د احرام تړلو وخت کښې غسل کول سُنّت دي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

# كله غُسل كول مستحب دي

(1) وُقُوفِ عَرَفات (2) وُقُوفِ مُزدَلِفه (3) د حَرَم شريف حاضِري (4) حاضرئِ سركارِ اعظم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (5) طواف (6) مِنٰى ته داخليد ل (7) جمرې [يعني شيطان] په كانړو ويشتلو د پاره درې واړه ورځې (8) شبِ بَراءَ ت (9) شبِ قدر (10) د عرفه په شپه (11) مجلِس ميلاد شريف (12) د خير نورو مجالِسو د پاره (13) د مړي د لمبولو نه پس (14) ليوني لره د ليونتوب نه په خود كېښ د راتللو نه پس (15) د بيهوشئ نه په هوش كېښ د راتللو نه پس (16) د نشې د تلو نه پس (17) د ګناه نه توبه كولو (18) نوې جامې اغوستلو د پاره (19) د سفر نه د رارسيدو والا د پاره (20) د اِستِحاضه وِينه د بنديدو نه پس (21) د كُسُوف او خُسُوف نمونځونو دپاره (22) د اِستِسقاء د نمونځ د پاره (23) د يَرې او تيَرې او سختې سِيلئ د پاره (24) په بدن باندې نَجاست [ګند] لګيدلې وي او دانه وي معلومه چه په كوم ځائ لګيدلې دې. (بهارِ شريعت حصّه 2 ص 41)

# په يو غُسل كېښ مُختلِف نِيَّتونه

چه په چا باندې يو څو غُسلونه وي مثلاً اِحتِلام هم ورته شوې وي، اختر هم دې او جُمعه هم ده، نو د درې واړو نِيَّت دِ اوكړي چه يو غسل ئې اوكړو نو ټول ادا شو او د ټولو ثواب به ئې كيږي.
(الدالرالمختار معه ردالمختار ج1 ص341)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

# په با ران كښې غُسل

د **خلقو** په مخكښې د ستر ښكاره كيدو په حالت كښې لامبل حرام دي. (فَتاوٰي رَضَوِيه ج3ص306) په باران وغيره كښې چه هم لامبئ نو د پاجامې يا پرتوګ د پاسه بل پيرے څادر راتاؤ كړئ چه كه پاجامه د اوبو په وجه اونخښلي نو چه د ورنونو وغيره رنګ پكښې نه شي زليدلې.

# د تنګ لِبا س والا طرف ته كتل څنګه دي؟

كه **لباس** تنګ وي يا تيزه هوا اولګيده يا په باران يا د سمندر په غاړه يا په نهر وغيره كښې اګر كه پيرو جامو كښې اولامبي او جامه [په بدن پورې] داسې اونخښلي چه د ستر د كوم يو پوره اندام مثلاً د ورون مكمل چاپيره هيئَت (پيرِوالي) پكښې معلوميږي په داسې حالت كښې د بل چا د پاره دغه اندام طرف ته كتل جائِز نه دي. هم دا حكم د تنګ لِباس والا د سِتر د كوم يو راپورته شوي پوره اندام طرف ته د كتلو دي.

# په بربنډه لامبلو كښې ډير احتياط

په **غسل خانه** كښې چه يواځې بربنډ لامبئ يا په داسې پاجامه [يا پرتوګ] كښې لامبئ چه د هغې د [بدن سره] د نخښتو په وجه د ورنونو وغيره رنګ زليدې شي نو په داسې حالت كښې د قبلې طرف ته مخه يا شا مه كوئ.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## که د غسل کولو سره نزله زياتيږي نو؟

که **زُکام** يا آشوبِ چشم [يعني د سترګو نه د اوبو راتللو بيماري] وغيره وي او دا صحيح ګُمان وي چه که په لامبلو کښ په سر باندې اوبه واچووم نو مرض به زيات شي يا به نور مرضونه پيدا شي نو خُله اووينځئ او په پوزه کښ اوبه اوخيژوئ او د څټ سره اولامبئ او د سر په هره حصّه باندې لوند لاس اومږئ غسل به اوشي. د صحت [يعني د جوړيدو] نه پس سر اووينځئ د نوي سر نه بيا د غسل کولو ضرورت نشته.

(بهارِ شريعت حصّه2 ص 36 مدينةُ المرشِد بريلي شريف)

## په بالټي د لامبلو په وخت کښ احتياط

که د بالټي په ذريعه غسل کوئ نو احتياطاً هغه په ټِيپئ (STOOL) وغيره باندې کېږدئ چه بالټي ته خاشکي نه کيږي او په غسل کښ د استعمالولو د لاستي والا لوټه په فرش باندې مه کېږدئ.

## د وِينښته غُوټه

که وِينښته غُوټه واخلي نو په غسل کښ په هغې د اوبو بهيولو د پاره د هغې خلاصول ضروري نه دي.

(بهارِ شريعت حصّه 2 ص36 مدينةُ المرشِد بريلي شريف)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

## ”قرآن مُقدّس دې“ د دې لس حُروفو په نسبت د ناپاکۍ په حالت کښې د قرآنِ پاک لوستلو او د لاس لګولو10 آداب

(1) په چا چه غسل فرض وي د هغه جُمات ته تلل، طواف کول، قرآنِ پاک ته لاس وغيره لګول، د لګيدلو نه بغير په يادو لوستل، د کوم يو آيت ليکل، د آيت تعويذ ليکل (دا په داسې حالت کښې حرام دي چه په هغې کښې کاغذ ته لاس وغيره لګي، او که کاغذ ته او نه لګي نو ليکل جائِز دي) (غيرِ مطبوعه فَتاوٰي اهلِسُنّت) داسې تعويذ ته لاس وغيره لګول، يا داسې ګوتۍ ته لاس وغيره لګول او اچول چه په هغې حُروفِ مُقطَّعات ليکلې شوې وي حرام دي. (الدّرّالمُختارمعه ردّالمختارج1ص343) (موم جامه والا [يعني په موم کښې پټ] يا په پلاسټک کښې تاو کړې شوې په کپړه يا خرمن کښې ګنډلې شوې تعويذ اچول يا هغې ته لاس وغيره لګولو کښې باک نشته.)

(2) که قرآنِ پاک په کڅوړه کښې وي نو بې اودسه يا بې غسله کڅوړې ته لاس وغيره لګولو کښې باک نشته. (الهِداية معه فتحُ القدير ج1ص149)

(3) هم دغسې په څه داسې کپړه يا رومال وغيره قرآنِ پاک نيول جائِز دي چه کومه نه خپله تابِع وي [يعني د تن جامه نه وي] او نه د قُرآنِ پاک. (ماخوذازردّ المُختارج1ص248)

(4) د کُرتې [يا د قميص] په لِستونړي، د لوپټې په پلَو، تر دې چه د څادر يو پلَو د هغه په اُوګه وي نو د څادر بل پلَو قرآنِ پاک ته لګول


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: څوک چه په ما باندې په ورځ کښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووم). (اِبنِ بشکوال)

حرام دي ځکه چه دا هر څه د هغه تابِع دي. (الدالر المختار معه ردالمختار ج1 ص537. بهارِ شريعت حصّه2 ص42 مدينةُ المرشد بريلي شريف)

(5) د **قرآنِ پاک** آيت ئې د دعا په نيّت سره يا د برکت د پاره مثلاً بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ يا د شکر د ادا کولو د پاره اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ يا د کوم مسلمان په مرګ يا د څه قِسم نقصان په خبر اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ يا د ثناء په نيّت پوره سورهٔ فاتِحه يا آيةُ الکُرسي يا ئې د سورةُ الحَشر آخري درې آيتونه اولوستل او په دې ټولو سُورتونو [لوستلو] کښې د قرآن د لوستلو نيّت نه وي نو هيڅ باک نشته. (ماخوذ از فتاوٰي عالمگيري ج1 ص38)

(6) درې واړه **قُل** د قل د لفظ نه بغير د ثناء په نيّت لوستلې شي. د قُل د لفظ سره ئې د ثناء په نيّت هم نه شي لوستلې ځکه چه په داسې صورت کښې د دې قرآن کيدل مُتَعَيَّن دي، نيّت ته پکښې هيڅ دَخَل نشته. (بهارِ شريعت حصّه2 ص43 بريلي شريف)

(7) بې اودسه لره قرآن شريف يا کوم يو آيت ته لګيدل حرام دي. بغير د لګيدو نه په يادو يا په کتلو سره لوستلو کښې باک نشته.
(ردالمختار ج 1 ص 352. بهارِ شريعت حصّه 2 ص 43 مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

(8) په کوم لوښي يا کټورې باندې که سورة يا آيت قُرآني ليکلې شوې وي بې اودسه لره هغې ته لاس وغيره لګول حرام دي. (فَتاوٰي رَضَويّه ج 1 ص 39)

(9) د دې استعمالول د هر يو د پاره مکروه دي. خو خاص د شِفا په نيّت په دې کښې اوبه وغيره اچولو او څښلو کښې باک نشته.

(بهارِ شريعت حصّه ص

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نِزدې هغه وي چا چې په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

(10) د **قرآن پاک** ترجمه که په فارسي يا اُردو يا په بله کومه ژبه کښې وي د هغې په لوستلو او لاس وغيره لګولو کښې هم د قرآنِ پاک په شان حکم دې. (فَتاوٰي عالمګيري ج1 ص39)

## بې اوده سه ديني كتابونوته [لاس وغيره] لګول

**بې اودسه** يا هغه څوک په چا چې غسل فرض وي هغوئ لره د فِقهُ، تفسير و حديث کتابونو ته لاس وغيره لګول مکرُوهِ تنزيهي دي. (فتاوٰي عالمګيري ج1 ص39) او که دې [کتابونو] ته ئې څه توټه [کپړه] وغيره اولګوله اګر که هغه توټه هغه اوغوستې وي يا ئې په سر کړې وي نو باك نشته. خو آياتِ قرآني يا د هغې ترجمه باندې په دې کتابونو کښې هم لاس اينبودل حرام دي. (بهارِ شريعت حصّه2 ص43 مدينةُ المرشد بريلي شريف)

**بې اودسه** اسلامي كتابونه لوستلونكي بلكه اخبارونو او رسالو ته لاس لګولو والا هم احتياط کوئ ځکه چې عام طور په دې کښې آيات او ترجمې شامِلې وي.

## د ناپاکئ په حالت کښې درود شريف لوستل

(1) په چا چې غسل فرض وي د هغوئ د پاره په درود شريف او دعاګانو لوستلو کښې باک نشته خو بهتره داده چې اودس اوکړي يا خُله اووينځي بيا ئې اولولي. (بهارِ شريعت ج2 ص43)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

(2) د اذان جواب ورکول د دوئ د پاره جا ئِز دي. (فتاوٰي عالمګيري ج1 ص38)

## كه په ګوته پورې سياهي نخښتي وي نو؟

د **يخولو** والا په نوکانو کښې وره، د ليکلونکي په نوک کښې د سياهي پاترې، د عامو خلقو د پاره د مچ يا ماشي ګند[کوم چه د هغې د شا د مقام نه راوځي دا ټول خيزونه] لګيدلي پاتې شو او خيال ئې ورته نه وو نو غسل به اوشي.(الدالر المختار معه ردالمحتار ج1 ص316) خو وروستو كه معلوم شي نو د هغې لرې کول او د هغه ځائ وينځل ضروري دي **مخکښې** ئې چه کوم مونځ کړې وي هغه اوشو. (جدُّالممتار ج1 ص111)

## ماشوم كله بالِغ كيږي

**هلك** ته د دولس نه د پينځلّس کالو د عمر په دوران کښې او جينئ ته د نهه كاله نه د پينځلّس کالو د عمر په دوران کښې چه کله اول ځل احتلام اوشي نو دا بالِغ شو اوس په دوئ باندې د احکامِ شريعت پابندي لازم شوه. لهٰذا د احتِلام په ذريعه د بالِغ کيدو په صورت کښې په دوئ باندې غسل فرض شو. او که د بالِغ کيدو څه نښه ښکاره نه شوه نو دوارو د هِجري سن په حساب چه کله د پوره پينځلّس کالو د عُمر شي نو بالِغ به منل شي.

(اللباب في شرح الكتاب ج2 ص16)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړېږم.(شُعَبُ الاِيمان)

## د كتابونو اينښودلو ترتيب

(1) **قرآن پاک** د ټولو كتابونو د پاسه كېږدئ بيا تفسِير بيا حديث بيا فِقه بيا نور اسلامي كِتابونه. (الدالرالمختار معه ردّالمحتار ج1 ص354)

(2) **كِتاب** باندې بل يو څيز تر دې چه قلم هم پرې مه كېږدئ بلكه په كوم بكس كښې چه كتاب وي په هغې هم څه څيز مه كېږدئ.

## د پاڼرو نه پونړئ جوړول

(1) د **مسائِل** يا د دينيات د پاڼرو نه پونړئ جوړول، په كوم دسترخوان يا بِستره باندې چه شعرونه يا په هره يوه ژبه كښې عبارات (لكه د كمپنئ نوم وغيره) ليكلې شوې وي د هغې استعمال منع دې.

(ماخوذاز: الدالرالمختار معه ردالمحتار ج1 ص355، 356)

(2) د هرې ژبې د حُروفِ تَهَجّي ادب كول پكار دي. (ردالمحتار ج1 ص607)

(د نوروتفصيلي معلوماتو د پاره د فيضانِ سنّت باب "فيضان بِسمِ الله" ص113 نه ص 123پورې اولولئ).

(3) د **مُصلّي** په كوټ پورې عام طور د كمپنئ د نوم چيټ ګنډلې شوې وي هغه ترې لرې كوئ.

## په مُصلّه باندې د كعبةُ الله شريف تصوير

داسې **مُصلّي** په كومو چه كعبةُ الله شريف يا ګُنبدِ خَضرا جوړ شوې وي د دې په استعمالولو كښې په مُقدّس تصوير باندې د ښپې يا


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَجنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

د زنګون لګیدو اِمکان وي ځکه په مانځه کښې د داسې مصلّه استعمالول مُناسِب نه دي. (فَتاوٰي اَهلِسُنّت)

## د وَسوَسو يو سبب

په غُسل خانه کښې د بَولو کولو په وجه وسوسې پيدا کيږي. د حضرتِ سيّدُنا عبدُالله بِن مُغفَّل رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه رسولِ کرِيم، رءُوفٌ رَّحيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې نه منع فرمائيلې دي چه څوک دِ په غُسل خانه کښې بَول اوکړي او فرمائيلي ئې دي، "بيشکه عُموماً د دې نه وَسوَسې پيدا کيږي." (جامِعِ تِرمِذي ج1 ص5)

## د تَيَمُّم بيان د تَيَمُّم فرائِض

په تَيَمُّم کښې درې فرض دي (1) نيّت (2) په ټول مخ لاس راښکل (3) د څنګلو سره د دواړو لاسو مَسحُ کول.

(بهارِ شريعت حصّه 2 ص65 مدينةُالمُرشِد بريلي شريف)

## "تَيَمُّم ياد کړه" د لسو حروفو په نِسبت د تَيَمُّم لس سُنّتونه

(1) بِسمِ الله شريف لوستل (2) لاسونه په زمکه وهل (3) په زمکه لاس وهلو کښې لاسونه مخکښې وروستو خوزول (4) ګوتې فراخه ساتل (5) لاسونه څنډل يعني د غټې ګوتې سته د بل لاس د غټې ګوتې ستې ته وهل خو دا احتياط پکار دې چه د لاس پرقولو آواز


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

پيدا نه شي (6) اول د خُلې بيا د لاسونو مسحُ کول (7) د دواړو مسحُ پرله پسې کول (8) اول د ښې بيا د ګڅ لاس مسحُ کول (9) د ګيرې خِلال کول (10) د ګوتو خِلال کول هله چه ګرد ورته رسيد لې وي. او که ګرد ورته نه وي رسيد لې مثلاً په کاڼړې وغيره څه داسې څيز باندې ئې لاس اووهلو چه په هغې ګرد [يعني دُوړه] نه وي نو خِلال فرض دي د خِلال د پاره دوباره په زمکه لاس وهل ضروري نه دي.

(بهارِ شريعت حصّه2 ص67 مدينةُالمُرشِد بريلي شريف)

## د تَيَمُّم طريقه

د "تَيَمُّم" نيّت اوکړئ (نيّت د زړه اِرادې ته وائي، چه په ژبه ئې هم اووائې نو بهتره ده. مثلاً داسې اووائې: د بې اودسئ يا د بې غُسلئ يا د دواړو نه د پاکئ حاصلولو او د نمونځ د جائِز کيدو د پاره تَيَمُّم کووم) "بِسمِ الله" اولولئ بيا د دواړو لاسوګوتې خوَرې کړئ او څه داسې څيز ته ئې اووهئ چه هغه د زمکې د قِسمه (مثلاً کاڼړې، چونا، خښته، ديوال، خاوره وغيره) وي او مخکښ روستو ئې اوخوزوئ که زيات ګرد وريورې اوڅنډلې نو اوئې څنډئ او په هغې د ټول مخ په داسې طريقه مسح اوکړئ چه هيڅ حصّه هم پاتې نه شي که د ويښته هُمره ځائ هم پاتې شو نو تَيَمُّم به نه کيږي. بيا په دويم ځل هم دغه شان



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي.(مَجمَعُ الزَّوَائِد)

لاسونه په زمکه اووهئ او د دواړو لاسو د نوکانو نه واخله د ښنګلو سره مسح اوکړئ، د دې بهتره طريقه داده چه د ګڅ لاس د غټې ګوتې نه علاوه د څلورو واړو ګوتو خيتې[يعني دننه طرف ته نرمې حصّې] د ښي لاس په شا باندې کيږدئ او د ګوتو د سرونو نه ئې د ښنګلې پورې [په راښکلو] اورسوئ او بيا د هغه طرف نه هُم د ګڅ لاس تلې د ښي لاس په خيټه په راښکلو د کِيتِّئ (يعني د مرونده) پورې راولئ او د ګڅ لاس د غټې ګوتې په خيټه باندې د ښي لاس د غټې ګوتې د شا **مسحُ** اوکړئ. هم په دې شان په ښي لاس د ګڅ لاس **مسحُ** اوکړئ. (فَتاوٰيتارتارخانيه،ج1،ص227) او که يو ځل په پوره تلي او ګوتو **مسحُ** اوکړې شي نو هُم "تَيَمّم" اوشو. که د ښنګلو نه ئې د ګوتو طرف ته راولې يا ئې د ګوتو نه د ښنګلو طرف ته بوزي [تيمّم اوشو] خو د سنّت خِلاف اوشو. په تيمّم کښې د سر او د ښپو **مسحُ** نشته. (عامه کُتُب فقه)

## د تَيَمُّم 25 مدني ګلونه

(1) کوم څيزچه په اور نه وِيلې کيږي نه پرې نرميږي هغه د زمکې د جِنس (يعني قِسم) دې په دې تَيَمُّم کول جائِز دې. شګه، چونا، رانجه، ګُوګړ، زبرجد، فيروزه، عقيق، وغيره ملغلرو باندې تَيَمُّم جائِز دې که په هغې ګرد وې او که نه وې. (البحرُالرّائِق ج1 ص256)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

(2) په پخه خښته، په چيني [لوښي] يا د خاورې په لوښي تَيَمُّم جائِز دې. خو که هغې ته د داسې څيز مخ [يعني ليو، اخيړ] ورکړې شوې وي چه هغه د زمکې د جِنس نه نه وي مثلاً د شيشې مخ ورکړې شوې وي نو تَيَمُّم پرې جائِز نه دې. (فَتاوٰي عالمګيري ج1 ص27)

(3) په کومه خاوره، کاڼي وغيره چه تَيَمُّم کول شي د هغې پاک کيدل ضروري دي يعني چه نه په هغې باندې د نَجاست اثر وي او نه داسې وي چه صرف په اوچيدو د هغې نه د نَجاست اثر لرې شوې وي. (الدالرالمُختار معه ردالمُختار ج1 ص435) زمکه، ديوال او هغه ګَرد کوم چه په زمکه پروت وي که ناپاکه شي بيا په نمر [ګڼيدو] يا د هوا سره اوچ شي او د نَجاست اثر ترې ختم شي نو پاک دې او په هغې نمونځ کول جائِز دي خو په هغې تَيَمُم نه شي کيدې.

(4) دا شک چه کله به نَجِس شوې وي فضول دې د دې هيڅ اعتِبار نشته.

(5) که په کوم يو لرګي، ټوټه يا درئ وغيره باندې دُومره ګَرد وي چه په هغې د لاس وهلو سره د ګوتو نخښه جوړه شي نو په هغې تَيَمُّم کول جائِزدي. (فَتاوٰي عالمګيري ج1 ص27)

(6) د چونې، خاورې يا د خښتو ديوال که د کور وي او که د جُمات وي، تَيَمُّم پرې جائِز دې، خو په هغې آئِل پينټ، پلاسټِک پينټ او ميټ فينِش يا وال پيپر کوم يو داسې څيز لګيدلې نه دې پکار چه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

هغه د زمکې د جِنس نه نه وي. په ديوال که ماربل لګيدلې وي نو هيڅ باک نِشته.

(7) د چا چه اودس نه وي يا ورته د غُسل کولو حاجت وي او په اوبو قُدرت نه لري نو هغه دِ د اودس او د غسل په ځائ تَيَمُّم اوکړي.
(فَتاوٰي قاضي خان معه عالمګيري ج1 ص53)

(8) داسې بيماري چه اودس يا غسل کولو سره د هغې د زياتيدو يا زيات وخت کښې د جوړيدو صحيح انديښنه وي يا ورته د خپل ځان په باره کښې تجربه وي چه کله ئې هم اودس يا غسل کړې دې نو بيماري ئې زياته شوې ده يا داسې چه کوم يو مسلمان ښه قابِل طبيب چه ظاهري طور فا سِق نه وي هغه ورته اووائې چه اوبه به نقصان درکوي، نو په داسې حالاتو کښې تَيَمُّم کولې شي. (الدالرالمختار معه ردالمُختار ج1 ص441)

(9) که د سر سره په لامبلو کښې اوبه نقصان درکوي نو د مرئ سره اولامبئ او د پوره سر مَسَح اوکړئ. (بهارِ شريعت حصّه2 ص60 مدينةُالمُرشِد بريلي شريف)

(10) کوم ځائ چه خلور واړه طرف ته د يو يو مِيله پورې د اوبو دَرَك نه وي هلته هم تَيَمُّم کولې شي.

(11) که دومره آبِ زم زم شريف ورسره وي چه هغه د اودس د پاره کافي وي نو تَيَمُّم کول جائِز نه دي. (بهارِ شريعت حصّه2 ص61 مدينةُالمُرشِد بريلي شريف)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

(12) که دومره يخني وي چه د لامبلو سره د مړکيدو يا د بيماريدو يخه انديښنه وي او د لامبلو نه پس د يخنئ نه د بچ کيدو څه سامان هم نه وي نو تَيَمُّم جائِز دې. (فتاوٰي عالمګيري ج1 ص28)

(13) که د قيدخانې والا قيدي اودس کولو ته نه پرېږدي نو تَيَمُّم دِ اوکړي او نمونځ دِ اوکړي وروستو دِ بيا اِعاده [يعني بيا نمونځ] اوکړي او که هغه دُښمن يا د قيد خانې والا ئې نمونځ کولو ته هم نه پرېږدي نو په اِشاره دِ ئې اوکړي او وروستو دِ اِعاده اوکړي [يعني دوباره دِ ئې اوکړي] (اِيضاً)

(14) که دا ګُمان ئې وي چه په اوبو لټولو کښې به ئې قافِله د سترګو نه پناه شي (يا به ترې ريل ګاډې لاړ شي) نو تَيَمُّم جائِز دې. (اِيضاً)

(15) په جُمات کښې اُوده وو او غُسل پرې فرض شو نو چه کوم ځائ وو په هُم هغه ځائ دِ تَيَمُّم اوکړي هم دا اَحوَط (يعني احتياط ته زيات نِزدې) دې. (ماخوذاز فتاوٰي رَضَويّه ج3 ص492 رضافاؤنډيشن) بيا دِ باهر ته اوځي تاخير کول حرام دي. (فتاوٰي عالمګيري ج1 ص28)

(16) وخت دُومره تنګ شو چه که اودس يا غُسل کوي نو مونځ به ترې قضا شي نو تَيَمُّم دِ اوکړي او مونځ دِ اوکړي بيا د اودس يا غُسل کولو نه پس د مونځ اِعاده [يعني دوباره کول] لازِم دې. (فتاوٰي رَضَويّه ج3 ص307)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

(17) كه ښځه د حيض و نِفا س نه پا كه شي او په اوبو قُدرت نه لري نو تَيَمُّم دِ اوكړي. (بهارِ شريعت حِصّه 2 ص 64 مدينةُالمُرشِد بريلي شريف)

(18) كه څه داسې ځائ وي چه هلته نه اوبه پيدا كيږي او نه د تَيَمُّم د پاره پاكه خاوره، نو هغه ته پكار دي چه په داسې وخت كښې د مانځه په شان انداز جوړكړي يعنې د مانځه ټول حَرَكات دِ د مانځه نيّت نه بغير اوكړي. (بهارِشريعت حصّه2 ص65) خو په پاكو اوبو يا په پاكه خاوره د قدرت مُوندلو سره به اودس يا تَيَمُّم كوي او مونځ به كوي.

(19) د اودس او د غسل د تَيَمُّم يوه طريقه ده. (ايضاً)

(20) په چا چه غسل فرض وي نو د هغه د پاره دا ضروري نه دي چه د اودس او غُسل دواړو د پاره دوه ځل تَيَمُّم اوكړي بلكه د دواړو نِيّت دِ په يو كښې اوكړي دواړه به اوشي او كه صرف د غسل يا د اودس نيّت ئې اوكړو نو بيا هم كافي ده.(فتاوٰي قاضي خان معه عالمگيري ج1 ص53)

(21) په كومو څيزونو چه اودس ماتيږي يا پرې غسل فرض كيږي په هغې تَيَمُّم هم ما تيږي او په اوبو باندې قدرت موندلو سره هم تَيَمُّم ماتيږي. (فتاوٰي تاتارخانيه ج1 ص249 ادارةُ القرآن)

(22) زنانه كه په پوزه كښې ميخكې وغيره اچولې وي نو هغه دِ اوباسي ګني د ميخكې په ځائ به مسحُ اونشي. (بهارِشريعت حصّه2 ص66)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شریف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را لیږي. (ابن عدي)

(23) د شونډو هغه حصه کومه چه د خُلې د عادتاً بندیدلو په حالت کښې ښکارې په هغې مسحُ کیدل ضروري دي که په مخ باندې د لاس د راښکلو په وخت کښې چا شونډې کلکې زور کړې چه [د هغې په وجه] څه حصه د مسحُ کیدو نه پاتې شوه نو تَیَمُّم به اونه شي. هم دغسې ئې که سترګې کلکې بندې کړې نو بیا به هم اونه شي. (بهارِ شریعت حصه 2 ص66)

(24) که ګوتئ یا ګینته وغیره ئې اچولې وي نو هغه دِ اُوباسي څکه چه د هغې نه لاندې لاس راښکل فرض دي. (مراقي الفلاح معه حاشیه الطحطاوي ص120) اسلامي خویندې دِ هم بنګړي وغیره خوزوي او د هغې نه لاندې دِ مسحُ کوي. دتَیَمُّم احتیاطونه د اودس نه زیات دي.

(25) که بیمار یا بې لاسو او بې ښپو پخپله تَیَمُّم نه شي کولې نو بل څوک دِ ئې ورته اوکړي په دې کښې بل ته د تَیَمُّم کولو والا د نیّت اعتِبار نشته، د چا تَیَمُّم چه کیږي هغه به نیّت کوي. (عالمګیري ج1 ص26)

**مد ني مشوره:** د اودس احکام زده کولو د پاره زما رِسا له "د اودس طریقه" او د مونځ احکام زده کولو د پاره "د مونځ طریقه" لوستل فائِده مند دي.

**یا ربِّ مُصطفٰی!** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مونږ ته بیا بیا د غُسل د مسائِلو د لوستلو، په دې د پوهیدلو او نورو ته د پوهه کولو او د سنّت مطابِق د غُسل کولو توفیق را کړې.


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# فيضانِ اذان

## (مع ٣ کروړه او ٢٤ لاکه نيکئ اوکټئ)

دا رِساله د اوّل نه تر آخره پورې اولولئ،قوي اِمکان دې چه ستاسو ډيرې غَلَطئ به ستاسو مخې ته راشي

## د دُرود شريف فضِيلت

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمت نه ډك فرمان مبارك دې: چا چه قرآنِ پاك اولوستو او د ربّ تَعَالٰى حَمد ئې اوکړو او په نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ئې دُرُود شريف اولوستو او د خپل ربّ نه ئې بخښنه اوغوښته نو هغه خير د هغې په ځائ کښې اولټولو.

(شُعَبُ الْاِيمان ج٢ ص٣٨٣ حديث ٢٠٨٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## حُضُورِ اَنور ﷺ يو ځل اذان کړې وو

نبئِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سفر کښې يو ځل اذان کړې وو او کَلِماتِ شهادت ئې داسې وئيلي وې: اَشْهَدُ اَنِّيْ رَسُوْلُ الله (زه ګواهي ورکووم چه زه د الله رسُول يم)

(فَتَاوٰى رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج٥ ص٣٧٥ ، تُحفَةُ الْمُحتاج ج١ ص٢٠٩)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

## آذان دي که اذان؟

ځيني خلق ''آذان'' وائي دا غلط تَلَفُّظ دې. آذان د ''اُذُن'' جمع ده او د اُذُن معنٰی ده: غوږ. صحيح تَلَفُّظ اَذان دې، د اَذان لُغوي معنٰی ده: خبرداره کول.

## د ''فیضانِ اذان'' د نهه حروفو په نِسبت د اذان په فضائلو مُشتَمِل نهه اَحادِیثِ مُصطفٰی ﷺ

## ﴿۱﴾ په قبر کښې به ئې چینجي نه کیږي

د **ثواب** د پاره اذان کولو والا د هُغه شهید په شان دې چه هغه په وِینه کښې لړلې شوې دې او چه کله مړ شي نو په قبر کښې به د هغه په بدن کښې چینجي نه کیږي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۱۲ ص۳۲۲ حدیث۱۳۵۵٤)

## ﴿۲﴾ د ملغلرو ګنبد

زه جنَّت ته لاړم، په هغې کښې مې د ملغلرو ګُنبدې اولیدلې د هغې خاوره د مُشکو ده. تپوس مې اوکړو: اے جبرئیل! دا د چا د پاره دي؟ عرض ئې اوکړو: ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت د **مُؤَذِّنانو** او اِمامانو د پاره. (اَلْجَامِعُ الصَّغِیر لِلسُّیُوطی ص۲۵۵ حدیث٤۱۷۹)

## ﴿۳﴾ تیر شوي ګناهونه معاف

چا چه د پینځه واړه نمونځونو اذان د اِیمان په وجه د ثواب په نِیَّت اوکړو د هغه چه څه ګناهونه مخکښې شوي دي معاف به شي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنِّی)

او څوك چه د اِيمان په وجه د ثواب د پاره د خپلو ملګرو په پينځه نمونځونو کښې اِمامت اوکړي د هغه ګناهونه کوم چه مخکښې شوي دي معاف به کړې شي. (السُّنَنُ الکُبرٰی لِلبَیھَقِی ج۱ ص۶۳۶ حديث۲۰۳۹)

## ﴿٤﴾ شيطان ۳۶ مِيله لرې تښتي

"شيطان چه کله د نمانځه د پاره اذان اوري نو په تيښته رَوْحا ته اورسي." راوي فرمائي: رَوْحا د مدينهٔ مُنَوَّره نه ۳۶ مِيله لرې دي. (مُسلِم ص۲۰٤، حديث۳۸۸ مُلَخَّصاً)

## ﴿۵﴾ اَذان د دُعا د قبليدو سبب دي

چه کله اذان کولو والا اذان کوي د آسمان دروازې برسيره کړې شي او دُعا قبليږي. (اَلْمُستَدرَك لِلْحاكِم ج۲ ص۲٤۳ حديث۲۰٤۸)

## ﴿٦﴾ د مُؤَذِن د پاره اِستِغفار

د مُؤَذِّن آواز چه د څه ځائ پورې رسي، د هغه د پاره بخښنه اوکړې شي او هر لُوند او اوچ [خيز] د هغه د پاره اِستِغفار کوي. (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حَنبل ج۲ ص۵۰۰ حديث۶۲۱۰)

## ﴿۷﴾ د اذان والا په ورځ د عذاب نه امن

په کومه استوګنه کښې چه اذان اوکړې شي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل عذاب نه په هغه ورځ هغې ته امن ورکوي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر لِلطَّبَرانی ج۱ ص۲۵۷ حديث۷٤۶)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## ﴿۸﴾ د یَرې عِلاج

چه کله آدم (عَلَيۡهِ السَّلَام) د جنَّت نه هِندوستان ته راکوز شو هغوئي ته یَره [محسوس] شوه نو جِبرئيل (عَلَيۡهِ السَّلَام) راکوز شو او اذان ئي اوکړو. (حليةُ الْاَوْلِيَاء ج٥ ص١٢٣ حديث٦٥٦٦)

## ﴿۹﴾ د غم لرې کولو نُسخه

اے علي! زه تا غمګِين وينم خپل يو د کور کس ته اووايه چه ستا په غوږ کښې اذان اوکړي، آذان د غم او پريشانۍ لرې کولو والا دې. (جَامِعُ الحديث لِلسُّيُوطی ج١٥ ص٣٣٩ حديث٦٠١٧) د دې رِوایت د نقل کولو نه پس اَعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په فَتَاوٰی رَضَوِيّه شريف جلد٥، صفحه ٦٦٨ کښې فرمائي: مَولیٰ علی (کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجۡهَهُ الۡکَرِیۡم) او د مَولیٰ علي پورې چه څومره د دې حديث راويان دي ټولو فرمائيلي دي: فَجَرَّبْتُهٗ فَوَجَدْتُّهٗ کَذٰلِک (مونږه په دې تجربه کړې ده نو هم دغسې مو موندلي دي). (مرقاةُ المفاتيح ج٢ ص٣٣١، جَامِعُ الحديث ج١٥ ص٣٣٩ حديث٦٠١٧)

## مَهيان هم اِستِغفار کوي

**منقول دي:** د اذان کولو والؤ د پاره هر څيز د بخښنې دُعا کوي تر دې چه په درياب کښې مهيان هم. **مُؤَذِّن** چه څه وخت اذان وائي فرښتې ئې هم وائي او چه کله فارغ شي نو فرښتې د قيامته پورې د هغه د پاره د بخښنې دُعا کوي. څوك چه د **مُؤَذِّنۍ** په حالت کښې مړ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس (يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

شي هغه ته عذابِ قبر نه کيږي او هغه مُؤَذِّن د ځنکدن د سختو نه بچ شي. د قبر د سختئ او تنګئ نه هم په امان کښې وي.

(مُلَخَّص از تفسِيرِ سُورهٔ يُوسُف (مترجَم) ص۲۱)

## د اَذان د جواب فضِيلت

د **مديني** تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل اوفرمائيل: اے زنانؤ! چه کله تاسو د بِلال نه اذان او **اِقامت** اورئ نو څنګه چه هغه وائي تاسو ئې هُم وائې، چه [داسې کوئ نو] اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به ستاسو د پاره د هرې کَلِمې په بدله کښې **يو لاك** نيکئ ليکي او **يو زر** درجات به اوچتوي او **يو زر** ګناهونه به ورانوي. زنانؤ چه دا واوريدل نو عرض ئې اوکړو: دا خو د ښځو د پاره دي د سړو د پاره څه دي؟ اوئې فرمائيل: د سړو د پاره دوه هُمره. (تاريخِ دِمشق لِابنِ عَساكِر ج۵۵ ص۷۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ۳ کروړه او ۲۴ لاکه نيکئ هره ورځ اوګټئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمت نه قربان شم! هغه زمونږ د پاره نيکئ کول، خپل دَرَجات زياتول او ګناه معاف کول څومره آسان کړي دي خو افسوس! د دومره آسانو باوجود هُم مونږه په غفلت کښې اخته اوسو. په ذِکر کړې شوي حديثِ مبارکه کښې چه د اذان او **اِقامت** د جواب وئيلو څه فضيلت بيان شوي دي د هغې تفصِيل اوګورئ:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

"اَللهُ اَكْبَر اَللهُ اَكْبَر" دا دوه كَلِمات دي، دغسې په پوره اذان كښې ټول **پينځلَّس كَلِمات** دي. كه كومه يوه اسلامي خور د يو **اذان** جواب وركړي يعني **مُؤَذِّن** صاحِب چه څه وائي اسلامي خور هم ورپسې هغه وائي نو هغې ته به ١٥ **لاكه** نيكۍ وركړې شي او ١٥ **زره** دَرَجات به ئې اوچت شي او ١٥ **زره** ګناهونه به ئې معاف شي او د اسلامي ورونړو د پاره دا هر څه دوه هُمره دي. د **سحر** په اذان كښې دوه ځله اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْم هم دي نو دغسې د **سحر** په اذان كښې **وولس كَلِمات** شو او دغسې د سحر د اذان په جواب كښې ١٧ لاكه نيكۍ او ١٧ زره درجات اوچت شو او د ١٧ زره ګناهونو بخښنه اوشوه او د اسلامي ورونړو د پاره دوه هُمره. په اِقامت كښې دوه ځله قَدْقَامَتِ الصَّلٰوة هم دي، دغسې په اِقامت كښې هم وولَّس كَلِمات شو نو د اِقامت د جواب ثواب هم د سحر د اذان د جواب هُمره شو. **د دې نه دا حاصله شوه چه كه يوه اسلامي خور په اِهتِمام سره هره ورځ د پينځه واړه نمونځونو د اذانونو او د پينځه واړو اِقامتونو په جواب وركولو كښې كاميابه شي نو هغې ته به هره ورځ يو كروړ او دوه شپيته لاكه نيكۍ حاصليږي، يو لاك او دوه شپيته زره دَرَجات به ئې اوچتيږي او يو لاك شپيته زره ګناهونه به ئې بخښلې كيږي او اِسلامي ورور ته دوه هُمره، يعني ٣ كروړه او ٢٤ لاكه نيكۍ به ورته حاصليږي، ٣ لاكه او ٢٤ زره دَرَجات به ئې اوچتيږي او ٣ لاكه او ٢٤ زره ګناهونه به ئې بخښلې كيږي.**


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

# د اذان جواب وركولو والا جَنَّتي شو

**حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه يو صاحِب، چه د هغه په ظاهِره كوم يو ډير غټ نيك عمل نه وو، هغه وفات شو رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ كرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم په موجودګۍ كښې (د غيب خبر وركړو او ارشاد ئې) اوفرمائيلو: آيا تاسو ته معلومه ده چه اللّٰه تَعَالٰی هغه جنَّت ته داخل كړې دې. په دې باندې خلق حيران شو ځكه چه په ښكاره د هغه څه غټ عمل نه وو. چنانچه يو صحابي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه كور ته لاړو او د هغه د كونډې [ښځې] رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه ئې تپوس اوكړو چه د هغوئي څه خاص عمل مونږ ته اوښائې، نو هغوئي جواب وركړو: بل خو څه خاص غټ عمل ما ته نه دې معلوم، صرف دومره راته معلومه ده چه كه شپه به وه او كه ورځ، چه كله به هم هغوئي اذان اوريدو نو جواب به ئې ضرور وركولو. (تارِيخ دِمَشق لِابْنِ عَساكِر، ج٤٠ص ٤١٢، ٤١٣ مُلَخَّصاً) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

گُنَہ گدا کا حساب کیا وہ اگرچہ لاکھ سے ہیں سِوا
مگر اے عَفُو ترے عَفْو کا تو حساب ہے نہ شمار ہے

زما د ګناه څه حِساب، اګر كه هغه دي د لكونو نه سِوا
خو اے مهربانه ربه ستا د بخښنې نه څه حِساب او نه شُمار شته

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمُعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

# د اذان او د اِقامت د جواب ورکولو طريقه

**مُؤَذِّن** صاحِب ته پکار دي چه د اذان کَلِمات په واره واره وائي. اَللّٰهُ اَکْبَرَ اَللّٰهُ اَکْبَر (دا دوه کَلِمات دي خو) دواړه د يو ځایٔ وئيلو (يعني د سکته کولو نه بغير د يو ځایٔ وئيلو په اِعتِبار) يوه کَلِمه ده، د دواړو نه پس دِ سَکته اوکړي (يعني چپ دِ شي) او د سَکته مِقدار دا دې چه جواب ورکولو والا جواب ورکړي، د سَکتې پريښودل مَکروه دي او د داسې اذان اِعاده (يعني بيا کول) مُستَحَب دي. (دُرِّ مُختار و رَدُّ المُحتار ج ۲ ص ٦٦)

جواب ورکوونکي ته پکار دي چه کله مُؤَذِّن صاحب اَللّٰهُ اَکْبَرَ اَللّٰهُ اَکْبَر اووائي او سَکته اوکړي يعني خاموشه شي هغه وخت دِ اَللّٰهُ اَکْبَرَ اَللّٰهُ اَکْبَر اووائي. هُم دغسې دِ د نورو کَلِماتو جواب ورکړي. چه کله مُؤَذِّن ورومبي ځل "اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله" اووائي نو دا دِ اووائي: صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله (ترجَمه: په تاسو دِ درود وي يا رسُولَ الله (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) چه کله ئې هغه بيا اووائي، نو دا دِ اووائي: قُرَّةُ عَيْنِيْ بِكَ يَا رَسُوْلَ الله (يا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو په وجه زما د سترګو يخ والې دي) او هر ځل دِ د غټو ګوتو نوکان سترګو ته لګوي، او [د دويم ځل] په آخِره کښې دِ وائي: اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنِيْ بِالسَّمْعِ وَالْبَصَرِ (اے الله عَزَّوَجَلَّ! زما د اوريدو او ليدو د قُوَّت نه ما ته ګټه [يعني فائِده] راکړې) (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص ٨٤)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ په جواب کښې دِ (څلور واره ځله) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اووائي او بهتره دا ده چه دواړه اووائي (يعني مُؤَذِّن چه څه اووئيل هغه دِ هم اووائي او لَاحَول دِ هم اووائي) بلکه نور دِ ورسره دا هم يو ځائ کړي: مَاشَآءَ اللّٰهُ كَانَ وَمَالَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ (ترجَمه: څه چه الله عَزَّوَجَلَّ اوغوښتل اوشو، څه چه ئې اُو نه غوښتل اُو نه شو)

(دُرِّ مُختار و رَدُّ الْمُحتار ج۲ ص۸۲، عالمگيرى ج۱ ص۵۷)

د اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ په جواب کښې دِ اووائي: صَدَقْتَ وَبَرِرْتَ وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ (ترجَمه: ته رښتيني او نيکو کار ئې او تا حق اووئيل)

(دُرِّ مُختار و رَدُّ الْمُحتار ج۲ ص۸۳)

د اِقامَت جواب ورکول مُستَحَب دي. د هغې جواب هم دغسې دې، فرق دومره دې چه د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ په جواب کښې دِ داسې وائي:

"اَقَامَهَا اللّٰهُ وَاَدَامَهَا مَادَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ" (الله عَزَّوَجَلَّ دِ دا قائِم لري تر څو چه آسمانونه او زمکه دي)

(عالمگيري ج۱ ص۵۷)

## د اذان څوارلس مَدَنى ګلونه

۞ **پينځه** واړه فرض نمونځونه، په دې کښې جُمُعه هم شامله ده چه کله د جَماعَتِ اُولٰی [يعني د وړومبئ جَمعې] سره په جُمات کښې په وخت ادا کړې شي نو د هغې د پاره اذان سُنَّتِ مُؤَکَّده دې او د دې حُکم د واجِب په شان دې چه که اذان اونکړې شو نو د هغه ځائ ټول خلق به ګنهګار وي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص٤٦٤)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

۞ كه څوك په ښار كښې دننه په كور كښې نمونځ كوي نو د هٰغه ځائ د جُمات اذان د هغه د پاره كافي دې خو اذان كول مُستحب دي.
(رَدُّالْمُحْتَارج٢ ص٦٢.٧٨)

۞ كه څوك د ښار نه بهر يا كلي، باغ يا پټي وغيره كښې وي او هغه ځائ نزدې وي نو د كلي يا ښار اذان كافي دې بيا هم اذان كول بهتر دي او كه نزدې نه وي نو كافي نه دې. د نزدې حد دا دې چه د دې ځائ د آذان آواز هٰغه ځائ ته رسيږي. (عالمگيری ج١ ص٥٤)

۞ كه **مسافر** آذان او اِقامَت دواړه اُو نه وئيل نو مكروه دي او كه صرف اِقامت ئې اووئيلو نو كَراهَت نشته خو بهتره دا ده چه اذان هم اوكړي، كه يواځې وي او كه د هغه د لارې نور ملګري هم هلته موجود وي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٤٧١، دُرِّ مُختار و رَدُّالمُحتار ج٢ ص٧٨)

۞ د **وخت** شروع كيدو نه پس اذان كوئ كه د وخت نه مخكښې مو اوكړو يا مو د وخت نه مخكښې شروع كړو او د اذان په دوران كښې وخت راغې، په دواړو صورتونو كښې دوباره اذان اوكړئ. (اَلْهِدَاية ج١ص٤٥)

مُؤَذِّن صاحِبانو ته پكار دي چه هغوئي د **نِظامُ الاوقات** نقشه كوري ځيني ځينی ځائيونو كښې مُؤَذِّن صاحِبان د وخت نه مخكښې اذان شروع كړي. د اِمامانو صاحِبانو او د اِنتِظاميه په خِدمت كښې هم مَدَني عرض دې چه هغوئي هم دا مسئَله په نظر كښې ساتي.

۞ كه **زنانه** خپل ادا [يعني د حاضِر وخت] نمونځونه كوي او كه قضا كوي، په هغې كښې د دوئي د پاره اذان او اِقامت وئيل مكروه دي.
(دُرِّ مُختار ج٢ ص٧٢)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اُو نه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

۞ د **زنانۇ** د پاره د **جَمعې** سره نمونځ کول **ناجائِزه** دي.
(اَیضاًص ۳٦۷. بَهارِ شریعَت ج ۱ص ۵۸٤)

۞ **پوهه** ماشوم هُم اذان کولې شي. (دُرِّ مُختار ج۲ص۷۵)

۞ د **بې اودسه** کس اذان صحیح دې خو د بې اودسه کس اذان مکروه دې. (بَهارِ شرِیعَت ج ۱ص ٤٦٦، مراقی الفلاح ص٤٦)

۞ د **خُنثٰی** [یعني هِیجړا] او فاسِق [ښکاره ګُنهګار] اګر که عالِم وي، د نشه کس، د لیوني، د بې غُسله او د ناپوهه ماشوم اذان مکروه دې. د دې ټولو اذان دِ بیا اوکړې شي. (بَهارِ شرِیعَت ج ۱ص ٤٦٦، دُرِّ مُختار ج۲ص۷۵)

۞ **که مُؤَذِّن اِمام** هم وي نو بهتره ده. (دُرِّ مُختار ج۲ص۸۸)

۞ د **جُمات** نه بهر، مخ په قبله په ولاړه، په غوږونو کښې دِ ګوتې کیږدي او په اوچت آواز دِ اذان اوکړې شي خو د طاقت نه زیات آواز اوچتول مکروه دي. (بَهارِ شرِیعَت ج ۱ص ٤٦۸، ٤٦۹، عالمگیری ج ۱ص ۵۵)

په اذان کښې په غوږونو کښې ګوتې اینښودل سُنَّت او مُستَحب دي خو خوزَول او تاوهل ئې فُضول حَرَکت دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج ۵ص ۳۷۳)

۞ مخ دِ ښي طرف ته واوړوي او حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ دِ اووائي او مخ دِ کِڼ طرف ته واړوي بیا دِ حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ اووائي اګر که اذان د نمانځه د پاره نه وي مَثَلًا د ماشوم په غوږ کښې ئې کوي. دا تاوهل صرف د مخ دي ټول بدن دِ نه تاوهي. (دُرِّمُختار ج۲ص٦٦. بَهارِ شرِیعَت ج۱ص٤٦۹) ځیني مُؤَذِّنان


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

چه ”صلوٰة“ او ”فَلاح“ ته را اورسيږي نو په مزه غوندې ښي طرف او ګڅ طرف ته هسې مخ اوخوزوي، دا طريقه غَلَطه ده. صحيح انداز دا دې چه مخکښ دِ په صحيح طريقه ښي يا ګڅ طرف ته مخ کړي د هغې نه پس دِ د لفظ ”حَیَّ“ نه شروع اوکړی [او پوره حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ يا حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ دِ اووائي بيا دِ مخ نيغ کړي]

۞ د سحر په اذان کښ د حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ نه پس [دوه ځله] اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْم وئيل مُستَحب دي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۶۷) که اوئې نه وئيل نو بيا به هم اذان اوشي. (قانونِ شريعت ص۸۹)

## د ”اذانِ بِلالي“ د نهه حُروفو په نِسبت

## د اذان د جواب نهه مَدَني ګلونه

۞ د نمانځه د اذان نه علاوه د نورو اذانونو جواب به هم ورکولې کيږي مَثَلًا د ماشوم په پيدا کيدو [د هغه په غوږ کښ د کيدو والا] اذان. (رَدُّالْمُحتَار ج۲ ص۸۲) اَعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: چه ماشوم پيدا شي نو فوراً دِ ورته په ښي غوَږ کښ اذان او په ګڅ کښ تکبِير اووائي چه د شيطان د خلَل [يعني نقصان] او اُمُّ الصِّبْيَان نه بچ شي. (فَتَاوٰی رَضَويّه ج۲۴ ص۴۵۲) په ”مَلفُوظاتِ اَعلٰی حضرت“ صفحه۴۱۷ نه ۴۱۸ کښ دي: ”(صِرع) ډيره خبِيثه بَلَا ده او هم دې ته اُمُّ الصِّبْيَان وائي که ماشومانو کښ وي ګني [که غټو کښ وي] نو صِرع (يعني مِرګي) [ورته وائي].“



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

۞ **مُقتديانو ته د خُطبې** د اذان جواب بالكل وركول نه دي پكار هم دا اَحْوط (يعني احتياط ته نزدې) دي. خو دا د اذان جواب يا د (د دوه خطبو د مينځه) دُعا كه په زړه كښې اوكړي، او په ژبه باندې الفاظ (ادا كول) اَصلًا (يعني بالكل) نه وي نو هيڅ باك نشته. او اِمام يعني خطيب كه په ژبه هم د اذان جواب وركړي يا دُعا اوكړي، نو بيشكه جائِز دي. (فتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج٨ ص٣٠٠، ٣٠١)

۞ **د اذان** اوريدلو والا د پاره د اذان د جواب وركولو حُكم دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٤٧٢) جُنُب (يعني چا ته چه د جِماع يا احتِلام په وجه د غُسل حاجت وي [يعني بې غُسله]) دِ هم د اذان جواب وركوي. البته د حَيض و نِفاس والا زنانه، خُطبه اوريدونكي، د جنازې نمونځ كوونكي، [يا كه څوك] په جِماع كښې مشغول يا په قضائے حاجَت [يعني اودس ماتولو] كښې مصروف وي نو په هغوئي [يعني په دې ټولو] جواب وركول نشته. (دُرِّ مُختار ج٢ ص٨١)

۞ چه كله اذان كيږي نو هغه همره وخته پورې سلام، خبرې كول، د سلام جواب او ټول كارونه بند كړئ تر دې چه تِلاوت هم، اذان په غور سره اورئ او جواب وركوئ او په اِقامت كښې هم داسې كوئ. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٤٧٣، دُرِّ مُختار ج٢ ص٨٦، عالمگِيري ج١ ص٥٧ مُلَخَّصاً)

۞ د اذان په دوران كښې گرځيدل، لوبې، كِلاس وغيره كوم يو څيز راخستل، طعام وغيره ايښودل، وړو ماشومانو سره لوبيدل، په اشارو كښې خبرې كول وغيره هر څه پريښودل زيات مناسب دي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الإيمان)

۞ څوك چه د اذان په وخت كښې په خبرو كښې مشغول اوسي د هغه مَعَاذَاللہ [يعني د الله پناه] د بدې خاتِمې كيدو يَره ده. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ٤٧٣)

۞ په لاره روان وو چه د اذان آواز راغې نو (بهتره دا ده چه) هغه همره ساعت اودريږي (په خاموشئ ئې واوري) او جواب وركړي. (عالمګِيري ج۱ ص۵۷.اَيضاً) خو د اذان په دوران كښې جُماَت ته يا د اودس خانې طرف ته تلَلو يا اودس كولو كښې هيڅ باك نشته، په دې دوران كښې په ژبه جواب هم وركوئ.

۞ د اذان په دوران كښې استنجاخانې ته تلل بهتر نه دي ځكه چه هلته به د اذان جواب نه شي وركولې او دا د ډير غټ ثواب نه محرومي ده البته كه ډير زيات حاجت وي يا د جَمې تللو خطره وي نو لاړ دِ شي.

۞ كه يو څو اذانونه واوري نو په ده باندې د وړومبي جواب وركول دي او بهتره دا ده چه د ټولو جواب وركړي. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج۲ ص۸۲، بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ٤٧٣) كه د اذان په وخت كښې ئې جواب ور نه كړو او زيات وخت نه وي تير شوې نو جواب دِ وركړي. (دُرِّمُختار ج۲ ص۸۳)

## د "يا مُصطفٰی" د ووه حُروفو په نِسبت د اِقامت ووه مَدَني ګلونه

۞ اِقامت په جُماَت كښې په اِمام پسې په ولاړه عين [يعني رَسا] شا ته وئيل بهتر دي كه رَسا شا ته موقع نه وي نو ښي طرف مناسب دې. (ماخوذ از فَتَاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۵ ص ۳۷۲)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

۞ **اِقامت** د اذان نه هم زيات تاكِيدي سُنَّت دې. (دُرِّمُختار ج۲ ص۶۸)

۞ د **اِقامت** جواب وركول مُستَحَب دي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۴۸۳)

۞ د **اِقامت** كَلِمات زر زر وائې او په مينځ كښې **سَكته** مه كوئ. (اَيضاً ص ۴۸۰)

۞ په **اِقامت** كښې هم په حَيَّ عَلَى الصَّلٰوۃ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ كښې (په صفحه ۱۲ كښې د بيان كړې طريقې مطابق) ښي او كَڼ طرف ته مخ اړوئ. (دُرِّ مُختار ج۲ ص۶۶)

۞ **اِقامت** هُم د هغه حق دې چا چه اذان كړې دې، د اذان كولو والا په اِجازت ئې بل وئيلې شي كه چا د اِجازت نه بغير اووئيلو او مُؤَذِّن ته (يعني چا چه اذان كړې وو، په زړه كښې) ناخوښه وې نو مكروه دي. (عالمگيرى ج۱ ص۵۴)

۞ كه د **اِقامَت** په وخت كښې خوك راغې نو هغه ته په ولاړه اِنتِظار كول مكروه دي بلكه پكار ده چه كښيني، هم دغسې چه كوم خلق په جُمات كښې موجود وې هغه دِ هم ناست اوسي او هله دِ اودريږي چه كله مُكَبِّر [يعني تكبير وئيلو والا] حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ته اورسي هُم دا حُكم د اِمام د پاره هم دې. (اَيضاً ص۵۷. بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۴۷۱)

## د "يا غَوثُ الاعظم" د ۱۱ حروفو په نِسبت د اذان كولو يوولس مُستحب موقعې

﴿۱﴾ د ماشوم ﴿۲﴾ غمكين ﴿۳﴾ مِرگي والا ﴿۴﴾ د غضبناك او بد مِزاجه سړي او ﴿۵﴾ د بد مِزاجه څاروي په غوږ كښې ﴿۶﴾ د جنګ



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اُو نه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو- (ابن سنی)

د شِدَّت په وخت کښې ﴿۷﴾ د اور لګیدو په وخت کښې ﴿۸﴾ د مړي د خخولو نه پس ﴿۹﴾ د پیري د سرکشئ په وخت کښې (مَثَلًا په چا پیریان راغلي وي) ﴿۱۰﴾ که په ځنګل کښې ترې لاره خطا شي او څوك ښودلو والا نه وي نو په هغه وخت کښې. (بَهارِ شرِیعَت ج۱ص۴٦٦،رَدُّالْمُحْتَار ج۲ص٦۲) او ﴿۱۱﴾ د وَبا په زمانه کښې هم اذان کول مُستَحب دي.
(بَهارِ شرِیعَت ج ۱ ص ٤٦٦، فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج٥ص۳۷۰)

## په جُمات کښې اذان کول خِلافِ سُنَّت دي

نن صبا اکثر په جُمات کښې دننه د اذان کولو رواج دې او دا خِلافِ سُنَّت دي. په ”عالـمګیري“ وغیره کښې دي چه اذان دِ د جُمات نه بهر کوي په جُمات کښې دِ اذان نه کوي. (عالمگیری ج۱ ص٥٥) اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: یو ځل هم ثابِت نه دي چه حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جُمات کښې د اذان کولو فرمائیلي وي. سَیِّدی اَعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نور فرمائي: په جُمات کښې اذان کول د جُمات او د دربارِ اِلٰهی ګُستاخي او بې ادبي ده. د جُمات د انګنړ نه بهر چه کوم ځائ خلق پیزار اوباسي هُغه ځائ خارِجِ مَسجِد وي هلته اذان کولو کښې هیڅ باك نشته او [هلته یا بل ځائ خارج مسجِد کښې اذان کول] د سُنَّت مطابِق دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج٥ص٤۰۸، ٤۱۱، ٤۱۲) د جُمُعې دویم اذان چه نن صبا (د خُطبې نه مخکښې) په جُمات کښې د خطِیب


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

مِنبر ته مخامخ په جُمات كښې دننه كيږي دا هُم خِلافِ سُنَّت دي، د جُمعې دويم اذان هُم د جُمات نه بهر كول پكار دي خو چه مُؤَذِّن خطيب ته مخامخ وي.

## د سلو شهيدانو ثواب اوګټئ

سَيِّدى اَعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: اِحيائے سُنَّت [يعني سُنَّت ژوندي كول] خو د عُلَماء خاص فرضِ منصبي دې او د كوم مسلمان نه چه كيدې شي د هغه د پاره حُكم عام دې، د هر ښار مسلمانانو ته پكار دي چه په خپل ښار يا كم نه كم په خپلو جُماتونو كښې (د پينځه واړه اذانونو او د جُمعې دويم اذان د جُمات نه د بهر كولو) دا سُنَّت ژوندي كړي او د سلو شهيدانو ثواب واخلي. د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: ”څوك چه د فَسادِ اُمَّت په وخت كښې زما سُنَّت مضبوط اونيسي هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب حاصل شي.“

(اَلزُّهدُ الكَبِير لِلْبَيهَقِي ص۱۱۸ حديث۲۰۷، فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج۵ ص۴۰۳)

د دې مسئلې د تفصِيل د پاره د فَتاوىٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه جلده ”بَابُ الاَذانِ وَالاِقامة“ اولولئ.

## د اذان نه مخكښې دا دُرودِ پاك لولئ

د اذان او اِقامت نه مخكښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط لَولئ او د دُرود و سلام دا صيغې لولئ:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہِ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَ عَلٰی اٰلِکَ وَ اَصْحٰبِکَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

**بيا** په دُرود و سلام، او اذان کښې د فصل (يعني فاصله) کولو د پاره دا اعلان کوئ: ”**عاشِقانِ رَسُول تَوَجُّه اوکړئ، د اذان په اِحتِرام کښې خبرې اترې او کار بند کړئ او د اذان جواب ورکړئ او ډيرې ډيرې نيکئ اوګټئ.**“ د هغې نه پس اذان کوئ. د دُرود و سلام او اِقامت په مينځ کښې په جُمات کښې دا اعلان کوئ: **د اِعتِکاف نِيَّت اوکړئ، که موبائِل فون وي نو بند ئې کړئ**، د اذان او اِقامت نه مخکښې د تَسمِيه [يعني د بِسمِ اللّٰہ] او د دُرُود شريف د مخصوصو صِيغو مَدَني عرض په خپل شوق کووم چه دغسې زما د پاره هُم د څه ثوابِ جارِيَّه ذريعه جوړه شي او د فاصلې (ورکولو) مشوره مې د **فتاوٰی رَضَوِيَّه** د فَيضان نه وړاندې کړې ده. چنانچه د يو سوال په جواب کښې اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”د اِقامت نه مخکښې په دُرود شريف وئيلو کښې باك نشته خو د اِقامت نه فصل (يعني فاصِله يا جُدائي) پکار ده يا د دُرُود شريف آواز، د اِقامت د آواز نه داسې جُدا ([يعني بدل] مَثَلاً چه د دُرُود شريف اواز د اِقامت په نِسبت لږ ټيټ) وي چه فرق ئې معلوميږي او عوام ته دُرُود شريف جُزءِ اِقامت (يعني د اِقامت حِصَّه) ښکاره نه شي.“

(فتَاوٰی رَضَوِیّہ مُخَرَّجه ج٥ ص٣٨٦)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانی)

**وسوسه:** د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهِري ژوند او د خُلَفائے راشِدِين عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په دَور کښې به د اذان نه مخکښې دُرُود شريف نه لوستې شو لِهٰذا داسې کول بَد بِدعت او ګناه ده. (مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ)

**د وسوسې جواب:** که دا قاعده تسليم کړې شي چه کوم کار به په هٰغه دور کښې نه کيدو هغه اوس کول بَد بِدعت او ګناه ده نو بيا به په دې زمانه کښې ټول نِظام ګډوَډ شي. د بيشميره مِثالونو نه صرف دولس مِثالونه وړاندې کووم چه دا کارونه به په هغه دور کښې نه کيدل او اوس دا کارونه هر يو کوي: ﴿۱﴾ په قُرآنِ پاك کښې ټکي او اِعراب [يعني زوَر، زير، پيښ وغيره] حَجَّاج بِن يُوسُف په ۹۵هِجری کښې اولګول ﴿۲﴾ هُم هغه د آيتونو د پوره کيدو په ځائيونو د عَلامتونو [يعني نښو] په طور ټَکي اولګول ﴿۳﴾ د قُرآنِ پاك چاپ کيدل ﴿٤﴾ د جُمات [د مخکښنې دِيوال] په مينځ کښې د اِمام د اودريدلو د پاره د تاخ په شان محراب پخوا نه وو د وَلِيد مَرواني په دور کښې حضرتِ سيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ايجاد کړو. نن په هر جُمات کښې دا شته دې ﴿۵﴾ شپږ کَلِمې ﴿٦﴾ عِلمِ صَرف و نحو ﴿۷﴾ عِلمِ حدِيث او د اَحاديثو قِسمونه ﴿۸﴾ درسِ نِظامی ﴿۹﴾ د شريعت او طريقت خلور سلسلې ﴿۱۰﴾ په ژبه د نِيَّت نمونځ وئيل ﴿۱۱﴾ د هوائي جهاز په ذريعه د حج سفر کول ﴿۱۲﴾ د جدِيد سائِنسي وَسلو په ذريعه جِهاد کول. دا ټول کارونه په هٰغه مبارك دَور کښې نه


www.dawateislami.net

وو خو اوس دې ته هيڅ خوك هم ګناه نه وائي نو آخِر د اذان او اِقامت نه مخکښ په خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود و سلام وئيل ولې بَد بِدعَت او ګُناه شوه! ياد ساتئ د کوم يو کار په باره کښې د ناجائِزه کيدو دليل نه کيدل پخپله د جائِز کيدو دليل دې. يقيناً يقيناً يقيناً هر هُغه نوې خيز چه هغه شريعت نه وي منع کړې هغه **بِدعتِ حَسَنه** او مُباح يعني ښه بِدعت او جائِز دې او دا امرِ مُسَلَّم دې [يعني منلې شوې خبره ده] چه د اذان نه مخکښ د دُرُود شريف وئيلو په يو حديث کښې هم منع نه ده راغلې لِهٰذا د دې منع نه راتلل پخپله "اِجازت" جوړ شو او د ښو ښو خبرو ايجاد کولو خو پخپله د مديني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترغِيب فرمائيلې دې او د "مُسلِم شريف" په باب "کِتابُ العِلم" کښې د مديني د سُلطان صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا د اِجازت نه ډك فرمان مبارك موجود دې:

مَنْ سَنَّ فِي الْاِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهٗ، كُتِبَ لَهٗ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَا يَنْقُصُ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ.

(صحيح مُسلِم ص١٤٣٧ حديث١٠١٧)

**ترجَمه**: چا چه په مسلمانانو کښې يوه نيکه طريقه جاري کړه او د هغې نه پس په هُغه طريقه عمل اوکړې شو نو په هُغه طريقه باندې د عمل کوونکو ثواب به هم د هغه (يعني د هغه جاري کولو والا) په اعمال نامه کښې ليکلې کيږي او د عمل کوونکو په ثواب کښې به [هيڅ] کمې نه کيږي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اُو نه لولي. (تِرمِذِی)

مطلب دا چه څوك په اِسلام کښ ښه طريقه جاري کړي هغه د غټ ثواب حقدار دي نو بيشکه چا چه د اذان او اِقامت نه مخکښ د درود شريف رواج جاري کړې دې هغه هم د ثوابِ جارِيَّه حقدار دې، د قيامته پورې به چه کوم مسلمانان په دې طريقه عمل کوي د هغوئي به هم ثواب کيږي او د جاري کولو والا به هم ثواب کيږي او د دوارو په ثواب کښ به څه کمې هُم نه راځي. کيدې شي د چا په ذِهن کښ دا وسوسه راشي چه په حديثِ پاك کښ دي: "كُلُّ بِدعَةٍ ضَلَالَةٌ وَّ كُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّار" **ترجَمه**: يعني هر بِدعت (يعني نوې خبره) گُمراهي ده او هره گُمراهي جهَنَّم کښ (يعني جهنَّم ته بوتلونکې) ده. (صحيح اِبنِ خُزَيمه ج۳ ص۱٤۳ حديث۱۷۸۵) د دې حديث شريف څه معنیٰ ده؟ د دې جواب دا دې چه حديثِ پاك حق دې. دلته د بِدعت نه مُراد **بِدعَتِ سَیِّئَه** يعني بد بِدعت دې او يقيناً هر هغه بِدعت بد دې کوم چه د سُنَّت خِلاف يا سُنَّت ختمونکې وي. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا شيخ عبدُالحق مُحَدِّث دهلوِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: کوم بِدعت چه د اُصولو او قواعِدِ سُنَّت موافِق [يعني مطابق] او د هغې مطابق قياس کړې شوې وي (يعني د شريعت او سُنَّت سره ټکراؤ نه خوري) هغې ته **بِدعَتِ حَسَنه** وائي او کوم چه د دې خِلاف وي هغې ته بِدعَتِ گُمراهي وائي. (اَشِعَّةُ اللّمعات ج۱ ص۱۳۵)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اوس د اِيمان د حِفاظت په فِکر کښې د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي د ۶۹۲ صفحو د کتاب "کفریہ کَلِمات کے بارے میں سوال وجواب" د صفحه ۳۵۹ نه ۳۶۲ پورې مضمون اوګورئ.

## د اذان د بې ادبئ په باره کښې سوال و جواب

**سوال:** د اذن بې ادبي کول څنګه دي؟

**جواب:** اذان د شَعائِرِ اِسلام [یعني د اِسلام د نښو] نه دې. او د هر یو شَعَائِرِ اسلام بې ادبي کول کُفر دي.

## په حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃ پورې ټوقې کول

**سوال:** په اذان کښې د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ (یعني راشئ د نمانځه طرف ته) یا د حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ (یعني راشئ د نیکئ طرف ته) په اوریدو دا وئیل څنګه دي، چه "راشئ د سینما طرف ته ګنې ټِکټونه به ختم شي!"

**جواب:** کُفر دي. ځکه چه مَعَاذَ اللّٰه [یعني د الله پناه] دا په اذان پورې ټوقې کول شو. د اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه تپوس اوکړې شو: جناب! تاسو د دې مسئلې په باره کښې څه ارشاد فرمائي چه زَید د جُمات د مُؤَذِّن په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل.(**شُعَبُ الاِیمان**)

اذان پورې داسې ټوقې اوکړې یعني لفظ حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ئې چه واوریدو نو داسې ټوقې ئې وریورې اوکړې چه (بهَیَّا لٹھ چلا) [یعني ورو لټ تاو کړه] آیا د زَید د پاره حُکمِ اِرتِداد [یعني مُرتد کیدل] او سقوطِ نِکاح [یعني نِکاح ماتیدل] ثابِت شو که نه؟ او د زید نِکاح ماته شوه که نه؟ الخ. **الجواب:** په اذان پورې اِستِهزا (یعني ټوقې کول) ضرور **کُفر** دې، که هغه واقِعي په اذان پورې اِستِهزا (یعني ټوقې) کړې وي نو بیشکه کافِر شو، د هغه ښځه د هغه د نِکاح نه اووتله، دا که دوباره مسلمان شي او ښځه د ده سره نکاح اوکړې نو هله به وطی (یعني کور والې) حلال وي کني زِنا به وي. او که ښځه بغیر د اِسلام او نِکاح نه د هغه سره په وطی (یعني کور والي) کولو راضي شوه نو هغه به هم زناکاره وي. او که اذان پورې ټوقې کول ئې مقصد نه وو بلکه خاص په هغه مُؤذِّن پورې ئې په دې وجه چه هغه ئې غلط وائي ټوقې کړې وي نو په دې حالت کښې (نه کافِر شو او نه نکاح ماته شوه خو بیا) به (هم) زید ته د تجدِیدِ اسلام [یعني د اسلام تازه کولو] او د تَجدِیدِ نکاح [یعني د نکاح تازه کولو] حُکم ورکولې شي. وَاللہُ تَعَالٰی اَعْلَم.

(فتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۲۱ ص۲۱۵)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

# د اذان مُتَعَلِّق د كُفرِيه خبرو ۸ مِثالونه

﴿۱﴾ څوك چه په اذان پورې ټوقې اوكړي هغه كافِر دې.

(فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج۵ ص۱۰۲)

﴿۲﴾ د اذان د سپكاوالي په وجه داسې وئيل چه "د تَلِئ آواز د نمانځه د خبر وركولو د پاره زيات بهتر دې" كُفر دې.

﴿۳﴾ څوك چه اذان كولو والا ته په اذان كولو اووائې: "تا دروغ اووئيل" داسې كس كافِر شو. (فَتَاوٰی قاضی خان ج۴ ص۴۶۷)

﴿۴﴾ چا چه د كوم يو مُؤَذِّن په باره كښې په اذان پورې د ټوقې په طور اووئيل: دا څوك محروم دې چه اذان كوي؟ يا ئې ﴿۵﴾ د اذان په باره كښې اووئيل: څه نا اشنا غوندې آواز دې يا ئې اووئيل: ﴿۶﴾ د پرَدو خلقو آواز دې، دا ټولې خبرې كُفر دې. يعنې چه كله ئې څوك د تحقِير (يعنې د سپك ګنړلو) په طور اووائې. (مِنَحُ الرَّوض الازهر لِلقاری ص۴۹۵)

﴿۷﴾ يو اذان اوكړو بل [په اذان پورې] د ټوقو كولو د پاره بيا اذان اوكړي نو په هغه باندې حُكم د كُفر دې. ﴿۸﴾ په اذان اوريدو دا وئيل چه: څه شور ئې جوړ كړې دې! كه دا خبره ئې د اذان د ناخوښه كولو په وجه اوكړه نو كُفر دې.

(عالمګِيري ج۲ ص۲۶۹)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

# اذان

| | |
|---|---|
| اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ | اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ |
| الله د ټولو نه لوئ دي الله د ټولو نه لوئ دي | الله د ټولو نه لوئ دي الله د ټولو نه لوئ دي |
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ ؕ | اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ ؕ |
| زه ګواهي ورکووم چه د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته | زه ګواهي ورکووم چه د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰہِ ؕ | اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰہِ ؕ |
| زه ګواهي ورکووم چه حضرت محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دي | زه ګواهي ورکووم چه حضرت محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دي |
| حَیَّ عَلَی الصَّلٰوةِ ؕ | حَیَّ عَلَی الصَّلٰوةِ ؕ |
| د نمونځ کولو د پاره راشئ | د نمونځ کولو د پاره راشئ |
| حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ ؕ | حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ ؕ |
| د خلاصي موندلو د پاره راشئ | د خلاصي موندلو د پاره راشئ |
| اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ | اَللّٰہُ اَکْبَرُ ؕ |
| الله د ټولو نه لوئ دي | الله د ټولو نه لوئ دي |
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ ؕ | |
| د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته | |


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د اذان دُعا

د اذان نه پس دِ مُؤَذِّن او اوریدونکي دُرُود شریف اولولي او دا دُعا دِ اولولي:

| |
|---|
| اَللّٰھُمَّ رَبَّ ھٰذِہِ الدَّعْوَۃِ التَّآمَّۃِ ط وَالصَّلٰوۃِ الْقَآئِمَۃِ ط اٰتِ |
| اے الله! د دې دعوةِ تامّه او صلٰوةِ قائِمه مالِکه، ته زمونږه |
| سَیِّدَنَا مُحَمَّدَانِ الْوَسِیْلَۃَ وَالْفَضِیْلَۃَ ط وَالدَّرَجَۃَ الرَّفِیْعَۃَ ط |
| سردار حضرت محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ته وسیله او فضیلت او ډیره اوچته درجه عطا کړې |
| وَابْعَثْہُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَانِ الَّذِیْ وَعَدْتَّہٗ ط وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَہٗ |
| او هغوئي په مُقامِ محمود باندې فائِز کړې چه د هغې تا د هغوئي سره وعده کړې ده او مونږ ته د هغوئي شفاعت رانصیب کړې |
| یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ ط اِنَّکَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ ط |
| د قیامت په ورځ، بیشکه ته د وعدې خِلاف نه کوې، |
| بِرَحْمَتِکَ یَآ اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْنَ ط |
| په مونږه با ندې خپل رحمت اوفرمائې اے د ټولو نه زیات رحم کولو والا. |

## د شَفاعت زیرې

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چه کله تاسو اذان واورئ نو هغه **کَلِمات** ادا کړئ کوم چه **مُؤَذِّن** اووئیل بیا په ما باندې دُرود شریف اولولئ بیا د وسیلې سوال اوکړئ. د داسې کولو والا د پاره زما شفاعت واجِب شو. (مُسلِم ص ۲۰۳ حدیث ۳۸۴ مُلَخَّصاً)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

## ایمانِ مُفصَّل

| |
|---|
| اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ |
| ما ایمان راوړو په الله او د هغه په فرښتو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د قیامت په ورځ باندې |
| وَالْقَدْرِ خَيْرِهٖ وَ شَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى |
| او په دې با ندې چه ښه او بد تقدیر د الله د طرف نه دې، |
| وَ الْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ ط |
| او د مرګ نه پس په راژوندې کولو باندې. |

## ایمانِ مُجمَل

| |
|---|
| اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسْمَآئِهٖ وَ صِفَاتِهٖ |
| ما ایمان راوړو په الله باندې څنګه چه هغه د خپلو نومونو او د صِفَتونو سره دې، |
| وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهٖ اِقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْقَلْبِ ط |
| او ما قبول کړل د هغه ټول احکام د ژبې په اِقرارسره او د زړه په تصدیق سره . |

## اوّله کَلِمه طَیّبه

| |
|---|
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط |
| د الله نه سِوا هیڅ څوک د عِبادت لائِق نشته محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دې. |


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس (یعني شوم) دي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## دويمه کَلِمه شهادت

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ

زه ګواهي ورکووم چه بيشکه د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته هغه يو دي د هغه هيڅ څوك شريک نشته

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط

او زه ګواهي ورکووم چه بيشکه مُحمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله بنده او د هغه رسول دي.

## دريمه کَلِمه تمجِيد

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط

الله پاک دي او ټول صِفتونه د الله د پاره دي او د الله نه سِوا هيڅ څوک د عبادت لائِق نشته او الله د ټولو نه لوئ دي

وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ط

او د ګناهونو نه د بچ کيدلو طاقت او د نيکئ کولو توفيق هم د الله د طرف نه دي هغه د ټولو نه اوچت، او عَظَمت والا دي.

## څلورمه کَلِمه توحِيد

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ ط لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ

د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته، هغه يو دي، د هغه هيڅ څوك شريک نشته، هُم هغه لره ده بادشاهي او هغه لره دي ټول صِفات،

يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ط

هُم هغه کوي ژوندي کول او مره کول او هغه ژوندي دي هغه ته به هيڅ کله هم مرګ نه راځي،



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانی)

ذُوالۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَامِ ط بِیَدِہِ الۡخَیۡرُ ط وَھُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ط

د ډېر جلال او بُزرګۍ والا دې د هغه په لاس کښې خير دې هغه په هرڅه قادِر دې.

## پينځمه کَلِمه اِستِغفَار

اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰہَ رَبِّیۡ مِنۡ کُلِّ ذَنۡبٍ اَذۡنَبۡتُہٗ عَمَدًا اَوۡ خَطَأً

زه د الله نه بخښنه غواړم چه هغه زما پروردګار دې [توبه کووم] د هرې ګناه نه چه کومې ما قصداً کړې دې يا په هيره سره،

سِرًّا اَوۡ عَلَانِیَۃً وَّاَتُوۡبُ اِلَیۡہِ مِنَ الذَّنۡبِ الَّذِیۡۤ اَعۡلَمُ

په پټه مې کړې دې يا په ښکاره او زه د هغه په بارګاه کښې توبه کووم د هغه ګناه نه کومه چه ما ته معلومه ده

وَمِنَ الذَّنۡبِ الَّذِیۡ لَاۤ اَعۡلَمُ اِنَّکَ اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ

او د هغه ګناه نه کومه چه ما ته نه ده معلومه، (اے الله) بيشکه ته په غيبو خبردار ئې

وَسَتَّارُ الۡعُیُوۡبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوۡبِ وَلَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّۃَ

او عيبونه پټوونکې او د ګناهونو بخښونکې ئې. او د ګناهونو نه د بچ کيدلو طاقت او د نيکۍ کولو توفيق

اِلَّا بِاللّٰہِ الۡعَلِیِّ الۡعَظِیۡمِ ط

صرف د الله د طرف نه دې هغه د تولو نه اوچت، او عَظَمت والا دې.

## شپږمه کَلِمه ردِّ کُفر

اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡۤ اَعُوۡذُبِکَ مِنۡ اَنۡ اُشۡرِکَ بِکَ شَیۡـًٔا وَّاَنَا اَعۡلَمُ بِہٖ

اے الله! زه ستا پناه غواړم د دې خبرې نه چه زه څه شې لره ستا شريک اوګرځووم قصداً [يعني د پوهيدو باوجود]،


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښ 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَآ اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ

او بخښنه غواړم ستا نه د هغه (شِرک) كوم چه ما ته نه دې معلوم او ما د هغې نه توبه اوكړه او زه بيزاره شوم

مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ

د كُفر نه او د شِرک نه او د دروغ وئيلو نه او د غِيبت نه او د بِدعت نه

وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِىْ كُلِّهَا

او د چغلئ نه او د بې حيائې نه او د بُهتان نه او د ټولو ګُناهونو نه

وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

او ما [په] اسلام [ايمان] راوړو او زه وايم د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته او محمّد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د الله رسول دې.

طلب غم مدینہ بقیع
ومغفرت وبے حساب
جنّت الفردوس
میں آقا کا پڑوس

## دا رساله اولولئ او بل ته ئې وركړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره كښ د **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** نه شائع شوې رسالې او د مدنې ګلونو پرچئ تقسيم كړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاكونو ته په تحفه كښ وركولو د پاره په خپلو دُكانونو كښ هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړكړئ، د اخبار خرڅوونكو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ كښ كور په كور وقفه په وقفه كله يوه كله بله د سنّتو نه ډكو رِسالو رسَوَلو په ذريعه د نيكئ دعوت عام كړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

# د نمانځه طريقه (حَنَفِي)

شيطان که هرڅومره ناراستي دروَلي خو تاسو دا رِساله پوره اولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دي فائِدي به پخپله اُووينئ..

## د درود شريف فضيلت

زمونږه خوږ آقا، د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمانځه نه پس حمد و ثناء او درود شريف لوستو والا ته اوفرمائيل: "دعا اوغواړه قبوله به کړه شي، سوال اوکړه در به کړې شي"

(سُنَنُ النَّسَائِي ج۱،ص۱۸۹، بابُ المدينه کراچي)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! په قرآن و حديث کښې د نمانځه کولو بيشميره فضائِل او د نه کولو بيشميره سزاګاني راغلي دي، چنانچه د اَته وِيشتمي سيپارې د سُورَةُ الْمُنٰفِقُون په نهم آيت کښې اِرشادِ رَبّاني دې:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَ لَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے ايمان والؤ! نه ستاسو مال او نه ستاسو اولاد يو څيز دِ هم تاسو د **الله** (عَزَّوَجَلَّ) د ذِکر نه غافِله نه کړي او څوک چه داسې اوکړي نو هم هغه خلق په نقصان کښې دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد بن احمد ذَهَ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي چه، مفَسِّرِينِ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي چه په دې آيتِ مبارکه کښې د اللّٰه تَعَالٰی د ذِکر نه مُراد پينځه وخته نمونځ دې، پس چه څوك په خپل مال يعني اخستلو او خرڅولو، معاش او کاروبار، ساز و سامان، او اولاد کښې مصروف اوسي او په وخت **نمونځ** نه کوي هغه په نقصان کښې پاتې کيدو والا دې. (کِتابُ الکَبائِر ص ٢٠ دار مکتَبة الحياة بيروت)

## د قِيامت په ورځ د ټولو نه اولنۍ تپوس

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد دې: "د قيامت په ورځ به د بنده په اعمالو کښې د ټولو نه مخکښې د نمانځه تپوس کيږی، که هغه صحيح شو نو هغه کاميابي اوموندله او که په هغې کښې کمې وو نو هغه رُسوا شو او د هغه نقصان شو."

(کَنزُ الْعُمّال، ج ٧ ص ١١٥، رقم ١٨٨٨٣ دار الکتب العِلميه بيروت)

## د نمونځ ګزاره د پاره نور

د سرکارِ دو عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دې: "څوک چه د نمانځه حفاظت اوکړي، د هغه د پاره به **نمونځ** د **قيامت** په ورځ **نُور**، **دليل** او **نَجات** [يعني خلاصې] وي او څوك چه د دې حفاظت اونکړي، د هغه د پاره به د قيامت په ورځ نه نُور وي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

او نه دليل او نه نَجات. او هُغه کس به د قيامت په ورځ د **فِرعون، قارون، هامان** او **اُبَیّ بِن خَلَف** سره وی“.

(مَجۡمَعُ الزَّوَائِد ج۲ ص۲۱ حديث ۱۶۱۱ دارالفِکر بيروت)

## د چا حشر به د چا سره کيږی!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! حضرتِ سيِّدنا اِمام محمد بن اَحمد ذَهَبِي رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ نقل کوي، ځيني علمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي چه **بيلمانځه** کس به د دې څلورو (فرعون، قارون، هامان او اُبَیّ بن خَلَف) سره ځکه پاخول شي چه خلق عام طور د حُکومت، وزارت او تجارت په وجه نمونځ قضا کوی. څوك چه د **حُکومت** د مشغوليت په وجه نمونځ نه کوي د هغه حشر به د **فِرعون** سره کيږی، څوک چه د **دولت** په وجه نمونځ پريږدی د هغه حشر به د **قارون** سره کيږی، که د نمونځ پريښودو وجه **وزارت** وی نو د فرعون د وزير **هامان** سره به ئې حشر کيږی او که د **تجارت** د مصروفيّت په وجه نمونځ پريږدی نو هغه به د مَکَّهٔ مُکَرَّمه د ډير غټ کافر تاجِر **اُبَیّ بِن خَلَف** سره د قيامت په ورځ راپاڅولې کيږي. (کِتَابُ الکَبَائِر ص۲۱ دار مکتَبة الحياة بيروت)

## په سخت زخمی حالت کښ نمونځ

چه کله په حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ باندې قاتِلانه حمله اوشوه نو عرض ورته اوکړې شو، يَا اَمِيرَ الْمُؤمِنِين! نمونځ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

(يعنی د نمانځه وخت دي) نو اوئې فرمائيل: آو، واورئ! ”ثوك چه نمونځ ضائِع کوي د هغه په اسلام کښې هيڅ حصّه نشته.“ او حضرتِ سيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د **سخت زخمی** کيدو باوجود هم **نمونځ** ادا کړو. (اَيضاً)

## په نمانځه باندې د نُور يا د تِيارې اَسباب

د **حضرتِ** سيِّدُنا عُباده بن صامِت رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د نبیءِ رَحمت، شفيعِ اُمّت، صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: ”څوک چه په ښه طريقه اودس اوکړی او بيا په **نمانځه** اودريږی، د هغې رُکوع، سَجدې او قِراءَت [صحيح] پوره کړي نو **نمونځ** وائي، اللّٰه تَعَالٰی دِ ستا حِفاظت اوکړی څنګه چه تا زما حفاظت اوکړو. بيا هغه **نمونځ** د آسمان طرف ته ورل شی او د هغې د پاره ځليدل او **نُور** وی. پس د هغې د پاره د آسمان دروازې خلاصې [يعني بيرته] کړې شی، تر دې چه هغه د اللّٰه تَعَالٰی په بارګاه کښې پيش کړې شی او هغه **نمونځ** د هغه نمونځ ګُزاره شفاعت کوي. او که هغه د هغې رُکوع، سَجدې او قِراءَت [صحيح] پوره نه کړی نو **نمونځ** وائي، اللّٰه تَعَالٰی دِ تا ضائِع کړي څنګه چه تا زه ضائِع کړم. بيا هغه **نمونځ** د آسمان طرف ته ورل شی او په هغې باندې تِياره خوره وي او په هغې د آسمان دروازې بندې کړې شي بيا هغه د زوړ رخت [يعني زړې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

کيږي] په شان اونغاړي او د هغه نمونځ ګُزاره په مخ ور او وِيشتلې شي. (کَنزُ الْعُمَّال، ج ۷ ص ۱۲۹، رقم ۱۹۰۴۹)

## د بدې خاتِمې يو سبب

**حضرتِ** سيِّدُنا **اِمام** بُخاری رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه: حضرتِ سيِّدُنا حُذَيفه بن يَمان رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو کس اوليدو چه هغه په **نمانځه** کښې رُکوع او سَجدې پوره نه ادا کولې. نو هغه ته ئې اوفرمائيل: "تا چه کوم **نمونځ** اوکړو که د دې **نمونځ** په حالت کښې مړ شوې نو د حضرتِ سيِّدُنا **مُحمّدِ** مُصطفی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په طريقه باندې به ستا مرګ نه کيږی." (صحيح الْبُخاری ج ۱، ۱۱۲) د سُنَنِ نَسائی په رِوايت کښې دا هم دی چه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ترې تپوس اوکړو: "ته د کله نه داسې **نمونځ** کوې؟ هغه اووئيل: د **څلويښتو** کالو نه. اوئې فرمائيل: تا د **څلويښتو** کالو نه بالکل **نمونځ** نه دې کړې او که په هم دې حالت کښې ستا مرګ راغې نو په **دينِ مُحمّدی** عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام باندې به نه مرې. (سُنَنُ النَّسَائی، ج ۲، ص ۵۸ دار الجيل بيروت)

## د نمانځه غَـل

د **حضرتِ** سيِّدُنا ابوقَتاده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: "په خلقو کښې بد ترين **غَل** هٰغه دې څوك چه په خپل **نمانځه** کښې غلا اوکړی" : عرض اوکړې



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

شو: ”يَارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د نما نځه غَل څوك دې؟“ اوئې فرمائيل: ”(هغه، څوك چه د نمانځه) رُكوع او سجدې پوره نه كړي.“
(مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل، ج ٨ ص ٣٨٦ حديث ٢٢٧٠٥ دارُالفِكر بيروت)

## د غَل دوه قِسمونه

مُفَسِّرِ شَهِير حكيمُ الاُمّت حضرت مُفتی احمد يارخان رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديث نه لاندې فرمائي: معلومه شوه چه د مال د غَل نه د نمانځه غل بدتر دې ځكه چه د مال غل كه سزا هُم اوخوري نو څه نه څه ګټه هم اوكړي خو د نمانځه غَـل به سزا پوره تيروي د هغه پاره د ګټې هيڅ صورت نشته. د مال غل د بنده حق وهي او د نمانځه غَـل د الله عَزَّوَجَلَّ حق [كښې كوتاهي كوي]، دا د هغو حال دې څوک چه نمونځ ناقِص [يعنې غلط] كوی. د دې نه دِ هغه خلق د عِبرت درس حاصل كړي څوک چه د سره نمونځ نه كوی.
(مِراٰةالمناجيح ج ٢ ص ٨٧ ضياءُ القُرآن پبلي كيشنز)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اوّل خو خلق نمونځ نه كوي او چه څوك ئې كوي نو په هغوئ كښې اكثر د سنّتو د زده كولو د جذبې د كمئ په وجه نن صبا په صحيح طريقه د نمانځه كولو نه محروم وي. دلته مُختصراً د نمانځه كولو طريقه وړاندې كيږی. په خاطر د مدينې! په ډير زيات غور [او فكر] ئې اولولئ او د خپلو نمونځونو اِصلاح اوكړئ:-


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

# د نمانځه طريقه (حَنَفِي)

په اودا سه کښې مخ په قبله داسې اودريږئ چه د د وارو ښپو د پنجو په مينځ کښې مو د څلورو ګوتو فاصله پا تې شي او دواړه لاسونه غوږونو ته پورته کړئ، داسې چه غټې ګوتې د غوږونو لَو [يعنی نرمو حصّو] ته اولږی، او ګوتې چه نه د يو بل سره جوختې وي او نه ډيرې زياتې جُدا جُدا بلکه په خپل عام (NORMAL) حالت ئې پريږدئ اوچه د لاس تلي قِبلې ته مخامخ وي او نظر مو د سجدې په ځائ وي. بيا چه کوم نمونځ کول وي د هغې نيّت يعنی په زړه کښې د هغې پخه اِراده اوکړئ او ورسره ئې په ژبه هم اولولئ چه دا زيا ته بهتره ده (مثلاً نيّت کووم زه د څلور رکعاته فرض نمونځ د نن مازديګر ،که د جَمعې سره وی نو دا هم اووائې، په دې [حاضِر] اِمام پسې) بيا د تکبيرِ تَحريمه يعنی د "اَللّٰهُ اَکبر" وئيلو سره سره لاس لاندې يوسئ او د نامه نه لاندې ئې داسې اوتړئ چه د ښي ورغوي ستڼه د ګڅ ورغوي د ستڼې [په شا، يعنی د لاس د بند په خوا کښې] او د مينځ درې ګوتې د ګڅ مړوند په شا او غټه او کچې ګوته د مړوند په يو اړخ او بل اړخ راتاو وي.

بيا په دې شان ثناء اولولئ:

سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ وَتَبَارَكَ اسۡمُكَ
وَتَعَالٰي جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيۡرُكَ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کَنزُ العُمّال)

پاك ئې ته اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) او زه ستا حَمْد [يعني ثناء] بيانووم او ستا نوم بَرَکت والا دې او ستا عَظَمت اوچت دې او ستا نه سِوا بل هيڅ څوک مَعبُود [يعني د عِبادت لائِق] نشته.

بيا **تَعَوُّذ** اولولئ:

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط

زه د اللّٰه تَعَالٰی پناه غوارم د شيطان مردود نه.

بيا **تَسمِيَه** اولولئ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝

د الله په نوم شروع کوم چه ډير مهربان رحمت والا [دې]

بيا پوره **سُورۂ فاتِحه** اولولئ:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝٢ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝٣ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۝٤ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝٥ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۝٧

[مفهوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: ټول صِفَتونه د اللّٰه د پاره دي، چه مالِك دې د ټول جهان والؤ. د جزا [يعنی د قِيامت] د ورځې. مونږ هُم ستا عِبادت کوو او هُم ستا نه مدد غوارو. مونږ په سمه لار روان کړې، لاره د هغوئي په چا چه تا اِحسان کړې دې، نه د هغوئي په چا چه غضب اوشو او نه د گُمراهانو [په لار].



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

سورۀ فاتِحه چه ختم كړئ نو پټ "اٰمين" اولولئ. بيا درې آيتونه يا يو اُوږد آيت چه د درېو وړو آيتونو برابر وي يا كوم يو سورت مثلاً سورۀ إخلاص اولولئ:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ﴿۲﴾ لَمۡ یَلِدۡ ۙ۬ وَ لَمۡ یُوۡلَدۡ ۙ﴿۳﴾ وَ لَمۡ یَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

[مفهوم] ترجمۀ كنزُالإيمان: د اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) په نوم شروع كووم، چه ډير مهربانه، رحمت والا دې.
ته اُوفرمايه هغه اللّٰه دې، هغه يو دې. اللّٰه بې پروا دې. نه د هغه اولاد شته، او نه هغه د چا نه پيدا دې، او نه د هغه څوك برابر شته.

بيا د "اَللّٰهُ اَكْبَر" وئيلو سره په رُكوع كښې لاړ شئ او زنګونان داسې په لاسو كښې اونيسئ چه ورغوي په زنګنونو وي او ګوتې ښې خورې وي. چه شا خوره وي او سر د شا سره [ په اوچت والي كښې] سم وي چه ښكته بره نه وي او نظر په ښپو وي. كم نه كم درې ځله د رُكوع تسبيح يعني سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡعَظِیۡمِ[8] اولولئ. بيا د تَسمِيع يعني سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ[9] وئيلو سره بالكل نيغ ولاړ شئ، دې

[8] يعني پاك دې زما د عَظَمت والا پروردګار.
[9] يعني اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه واوريده چا چه د هغه صِفت اوكړو.

اودريدو ته "**قَومه**" وائي. كه تاسو مُنفرِد ئې يعني يواځې نمونځ كوئ نو د دې نه پس اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْد[10] اولولئ. بيا د "اَللّٰهُ اَكْبَر" وئيلو سره سجدې له داسې لا ړشئ چه مخكښ زنګونان په زمكه اولګوئ، بيا لاسونه، بيا د دواړولاسونو په مينځ كښ سر داسې كيږدئ چه مخكښ پوزه او بيا تندې اولګی، **او د دې خاص خيال ساتئ چه د پوزې [صرف] سر نه بلكه هډوكې اولګی او تندې په زمكه جوخت اولګی،** چه نظر په پوزه وي، متې د ډډو نه، خيټه د ورنونو نه، او ورنونه د پنډو نه جُدا ساتئ (خو كه په صف كښ ئې نو متې د ډډو سره لګيدلې ساتئ) او چه د دواړو ښپو د لسو واړو ګوتو رُخ داسې قبلې ته وي چه د لسو واړو ګوتو خيټې (يعني د ګوتو لاندې طرف كوم چه په ولاړه كښ په زمكه لګی) په زمكه لګيدلې وي. [د لاسو] تلې چه خواره وي او ګوتې "مخ په قبله" وي، خو متې په زمكه مه لګوئ او كم نه كم درې ځله د سَجدې تسبيح يعني سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى[11] اولولئ. بيا سر داسې پورته كړئ چه مخكښ تندې، بيا پوزه، بيا لاس راپورته كړئ. بيا ښئ ښپه [يعني پنجه] اودروئ او د هغې ګوتې مخ په قبله

[10] اے الله! زمونږه مالِكه! ټول صِفَتونه هُم تا لره دي.

[11] پاك دي زما پروردګارد ټولو نه اوچت شان والا.



www.dawateislami.net

کړئ او ګڅه ښپه خوره کړئ او په هغې بالکل نيغ کښينئ او د لاسو تلي خواره کړئ او په ورنونو ئې د زنګونانو سره داسې کيږدئ چه د دواړو لاسو ګوتې د قبلې طرف ته او د ګوتو سرونه د زنګنونو خوا سره وي. د دواړو سَجدو په مينځ کښې ناستې ته **جلسه** وائي، بيا کم نه کم د يو سُبْحٰنَ الله وئيلو هُمره وخت تير کړئ (په دې وقفه کښې اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي يعنې اے الله زما بخښنه اوکړې. وئيل مُستحب دي) بيا د اَللهُ اَکۡبَر وئيلو سره د ړومبئ سجدې په شان **دويمه سَجده** اوکړئ، اوس هم هغه شان مخکښې سر راپورته کړئ بيا لاسونه په ورنونو کيږدئ او د پنجو په زور ولاړ شئ. د پاڅيدو په وخت کښې بغير د مجبورئ نه په زمکه لاس مه کږدئ. دا ستاسو يو رکعت پوره شو. بيا په دويم رکعت کښې بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط اولولئ او بيا اَلۡحَمۡدُ اوسورت اولولئ او د مخکښې په شان رُکوع او سَجدې اوکړئ، د دويمې سَجدې نه د سر پورته کولو نه پس ښئ ښپه [يعني پنجه] اودروئ اوګڅه ښپه [يعني پنجه] خوره کړئ او په هغې کښينئ، د دويم رکعت د دويمې سَجدې نه پس ناستې ته **قَعده** وائي، بيا په قَعده کښې تَشَهُّد [يعني اَلتَّحِيَّات د عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ پورې] اولولئ:

| | |
|---|---|
| اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبٰتُ ط | تمام قَولی، فِعلي او مالي عِبادتونه صرف د اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ د پاره دي. |
| اَلسَّلَامُ عَلَيۡكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحۡمَةُ | سلام دِ وي په تاسو اے نبي او د |



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهٗ ط اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ ؕ اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ؕ

الله تَعَالٰی رحمتونه او بركتونه، سلام دِ وي په مونږه او د اللّٰه تَعَالٰی په نيكو بندګانو باندې زه ګواهي وركووم چه د اللّٰه تَعَالٰی نه سِوا هيڅ څوك هم د عِبادت لائِق نشته او زه ګواهي وركووم چه محمّد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسول دي.

چه كله په تَشهُّد [لوستلو] كښې لفظِ لَا لوستلو ته نِژدې شئ نو د ښي لاس د مينځنئ ګوتې او د غټې ګوتې حَلقه [يعني كړئ] جوړه كړئ او كچئ ګوته او د هغې خوا سره ګوته د ورغوي سره اولګوئ او د (اَشْهَدُ اَنْ نه فوراً پس) د لفظِ لَا وئيلو سره د شهادت ګوته اوچته كړئ خو اخوا ديخوا ئې مه خوزوئ او په لفظِ اِلَّا باندې ئې ښكته كړئ او فوراً ټولې ګوتې سِيده خورې كړئ. اوس كه د دوو ركعـاتو نه زيات ركعاتونه كوئ نو د اَللّٰهُ اَكۡبَر وئيلو سره ولاړ شئ، كه فرض نمونځ كوئ نو د دويم او دريم ركعت په قِيام كښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط او اَلْحَمْدُ اولولئ! د سورت وئيلو ضرورت نشته، باقي افعال په هم هغه طريقه پوره كړئ. او كه سُنّت ا و نفل وي نو د سُورۀ فاتِحه نه پس سورت هم اولولئ (خو كه په اِمام پسې نمونځ كوئ نو د يو ركعت په قِيام كښې هُم قِراءَت مه كوئ، خاموشه ولاړ اوسئ) بيا څلور ركعته چه پوره كړئ نو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنْزُالْعُمَّال)

په قَعدهٔاخيره کښې د تَشهُّد نه پس درودِ اِبراهيم عَلٰی نَبِیِّنَاوَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُوَالسَّلَام اولولئ:

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰۤى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ وَ عَلٰۤى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۞ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰۤى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰۤى اِبْرٰهِيْمَ وَ عَلٰۤى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۞ | اے الله! دُرود اوليګه (زمونږ په سردار) **مُحَمّد** باندې او د هغوئ په آل باندې ځنګه چه تا دُرود ليګلې په (سیّدُنا) اِبراهِيم او د هغوئي په آل باندې، بيشکه ته صِفت کړې شوې بُزُرګ ئې. اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بَرَکت نازِل کړه (زمونږ په سردار) **مُحَمّد** باندې او د هغوئ په آل باندې ځنګه چه تا بَرَکت نازِل کړو په (سیّدُنا) اِبراهيم او د هغوئي په آل باندې، بيشکه ته صِفت کړې شوې بُزُرګ ئې. |

بيا کومه يوه دُعاۓمَاثُوره اولولئ، مثلاً دا دعا اولولئ:

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُمَّ رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ | اے الله! اے زمونږه ربه! مونږ ته په دُ نيا کښې خير راکړې او مونږ ته په آخِرت کښې خير راکړې او مونږه د دوزخ د عذاب نه اوساتې. |

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذِی)

بيا د نمونځ ختمولو د پاره مُخکښې د ښئ اوګې طرف ته مخ اوګرزوئ او اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله اولولئ او هم دغسې ګڅ طرف ته هم اوکړئ. اوس نمونځ ختم شو.

(مراقى الفلاح مع حاشِيةِ الطّحطاوى ص٢٧٨، غُنيةُ المُستملى، ص٢٦١ كراچى)

## د اِسلامي خويندو په نمونځ کښې يو څو ځائ فرق دې

د نمانځه دا ذِکر کړې شوې طريقه د اِمام يا د ځان له نمونځ کولو والا نارينه د پاره ده. اسلامى خويندې دِ د تکبيرِتَحريمه په وخت کښې لاسونه د اُوګو پورې پورته کوي او د ځادر نه بهر دِ ئې نه اوباسی. (اَلْهِداية معه فتحُ القدير ج١، ص٢٤٦) په قِيام کښې دِ د ګڅ لاس تلې په سينه بانَدِ کړِدی او د پاسه دِ پرې د ښي لاس تلې کړِدی. په رُکوع کښې دِ لږې ښکته کيږی يعني دومره چه په زنګنونو باندې لاس کيږدي لاسو له دِ زور نه ورکوي او زنګنونه دِ نه نيسي او ګوتې دِ د يوې بلې سره يو ځائ او ښپې دِ ټيټې [يعني زنګونان دِ لږ کاږه] ساتي د سړو په شان دِ ئې پوره نه نيغوی. په سجده کښې دِ بدن راټول ساتي يعنى متې دِ د ډډو سره، خيټه د ورنونو سره، ورنونه د پڼډو سره او پڼډئ دِ زمکې سره لګوی. په سَجده او قَعده کښې دِ دواړه ښپې ښي طرف ته اوباسي. په قَعده کښې دِ په ګڅ سُرين باندې کښينې او ښي لاس دِ د ښي ورون په مينځ باندې او ګڅ لاس دِ د ګڅ ورون په مينځ باندې کيږدی. باقی ټوله طريقه هم هغه شان ده. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٢٥٩. عالمگيرى ج١ ص٧٤ وغيره)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## دواړه توجُّه اوکړئ!

د **اِسلامي** وروڼو او **اِسلامي** خويندو د نمانځه په دې طريقه کښې ځيني خبرې **فرض** دي چه د هغې نه بغير هډو نمونځ کيږی نه، ځيني **واجِب** دي چه د هغې قصداً پريښودل ګناه ده [ د داسې کولو نه] توبه کول او نمونځ دوباره کول واجب دي او په هير سره پاتې کيدو باندې سجدهٔ **سَهْوُ** واجب کيږي او ځينی **سُنّتِ مُؤَکّده** دي چه د هغې د پريښودلو عادت جوړول ګُناه ده او ځيني **مُستَحَب** دي چه د هغې کول ثواب دې او نه کول ئې ګناه نه ده.

(بَهارِ شرِيعَت حِصّه۳، ص ٦٦ مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

## د "يا اللّٰه" د شپږو حُروفو په نِسبت د نمانځه شپږ شرائِط

﴿۱﴾ **طَهارت**: د نمونځ کولو والا بدن، لِباس او کوم ځائ باندې چه نمونځ کوي د هُغه ځائ د هر قِسم نجاست [يعني ګندګئ] نه پاک کيدل ضروری دی. (مراقِي الفلاح معه حاشية الطحطاوی ص۲۰۷)

﴿۲﴾ **سِتْرِعورت**: (۱) د نارينه د پاره د نامه نه واخله د زنګنونو سره د بدن دا ټوله حصّه پټول ضروري دي او د زنانه د پاره د دې **پينځه اندامونو**: يعني د مخ، د دواړو لاسونو د تلو او د دواړو ښپو د تلو نه علاوه د ټول بدن پټول لازمي دي البتّه که دواړه لاسونه (د مړوندونو



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

د ګيټو پورې او) دواړه ښپې (د ګيټو [يعني پړکو] پورې) پوره ښکارې نو په يو مُفتٰی بِهٖ قَول نمونځ صحيح دې. (الدرالمُختار، معه رَدُّالمُحتارج۲، ص۹۳) (۲) که داسې نرئ جامې ئې واغوستې چه په هغې کښې د بدن هٔغه حصّه کومه چه په نمانځه کښې پټول فرض دي ښکاره شي يا د پوستکي رنګ ښکاره شی نو نمونځ به نه کيږي. (فتاویٰ عالمگيري ج۱، ص۵۸)(۳) نن صبا د نرو جامو رواج ورځ په ورځ زياتيږی. د داسې نرئ کپړې پاجامه [يا پرتوګ وغيره] اغوستل چه په هغې کښې ورون يا د سِتُر کومه يوه حصّه ځليږی د نمانځه نه علاوه اغوستل هم حرام دي. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه۳، ص۴۲، مدينةُالمُرشِد بريلي شريف) (٤) پيړه کپړه چه په هغې کښې د بدن رنګ نه ځليږی خو په بدن پورې داسې نخښتې وي چه په کتلو کښې د اندامونو راوتلي ځائيونه معلوميږی. په داسی جامو کښې به اګرچه نمونځ اوشي خو د هٔغه اندام طرف ته د بل چا د پاره کتل جائِز نه دی. (رَدُّالمُحتَار ج۲، ص۱۰۳) داسې لِباس د خلقو په مخکښې اغوستل منع دي او د زنانه د پاره بَدَرَجۂِ اَولٰی [يعني ډيرې زياتې] منع دی. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه۳ ص۴۲، مدينةُ المُرشِد بريلي شريف) (۵) ځينې زنانه د ململ وغيره نرې خادر په نمانځه کښې په سر کوی چه په هغې کښې د ويښتو توروالې ځليږی يا داسې جامې اغوندي چه په هغې کښې د اندامونو رنګ ښکارې، په داسی لِباس کښې هم نمونځ نه کيږي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

﴿٣﴾ **اِستِقبالِ قِبله**: يعني په نمانځه كښ د قِبلې يعني د كعبې طرف ته مخ كول (١) نمونځ كولو والا كه بې عُـذره قصداً د **قبلې** نه سينه واړوله اګرچه فوراً مخ په **قبله** شو نمونځ فاسِد [يعنى مات] شو او كه بِلا قصد [يعني بې اِرادې] ئې واړوله او په قدر د درې ځله "سُبْحٰنَ الله" وئيلو د وخت نه **مخكښ** مخ په **قبله** شو نو فاسِد [يعني مات] نه شو. (اَلبحرُ الرَّائِق ج١، ص٤٩٧) (٢) كه صرف مخ ئې د **قبلې** نه واوښتو نو واجب دي چه فوراً د **قبلې** طرف ته مخ كړي او نمونځ به نه ماتيږى، خو بې عُذره داسې كول **مكروهِ تحريمي** دي. (غُنيةُ المستملى ص٢٢٢ كراچي) (٣) كه په داسې ځائ كښ ئې چه هلته د **قبلې** د معلومولو څه ذريعه نه وي، نه څوك داسې مسلمان وي چه د هغه نه معلومه كړي شي نو **تَحَرِّي** اوكړي يعني سوچ اوكړي او چه كوم طرف ته مو په **قبله** كيدو باندې زړه مُطمئِن شي هغه طرف ته مخ كړئ ستاسو د پاره هم هغه **قبله** ده. (اَلهِداية معه فَتحُ القدير ج١، ص٢٣٦) (٤) **تَحَرِّي** ئې اوكړه او نمونځ ئې اوكړو روستو ورته معلومه شوه چه نمونځ ئې د **قبلے** طرف ته نه وو كړي، نو نمونځ اوشو د بيا راګرځولو حاجت نشته. (فتاوٰى عالمگيرى، ج١ص٦٤)

**(٥) كه يو كس تَحَرِّي اوكړي** (يعنى دقبلې سوچ اوكړي) **او نمونځ كوى كه بل كس هغه ته اوګورى او هغه هم هغه طرف ته نمونځ كوي نو نمونځ به ئې نه كيږى، د بل د پاره هم د تَحَرِّي كولو حكم دي.**

(رَدُّالْمُحْتَار ج٢ ص١٤٣)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

﴿٤﴾ **وخت**: يعني كوم نمونځ چه كول دي د هغې وخت كېدل ضروري دي. مَثَلًا د نن ماژديګر نمونځ ادا كول دي نو د دې د پاره ضروري دي چه د ماژديګر وخت شروع شي كه د ماژديګر د وخت شروع كېدو نه مخكښ ئې اوكړو نو نمونځ اونه شو. (غُنيةُ المستملی ص٢٢٤) (١) عام طور په جُماتونو كښې د **نِظامُ الاوقا ت** نقشې زوړندې وي په هغې كښې چه كومه د مُستند تَوقِيت دان مُرَتَّب [يعني ترتيب] كړې شوې او د عُلَمائے اَهلِسُنّت تصديق كړې شوې وي، د هغې نه د نمونځونو وختونه معلومولو كښې سهولت وي. (٢) د اِسلامي **خويندو** د پاره د سحر نمونځ په اوّل وخت كښې ادا كول **مُستَحَب** دي او باقي نمونځونو كښې بهتره دا ده چه د نارينؤ د جَمعې [يعني د اِمامتې] انتظار اوكړي چه كله جَمعَه اوشي نو بيا دِ ئې اوكړي. (دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج٢ ص٣٠)

**درې مكروه وختونه**: (١)د نمر ختلو نه واخله د شل مِنَټه روستو پورې (٢)د نمر پريوتو نه شل مِنَټه مخكښ (٣) د نِصفُ النَّهار يعنې د ضَحْوَهٔ كُبرٰى نه واخله د زَوالِ آفتاب پورې [يعنې چه د نمر ستركه د سر په برابرې راشي] په دې درې وارو وختونو كښې يو نمونځ هم جائِز نه دې نه فرض نه واجِب نه نفل نه قضا. خو كه د هم هغه ورځې د ماژديګر نمونځ ئې نه وو كړې او مكروه وخت شروع شو نو او دِ ئې كړي البتّه دومره تاخِير [يعني ناوخته كول] حرام دي.

(دُرِّ مُختار معه رَدُّالمُحتار ج٢ ص٤٠)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

# كه د نمانځه په دوران كښ مكروه وخت داخِل شي نو؟

د نمر پريوتو نه كم از كم شل مِنَټه مخكښ د مازديګر د نمانځه سلام ګرځول ضروري دي ځنګه چه اعلٰحضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه، د مازديګر په نمانځه كښ چه څومره تاخير [يعني ناوخته كول] وي غوره دي خو چه د وختِ كَراهت [يعني د مكروه وخت] نه مخكښ مخكښ ختم شي." (فتَاوىٰ رَضَوِيّه شريف جديد، ج٥، ص١٥٦) بيا كه هغه احتياط اوكړو او په نمانځه كښ ئيې تَطوِيل اوكړو (يعنى دومره ئې اُوګد كړو) چه وختِ كَرَاهَت د نمانځه په مينځ كښ راغي نو بيا هم په هغه اِعتِراض نشته." (فتَاوىٰ رَضَوِيّه شريف جديد، ج٥، ص١٣٩)

﴿٥﴾ **نيّت**: نيَّت د زړه پخې اِرادې ته وائي. (حاشية الطحطاوي ص٢١٥ كراچي) (١) په ژبه نيّت كول ضرورى نه دي البتّه چه په زړه كښ نيَّت حاضِر وي نو په ژبه ورسره وئيل بهتر دي. (فتاوىٰ عالمگيري ج١ ص٦٥) په عربئ كښ وئيل هم ضروري نه دي په اُردو [پښتو] وغيره يا په هره ژبه كښ ئې وئيلې شئ. (مُلَخَّص از دُرِّ مُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص١١٣) (٢) په نيَّت كښ په ژبه د وئيلو اِعتِبار نشته يعنى مَثَلًا كه په زړه كښ د ماسپښين نيَّت وي او په ژبه د مازديګر لفظ راشى نو بيا هم د ماسپښين نمونځ اوشو. (دُرِّ مُختار، رَدُّ المُحتار ج٢، ص١١٢) (٣) د نيّت ادنٰى [يعنى وړه درجه] دا ده چه كه هغه وخت څوك تپوس اوكړي چه كوم يو نمونځ كوئ؟ نو فوراً


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

اووائي. او که حالت داسې وي چه سوچ به کوي او بيا به ئې وائي نو نمونځ اونه شو. (فتاوٰی عالمگِيري ج۱، ص٦٥) (٤) په فرض نمونځ کښې د فرض نيَّت هم ضروری دې مثلاً چه په زړه کښې دا نيّت وي چه د نن ماسپښين فرض نمونځ کووم. (دُرِّ مُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۱۱٦) (٥) اَصَح (يعني د ټولو نه زيات صحيح) دا دې چه په نفل، سنّت او تراوِيح کښې مُطلَق د نمونځ نيَّت کافي دې خو احتياط دا دې چه په تراوِيح کښې د تراوِيح يا د سُنّتِ وخت نيَّت اوکړي، او په باقی سُنّتو کښې دِ د سُنّت يا د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُتابَعَت (يعني تابِعدارئ) نيَّت اوکړي، ځکه چه ځينې مَشائِخ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په دې کښې مُطلق د نمونځ نِيَّت ناکافي ګڼړي. (مُنيَةُ المُصَلِّي معه غُنيةُ المستملی ص۲٤٥) (٦) په نفل نمونځ کښې مُطلق د نمونځ نيّت کافي دې اګرکه نفل په نِيَّت کښې نه وي. (دُرِّ مُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۱٦٦)(٧) دا نِيَّت چه مخ مې د کعبې په لور شرط نه دې. (اَيضاً) (٨) په اِقتِدا کښې د مُقتدي داسې نيّت کول هم جائِز دي چه کوم نمونځ د امام دې هم هغه نمونځ زما دې. (عالمگِيري ج۱، ص٦٦) (٩) د جنازې د نمونځ نِيَّت دا دې، "نمونځ [کووم د دې جنازې] د الله د پاره او دُعا د دې مړي د پاره". (دُرِّ مُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۱۲٦) (١٠) په واجِب کښې د واجِب نِيَّت کول ضروري دي او هغه مُعَيَّن هم کړئ مثلاً د عِيدُالفِطر [وړوکي اختر]، عيدُالاَضحٰی [غټ اختر]، نَذْر، د طواف نه پس


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

نمونځ (واجِبُ الطَّوَاف) يا هُغه نفل نمونځ چه قصداً مو فاسِد کړې وو ځکه چه د هغې قضا هم واجِب وي. (حاشية الطحطاوى ص٢٢٢) (١١) **سجدۀ شُکر** اګرچه نفل ده خو په دې کښې هم نيّت ضروري دې مَثَلًا چه په زړه کښې دا نِيَّت وي چه زه سَجدۀ شُکر ادا کووم. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج٢، ص١٢٠) (١٢) په سَجدۀ سَهو کښې هم د "صاحِبِ نَهرُالْفائِق" په نِزد نِيَّت ضروري دې. (ايضاً) يعني چه هغه وخت په زړه کښې دا نِيَّت وي چه زه سَجدۀ سَهو کووم.

﴿٦﴾ تکبِيرِ تَحْرِيمه: يعنی نمونځ د "اَللّٰهُ اَکْبَر" وئيلو سره شروع کول ضروري دې. (عالمګيري ج١، ص٦٨)

## د "بِسْمِ الله" د ٧ حُروفو په نِسبت د نمانځه ٧ فَرَائِض

(١) تکبِيرِ تَحْرِيمه (2) قِيام (3) قِراءَت (4) رُکُوع (5) سُجُود (6) قَعدَۀِ اَخِيْرَه (7) خُرُوجِ بِصُنْعِه.

﴿١﴾ **تَکبِيرِ تَحْرِيمه:** په حقيقت کښې تکبِيرِ تحرِيمه (يعنی تَکْبِيرِ اُولٰی) د نمانځه په شرطونو کښې دې خو د نمانځه د اَفعالو سره بالکل لګيدلې دې ځکه دا د نمانځه په شرائِطو کښې هم شمارلې شوې دې. (غُنيةُ المستملى ص٢٥٣) (١) مُقتدي د تکبِيرِ تَحْرِيمه لفظ "اللّٰه" د اِمام سره اولوستو خو "اَکبَر" ئې د اِمام نه مخکښې ختم کړو نو نمونځ به نه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

کيږي. (عالمگيري ج۱، ص٦٨) (۲) که امام په رُکوع کښې وو او څوك د تکبِيرِ تَحرِيمه په وئيلو وئيلو کښې په رُکوع کښې شامِل شو يعني تکبِير هُغه وخت ختم شو چه که لاس ښکته کړي نو زنګنونو ته به اورسيږي نو نمونځ اونه شو. (خلاصةُ الفتاوٰی ج۱، ص٨٣) (په داسې موقع باندې د قاعِدې [يعني د طريقې] مُطابِق مخکښې په ولاړه ولاړه **تکبِيرِ تَحرِيمه** [يعني اَللّٰهُ اَكْبَر] اولولئ د هغې نه پس د اَللّٰهُ اَكْبَر په لوستو کښې په رُکُوع کښې لاړ شئ، د امام سره که په رُکُوع کښې معمولى شان شراکت هم اوشو نو رکعت کښې شامِل شو او که ستاسو په رُکوع کښې د داخِليدو نه مخکښې اِمام ولاړ شو نو رکعت لاړو) (۳) څوک چه د تکبير په تَلَفُّظ وئيلو قادِر نه وي مَثَلاً چاړا وي يا په بله څه وجه ئې ژبه بنده شوې وي نو په هغه باندې تَلَفُّظ لازم نه دې، په زړه کښې ئې اِراده کافي ده. (تبيين الحقايق ج۱، ص١٠٩) (٤) که د لفظ **اَللّٰه** په ځائ **آللّٰه** يا د **اکبر** په ځائ **آکبر** يا **اکبار** اولولي نو نمونځ اونه شو بلکه که د دې په معنٰئِ فاسِده [يعني غَلَطه معنٰی] پوهيږی او قصداً ئې اولولي نو کافِر دې. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲ ص١٧٧) د نمونځ کوونکو د زياتې ګڼړې په صورت کښې شا ته د آواز رسَوَلو والؤ **مُکَبِّرِينو** [يعني د تکبير وئيوونکو] اکثريت د عِلم د کمئ په وجه نن صبا د "اکبر" په ځائ "اکبار" وائي. دغسې د هغوئې خپل نمونځ هم مات شي او د هغوئ په آواز چه کوم خلق اِنتِقالات کوي يعني د نمانځه ارکان ادا کوي د هغوئې نمونځ هم مات شی. لِهٰذا


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمذِی)

د زده كولو نه بغير كله هم مُكَبِّر جوړيدل نه دى پكار. (۵) كه د ورومبي ركعت په رُكوع كښې شامِل شو نو د **تكبيرِ اُوْلٰى** فضيلت حاصِل شو. (عالمگيري ج۱، ص۶۹)

﴿۲﴾ **قِيام**: (۱) د كمئ طرف ته د قِيام حد دا دې چه كه لاس ښكته اوغزوي نو چه زنګنونو ته نه رسيږي او پورا قِيام دا دې چه سِيده [يعني بالكل نيغ] اودريږى. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲ ص۱۶۳) (۲) قِيام د دومره وخته پورې دې د خومره وخته پورې چه قِراءت دې. **په قدر د فرض قِرَاءت قِيام هم فرض، په قدر د واجِب واجِب او په قدر د سُنَّت سُنَّت دې.** (ايضاً) (۳) په فرضو، وِترو، دواړو اخترو كښې او د سحر په سُنَّتو كښې قِيام فرض دې. كه د صحيح عُذر نه بغيرخوك دا نمونځونه په ناسته ادا كړي نو اُو نه شو. (ايضاً) (٤) په اودريدو كښې صرف لږ تكليف كيدل عُذر نه دې بلكه قِيام به هله ساقِط [يعنى معاف] كيږى چه كله نهشى اودريدې يا سَجده نه شى كولې يا په اودريدو يا سَجده كولو كښې ئې زخم بهيږى يا ئې په اودريدو كښې خاڅكي راځي يا ئې خلورمه حِصّه سِتر ښكاره كيږى يا د قِراءت نه **مجبورِمَحْض** كيږي [يعني د اودريدو په وجه قِراءَت نه شي كولې]، هم دغه شان اودريدې شي خو په دې وجه ئې مرض زياتيږى يا به په ډير وخت كښې ښه كيږى يا ورته ناقابِل برداشت تكليف كيږى نو په ناسته دِ ئې اوكړي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

(غُنیۃُ المستملی ص۲۵۸) (۵) که د همسا (یا تاپوړه)، یا د خِدمتګار په زور یا دیوال ته په ډډه لګولو ادریدې شي نو فرض ده چه په ولاړه ئي ادا کړي. (غُنیۃُ المستملی ص۲۵۸) (۶) که صِرف دومره اودریدې شي چه په ولاړه ولاړه تکبِیرِتَحْرِیمه وئیلې شي نو فرض ده چه په ولاړه اَللّٰہُ اَکْبَر اولولي او که بيا نور نه شي اودريدلې نو کښيناستې شي. (غُنیۃُ المستملی ص۲۵۹)

**خبردار!** ځيني خلق د معمولي تڪليف (يا زخم) په وجه فرض نمونځونه په ناسته کوي هغوئي دِ په دې حُڪمِ شرعي سوچ [او فکر] اوکړي، خومره نمونځونه ئي چه په اودريدو د قُدرت لرلو باوجود په ناسته ادا کړې وی هغه راګرځول [يعني د وباره کول] فرض دی. هم دغه رنګ که هسې خو نه شو اودريدې خو د همسا يا ديوال يا د اِنسان په زور اودريدې شو خو په ناسته ئي کړې وی نو د هغوئ نمونځونه هم نه دی شوی د هغې راګرځول فرض دی. (مُلخّص از بَہارِ شریعَت ج۳، ص۶۴)

مدينۃُالمُرشِد بریلي شریف د زنانه د پاره هم دا حڪم دې هغوئي هم بغير د شرعی اجازت نه په ناسته نمونځونه نه شی کولې.

په ځينې جُماتونو کښې د کُرسو اِنتظام هم وی، ځينې بوډاګان وغيره په هغې په ناسته نمونځ کوی حالانڪه په خپلو ښپو راغلی وی، د نمانځه نه پس په ولاړه ولاړه خبرې اترې هم اوکړی. داسې خلق که بغير د اِجازتِ شرعی نه په ناسته نمونځونه کوی نو د هغوئي نمونځونه به نه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

کيږی. (۸) که په ولاړه د ادا کولو قُدرت لری نو بيا هم نفل په ناسته کولې شی خو په ولاړه کول افضل دی ځکه چه د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله بن **عَمْرٍو** رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه، رَحمَتِ عالَم، نُورِ **مُجَسَّم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې چه: په ناسته د ادا کولو والا نمونځ په ولاړه باندې د نمونځ کوونکې په نِيمه (يعنی نِيم ثواب) دې. (صحيح مُسلِم ج۱، ص۲۵۳) البته که د عُذر [يعني مجبورئ] په وجه ئې په ناسته اوکړی نو په ثواب کښې به کمې نه راځی. دا نن صبا چه کوم عام رواج جوړ شوې دې چه نفل په ناسته کوی، په ظاهره داسی ښکاری چه شايِد په ناسته کول غوره ګڼړی که داسې وی نو د هغوئ خيال غلط دې. د وِترو نه پس چه کوم دوه رکعَاته نفل دې د هغې هم دا حکم دې چه په ولاړه اد کول غوره دی.

(بهارِ شريعت ج ۴، ص ۱۷، مدينة المرشد بريلی شريف)

﴿۳﴾ **قِراءَت**: (۱) قِراءَت دې ته وائي چه تمام حُرُوف د مَخارَجو سره ادا کړې شی او هر حَرف د بل نه په صحيح طور مُمتاز (يعنی جُدا ښکاره) شی. (عالمګيري ج۱، ص۶۹) (۲) پټ لوستلو کښې هم دا ضروری ده چه پخپله ئې واوری. (غُنيةُ المستملی ص۲۷۱) (۳) او که حُرُوف خو ئې صحيح ادا کړل خو دومره په قلاره چه پخپله ئې وا نه اوريدل او څه رُکاوټ مَثَلًا شور و غوغا يا ثَقَلِ سماعت (يعنی په زوره د اوريدو مرض) هم نه وی نو نمونځ اُو نه شو. (عالمګيري ج۱ص۶۹) (۴) اګر چه پخپله اوريدل ضروری



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښې زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

دی مكر دا احتياط هم پكار دې چه په **سِرّی** (يعنی پټ قِرآءت والا) نمونځونو كښې د **قِراَءَت** آواز نورو ته اُونه رسی، هم دا رنګ په تسبِيحاتو وغيره كښې هم خيال ساتئ (۵) د نمانځه نه علاوه هم چه كوم ځائ كښې څه وئيل يا لوستل مقرر كړې شوی دی د هغې نه هم دا مُراد دې چه كم نه كم دومره آواز وی چه پخپله ئې اوريدې شی مَثَلًا په طلاق وركولو كښې، [د غلام يا وينځې] په آزادولو كښې. او [هُم دغسې] د څاروی په حلالولو كښې د الله عَزَّوَجَلَّ نوم وئيلو كښې دومره آواز ضروری دې چه پخپله ئې اوريدې شی. (ايضاً) درود شريف وغيره وظيفې لوستلو كښې هم كم نه كم دومره آواز پكار دې چه پخپله ئې اوريدې شی، هله به لوستل ګڼړلې شي. (٦) مُطلقاً يو آيت لوستل د فرضو په دوه ركعَتو كښې او د وِترو او سُنّتو او د نفلو په هر ركعَت كښې په امام او مُنفَرِد (يعنی يواځې نمونځ كولو والا) باندې فرض دې. (مراقی الفلاح مع حاشِيةِ الطّحطاوی ص ٢٢٧) (٧) د مُقتدی د پاره په نمانځه كښې قِرآءَت كول جائِز نه دې نه **سُورَةُ الْفَاتِحَه** لوستل او نه آيت. نه په **سِرّی** ( يعنی پټ قِرآءَت والا) نمونځ كښې او نه په **جَهرِی** (يعنی د اوچت آواز قِراءَت والا) نمانځه كښې. د اِمام قِراءَت د مُقتدی د پاره هم كافی دې. (مراقی الفلاح مع حاشِيةِ الطّحطاوی ص ٢٢٧) (٨) كه په فرضو كښې ئې بالكل قِراءَت اونكړو يا ئې صرف په يو ركعت كښې اوكړو نو نمونځ فاسِد شو. (عالمگيري ج ١ ص ٦٩) (٩) په فرضو كښې دِ په قلاره قلاره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

قِراءَت کوی او په تراويح کښې په درميانه انداز کښې، او د شپې په نفلو کښې د زر زر لوستلو اِجازت دې خو داسې دِ ئې لوَلی چه بنده پرې پوهيږي يعنی د کم نه کم **مَد** چه کومه درجه قاريانو مُقرره کړې ده هغه دِ ادا کوی ګنی حرام دی، ځکه چه په ترتيل سره (يعنی په قلاره قلاره) د قرآن لوستلو حکم دے. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۱ ص۳۶۳) د نن صبا اکثر حافِظان خو داسی قُرآن لولی چه د **مد** ادا کيدل خو لرې خبره ده. د **يَعْلَمُوْنَ تَعْلَمُوْنَ** نه سِوا په بل لفظ خوك نه پوهيږي او نه صحيح چه فلانکې ئې دومره زر زر لولی! حالانکه قرآنِ مجيد په دې حُروف ادا کوی بلکه په تادئ کښې الفاظ خوری او په دې خبره فخر کيږی طريقه لوستل حرام او سخت حرام دی.

(بهارِ شرِيعَت ج۳، ص ۸۶، ۸۷. مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

## د حُروفو صحيح ادائيګي ضروری ده

اکثر خلق په **ط ت**، **س ص ث**، **ا ء ع**، **ه ح**، **ض ذ ظ** کښې هيڅ فرق نه کوی. ياد ساتئ که د حُروفو بدليدلو سره معنٰی فاسِد شوه نو نمونځ به نه کيږی. (بهارِ شرِيعَت حِصّه۳، ص ۱۰۸ مکتبه رَضوِيَّه) مَثَلًا که چا په سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْعَظِيْم کښې د عَظِيم په ځای عَزِيم (يعنی د په ځای ئې ز) اولوستله نو نمونځ ئې مات شو لهٰذا خوک چه "عظيم" صحيح نه شی ادا کولې نو هغه دِ سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْكَرِيم لوَلِي.

(قانونِ شرِيعَت حِصّه اوّل ص ۱۱۹، فريد بُك ستال لاهور)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

## خبردار خبردار خبردار!

څوک چه حُروف صحيح نه شی ادا کولې د هغه د پاره لږ ساعت مشق [يعني لږ ساعت کوشش] کول کافی نه دي بلکه لازِم دي چه د دی د زده کولو د پاره شپه او ورځ پوره کوشش کوی او که صحيح لوستلو والا پسې نمونځ کولې شی نو فرض دی چه په هغه پسې ئې کوی يا دِ هٰغه آيتونه لوَلِی چه د کومو حُروف صحيح ادا کولې شی. او که دا دواړه طريقې نه شي کيدې نو په زمانهٔ کوشش کښې به (يعنی چه تر څو کوشش کوی نو) د ده خپل نمونځ اوشی. نن صبا ډير خلق په دې مرض کښې اخته دی چه نه هغوئ ته صحيح قرآن لوستل ورځی او نه د زده کولو کوشش کوی. ياد ساتئ داسې نمونځونه بربادېږی. (مُلَخَّص از بَهارِ شرِيعَت حِصّه۳،ص۱۱٦) چا چه شپه او ورځ کوشش اوکړو خو په زده کولو کښې ناکام شو څنګه چه ځينی خلق صحيح حُروف هډو ادا کولې نه شی د هغه د پاره لازم دی چه شپه او ورځ د زده کولو کوشش کوی او په زمانهٔ کوشش کښې هغه معذوره دې د هغه خپل نمونځ به اوشی خو د صحيح لوستلو والا اِمامت نه شی کولې. او که کوشش هم نه کوی نوېخپله د هغه نمونځ هم نه کيږی نو د بل به په هغه پسی څنګه اوشی!

(ماخوذ از فَتَاوٰی رَضَوِیّه ج٦، ص۲٥٤، رضا فاؤنڈیشن لاهور)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

## مَدْرَسَةُ الْمدينه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو به د قِراءَت د اَهَمِيَّت اندازه په ښه شان لګولی وی. واقِعی کوم مسلمان چه په صحيح طريقه قُرآن شريف لوستل نه زده کوی هغه غټ بدنصيبه دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قُرآن و سُنَّت د عالمګِير غير سياسی تحريك "دعوتِ اِسلامی" بيشميره مدرسې په نوم د "مَدْرَسَةُالْمَدِينه" قائِمې دی په دې کښې مَدَنی ماشومانو [يعني وړو هلکانو او وړو جينکو] ته د قُرآنِ پاك د حِفظ و ناظِره مُفت تعلِيم ورکولې کيږي. او بالِغانو ته عام طور د ماسخُتن د نمانځه نه پس د حُرُوفو د صحيح ادائيګئ زده کولو سره سره د سُنّتو تربيّت ورکولې کيږی. کاش چه! د قُرآنِ مجِيد تعليم کور په کور عام شی. کاش چه! هر هُغه اسلامی وړور چا ته چه صحيح قُرآنِ شريف لوستل زده وي هغه نورو اسلامی وروڼو ته زده کول شروع کړی. چه اِسلامی خويندې هم داسې اوکړی يعنی چه کومو ته په صحيح طريقه لوستل زده وي هغه ئې نورو اسلامی خويندو ته وائي. او چه چا ته نه وي زده هغه ئې د دوئ نه زده کړی. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ بيا خو به هر طرف ته د تعليمِ قُرآن سپرلې راشی او د زده کولو والؤ او نورو ته د زده کولو والؤ د پاره به د ثواب انبارونه جوړ شي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

یہی ہے آرزو تعلیمِ قرآں عام ہو جائے
تِلاوت شوق سے کرنا ہمارا کام ہو جائے

دا مې ارمان دې چه تعليم د قُرآن عام شي
تلاوت هُم د قُرآن هر طرف ته عام شي

﴿٤﴾ رُکُوع: دومره ښکته کيدل چه که لاسونه اوغزوی نو زنګنونو ته اورسی، دا د رُکوع ادنٰی [يعني وړه] درجه ده. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۱٦٦) او پوره دا ده چه ملا بالکل سِیده پرَته خوره کړی. (حاشِيةالطَّحطاوی ص۲۲۹)

د سلطانِ مکّۀ مُکرَّمه، تاجدارِ مدينۀ مُنوّره صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عَظَمَت نِشان دې، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د بنده د هغه نمونځ طرف ته نظر نه فرمائي په کوم کښې چه د رُکُوع او د سَجدو په مينځ کښې ملا سِيده نه کړی. (مُسندِاِمام اَحمد بِن حَنبل، ج۳، ص۲۱۷، حديث۱۰۸۰۳، دارالفِکر بيروت)

﴿٥﴾ سُجُود: (۱) د سُلطانِ مکّۀ مُکرَّمه تاجدارِ مدينۀ مُنَوّره صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عَظَمَت نِشان دې، ما ته حُکم اوشو چه په ووه هډوکو سَجده کووم، مخ او دواړه لاسونه او دواړه زنګونان او دواړه پنجې او دا حُکم راته اوشو چه جامې او وِيښته نه راټولووم. (صحيح مُسلِم، ج۱، ص۱۹۳) (۲) په هر رکعت کښې دوه ځله سَجده کول فرض دی. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۱٦٧) (۳) په سَجده کښې تندي جوخت لګيدل ضروری دی. د جوخت لګيدو معنٰی دا ده چه د زمکې سختی


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

محسوسه شي که چا داسې سَجده اوکړه چه تندې ئې جوخت اُو نه لګيدو نو سَجده اُو نه شوه. (عالمګِيري ج١، ص٧٠) (٤) که په څه نرم څيز مَثَلًا په ګيا (لکه د باغ کبل وغيره) مالوچو يا قالِين (CARPET) وغيره باندې ئې سَجده اوکړه نو که تندې ئې جوخت اولګيدو يعنې دومره چه که نور زور ورکوی نو نه دباويږی نو سِجده به اوشي کنې اُو به نه شي. (تبيين الحقايق ج١، ص١١٧) (٥) نن صبا په جُماتونو کښې د **کارپيټ** (يعني قالين) خورلو رواج جوړ شوې دې (بلکه په ځينې ځائيونو کښې خو د کارپيټ نه لاندې فوم هم خوروی) په کارپيټ باندې د سَجده کولو په وخت کښې د دې خبرې خاص خيال ساتل پکار دي چه تندې په ښه طريقه جوخت اولګی کنې نمونځ به نه کيږی او که د پوزې هډوکې زور نه شو نو نمونځ به **مکروهِ تَحرِيمی واجِبُ الِاعاده** [يعني بيا کول] وی. (مُلَخَّص از بَہارِ شرِيعَت حِصّه٣ ص٧١) په کمانئ داره (يعنې د اِسپرنګ والا) سِيټ [وغيره] باندې تندې سم جوخت نه لګی لِهٰذا نمونځ پرې نه کيږی. (ايضاً)

## د کارپيټ [يعني قالِين] نُقصانات

يو خو د **کارپيټ** [يعني قالِين] په وجه په سَجده کښې مُشکِلات وی، بله دا چه په صحيح معنو کښې د هغې صفائي نه شي کيدې په دې وجه پکښې ګرد وغيره جمع کيږی او جراثيم پکښې پيدا کيږی، په سَجده کښې د ساه په ذريعه جراثِيم او ګرد وغيره جسم ته


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

داخليږي، د کارپيټ ذرّات چه دننه لاړ شي نو په سږِي کښې د نخښتو په صورت کښې مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د **کينسر** خطره پيدا کيږي. ډير ځل داسې اوشي چه ماشومان په کارپيټ باندې اُلتئ يا بَول وغيره اوکړي، منږکان او چرمبنکئ پرې پچې اوکړي. د کارپيټ د ناپاکه کيدو په صورت کښې عام طور خوك د پاکولو زَحمت هم نه کوي. کاش چه! د کارپيټ د خوړولو رواج بالکل ختم شي.

## د ناپاکه کارپيټ د پاکولو طريقه

د **کارپيټ** [يعني قالِين] ناپاکه حِصّه يو ځل اووينځئ او زوړند ئې کړئ تر دې چه اوبه څڅيدل ترې بند شي. بيا ئې دوباره اووينځئ او زوړند ئې کړئ تر دې چه اوبه څڅيدل ترې بند شي بيا ئې په دريم ځل اووينځئ او زوړند ئې کړئ چه کله ترې اوبه څڅيدل بند شي نو پاك به شي. درئ، څپلئ او د خاورې هٔغه لوښې وغيره په کومو کښې چه اوبه جذب کيږي، [دا څيزونه] هُم په دې طريقه پاکوئ. که ناپاکه کارپيټ يا کپړه وغيره په روانو اوبو کښې (مَثَلًا په درياب يا نهر کښې يا د نَل نه لاندې) دومره وخته پورې ايښودې پريږدئ چه غالِب گُمان مو اوشي چه اوبو نَجاست اوبهيوو [يعني لرې کړو] نو بيا به هم پاك شي. که په کارپيټ ماشوم بَول اوکړي نو په هٔغه ځائ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

باندې د اوبو شِيندلو سره هغه نه پاکيږی! ياد ساتئ! چه د يوې ورځې د ماشوم او ماشومې واړه بَول هم ناپاکه وی. (د تفصيلی معلوماتو د پاره د بهارِشريعت حصّه ٢ اولولئ)

﴿٦﴾ **قَعدۂِ اَخِيره**: يعنی د نمانځه د رکعتونو د پوره کيدو نه پس دومره ساعته پورې کښيناستل چه پوره **تَشَهُّد** (يعنی اَلتَّحِيّات) د رَسُوْلُهٗ پورې پوره اولوستلې شی فرض دې. (عالمگِيري ج١، ص٧٠) د څلورو رکعَتو په فرضو کښې ئې که د څلورم رَکعَت نه پس **قَعُده** اُونکړه نو چه تر څو ئې د پينځم رکعت سجده نه وي کړی نو کښيناستل پکار دي، او که د پينځم سَجده ئې اوکړه يا په سحرکښې په دويم رکعت کښې نه وو ناست او د دريم سجده ئې اوکړه يا په ماښام کښې په دريم نه وو ناست او د څلورم سجده ئې اوکړه په دې ټولو صورتونو کښې فرض باطِل شو. د ماښام نه علاوه دِ په نورو نمونځونو کښې يو يو رکعت نور زيات کړی. (غُنيةُ المستملی ص٢٨٤)

﴿٧﴾ **خُرُوجِ بِصُنعِهٖ**: يعني د **قَعدۂِ اَخِيره** نه پس سلام يا خبرې اترې وغيره څه داسې فِعل قَصداً (يعنی ارادتاً) کول چه هغه د نمونځ نه وِيستل کوی. خو که د سلام نه بغير څه بل فِعل قصداً اوکړې شو نو نمونځ به **واجِبُ الْاِعادہ** [يعني بيا کول واجِب] وی. او که بې اِراده څه داسې فِعل اوکړې شو نو نمونځ باطِل شو. (غُنيَةُ المُستملی ص٢٨٦)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

## د نمانځه تقريباً ۳۰ واجِبات

(۱) په تكبِيرِ تَحرِيمه كښې لفظ "اَللّٰهُ اَكبر" لوستل (۲) د فرضو د دريم او څلورم رَكعَت نه علاوه باقی د ټولو نمونځونو په هر رَكعَت كښې اَلحَمْدُ لوستل، سُورت شامِلول يا د قُرآنِ مجيد يو غټ آيت چه هغه د درې وړو آيتونو برابر وی يا درې وړوكي [يعني مُختصر] آيتونه لوستل (۳) اَلحَمْدُ د سورت نه مخكښې لوستل (٤) د اَلحَمْدُ او د سورت په مينځ كښې د "آمين" او "بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ" نه علاوه بل څه نه لوستل (٥) د قِراءَت نه فوراً پس رُكوع كول (٦) د يوی سَجدې نه پس بِالتَّرتِيب بله سجده كول (۷) په تَعدِيلِ اركان يعنی رُكُوع، سَجدو، قَومه او جَلسه كښې كم نه كم د يو ځل "سُبۡحٰنَ اللّٰه" لوستو په مِقدار ځِصاريدل (۸) د قَومه يعنی رُكُوع نه نيغ اودريدل. (ځينی خلق ملا سمه نه نيغوی دغسې د هغوئ واجِب پاتې شی) (۹) جلسه يعنی د دوه سَجدو په مينځ كښې بالكل نيغ كښيناستل. (ځينی خلق د تادئ په وجه د سم نيغ كيناستلو نه مخكښې په دويمه سَجده كښې لاړ شی دغسې د هغوئ واجِب پاتې شی كه هر څومره تادی مو وی نيغ كښيناستل لازمی دی كني نمونځ به مو مكروهِ تَحرِيمی واجِبُ الۡاِعادَه وی) (۱۰) قَعدهٔ اُولٰی واجب ده اگر كه نفل نمونځ وي (در اصل د نفلو هره قَعده، "قَعدهٔ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

اخِيره" ده او فرض ده. که قَعده ئې اونکړه او په هيره اودريدو نو تر څو ئې چه د هغه رَکعَت سَجده نه وي کړي، را او دِ ګرځي او **سَجدۀ سَهُوْ** دِ اوکړی." (بَهارِ شرِيعَت حِصّه٤، ص٥٢، مدينةُالمُرشِد بريلي شريف) که د نفلو د دريم رکعت سجده ئې اوکړه نوځلور دِ پوره کړی او سَجدۀِسَهُو دِ اوکړی. سَجدۀِسَهُو ځکه واجِب شوه چه اګرچه په نفلو کښې د هر دوه رکعتو نه پس قعده فرض ده خو د دريم يا پينځم (عَلٰی هٰذَا الْقِيَاس) رَکعَت سَجده کولو نه پس **قَعدۀِاُولٰی** د فرض په ځایٔ واجِب شوه. (مُلَخَّصاً طحاوی، ص٤٦٦) (١١) په **فرض، وِتر** او **سُنّتِ مُؤَکّده** کښې د **تَشَهُّد** (يعني اَلتَّحِيَّات) [يعنی عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ] نه پس نور څه نه زياتول (١٢) په دواړو قَعدو کښې "**تَشَهُّد**" پوره لوستل. که يو لفظ هم پاتې شو نو واجِب به ترك شی او سَجدۀِسَهُو به واجِب شی (١٣) د **فرض،وِتر** او **سُنّتِ مُؤَکّده** په قَعدۀِ اُولٰی کښې ئې که د **تَشَهُّد** نه پس په بې خيالئ کښې اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰي مُحَمَّد يا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰي سَيِّدِنَا اولوستل نو **سَجدۀِسَهُو** واجِب شوه او که قصداً ئې اولوستل نو نمونځ دوباره کول واجِب شو. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج٢، ص٢٦٩) (١٤) دواړو طرف ته سلام ګرځولو کښې لفظ "اَلسَّلامُ" وئيل دواړه ځل واجِب دي. لفظ "**عَلَيْكُم**" واجِب نه بلکه سُنّت دي (١٥) په وِترو کښې تکبِيرِ قُنُوت لوستل (١٦) په وِترو کښې دُعائے قُنُوت لوستل (١٧) د اخترو شپږ تکبِيرونه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

(١٨) په اخترو كښې د دويم رَكعَت تكبِيرِ رُكُوع او د هغه تكبِير د پاره لفظِ "اَللّٰهُ اَكۡبَر" لوستل (١٩) په "جَهری نمونځ" مَثَلًا د ماښام او ماسخُتن په اول او دويم رَكعَت او د سحر او د جُمُعې، د اخترو او د تَراوِيح او د رَمَضَان شريف د وِترو په هر رَكعَت كښې اِمام لره په جَهۡر (يعنى په دومره اوچت آواز كښې چه كم از كم درې سړی ئې اوريدې شى) قِراءَت كول (٢٠) په غيرِ جَهۡری نمونځونو (مَثَلًا ماسپښين او مازديګر) كښې پټ قِراءَت كول (٢١) د هر فرض او واجِب په خپل ځائ كيدل (٢٢) رُكُوع په هر ركعت كښې صرف يو ځل كول (٢٣) سَجده په هر ركعت كښې صرف دوه ځله كول (٢٤) د دويم رَكعَت نه مخكښې قَعده نه كول (٢٥) د څلورو رَكعَتو والا نمونځ په دريم رَكعَت قَعده نه كول (٢٦) كه آيتِ سجده ئې لوستلې وى نو سَجدهٔ تِلاوت كول (٢٧) كه سَجدهٔ سَهۡو واجِب شوى وى نو سَجدهٔ سَهۡو كول (٢٨) د دوه فرضو يا دوه واجِبو يا د فرض او واجِب په مينځ كښې د درې تسبيح په قدر (يعنى د درې ځله "سُبۡحٰنَ الله" وئيلو په مِقدار) وقفه نه كيدل (٢٩) اِمام چه كله قِراءَت كوي كه هغه په اوچت آواز وي او كه په قلاره [يعني پټ] وي د مُقتدي خاموشه اوسيدل (٣٠) د قِراءَت نه علاوه په ټولو واجِباتو كښې د امام پيروی كول.

(دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج٢، ص١٨١، عالَمگِيري ج١، ص٧١)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

# د نمانځه تقريباً ٩٦ سُنّتونه

## د تَكبِيرِ تَحرِيمه سُنّتونه

(١) د تكبِيرِ تَحرِيمه د پاره لاسونه اوچتول (٢) د لاسونو ګوتې په خپل عام حال (Normal) پرېښودل، يعني مه ئې بالكل يو ځائ كوئ او مه ئې په زور نيغوئ (٣) د لاسو ورغوي او ګوتې مخ په قبله كول (٤) د تكبير [يعني اَللّٰهُ اَكْبَر وئيلو] په وخت كښې سر نه ټيټول (٥) د تكبير [يعني د اَللّٰهُ اَكْبَر] شروع كولو نه مخكښې دواړه لاسونه غوږونو ته پورته كول (٦) په تكبِيرِ قُنُوت او (٧) د اخترو په تكبِيراتو كښې هم دا سُنّتونه دى. (دُرِّ مُختار، رَدُّالمُحتار ج٢،ص٢٠٨) (٨) د اِمام په اوچت آواز كښې اَللّٰهُ اَكْبَر (٩) سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه او (١٠) سلام وئيل (د حاجت نه زيات آواز اوچتول مكروه دي). (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٢٠٨) (١١) د تكبِير نه پس فوراً لاسونه تړل سُنَّت دي (ځينى خلق د تَكبِيرِ اولٰى نه پس لاسونه زوړند كړى يا ښكلې شا طرف ته زنګولو نه پس لاسونه تړى د هغوئ دا فِعل د سُنّتو خِلاف دي) . (دُرِّ مُختار، رَدُّالمُحتار ج٢، ص٢٢٩)

## د قيام سُنَّتُونه

(١٢) نارِينه دِ د نامه نه لاندې د ښى لاس ورغوي د ګڅ لاس د مړوند په جوړ باندې او كچئ ګوته او غټه ګوته د مړوند په يو اړخ او په بل اړخ او باقى ګوتې د لاس د مړوند په شا كړېدى. (غُنيةُالمستملی ص٢٩٤)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

(۱۳) مخکښې ثناء (۱٤) بيا تَعَوُّذ يعنی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ لوستل (۱۵) بيا تَسْمِيَه يعنی بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ لوستل (۱٦) دا درې واړه د يو بل نه فوراً پس لوستل (۱۷) دا ټول په قلاره [يعنی پټ] لوستل. (دُرِّمُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۲۱۰) (۱۸) اٰمِين لوستل (۱۹) دا هم په پټ لوستل (۲۰) د تکبيرِ اُولٰی نه فوراً پس ثَنَاء لوستل. (ايضاً) (په نمانځه کښې تَعَوُّذ او تَسْمِيَه د قِراءَت تابِع دي او مُقتدی لره قِراءَت نشته لِهٰذا تَعَوُّذ او تَسْمِيَه هم د مُقتدی د پاره سُنَّت نه دي. خو که د کوم مُقتدی نه کوم يو رکعت تلې وی نو هغه دِ د خپل باقي رَکعَت ادا کولو په وخت کښې دا دواړه اولولی. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج۱، ص۲۵۳) (۲۱) تَعَوُّذ صرف په اوَّل رَکعَت کښې دي او (۲۲) تَسْمِيَه د هر رَکعَت په شُرُوع کښې سُنّت ده. (عالمگيري ج۱، ص۸٤)

## د رُکُوع سُنَّتُونه

(۲۳) د رُکُوع دپاره اَللّٰهُ اَکْبَر لوستل. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج۱، ص۲۵۷) (۲٤) په رُکوع کښې درې ځله سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْعَظِيْم لوستل (۲۵) د نارينه دپاره زنګنونه په لاسو کښې نيول او (۲٦) ګوتې ښې فراخه ساتل (۲۷) په رُکوع کښې ښې نيغې ساتل (ځينې خلق ښې د کمان په شان کږې کړي دا مکروه دي). (عالمگيري ج۱، ص۷٤) (۲۸) په رُکوع کښې ملا بالکل سِيده خوره پکار ده تر دې چه که د اوبو پياله ئې په ملا کېښودې شی چه



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

اودريږي [يعني نه اوړي]. (مراقی الفلاح مع حاشِيةِ الطّحطاوی ص۲۶۶) (۲۹) په رُکوع کښې چه سر ښکته پورته نه وی، چه د ملا په سمې کښې وی. "سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د هغه نمونځ ناکافی دي (يعنی کامِل نه دي) څوك چه په رُکوع او سُجُود کښې ملا نه سِيده کوی". (اَلسُّنَنُ الکُبریٰ ج۲، ص۱۲۶، دارُالکُتب اَلعِلمِيه بيرُوت) سرکارِ مدِينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "رُکوع او سُجُود پوره کوئ ځکه چه قسم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! زه تاسو خپل شا ته وينم". (مُسلِم شريف ج۱، ص۱۸۰) (۳۰) بِهتره داده چه د اَللّٰهُ اَکبَر په لوستو لوستو کښې رُکوع کښې لا ړ شی يعنی چه کله د رُکُوع د پاره ښکته کيدل شُروع کړی [ نو اَللّٰهُ اَکبَر دِ شُروع کړی] او په ختمِ رُکُوع [يعنی چه رُکُوع کښې پوره ښکته شی نو] تَکبِير دِ ختم کړی. (عالمګيري ج۱، ص۶۹) د دې مَسافت [يعنی فاصلې] پوره کولو د پاره دِ د الله لام اوګډ لَولَی د اَکبَر ب وغيره يو حَرف دِ هم نه اوګډوی. (بهارِ شرِيعَت حِصّه ۳، ص۷۲، مدينةُالمُرشِد بريلي شريف) که اللّٰهُ يا اُکبَر يا اَکبار ئې اولوستو نو نمونځ به فاسِد [يعني مات] شي. (دُرِّمُختار ، رَدُّالمُحتار ج۱، ص۲۳۲)

## د قَومَه سُنَّتُونه

(۳۱) د رُکُوع نه چه کله پاځئ نو لاسونه زوړند کړئ (۳۲) د رُکوع نه په پورته کيدو کښې د اِمام د پاره سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ لوستل. (۳۳) د مُقتدی د پاره اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ لوستل (۳۴) د مُنفَرِد



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذِی)

(يعنى يواځې نمونځ کولو والا د پاره) دواړه لوستل سُنَّت دي د رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْد لوستلو سره هم سُنّت ادا کيږی خو د "رَبَّنَا" نه پس "وَ" لوستل بهتر دی "اَللّٰهُمَّ" ورسره لوستل د هغې نه بهتر، او دواړه لوستل نور هم زيات بهتر دي. يعنى اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْد لولىٔ. (غُنيةُالمستملى ص ٣١٠) (٣٥) مُنفَرِد (يعنى يواځې نمونځ کولو والا) دِ د سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ په وئيلو وئيلو کښې د رُکوع نه پورته شى چه کله نيغ اودريږی نو بيا دِ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْد لوَلی. (عالمگيري ج١، ص٧٤)

## د سَجدې سُنّتونه

(٣٦) په سَجده کښې د تلو د پاره او (٣٧) د سَجدې نه د پاځيدو د پاره اَللّٰهُ اَكبَر لوستل. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج١، ص٢٦١)(٣٨) په سَجده کښې کم نه کم درى ځل سُبْحٰنَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی لوستل (ايضاً) (٣٩) په سَجده کښې د لاسو تلې په زمکه اېښودل. (٤٠) د لاسو گوتې د يو بل سره لګيدلې مخ په قِبله اېښودل (٤١)په سَجده کښې تللو کښې په زمکه مخکښې زنګونان بيا (٤٢) لاسونه بيا (٤٣) پوزه، بيا (٤٤) تندې اېښودل (٤٥)د سجدې نه په پاځيدو کښې د دې برخِلاف کول يعنې (٤٦) مخکښې تندې، بيا (٤٧) پوزه، بيا (٤٨) لاسونه، بيا (٤٩) زنګونان پورته کول (٥٠) د نارينه د پاره په سَجده کښې سُنَّت


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

دا دي چه متې د ډډو نه او (٥١) ورنونه د خيټې نه جُدا وي. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج١، ص٢٦٦) (٥٢) متې په زمکه مه خوروئ خو چه کله په صف کښې ئې نو متې د ډډو نه جُدا مه ساتئ. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٢٥٧)

(٥٣) په سَجده کښې د دواړو ښپو د لسو واړو ګوتو خيټې [يعني کومې حِصّې چه په ولاړه کښې په زمکه لږی هغه] داسې په زمکه لګوئ چه لس واړه ګوتې مخ په قِبله وي. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج١، ص٢٦٧)

## د جَلسې سُنَّتونه

(٥٤) د دواړو سَجدو په مينځ کښې کښيناستو ته **جلسه** وائي (٥٥) په جَلسه کښې ښئ ښپه [يعني پنجه] اودرول او ګڅه ښپه [يعني پنجه] خورول او په هغې کښيناستل (٥٦) د ښئ ښپې ګوتې مخ په قبله کول (٥٧) دواړه لاسونه په ورنونو ايښودل. (تبيين الحقائِق ج١، ص١١١)

## د دويم رکعت د پاره د پاڅيدلو سُنّتونه

(٥٨) چه دواړه سَجدې اوکړئ نو د دويم رَکعَت د پاره د پنجو په زور [اودريدل] (٥٩)او د اودريدو په وخت کښې په زنګنونو لاس ايښودل سُنَّت دی. خو د کمزورئ په وجه يا په ښپو کښې د تکليف وغيره مجبورئ په وجه په زمکه د لاس ايښودو په زور اودريدو کښې باک نشته. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٢٦٢)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

# د قَعدې سُنَّتونه

(٦٠) د نارينه دپاره د دويم رَکعَت نه په فارِغ کيدو ګڅه ښپه [يعني پنجه] خورول (٦١) په کښيناستلو کښې دواړه سُرِين په هغې د پاسه کيښودل او (٦٢) ښئ ښپه [يعني پنجه] ولاړه ساتل (٦٣) د ښئ ښپې ګوتې مخ په قبله کول. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج١، ص٧٥) (٦٤) ښې لاس په ښي ورون او (٦٥) ګڅ لاس په ګڅ ورون ايښودل (٦٦) ګوتې په خپل عام حالت يعني (NORMAL) پريښودل چه نه زياتې فراخه وي او نه بالکل د يوې بلې سره جوختې وي. (ايضاً) (٦٧) د ګوتو سرونه د زنګنونو خوا سره ايښودل، زنګنونه نيول نه دی پکار. (درمختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٢٦٥) (٦٨) په اَلتَّحِيَّات کښې د شهادت په وخت کښې اشاره کول: د دې طريقه دا ده چه کچۍ ګوته او مينځنۍ ګوته بندې کړئ [يعني د ورغوي سره ئې اولګوئ] او د ښی لاس د مينځنۍ ګوتې او د غټې ګوتې حلقه [يعنی کړئ] جوړه کړئ [يعنی د دواړو سرونه د يوې بلې سره اولګوئ] او د (اَشْهَدُ اَنْ نه فوراً پس) د لَفظِ ”لا“ وئيلو سره د شهادت ګوته اوچته کړئ خو اخوا ديخوا ئې مه خوزوئ او په لفظِ ”اِلَّا“ باندې ئې ښکته کړئ او فوراً ټولې ګوتې صحيح خورې کړئ. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٢٦٦) (٦٩) په دويمه قَعده کښې هم داسې کښينئ څنګه چه په ورومبئ کښې ناست وئ او تَشَهُّد هم اولولئ (٧٠) د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

تَشَهُّد نه پس درود شريف هم اولولئ. (اَلْهِدايه مع فَتْحُ القَدِير ج۱، ص۲۷٤) درودِ اِبراهِيم لوستل افضل دى. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه۳ ص۸٥) (۷۱) د نفلو او د سُنَّتِ غيرِ مُؤَكَّده په قَعدهٔ اُولىٰ كښې هم د تَشَهُّد نه پس درود شريف لوستل سُنّت دى. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۲۸۲ غُنيةُ المستملى ص۳۲۲) (۷۲) د درود نه پس دُعا لوستل [سُنّت دى] . (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۲۸۳)

## د سلام ګرځولو سُنّتونه

(۷۳) د دې الفاظو سره دوه ځله سلام ګرځول: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ ورَحمَةُاللهِ (۷٤) اول ښى طرف ته (۷٥) بيا ګڅ طرف ته مخ ګرځول (۷٦) د امام د پاره دواړه ځله سلام په اوچت آواز لوستل سُنّت دى خو دويم دِ د وړومبى په نِسبت په كم آواز كښې لولى. (عالمگِيري ج۱ ص۷٦) (۷۷) په وړومبى ځل سلام كښې د "سلام" لوستو سره فوراً اِمام د نمانځه نه بهر شو اګر كه "عَلَيْكُم" ئې نه وى لوستلې دغه وخت كه څوك په جَمعه كښې شريك شو نو اِقتِدا ئې صحيح نه شوه خو كه د سلام نه پس اِمام سَجدۂِسَهْو اوكړه په شرط د دې چه په هغه سَجدۂِسَهْو واجب وى نو اِقتِدا صحيح شوه. (رَدُّالْمُحْتَار ج۱، ص۳٥۲) (۷۸) اِمام دِ د ښى طرف د سلام په خِطاب كښې د هغه مُقتَديانو نِيَّت اوكړى كوم چه ښى طرف ته دى او د ګڅ طرف په سلام كښې دِ د ګڅ طرف والا نيّت كوى خو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

د زنانه نِیَّت دِ نه کوی اګرکه په جَمعه کښې شریکه وی او په دواړو سلامو کښې دِ د کِرامًاکاتِبِين او د هٰغه فرښتو نِیَّت کوی کومې چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حِفاظت د پاره مُقرّرې کړی دی او په نِیّت کښې دِ څه شمير نه مُعَيَّن کوی.(دُرِّمُختار ، ج۱، ص۳۵٤) (۷۹) مُقتَدی دِ هم د هر طرف په سلام کښې د هٰغه طرف د مُقتَديانو او د هٰغه فرښتو نِیَّت کوی او چه کوم طرف ته اِمام وی د هٰغه طرف په سلام کښې دِ د اِمام نِيّت هم کوی او که اِمام د هغه محاذی (يعنی بالکل د مخې په سمی کښې) وی نو په دواړو سلامو کښې دِ د اِمام نِیَّت هم کوی او مُنفَرِد دِ صِرف د هٰغه فرښتو نِیَّت کوی. (دُرِّ مُختار ج۱، ص۳۵٦) (۸۰) د مُقتدی تمام اِنتِقالات (يعنی رُکُوع سُجُود وغيره) د اِمام سره کول.

## د سلام ګرځولو نه پس سُنّتونه

(۸۱) د سلام نه پس د اِمام د پاره سُنّت دا دی چه ښی يا ګَڅ طرف ته دِ مخ کړی، ښې طرف افضل [يعني غوره] دې او د مُقتديانو طرف ته هم مخ کولې شی هله چه د آخِری صَفه پورې هيڅ څوك هُم هغه ته مخامخ نمونځ نه کوی. (غُنيةُ المستملی ص۳۳۰) (۸۲) مُنفَرِد [يعنی يواځې نمونځ کولو والا] که بل طرف ته د مخ اړولو نه بغير هم هغلته [مخ په قبله] دُعا اوکړی نو جائِز دی. (عالمګيری ج۱، ص۷۷)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

# د سُنّتِ بَعدِيه سُنّتونه

(۸۳) د کومو فرضو نه پس چه سُنّتونه وی په هغې کښې د فرضو نه پس کلام [يعنی خبرې] کول نه دی پکار اګر چه سُنّتونه به اوشی خو ثواب به کم شی او په سُنّتو کښې تاخِير [يعني ناوخته] کول هُم مکروه دی هم دغه رنګ د غټو اورادو او وظائفو هم اجازت نشته. (غُنيةُ المستملی ص۳۳۱، رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۳۰۰) (۸٤) (د فرضو نه پس) د سُنّتو نه مخکښې په مختصره دُعا قناعت پکار دې کني د سُنّتو ثواب به کم شی. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه ۳، ص۸۱، مدينةُ المُرشِد بريلي شريف) (۸۵) د سُنّتو او فرض په مينځ کښې کلام [يعنی خبرې] کولو باندې اَصَح (يعنی زياته صحيح) هم دا ده چه سُنّت پرې نه باطِله کيږی البته ثواب پرې کميږی. هم دا حُکم د هر هغه کار دې کوم چه مُنافِئ تحرِيمه دې. (تنوِيرُالاَبصار معه رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۵۵۸) (۸٦) سنّت په هم هغه ځائ کښې مه کوئ بلکه ګڅ ياښی طرف ته، يا مخکښې وروستو شئ يا کور ته لاړشئ هلته ئې اداکړئ. (عالمګِيري ج۱، ص۷۷) (د سُنّتو ادا کولو د پاره کور ته تللو کښې چه کوم فصل (يعنی فاصله) وي په هغې کښې باك نشته. د ځائ بدلولو يا کور ته د تللو د پاره د نمونځ ګزاره په مخه تيريدل يا د هغه طرف ته خپل مخ کول ګناه ده که د وتلو ځائ نه وی نو هم هلته سُنّت اداکړئ).


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

# د سُنّتو يوه اَهَمه مَسئَله

**کوم** اِسلامی وروڼه چه سُنّتِ قَبلِيه [يعنی د فرضو نه مخکښني سُنّت] يا سُنّتِ بَعدِيه [يعنی د فرضو نه وروستی سُنّت] ادا کړی او بيا په تلو راتلو او خبرو اترو کښ مصروف شی هغه دِ د اَعلیٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې فَتوٰی مُبارکه نه درسِ عِبرت حاصل کړی چنانچه د يوې اِستِفتاء په جواب کښ ارشاد فرمائي، "په سُنَّتِ قَبلِيه کښ اَولیٰ [يعني بهتر] وخت اوّل وخت دې په شرط د دې چه د فرضو او سُنّتو په مينځ کښ څه خبرې يا څه د نمانځه مُنافي فِعل اونکړی، او په سُنّتِ بعدِيه کښ مُستَحَب د فرضو سره اِتصال [يعني فوراً پس کول] دې. خو که کور ته لاړ شی او ادا ئې کړی نو په فصل (يعنی فاصِله) کښ باك نِشته، خو د اَجنبی [يعنی غيرمُتَعَلِّقه] افعالو په وجه فاصله نه ده پکار. دا فصل (يعنی فاصِله) د سُنّتِ قَبلِيه او بَعدِيه د دواړو ثواب ساقِط کوی او دا د طرِيقهٔ مَسنُونه نه خارِج کوی."

(فَتَاوٰی رَضَوِيه مُخَرَّجه ج۵، ص۱۳۹ رضا فاؤنډيشن مرکزُ الاولياء لاهور)

## تير بيان کړې شوو ۸۶ سُنّتونو کښ ضِمناً د اسلامي خويندو د پاره هم سُنّتونه شته دي

## د هغوئې د پاره د "عائشه صِدِّيقه" د لسو حُروفو په نِسبت ۱۰ سُنّتونه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

(۱) د اسلامی خویندو د پاره په **تكبيرِتَحْرِيمه** او **تكبيرِ قُنُوت** كښې سُنّت دا دي چه د اُوګو پورې لاسونه پورته كوی. (اَلهِدايةمعه فتح القدِير ج۱، ص۲۳٦) (۲) په قِيام كښې دِ زنانه او خُنثٰی (يعنی هِيجرا) د ګَځ لاس تلې په سِينه باندې كېږدی او د هغې په شا دِ د ښي لاس تلې كېږدی (غُنيةُ المستملی ص۲۹٤) (۳) د اسلامی خور د پاره په زنګنونو لاس ايښودل او ګوتې جُدا جُدا نه كول سُنّت دی. (اَلهِدايةمعه فتح القدِير ج۱، ص۲۵۸) (٤) په رُكوع كښې دِ لږې ښكته كيږی يعنی صرف دومره چه لاسونه زنګنونو ته اورسيږي، ملا دِ نه سِيده كوی او په زنګنونو دِ زور نه كوی صرف لاس دِ پرې كېږدی او د لاسونو ګوتې دِ د يوې بلې سره لګيدلې ساتي او ښپې دِ تيټې [يعنی كږې] ساتی، د نارينه په شان دِ ئې پوره نه نيغوی. (عالَمگِيري ج۱، ص۷٤) (۵) په سَجده كښې دِ خپل بدن راټولوی يعنی متې دِ د ډډو سره (٦) خيټه دِ د ورنونو سره (۷) ورنونه دِ د پنډو سره او (۸) پنډۍ دِ زمكې سره لګوی (۹) د دويم ركعت د سَجدو نه چه فارِغه شی نو دواړه ښپې دِ ښی طرف ته اوباسی او (۱۰) په ګَځ سُرِين [يعني په ګَځه ډډه] دِ كښينی (حواله)

## د ''يَارَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْن'' د ۱٤ حُرُوفو په نِسبت د نمانځه ۱٤ مُستَحَبّات

(۱) د نِيَّت الفاظ په ژبه وئيل. (تنوِيرُ الابصار معه رَدُّالْمُحتَار ج۲، ص۱۱۳) هله چه په زړه كښې ئې نِيَّت حاضِر وی ګني نمونځ به نه كيږی (۲) په قِيام


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کښې د دواړو پنجو په مينځ کښې د څلورو ګوتو فاصِله کيدل. (عالمګِيري ج ۱، ص ۷۳) (۳) د قِيام په حالت کښې د سَجدې ځائ ته (٤) په رُکُوع کښې د دواړو ښپو پاس طرف ته (٥) په سَجده کښې پوزې ته، (٦) په قَعده کښې خپلې غيږې ته، (٧) په وړومبې سلام کښې ښي اُوګې ته او، (٨) په دويم سلام کښې ګڅې اُوګې ته کتل. (تنوِيرُ الاَبصار معه رَدُّالْمُحتَار ج ۲، ص ۲۱٤) (۹) د مُنفَرِد د پاره په رُکوع او سِجدو کښې د درې ځله نه زيات (خو طاق مَثَلًا پينځه، ووه، نهه ځله) تسبِيح لوستل. (رَدُّالْمُحتَار ج ۲، ص ۲٤۲) (۱۰) په "حِليه" وغيره کښې د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن مُبارک رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ وغيره نه [منقول] دی چه د اِمام د پاره تَسبِيحَات پينځه ځله لوستل مُستَحب دی. (۱۱) که چا له ټُوخې ورشی نو د هغه د پاره مُستَحَب دی چه تر څو کيدې شی نه دِ توخيږی. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی ص ۲۷۷) (۱۲) که هَوَکې درشی نو خُله بنده ساتئ او که نه حِصاريږی نو شونډې په غاښونو کښې زور کوئ، که داسې هم نه اودريږی نو په قِيام کښې د ښی لاس په شا او د قِيام نه علاوه د ګڅ لاس په شا خُله پټوئ. د هَوَکَی اودرولو بِهتَرِينه طريقه دا ده چه په زړه کښې خيال اوکړې چه سرکارِ مَدِينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او نورو انبِياء عَلَيۡهِمُ السَّلَام ته به هَوَکې کله هُم نه ورتلو. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فوراً به اودريږی.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، خوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

(مُلَخَّصاً، دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج٢ ص٢١٥) (١٣) چه كله مُكَبِّر حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اوولى نو د اِمام او مُقتديانو د تولو اودريدل. (عالمگِيري ج١، ص٥٧ مكتبه حَقَّانِيه) (١٤) سَجده په ښكاره زمكه كول [يعنى چه څه كپړه وغيره پرې خوره نه وى].

(مراقى الفلاح مع حاشِيةُ الطَّحطاوى ص٣٧١)

## د حضرتِ سيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه عَمَل

حُجَّةُ الْاِسْلام حضرتِ سيِّدُنا اِمام مُحمّد غَزالى رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل فرمائي: "حضرتِ سيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به هميشه په [ښكاره] زمكه سَجده كوله يعني د سَجدې په ځاىٔ به ئې مُصَلّٰى وغيره نه خوروله." (اِحياءُ الْعُلوم ج١ ص٢٠٤)

## په خاورو خړ شوي تندي فضيلت

د **حضرتِ** سيِّدُنا وَاثِله بِن اَسْقَع رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دې چه د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "په تاسو كښې چه كوم يو كس تر څو پورې د نمانځه نه فارِغ شوې نه وى خپل تندې دِ نه پاكوى ځكه چه تر څو د هغه په تندى د نمانځه د سجدې نښه وى فرښتې د هغه د پاره د بخښنې دُعا كوى.

(مَجْمَعُ الزَّوَائِد ج٢ ص٣١١ حديث٢٧٦١ دار الفِكر بيروت)

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د نمانځه په دوران كښې د تندى نه خاوره لرې كول بهتر نه دي او مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د تَكَبُّر په وجه لرې كول ګناه ده. كه خوك د نمانځه نه پس مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ په دې وجه د تندى

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَراني)

نه خاوره نه لرې كوي چه خلق ئې نمونځ ګُزاره اوګڼړي نو دا رياكاري ده او په دې كښ د جَهَنّم حقداري ده كه چا ته د رياكارۍ خوف وي نو هغه ته پكار دي چه د نمانځه نه پس د تندي نه خاوره صفا كوي.

## ”وروڼړو د نمانځه مُفسِدات زده كول فرض دي“

## د ۲۹ حُروفو په نِسبت د نمانځه ماتولو ۲۹ خبرې

(۱) خبره كول. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص٤٤٥) (۲) چاته سلام كول (۳) د سلام جواب وركول. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی ص۳۲۲) (٤) د پرنجي جواب وركول (كه په نمانځه كښ پخپله پرنجې ورشى نو خاموشه دِ اوسى) كه اَلْحَمْدُ لِلّٰه ئې اووئيلو نو هيڅ باك نشته او كه هغه وخت ئې حَمْد اونكړو نو چه فارِغ شى بيا دِ ئې اولولى. (عالمګيري ج۱ ص۹۸) (۵) په خوشخبرۍ اوريدو جواباً اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ لوستل. (عالمګيري ج۱، ص۹۹) (٦) بد خبر (يا د چا د مرګ خبر) اوريدو باندې اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن وئيل. (ايضاً) (۷) د اذان جواب وركول. (عالمګيري ج۱، ص۱۰۰) (۸) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اوريدو باندې جواباً ”جَلَّ جَلَالُهٗ“ لوستل. (غُنيةُ المستملی ص٤٢٠) (۹) د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك اوريدو باندې جواباً دُرود شريف لوستل مَثَلًا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوستل. (عالمګيري ج۱ ص۹۹) (كه جَلَّ جَلَالُهٗ يا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې د جواب په نيّت نه وو وئيلى نو نمونځ مات نه شو)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٔغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذی)

## په نمانځه کښې ژړل

(۱۰) د درد يا مُصيبت په وجه دا الفاظ "آه" "اُوه" "اُف" "تُف" اووتل يا په آواز سره ژړيدلو کښې حَرْف پيدا شو نو نمونځ فاسِد [يعني مات] شو. که په ژړا کښې صِرف اوښکې اوبهيدې آواز او حُرُوف اُو نه وَتل نو باك نشته. (عالمگيري ج ص) که په نمانځه کښې د اِمام د لوستلو په آواز په ژړا شو او "ارے" "نَعَم" "آو" ئې په ژبه جاري شو نو هيڅ باك نشته ځکه چه دا د خُشُوع په وجه دى او که د اِمام د خوش اِلحانئ [يعنى د ښکلي آواز] په وجه ئې دا الفاظ اووئيل نو نمونځ مات شو. (دُرِّ مُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۴۵٦)

## په نمانځه کښې ټوخيدل

(۱۱) د مريض د ژبې نه بې اِختياره آه! اُوه اووتل نمونځ مات نه شو هم دغسې په پرنجې، هَوَکې، ټوخِې، ډرَقِې وغيره کښې چه څومره حُرُوف مجبوراً اوځي هغه مُعاف دي. (دُرِّ مُختار ج۱، ص۴۱٦)(۱۲) په پُوکى کښې که آواز پيدا نه شى نو هغه د ساه په مِثل دې او نمونځ پرې نه فاسِد کيږى خو قصداً پُوکل مکروه دى او که دوه حُرُوف پيدا شى لکه "اُف" "تُف" نو نمونځ فاسِد شو. (غُنيه، ص۴۲۷) (۱۳) په ارغشى [يعنى غاړه تازه کولو] کښې چه کله دوه حُرُوف پيدا شى لکه اَخْ نو مُفسِد دي. خو که عُذْر يا صحيح مقصد وى مثلًا د طبيعت تقاضا


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

وی یا د آواز پاکولو دپاره وی یا اِمام له لُقمه [يعني فتح] ورکول مقصد وی یا ځوک په مخه تيريږی د هغه د مُتَوَجِّه کولو د پاره وی، د دې وُجُوهاتو په وجه ټوخيدو [يا غاړه تازه کولو] کښې هيڅ باك نشته. (دُرِّ مُختار ، رَدُّ المُحتار ج۲، ص٤٥٥)

## په نمانځه کښې په کتلو لوستل

(١٤) د مُصحَف شريف [يعنی د قُرآن شريف د نُسخې] نه، يا د څه کاغذ نه يا په محراب وغيره کښې ليکلې شوې قُرآنِ شريف لوستل (خو که په يادو ئې وائي او په مُصحَف شريف يا محراب وغيره باندې ئې صِرف نظر وي نو باك نشته، که په کوم کاغـذ وغيره آيات ليکلې شوی وی، هغې ته ئې اوکتل او پرې پوهه شو خو اوئې نه لوستو نو په دې کښې هم هيڅ باک نشته) (رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص٤٦٤) (١٥) اسلامی کتاب يا اسلامی مضمون ته د نمانځه په دوران کښې قصداً کتل او په هغې اِرادتاً ځان پوهه کول مکروه دي. (عالمگيري ج۱ ص۱۰۱) که دُنياوی مضمون وی نو زيات کراهِيَّت دې، لِهٰذا په نمانځه کښې ځان ته نِزدې کِتابونه يا د لِيك والا پاکټې او د پلاسټِك خلتې، موبائِل فون يا کينټه وغيره داسې کړِدئ چه د هغې په ليکونو نظر نه پريوځی يا هغه په رُومال وغيره پټوئ، او د نمانځه په دوران کښې په ستنو وغيره باندې لګيدلو اسټيکرو، اِشتِهارونو او فريمونو وغيره باندې د نظر اچولو نه هم ځان ساتئ.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الإيمان)

## د عَمَلِ كَثِيرتعريف

(١٦) عملِ كثير نمونځ فاسِد كوى هله چه نه د نمانځه په اعمالو كښې وى او نه د نمانځه د اِصلاح د پاره وى. د كوم كار كوونكي چه د لرې په كتلو كښې نه داسې ښكارى چه دا په نمانځه كښې نه دې بلكه كه غالِب گُمان هم وى چه په نمانځه كښې نه دې نو بيا هم **عَمَلِ كَثِير** دې. او كه د لرې نه كتلو والا په شك و شُبه كښې وى چه په نمانځه كښې دې او كه نه دې نو **عَمَلِ قَلِيل** دې او نمونځ به نه فاسِد كيږى. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٤٦٤)

## د نمانځه په دوران كښې لِباس اَغُوستل

(١٧) د نمانځه په دوران كښې كُرته يا پاجامه [يا پرتوګ] اغوستل يا لنګ وهل. (رَدُّالْمُحْتَار ج٢، ص٤٦٥) (١٨) د نمانځه په دوران كښې سِتر ښكاره كيدل او په هغه حالت كښې يو رُكن ادا كول يا د درې ځله سُبْحٰنَ الله وئيلو په قدر وقفه تيريدل. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٤٦٧)

## په نمانځه كښې څه تيرَول

(١٩) بالكل معمولى شان خوراك ښناك، مَثَلًا كونزله [يعني يو ډير وړوكې زرې] ئې په خُله كښې د ميده كولو نه بغير تير كړو. يا ئې څاڅكې په خُله كښې پريوتو او تير ئې كړو. (غُنيةُالمستملى ص٤١٨) (٢٠) كه د نمانځه شروع كولو نه مخكښې ئې څه څيز په غاښونو كښې موجود وو او هغه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

ئې تير كړو نو كه هغه د چنې هُمره يا د هغې نه زيات وو نو نمونځ مات شو او كه د چنې نه كم وو نو مكروه شو. (مراقی الفلاح مع حاشِيةُ الطَّحطاوی ص٣٤١) (٢١) كه د نمانځه نه مخكښې ئې څه خوږ څيز خوړلې وو او بيا د هغې اَجزا [يعنې ريزې] په خُله كښې پاتې نه وې، صرف د خُلې په لاړو كښې ئې څه اثر پاتې شوې وې نو د هغې په تيرولو نمونځ نه فاسِد كيږى. (خلاصةُ الفتاوٰی ج١، ص١٢٧) (٢٢) كه په خُله كښې شَكَره [گوره، چينى] وغيره وې او هغه وِيلې كيږى او حلق ته رسى نو نمونځ فاسِد شو. (ايضاً) (٢٣) كه غاښونه وِينى شې، او لاړې غالِبې وى نو په تيرولو به نه فاسِديږى گنې [يعنې كه وِينه غالِبه وې نوفاسِد] به شى. (عالمگيري ج١، ص١٠٢) (د غَلَبې علامت دا دې چه كه په حلق كښې خوند محسوس شو نو فاسِد شو، په نمانځه ماتيدو كښې د خوند اِعتِبار دې او د اودس په ماتيدو كښې د رنگ. لِهٰذا! اودس هله ماتيږى چه كله لاړې سرې شي او كه لاړې زيړې وى نو اودس باقي دې)

## د نمانځه په دوران كښې د قِبلې نه اِنحِراف

(٢٤) بې عُذره سينه د كعبې شريفې د طرف نه ٤٥ دَرَجې يا د دې نه زياته اړول مُفسِد دې [يعنى نمونځ پرې ماتيږى]، كه د عُذر په وجه وى نو مُفسِد نه شو. مَثَلًا د حَدَث (يعنى د اودس د ماتيدو) گُمان ئې پيدا شو، چه څنگه ئې مخ واړولو نو د گُمان غَلَطى ظاهره شوه نو كه د جُمات نه نه وى وتلې نو نمونځ فاسِد نه شو. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٤٦٨)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چې په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

## په نمانځه کښې مار وَژل

(۲۵) د مار، لړم وَژلو سره نمونځ نه ماتيږی هله چه نه دريِ قدمه تلل اوغواړی او نه د دريِ ګوزارو حاجت راشی، ګني مات به شی. (غُنيةُ المستملی ص٤٢٣) مار لړم وژل هله مُباح دي چه په مخه تيريږی او د تکليف رسيدو يَره وی، او که د تکليف رَسيدو انديښنه نه وی نو وژل ئې مکروه دي. (عالمګيري ج١، ص١٠٣) (۲٦) پرله پسی ئې دری وِيښته اوويستل يا ئې دريِ سپږې مړې کړې يا ئې يوه سپږه دريِ ځله اووهله نمونځ مات شو او که پرله پسې نه وی نو نمونځ فاسِد نه شو خو مکروه شو. (ايضاً)

## په نمانځه کښې ګرَول

(۲۷) په يو رُکن کښې دريِ ځله ګرَولو سره نمونځ فاسِد کيږی يعنی داسې چه اوئې ګرولو او لاس ئې لرې کړو بيا ئې اوګرولو بيا ئې لاس لرې کړو، دا دوه ځله شو، بيا ئې که دريم ځل داسې اوکړو نو نمونځ مات شو. او که يو ځل ئې لاس کيښودو او يو څو ځله ئې حَرَکت ورکړو نو دي ته يو ځل ګرَول وائي. (عالمګيري ج١ص١٠٤، غُنيةُ المستملی ص٤٢٣)

## په اَللهُ اَکۡبَر وئيلو کښې غلطياني

(۲۸) که په تکبيراتِ اِنتِقالات کښې ئې د اَللهُ اَکۡبَر اَلِف اُوګد کړو يعنی آلله يا آکۡبَر ئې اولوستو يا د "ب" نه پس ئې اَلِف زيات کړو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

يعنی ''**آکْبار**'' ئې اولوستو نو نمونځ فاسِد [يعنی مات] شو او که په **تکبِيرِ تَحْرِيمه** کښې داسې اوشو نو نمونځ د سره شروع نه شو. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۱۷۷) اکثر **مُکَبِّرِين** (يعنی په جَمعه کښې د اِمام په تکبِيراتو باندې د آواز رَسَولو د پاره په زوره تکبِير وئيوونکي) دا غَلَطياني زياتې کوي او دغسې خپل او د نورو نمونځونه خرابوی. لِهٰذا څوك چه د دې احکامو په ښه طريقه عِلم نه لري هغه لره **مُکَبِّر** جوړيدل نه دی پکار. (۲۹) په قراءَت يا د نمانځه په اذکارو کښې که داسې غلطی اوشی چه په هغې معنٰی فاسِد کيږي، په هغې نمونځ فاسِد کيږی.

(الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۴۷۳)

## د نمانځه ۳۲ مَكْرُوهاتِ تَحْرِيمه

(۱) د کِيرې، بدن يا لِباس سره لوبې کول. (عالمگِيری ج۱ ص۱۰۴) (۲) جامې راټولول. څنګه چه نن صبا ځينی خلق سَجدې ته د تللو په وخت کښې پاجامه [پرتوګ] وغيره د مخکښې يا وروستو طرف نه پورته راښکاږي. (غُنيةُ المستملی ص۳۳۷) که جامې د بدن سره اونښلی نو په يو لاس راخلاصولو کښې باک نشته.

## په اُوګو څادر زوړندول

(۳) سَدَل يعنی کپړه زوړندول. مَثَلًا په سر يا اوګو باندې په داسې طريقه څادر اچول چه دواړه سرونه ئې زوړند وی خو که يو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

سر ئې [د يوى اوګى نه راتاو کړو او] په بله اُوګه ئې واچولو او بل زوړند وى نو باک نشته. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۴۸۸) (٤) نن صبا ځينى خلق په يوه اُوګه رومال داسې اچوى چه د هغې يو سر په خيټه زوړند وى او بل په شا باندې. داسې نمونځ کول مکروهِ تحرِيمى دى. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه۲، ص۱٦٥) (٥) په دواړو لِستونړو کښې که يو لِستونړې هم د مړوند د نِيمې نه زيات تړول شوې وى نو نمونځ به مَکرُوہِ تَحرِيمی وى. (در مختار معه رد المحتار ج۲، ص۴۹۰)

## د طَبعِي حاجت زيات زور

(٦) د ورو بَولو، غټو بَولو يا د هَوا زيات زور محسوسيدل. که د نمونځ شروع کولو نه مخکښې زيات زور وى نو په وخت کښې د فراخۍ په صورت کښې نمونځ شروع کول ګُناه ده. خو که داسې وى چه د فارِغيدو او اودس کولو نه پس به د نمانځه وخت ختم شى نو نمونځ اوکړئ. او که د نمانځه په دوران کښې دا حالت پيدا شو نو که په وخت کښې ګُنجائِش وى نو نمونځ ماتول واجِب دى که هم دغسې ئې اوکړو نو ګناهګار به وى. (رَدُّالمُحتَار ج۲، ص۴۹۲)

## په نمانځه کښې کانړې لرې کول

(٧) د نمانځه په دوران کښې کانړې لرې کول مَکرُوہِ تَحرِيمی دى. (غُنيةُ المستملى ص۳۳۸) حضرتِ سيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائې، ما د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

نمانځه په دوران کښې کانړی ته د لاس لګولو مُتعَلِّق په بارګاهِ رِسالت کښې تپوس اوکړو، اِرشاد ئې اوفرمائيلو: "او که ته د دې [يعني د کانړي لرې کولو] نه بچ شې نو د تورو سترګو والا سلو اُوښو نه بهتر دی." (صحيح اِبنِ خُزَيمه، ج٢، ص٩٢، حديث٨٩٧، اَلمکتب الاِسلامی بيروت) خو که د سُنّت مُطابِق سَجده نه شي ادا کيدې نو يو ځل د لرې کولو اِجازت دې او که د لرې کولو نه بغير واجِب نه ادا کيږی نو بيا لرې کول واجِب دې اګر که د يو ځل نه زيات حاجت پريوځی.

## ګوتو نه ټقونه وِيستل

(٨) په نمانځه کښې د ګوتو نه ټقونه وِيستل. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٤٩٣) خَاتَمُ الْمُحَقِّقِين حضرتِ علّامه اِبنِ عابِدِين شامی رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د اِبنِ ماجه رِوايت دې چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "په نمانځه کښې خپلې ګوتې مه ټقوئ." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج١، ص٥١٤ حديث ٩٦٥، دارُالمَعرفة بيروت) "د مُجتبٰی په حواله ئې نقل کړی دي چه، د دوارو جهانو سردار، رَحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم "د نمانځه د اِنتظار په دوران کښې د ګوتو نه ټقونه وِيستلو نه منع فرمائيلې دي." په يو بل رِوايت کښې دي، "د نمانځه د پاره د تللو په وخت کښې د ګوتو نه ټقونه ويستلو نه ئې منع فرمائيلې دي." د دې احاديثِ مُبارکه نه دا درې احکام ثابت شو (الف) د نمانځه کولو په وخت کښې او د نمانځه په توابِع کښې يعني



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعي** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

د نمانځه د پاره د تللو په وخت كښې، د نمانځه د انتِظار په وخت كښې د ګوتو نه ټقونه وِيستل **مَكرُوہِ تَحرِيمِی** دي (ب) د نمانځه نه علاوه (يعني چه د نمانځه په توابِع كښې هم نه وي) د حاجت نه بغير د ګوتو نه ټقونه وِيستل **مَكرُوہِ تَنزِيهِی** دي (ج) د نمانځه نه علاوه د څه حاجت په وجه مثلاً ګوتو ته آرام وركولو د پاره د ګوتو نه ټقونه وِيستل **مُباح** (يعني بغير د څه كراهت نه) جائِز دي (حواله) (۹) **تَشبِيك** يعني د يو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو كښې وركول. (غُنيةُ المستملی ص۳۳۸)

سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "څوك چه د جُمات (د تللو) په اِراده اُوځي نو **تَشبِيك** يعني د يو لاس ګوتې دِ د بل لاس په ګوتو كښې نه وركوي بيشكه هغه په (حُكم د) نمانځه كښې دې. (مُسندِ اِمام اَحمد بِن حنبل، ج۶، ص۳۲۰، حديث ۱۸۱۲۶) د نمانځه د پاره د تللو په وخت كښې او د نمانځه په اِنتِظار كښې هم دا دواړه ځيزونه **مَكرُوہِ تَحرِيمِی** دي. (مراقی الفلاح معه حاشية الطحطاوی ص ۳۴۶)

## په ملا لاسونه اِيښودل

(۱۰) په ملا لاسونه اِيښودل. (اَيضاً ص ۳۴۷) د نمانځه نه علاوه هم (بغير د عُذر نه) په ملا باندي (يعني د دواړو ډډو په مينځ باندي) لاسونه اِيښودل نه دي پكار. (الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۴۹۴) دالله عَزَّوَجَلَّ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "په ملا باندِ لاسونه اِيښودل د دوزخيانو راحت [يعني آرام]


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

دي." (السُنَنُ الكُبرٰی ج٢ ص٤٠٨ حديث٣٥٦٦) يعني دا د يهودِيانو طريقه ده او هغه دوزخيان دي ګني د دوزخيانو د پاره په دوزخ كښې څه راحت دي!
(حاشِيه بَهارِ شرِيعَت حِصّه٣، ص ١١٥ مكتبه اسلاميه لاهور)

## د آسمان طرف ته كتل

(١١) د آسمان طرف ته نظر پورته كول. (اَلبَحرالرَّائِق، ج٢، ص٣٨) د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **مَحبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څه حال دي د هغه خلقو څوك چه په نمانځه كښې آسمان طرف ته سترګې اوچتوي د دي نه دِ قلار شي يا به د هغوئ سترګې اوويستلې شي. (صحيح البُخاری ج٢، ص١٠٣) (١٢) اخوا ديخوا مخ اړولو سره كتل، كه پوره مخ واړوي او كه لږ. د مخ اړولو نه بغير صِرف د سترګو په اړولو راړولو بې ضرورته اخوا ديخوا كتل مَكرُوهِ تَنزِيْهِي دي او ډير كم كله كه د څه صحيح غرض د پاره وي نو څه باك نشته. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه٣، ص١٩٤) د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "كوم بنده چه په نمانځه كښې دي د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خاص رحمت د هغه طرف ته مُتوَجِّه اوسي تر څو چه اخوا ديخوا اُو نه ګوري، چه كله هغه خپل مخ واړلو د هغه رحمت هم واوړي." (اَبو داوُد، ج١، ص٣٣٤، حديث٩٠٩، دار احياء التراث العَرَبِي بيروت) (١٣) د نارينه په سَجده كښې مړوندونه خورول [يعني په زمكه لګول].
(الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٤٩٦)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

# نمونځ کوونکي ته کتل

(١٤) د چا مخ ته مخامخ نمونځ کول. بل کس لره هم د نمونځ کوونکي طرف ته [يعني د هغه مخ ته مخامخ] مخ کول ناجائِزه او ګُناه ده که چا د مخکښې نه مخ کړې وي او بيا څوك د هغه د مخ طرف ته مخه کړې او نمونځ شروع کړي نو نمونځ شروع کولو والا ګناهګار شو او په هغه نمونځ کوونکي ګراهَت راغلو، ګني د مخ کوونکي په سر ګناه او ګراهَت دې. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص٤٩٦) کوم خلق چه د جُمعې د سلام د ګرځيدو نه پس سمدست خپلې شا ته بالکل په سمې نمونځ کولو والؤ طرف ته مخ کړي او هغوئي ته ګوري يا شا ته د تللو د پاره هغه ته مخ کړي اودريږي چه دا سلام اوګرځوي نو زه به اُوځم، يا نمونځ کوونکي ته [مخ کړي] بالکل مخامخ په ولاړه يا په ناسته اعلان کوي، درس ورکوي، بيان کوي دا ټول دِ توبه اوکړي (١٥) په نمانځه کښې پوزه او خُله پټول. (عالمگِيري ج١ص١٠٦) (١٦) بې ضرورته ارغشې (يعني بلغم وغيره خارج) کول [يعني په مرئ کښې را ولاړول]. (غُنية المستملی ص ٣٣٩) (١٧) قصداً هَوَکې کول. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطَّحطاوی ص٣٥٤) (که ئخپله راشي نو باك نشته خو حصارول ئې مُستَحَب دي) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چه کله په نمانځه کښې چا ته هَوَکې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

ورشي نو چه څومره کيدې شي حصار دِ ئې کړي ځکه چه شيطان په خُله کښې داخليږي. (صحيح مُسلِم ص۴۱۳) (۱۸) په چپه [يعني اُلته] قرآنِ مجيد لوستل (مثلاً په وړومبي رکعت کښې ئې "تَبَّت" اولوستو او په دويم کښې ئې "اِذاجآءَ" اولوستو") (۱۹) کوم يو واجِب پريښبودل. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی، ۳۴۵) مَثَلًا "قَومه" او "جَلسه" کښې د ملا نيغيدو نه مخکښې رُکوع يا دويمي سجدې له تلل. (عالمگِيري ج۱ ص۱۰۷) په دې گُناه کښې د مسلمانانو يو ګڼړ شمير اخته معلوميږي، ياد ساتئ!چه څومره نمونځونه چا داسې کړي وي د هغه ټولو بيا راګرځول واجِب دي (۲۰) د "قِيام" نه علاوه په بله کومه موقع قرآنِ مجيد لوستل. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی ص۳۵۱) (۲۱) قِراءَت په رُکوع کښې د رسيدو نه پس ختمول. (ايضاً) (۲۲) د امام نه مخکښې د مُقتدي په سجده يا رُکوع کښې تلل يا د هغه نه مخکښې سر پورته کول. (رَدُّالْمُحتَار ج۲، ص۵۱۳) حضرتِ سيّدُنا امام مالك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د حضرتِ سيّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت کوي چه د مديني سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "څوك چه د اِمام نه مخکښې سر پورته کوي او ښکته کوي د هغه د تندي وِيښته د شيطان په لاس کښې دي. (مُؤطا اِمام مالِك ج۱ ص۱۰۲ حديث۲۱۲، دار الفکر بيروت) د حضرتِ سيّدُنا ابُو هُريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "آيا څوك چه د امام نه مخکښې سر پورته کوي د دې نه نه يَريږي چه اللّٰه تَعَالٰی د هغه سر د خر [د] سر [په شان] کړي. (صحيح مُسلِم، ج١، ص١٨١)

## د خر په شان مخ

حضرتِ سيِّدُنا امام نَوَوِی رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حديث اغستو د پاره يو ډير مشهور کس له دِمشق ته ورغلو. هغوئي به [شاګردانو ته] د سبق وئيلو په دوران کښې په مخ پرده اچولې وه ، د مودو پورې ئې د هغوئ نه سبق وئيلو خو د هغوئ مخ ئې اونه ليدو، چه کله ډيره زمانه تيره شوه او هغه مُحدِّث صاحب اوليدو چه دوئي ته (يعني امام نَوَوي) ته د علمِ حديث ډير خواهش دې نو يوه ورځ ئې پرده لرې کړه! څه ګوري چه د هغوئي **مخ د خر په شان دې**!! هغوئي اوفرمائيل: ځويه! د جَمعې په دوران کښې په امام باندې د سبقت کولو [يعني د امام نه مخکښې شکته پورته کيدو] نه اويَريږه ځکه چه دا حديث کله ما ته را اورسيدو نو ما دا **مُستَبعَد** (يعني د ځيني راويانو د صحيح نه کيدو په وجه د قياس نه لرې) اوګڼړو او ما په امام باندې قصداً سبقت اوکړو نو زما مخ داسې شو څنګه چه ته ګورې. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه٣، ص٩٥ مدينةُ المُرشِد بريلي شريف) (٢٣) د نورو جامو لرلو باوجود صرف په پاجامه [پرتوګ] يا لنګ کښې نمونځ کول (٢٤) د کوم يو آشنا کس د راتلو په وجه (يعني


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

د هغه د خاطره) د امام نمونځ اوکړدول. (عالمګيري ج۱، ص۱۰۷) که هغه لره په نمانځه کښې مدد ورکولو د پاره ئې د يو دوه تسبيح هُمره اوکړ کړو نو باك نشته. (اَيضاً) (۲۵) مَغصُوبَه زمکه (يعني داسې زمکه چه هغه ناجائِزه قبضه شوې وي) يا (۲٦) پردې پټې چه په هغې کښې فصل ولاړ وي. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی ص۲۵۸، دُرِّ مُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۲) يا (۲۷) په اړولې پټې کښې. (اَيضاً) (۲۸) قبر ته مخامخ نمونځ کول، هله چه د قبر او نمونځ کوونکې د مينځه څه څيز حائل [يعني څه سُتره] نه وي. (عالمګيري ج۱، ص۱۰۷) (۲۹) د کافرو په عِبادت خانو کښې نمونځ کول بلکه هغې ته تلل هم منع دي. (رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۳) (۳۰) د کُرتې [يعني قميص] وغيره تنړئ [يعني بټنې] که داسې خلاصې وي چه په هغې کښې سينه ښکاره وي مَکرُوهِ تَحرِيمِی دي خو که لاندې ترې څه بله کپړه وي چه په هغې کښې سينه نه ښکارې نو مکروهِ تنزيهی دي.

## نمونځ او تصويرونه

(۳۱) د ساه لرونکې څيز د تصوير والا جامو کښې نمونځ کول مَکرُوهِ تَحرِيمِی دي د نمانځه نه علاوه هم داسې جامې اغوستل جائِز نه دي. (دُرِّ مُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۰۲) (۳۲) که د نمونځ کوونکې په سر يعني په چت يا د سَجدې په ځائ باندې يا مخکښې يا ښې طرف يا ګڅ طرف ته د ساه لرونکې څيز تصوير زوړند وي نو دا مَکرُوهِ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

تَحرِیمِی دي او که شا ته وي نو هم مکروه دي خو د دې تيرو شوو حالتونو نه کم. که تصوير په زمکه وي او په هغې سجده نه کيږي نو کراهَت نشته. که تصوير د بې ساه څيز وي لکه درياب، غر وغيره نو په هغې کښې باك نشته. که دومره وړوکې تصوير وي چه که هغه په زمکه کيږدې او په ولاړه ورته اوګورې نو اندامونه پکښې نه معلوميږي (څنګه چه عام طور د طوافِ کعبه د منظر تصويرونه ډير واړه وي داسې تصويرونه) د نمانځه د پاره د کراهَت باعِث نه وي. (غُنیۃُ المستملی ص۳٤۷، درمُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۰۳) خو که د طوافِ کعبه په ګڼړه کښې يو مخ هم واضحه شو نو مُـمانَعَت به باقي وي. د مخ نه علاوه مثلاً لاس، ښپې، شا، د مخ وروستو حصّه يا داسې مخ چه د هغې سترګې، پوزه، شونډې وغيره ټول اندامونه وران شوي وي په داسې تصويرونو کښې څه باك نشته.

## "یاخُدا! ستا د خوښې د نمونځ کولو سعادت راکړې"

## د ۳۳ حروفو په نِسبت د نمانځه ۳۳ مکروهاتِ تَنزِیهَه

(۱) د نورو جامو د موجودګئ باوجود د کار په جامو کښې نمونځ کول. (شرح الوقاية ج۱، ص۱۹۸) که په خُله کښې ئې څه څيز نيولې وي. او که د هغې په وجه قِراءَت نه شي کيدې يا داسې الفاظ اُوځي چه هغه د قُرآنِ پاك نه وي نو نمونځ به فاسِد شي. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص٤۹٦)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمذی)

(۲) د سستئ په وجه سر تور سر نمونځ کول. (عالمګيري ج۱، ص۱۰٦) که په نمانځه کښې ټوپئ يا عِمامه [يعني پټکې] شريف د سر نه پريوځي نو راپورته کول ئې غوره دي هله چه د عَمَلِ کثير حاجت پيښ نه شي ګني نمونځ به فاسِد شي او که بيا بيا راپورته کول غواړي نو پريښودل پکار دي او که د نه راپورته کولو نه خُشُوع و خُضُوع [يعني د زړه حاضري او د بدن عاجِزي] مقصود وي نو نه راپورته کول ئې غوره دي. (دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص٤٩١) که څوك سرتور سر نمونځ کوي يا د هغه د سر نه ټوپئ پريوځي نو بل کس دِ هغه ته ټوپئ نه په سر کوي (۳) په رُکوع يا سَجده کښې بې ضرورته د درې ځله نه کم تسبِيح لوستل (که وخت لږ وي يا د ريل ګاډې د تللو يره وي نو بيا باك نشته. که مُقتدي درې ځله تسبِيح نه وي لوستلې او اِمام سر پورته کړې نو د امام تابعداري دِ اوکړي) (٤) په نمانځه کښې د تندي نه خاوره يا ډکې لرې کول، خو که د هغې [د لګيدو] په وجه د نمانځه نه توجُّه اوړي نو بيا په لرې کولو کښې باك نشته. (عالمګيرى ج۱، ص۱۰٦) (٥) په سجده وغيره کښې ګوتې د قبلې نه بل طرف ته اړول. (فتاوٰیٔ قاضي خان معه عالمګيرى ج۱، ص۱۱۹) (٦) د نارينه په سَجده کښې ورون دَ خيټې سره جوخت لګول. (عالمګيرى ج۱، ص۱۰۹) (۷) په نمانځه کښې د لاس يا د سر په اشاره کولو د سلام جواب ورکول. (دُرِّ مُختار، ج۲، ص٤٩٧) په خُله جواب ورکولو سره نمونځ ماتيږي. (مراقی الفلاح مع حاشِية الطّحطاوی ص ۳۲۲، قديمي کُتب خانه) (۸) په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

نمانځه كښې بې عُذره پرلت وهل (غُنيةُ المستملی ص۳۳۹) (۹) ستوماني ويستل او (۱۰) قصداً ټوخيدل، ارغشې كول [يعني غاړه تازه كول]. (غُنيةُ المستملی ص۳٤٠) كه د طبيعت تقاضه وي نو باك نشته (۱۱) سجدې ته د تللو په وخت كښې د زنګنونو نه مخكښې بې عُذره لاس په زمكه ايښودل. (عالمګيري ج۱، ص۱۰۷)(۱۲) د پاڅيدو په وخت كښې بې عُذره د لاسونو نه مخكښې زنګنونه اوچتول. (غُنيةُ المستملی ص۳۳۵) (۱۳) په رُكوع كښې سر د ملا نه ښكته يا پورته ساتل. (ايضاً ۳۳۸) (۱٤) په نمانځه كښې ثناء، تَعَوُّذ، تَسمِيه او آمين په زوره وئيل. (عالمګيری ج۱، ص۱۰۷) (۱۵) بې عُذره ديوال وغيره ته ډډه وهل. (اَيضاً) (۱٦) په رُكوع كښې په زنګنونو او (۱۷) په سجدو كښې په زمكه لاس نه ايښودل (۱۸) په يوه ډډه او بله ډډه خوزيدل. او تَرَاوُح يعني كله په ښئ ښپه او كله په ګڅه ښپه زور اچول، دا سُنَّت دي. (بهارِ شريعت، حصّه۲، ص۲۰۲) او سجدې له د تللو په وخت كښې په ښي طرف زور راوړل او د پاڅيدو په وخت كښې په ګڅ طرف زور راوړل دا مُستحب دي. (اَيضاًص۱۰۱) (۱۹) په نمانځه كښې سترګې بندې ساتل. خو كه خُشُوع [يعني د زړه حاضري] ورسره راځي نو سترګې بندې ساتل غوره دي. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص٤۹۹) (۲۰) بَل شوي اور ته مخامخ نمونځ كول، شمع يا ډيوه كه مخامخ وي نو باك نشته.(عالمګيري ج۱ ص۱۰۸) (۲۱) داسې څيز ته مخامخ نمونځ كول چه د هغې په وجه توجُّه لرې كيږي مثلاً زِينت [يعني ځه ښائِسته


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

څيزونه] او لَهْو لَعِب [يعني لوبې، تماشې، ټوقې ټقالې] وغيره. (رَدُّالْمُحتَار ج ۱، ص ۴۳۹) (۲۲)نمانځه له په منډه تلل (۲۳) عامه لار کښې (۲۴) په ډېران کښې (۲۵) مذبح کښې يعني کوم ځائ چه څاروي حلالېږي هلته (۲۶) اِصطَبل يعني د اسونو د تړلو ځائ [يعني د اسونو غوژل]، (۲۷) غسل خانه، (۲۸) غوژل خاص طور په کوم ځائ کښې چه اوښان تړل شي، (۲۹) د اِستِنجا خانې په سر او (۳۰) په شړه کښې بغير د سُترې نه هله چه مخې ته د خلقو د تيريدلو اِمکان وي. په دې ځائيونو کښې نمونځ کول. (غُنيَةُ المستملی ص ۳۲۹) (۳۱) بې عُذره مچ يا ماشې په لاس [خوزلو] الوزول. (فتاوٰی قاضی خان معه عالمگيري ج ۱، ص ۱۱۸) (که په نمانځه کښې که سپږه يا ماشې تکليف ورکوي نو د هغې په نيولو او وژلو کښې هيڅ باك نشته هله چه د عملِ کثير په ذريعه نه وي. (بَهارِ شرِيعَت) (۳۲) هر هغه عملِ قليل کوم چه د نمونځ کوونکي د پاره فائده مند وي جائِز دې او کوم چه فائِده مند نه وي هغه مکروه دې. (عالمگيري ج ۱، ص ۱۰۹) (۳۳)اُلټه [يعني په څټ] جامې اغوستل يا په سر کول.

(فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج ۷، ص ۳۵۸ (فَتَاوٰی اهلِسُنَّت غيرِ مطبوعه)

## د نِيم لِستونړي په جامو کښې نمونځ کول څنګه دي؟

د نِيم لِستونړي کُرته يا قميص کښې نمونځ کول مَكرُوهِ تَنزِيْهِی دي هله چه د هغه سره نورې جامې وي. حضرت صدرُ الشَّريعه مُفتي محمّد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "د چا سره چه [نورې] جامې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

موجودې وي او صرف د نِيم لِستونړي [په قميص کښ] يا په بنين کښ نمونځ کوي نو کَراهَتِ تنزِيهي دې او که جامې ورسره موجودې نه وي نو بيا کَراهَت هم نشته" (فتَاوٰی امجدِيّه حِصّه ۱۹۳، مکتبه رَضَوِيّه بابُ المدينه کراچي)

مُفتئ اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي وقارُالدِّين قادِري رَضَوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي، د نِيم لِستونړي والا کُرته قميص يا شرټ د کار کولو په لِباس کښ شامل دي (چا چه د کارجامې اغوستې وي هغه د عزّت مندو خلقو خوا ته تللو نه ډډه کوي) ځکه چه څوك د نِيم لِستونړي په کُرته [يا قميص] کښ د خلقو خوا ته تلل ښه نه ګنړي، د هغوئي نمونځ مَکرُوهِ تَحرِيمی دې او کوم خلق چه په داسې لِباس کښ د هيڅ چا مخې ته هم تلل بد نه ګنړي، د هغوئ نمونځ مکروه نه دې.

(وَقارُ الفَتاوٰی ج۲، ص۲٤٦)

## د ماسپښين د آخِري دوو رکعاتو نفلو فضيلت

د **ماسپښين** [د فرضو] نه پس څلور رکعاته کول مُستحب دي ځکه چه په حديثِ پاك کښ فرمائيلي شوي دي، چا چه د ماسپښيين [د فرضو] نه مخکښ په څلورو او وروستو په څلورو مُحافَظَت اوکړو اللّٰه تَعَالٰی په هغه اور حرام کړي. (سُنَنُ النَّسَائی، حديث ۱۸۱۷ ص۲۲۰۷ دار الحيل بيروت) علّامه سيِّد طحطاوي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه د سره به اور ته نه داخليږي او د هغه ګناهونه به وران کړې شي او په هغه باندې چه (د بندګانو د حقونو وهلو) کوم مطالبات دي اللّٰه تَعَالٰی به هغه کسان راضي کړي يا


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

دا مطلب دې چه د داسې كارونو كولو توفيق به وركړې چه په هغې سزا نه وي. او علّامه شامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه د هغه د پاره دا زيرې دې چه هغه به د سعادت [يعني نيك بختئ] سره د دنيا نه ځي او دوزخ ته به نه ځي. (شامى ج٢، ص٤٥٢)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ چه مونږ هسې هُم د ماسپښين لس ركعاته نمونځ كوو نو په آخِره كښې نور دوه ركعاته نفل كولو باندې د دولسمې په نِسبت دولس ركعته پوره كولو كښې څه وخت لګي. په استقامت سره د دوه ركعته نفل كولو نيّت اوكړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمامَت بيان

د نارينه غيرِ مَعذور اِمام د پاره شپږ شرطونه دا دي:.

(١) چه صحيحُ الْعقيده مسلمان وي (٢) بالِغ وي (٣)عاقِل وي [يعني ليونې نه وي] (٤) نارينه وي (٥) قِراءَت ئې صحيح وي او (٦) معذوره نه وي. (دُرِّ مُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٢٨٤)

## د "يَا اِمامَ الْاَنبيا" صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ديارلسو حُروفو په نِسبت د اِقتِداء ديارلس شرائِط

(١) نِيَّت (٢) اِقتِداء، او د دې اِقتِدا نِيَّت د تَحريمه سره كيدل يا د تكبيرِ تَحريمه نه مخكښې كيدل په شرط د دې چه د مخكښې نه د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

کیدو په صورت کښې کوم غیر کار په نیّت او [تکبِیرِ] تحریمه کښې د جُدائ کولو والا نه وي (۳) د اِمام او مُقتدي په یو ځائ کښې موجود کیدل (٤) چه د دوارو نمونځ یو وي یا د امام نمونځ د مُقتدي نمونځ په خپل ضِمن کښې اغستې وي (٥) د امام نمونځ چه د مُقتدي په مذهب صحیح وي او (٦) د امام او مُقتدي د دوارو دا صحیح ګنړل (۷) د شرائِطو په موجودګئ کښې د زنانه مُحاذي (یعني برابر) نه کیدل (۸) د مُقتدي د امام نه مُقدّم (یعني مخکښې) نه کیدل (۹) د امام د انتِقالاتو [یعني شکته پورته کیدلو] علم کیدل (۱۰) چه [مُقتدي ته] د امام مقیم یا مسافر کیدل معلوم وي (۱۱) د ارکانو په اداِګئ کښې شریك کیدل (۱۲) د ارکانو په اداِګئ کښې چه مُقتدي د اِمام مِثل وي یا کم وي (۱۳) هم دغسې په شرائِطو کښې چه مُقتدي د اِمام نه زیات نه وي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۲۸٤ تا ۲۸۵)

## د اِقامت نه پس دِ امام صاحِب اعلان اوکړي:

خپلې پوندې، څټونه او اُوګې په یو سمې کښې کړئ او صفونه نیغ کړئ. د دوو سړو په مینځ کښې ځائ پریښودل ګناه ده، د اُوګې سره اُوګه لګول واجِب دي او تر څو چه مخکښنې صف د ګوټه پورې نه وي پوره شوې قصداً شا ته نمونځ شروع کول، د واجِبو پریښودل، ناجائِزه او ګناه ده. د پینځلّسو کالو نه کم نابالِغه ماشومان


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

په صفونو کښې مه اودروئ، د صفونو په کوټونو کښې ئې هم مه اودروئ د وړو ماشومانو صَف د ټولو نه شا ته جوړ کړئ. (د تفصِيلي معلوماتو د پاره اوګورئ. (فَتَاوىٰ رَضَوِيّه ج ۷، ص ۲۱۹ تا ۲۲۵ رضا فاؤنډيشن لاهور)

## د جَمعې بيان

په عاقِل، بالِغ، آزاد او قادِر باندې د جُمات جَماعتِ اُولیٰ [يعني اولنئ جَمعه] واجِب ده بغير د عُذر نه يو پيره هم پريښودلو والا ګنهګار او د سزا حقدار دې او که ډېرځل ئې پريږدي نو فاسِق مردُودُالشَّهادَة (يعني د هغه ګواهي د قبليدو قابِله نه ده) او هغه ته به سخته سزا ورکوله شي او که ګاونډيانو ئې سُکوت اوکړو (يعني خاموشه پاتې شو) نو هغوئې هم ګنهګار شو. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتارج۲، ص۲۸۷) څيني فُقَهاےکرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي "څوك چه اذان واوري او په کور کښې د اِقامت انتِظار کوي هغه ګنهګار دې او د هغه شهادت (يعني ګواهي) قبوله نه ده"

## "يَاطٰهٰ مدينې ته مې اوغواړه" د شلو حُروفو

## په نِسبت د جَمعې پريښودلو شل عُذرونه

(۱) [داسې] مريض چه هغه ته جُمات ته تللو کښې مشکلات وي (۲) شَل (۳) د چا چه ښپه پرې شوې وي (٤) څوك چه فالج وهلې وي (٥) دومره بوډا چه جُمات ته نه شي تللې (٦) ړوند، اګرکه د ړانده د پاره داسې څوك وي چه هغه د لاسه اونيسي او جُمات ته ئې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اورسوي. (۷) سخت باران او (۸) چه په لاره کښ ډيرې زياتې چقړې وي (۹)ډيره زياته يخني (۱۰) ډيره زياته تِياره (۱۱) سِيلۍ (۱۲) د ما ل يا د طعام د ضائِع کيدو يَره (۱۳) د قرض خواه يَره ده او د ده لاس تنګ دې (۱٤) د ظالِم يَره (۱۵) د غټو بَولو (۱٦) د وړو بولو يا (۱۷) د رِيح [يعني د خيټې د ګيس] ډير تڪليف (۱۸) که ډوډۍ تياره وي او نفس ئې خواهش لري (۱۹) که د قافِلې د تللو يَره وي (۲۰) د مريض خِدمت، چه که جَمعې له ځي نو هغه ته به تڪليف رسي يا به يَريږي. دا ټول د جَمعې د پريښودو عُذرونه دي.

(دُرِّ مُختار مع رَدُّالمُحتار ج۲،ص۲۹۲تا۲۹۳)

## په کُفر د خاتِمې يَره

د روژه ماتي د دعوتونو، ميلمستياګانو، نيازونو [يعني په بزرګانو پسې د اِيصالِ ثواب خيراتونو] او د نعت خوانيانو وغيره په وجه په جُماتونو کښ کيدو والا د فرض نمونځونو د جَماعتِ اُولٰی (يعني د اولې جَمعې د) پريښودو بالکل اجازت نشته، تر دې چه کو م خلق په کور، هال يا د بنګلې په کمپاونډ وغيره کښ د تراويح جَمعه کوي او نزدې جُمات موجود وي نو په هغوئي واجب دي چه مخکښ فرض رکعتونه د جَماعتِ اُولٰی [يعني د اولې جَمعې] سره په جُمات کښ ادا کړي. کوم خلق چه د شرعي عُذر نه بغير د قدرت لرو باوجود فرض نمونځ په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

جُمات کښې د جَماعَتِ اُولٰی سره نه ادا کوي هغوئي له يَريدل پکار دي ځکه چه د مديني د تاجدار د خوږ نبي سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دي: "ځوك چه دا خوښوي چه صبا د اللّٰه تَعَالٰی سره د مسلمانئ په حالت کښې ملاقات اوکړي نو هغه دِ د دې پينځه نمونځونو (د جَمعې سره) په هغه ځائ کښې پابندي کوي کوم ځائ چه اذان وئيلې کيږي ځکه چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستاسو د نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره سُنَنِ هُدٰی مَشرُوع کړل او دا (د جَمعې) نمونځونه هم د سُنَنِ هُدٰی نه دي او که تاسو د خپل نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت پريږدئ نو گمراه به شئ." (صحيح مُسلِم ج۱، ص۲۳۲) په دې حديث شريف کښې دې خبرې ته اِشاره ده چه د جَماعَتِ اُولٰی د پابندئ کولو والا خاتِمه به په خير کيږي او ځوك چه د شرعي مجبورئ نه بغير د جُمات جَماعَتِ اُولٰی پريږدي د هغه د پاره مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ په کُفر د خاتِمې يره ده. ځوك چه صرف د سستئ په وجه په پوره جَمعه کښې شرکت نه کوي هغوئ دِ توجُّه اوکړي چه زما آقا اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه په "بَحرُالرَّائِق" کښې دي، قنيه کښې دي چه که چا اذان واوريدلو او د دُخولِ مسجد (يعني جُمات ته د داخِليدو) د پاره ئې د اِقامت انتظار کولو نو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

ګنهګار به وي.“ (فتَاوٰی رَضَوِيّه ج۱، ص۱۰۲، البحرالرَّائِق ج۱، ص۶۰٤) د فتاویٰ رضَوِيَّه شريف په هم هغه صفحه کښې دي، ”څوك چه اذان واوري او په کور کښې د اِقامت انتظار کوي د هغه شهادت يعني ګواهي قبوله نه ده.“. (البحرالرَّائِق ج۱، ص٤٥۱) **خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** څوك چه د اِقامت پورې جُمات ته نه راځي د ځيني فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نِزد هغه ګنهګار او مَردُودُالشّهادت يعني د ګواهئ د پاره نالائقه دي نو چه څوك بې عُذره په کور کښې جَمعه کوي يا د جَمعې نه بغير نمونځ کوي يا مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د سره نمونځ نه کوي د هغه به څه حال وي!

يا ربِّ مُصطفٰے! عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږ ته پينځه واره نمونځونه په جُمات کښې د جَماعَتِ اُولٰی په وړومبې صف کښې د تکبيرِ اولیٰ سره د ادا کولو هميشه سعادت رانصيب کړې

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت
ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی
د پينځه واره نمونځونو سره د جَمعې
را ته راکړې ته توفيق يا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د جُمُعې په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنْزُالْعُمَّال)

## د "يا رسُولِ پاک" د نهه حروفو په نِسبت د وِترو د نمونځ ۹ مدني ګلونه

(۱) د وِترو نمونځ واجب دي. (البحرالرَّائِق ج۲، ص۶۶) (۲) که دا پاتې شي نو د دې قضا لازِمه ده. (دُرِّمُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲ ص۵۳۲) (۳) د وِترو وخت د ماسخُتن د فرضو نه پس د صبا صادق پورې دې. (مراقی الفلاح مع حاشِيةالطَّحطاوی ص۱۷۸) (٤) څوک چه د شپې د خوب نه د راپاځيدو قدرت لري نو د هغه د پاره غوره ده چه د شپې په اخيره کښې راپاځي اول تَهَجُّد ادا کړي او بيا وِتر. (غُنيةُالمستملی ص٤٠۳) (۵) د دې درې رکعاته دي. (مراقی الفلاح مع حاشِيةالطَّحطاوی ص۳۷۵) (۶) په دې کښې قَعدهٔاُولٰی واجِب ده، صرف تَشَهُّد اولولئ او پاڅئ (۷) په دريم رکعت کښې د قِراءَت نه پس تَکبِيرِقُنُوت لوستل واجِب دي. (دُرِّمُختار مع رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۳۳) (۸) څنګه چه تکبِيرِ تَحريمه لولي هم دغه شان [په تکبِيرِقُنُوت کښې] اول لاسونه د غوږونو پورې پورته کړئ بيا اَللهُ اَکبَر اولولئ. (حاشِية الطَّحطاوی ص۳۷۶) (۹) بيا لاسونه اوتړئ او دُعاۓقُنُوت اولولئ.

## دُعائے قُنُوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِىْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَانَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰیﷺ: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذِی)

ترجمه: اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) مونږه ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او په تا ايمان راوړو او په تا يقين [يعني تَوَكُّل] ساتو او ستا ډير ښه صِفت بيانوو او ستا شُكر ادا كوو او ستا ناشُكري نه كوو او جُدا كوو او پريږدو هغه كس څوك چه ستا نافرماني اوكړي، اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) مونږه صرف ستا عِبادت كوو او صرف ستا د پاره نمونځ كوو او سَجده كوو او ستا طرف ته درومو او [د دِين] د خدمت د پاره حاضريږو او ستا د رحمت اُمِّيد لرو او ستا د عذاب نه يريږو بيشكه ستا عذاب كافرو ته رسيدو والا دي.

(١٠) د دُعائے قُنُوت نه پس درود شريف لوستل بهتر دي. (غُنيةُ المستملی ص٤٠٢)

(١١) څوك چه دُعائےقُنُوت نه شي لوستلي هغه دِ دا اولولي:

اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط

[ترجَمه:] اے اللّٰه! اے زمونږه مالكه مونږ ته په د نيا كښ خير راكړي او مونږ ته په آخرت كښ خير راكړي او مونږ د دوزخ د عذاب نه اوساتي.

يا دِ دا لولی:

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

(اے الله! زما بخښنه اوكړې) (مراقی الفلاح معه حاشِية الطّحطاوی ص۳۸۵)

(۱۲) كه دُعاءِ قُنُوت لوستل مو هير شو او په رُكُوع كښې لاړئ نو بيرته مه راګرځئ بلكه سَجدۀسَهو اوكړئ. (عالمگيري ج۱ ص۱۱۰) (۱۳) كه وِتر د جَمعي سره كيږي (ځنګه چه په رَمَضَانُ المُبارَك كښې كيږي) او مُقتدي لا د قُنُوت نه نه وو فارِغ شوې چه امام په رُكوع كښې لاړو نو مُقتدي دِ هم په رُكُوع كښې لاړ شي.

(عالمگيري ج۱ ص۱۱۰، تبيين الحقائِق ج۱، ص۱۷۱ ملتان)

## د سَجدۀ سهُوْ بيان

(۱) كه د نمانځه په واجباتو كښې كوم يو واجِب په هيره پاتې شي يا د نمانځه په فرائِضو او واجِباتو كښې په هيره تاخِير اوشي نو سَجدۀ سهُوْ واجب ده. (الدرالمُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۶۵۵) (۲) كه سَجدۀسهُوْ ئې د واجِب كيدلو نه باوجود اُو نه كړه نو بيا نمونځ راګرځول واجِب دي. (ايضاً) (۳) كه قصداً ئې واجِب پريښودل نو سَجدۀسهُوْ كول كافي نه دي بلكه نمونځ دوباره راګرځول واجِب دي. (اَيضاً) (٤) كه كوم يو داسې واجب پاتې شي چه هغه د نمانځه د واجباتو نه نه وي بلكه د هغې وجوب د امرِ خارِج نه وي نو سَجدۀسهُوْ واجب نه ده مثلاً خِلافِ ترتيب قرآن لوستل ترکِ واجِب (او ګناه) ده خو د دې تعلق د نمانځه د واجِباتو سره نه دې بلكه د تِلاوت د واجِباتو سره دې لِهٰذا سَجدۀ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

سهْوُ نشته (البتّه د داسې کولو نه دِ توبه اوکړي). (اَيضاً) (٥) په فرض [رُکن] پاتې کيدو نمونځ ماتيږي په سَجدۂسهْوُ د دې کمې نه شي پوره کيدې لِهٰذا دوباره ئې ادا کړئ (٦) سُنّتونه يا مُستحبّات مثلاً د ثَناء، تَعَوُّذ، تَسمِيَه، اٰمين، د تکبيراتِ اِنتِقالات او د تسبيحاتو په پاتې کيدو سَجدۂسهْوُ نه واجِب کيږي، نمونځ اوشو. (فَتحُ القَدِير ج١، ص٤٣٨) خو دوباره کول مُستحب دي که په هيره مو پريښې وو يا قصداً (٧) په نمانځه کښې که لس واجِبات هم پاتې شو د سهْوُ دوه سَجدې د ټولو د پاره کافي دي. (رَدُّالْمُحتَار ج٢، ص٤٥٥) (٨) تعدِيلِ ارکان (مَثَلًا د رُکُوع نه پس نيغ اودريدل يا د دوو سجدو په مينځ کښې د يو ځل سُبْحٰنَ الله وئيلو همره نيغ کيناستل) هير شو نو سَجدۂسهْوُ واجِب ده. (عالمگِيري ج١ ص١٢٨) (٩) که قُنوت يا تکبيرِ قُنُوت ترې هير شو نو سَجدۂسهْوُ واجِب ده. (عالمگِيري ج١ ص١٢٨) (١٠) که په قِراءَت وغيره کومه موقع باندې په سوچ کولو کښې د درې ځله "سُبْحٰنَ الله" وئيلو همره وقفه تيره شوه نو سَجدۂسهْوُ واجِب شوه. (رَدُّالْمُحتَار ج٢، ص٦٥٥) (١١) د سَجدۂسهْوُ نه پس هم اَلتَّحِيَّات لوستل واجب دي. اَلتَّحِيَّات اولولئ او سلام اوګرځوئ او غوره دا ده چه د دواړو قعدو (يعني د سَجدۂسهْوُ نه مخکښې او وروستو دواړو قعدو) کښې درود شريف هم اولولئ. (عالمگِيري ج١ ص١٢٥) (١٢) د امام نه سهْوُ اوشوه او سَجدۂسهْوُ ئې اوکړه نو په مقتدي هم سَجده واجب ده. دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج٢، ص٦٥٨


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمذی)

(۱۳)که د مُقتدي نه په حالتِ اِقتدا کښې [يعني په اِمام پسې] سهُوُ اوشوه نو سَجدهٔسهُوُ پرې واجب نه ده. (عالمگِيري ج۱، ص۱۲۸) او د نمانځه د راګرځولو حاجت هم نشته.

## ډيره زياته اَهَمه مسئَله

ګنړ شمير اسلامي وروڼړه د بې عِلمئ په وجه خپل نمونځونه ضائِع کوي لهٰذا دا مَسئَله په ډيره تَوَجُّه اولولئ (۱٤) مَسبُوق (يعني څوك چه د يو يا زياتو رکعتونو تللو نه پس په جَمعه کښې شريك شو هغه) له د امام سره سلام ګرځول جائِز نه دي که قصداً ئې سلام اوګرځولو نو نمونځ به ئې مات شي او که په هيره کښې ئې د اما م سره سمدستي بغير د څه وقفې نه سلام اوګرځولو نو باك نشته خو دا نادِر صورت دې (يعني داسې ډير کم کيږي) او که په هيره کښې ئې د امام نه لږ ساعت پس هم سلام اوګرځولو نو ولاړ دِ شي خپل نمونځ دِ پوره کړي او سَجدهٔسهُوُ دِ اوکړي. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۶۵۹) مسبوق دِ اِمام سره سَجدهٔسهُوُ کوي اګرکه د هغه د شامليدو نه مخکښې اِمام سهُوُ شوې وي، او که د امام سره ئې سَجدهٔ سهُوُ اونکړه او د خپل باقي نمونځ کولو د پاره پاځيدو نو په آخِره کښې دِ سَجدهٔسهُوُ اوکړي او که د دې مسبوق نه په خپل [باقي] نمانځه کښې هم سهُوُ اوشوه نو د آخرې هم دا دوه سَجدې د اِمام د هغه سهُوُ د پاره هم کافي دي. (عالمگِيري ج ص) (۱٦) که په قعدهٔاُولٰی کښې ئې د تَشَهُّد نه پس دومره اولوستل چه ”اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ“ نو سَجدهٔسهُوُ واجِب شوه.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَاني)

د دې وجه دا نه ده چه دُرُود شريف ئې اولوستلو بلکه د دې وجه دا ده چه د دريم رکعَت په قِيام کښې تاخِير اوشو. لِهٰذا که د دومره وخته پورې خاموشه وو نو بيا هُم سَجدهٔ سهُوْ واجِب ده.

## حِکايت

حضرتِ سيِّدُنا اِمام اعظم اَبُو حَنيفه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته په خوب کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار اوشو، سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې تپوس اوکړو چه د دُرُود شريف لوستونکي د پاره تا سَجده ولې واجِب اوښودله؟ عرض ئې اوکړو، ځکه چه هغه په هيره (يعني په غفلت) اولوستله. سرکارِ عالي وَقار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا جواب خوښ کړو.

(الدر المُختار معه رَدُّ المُحتار ج٢، ص٦٥٧)

(١٧) که په يوه قَعده کښې د تَشَهُّد نه څه پاتې شو نوسَجدهٔ سهُوْ واجِب ده که نمونځ نفل وي او که فرض. (عالمگِيري ج١ ص١٢٧)

## د سَجدهٔ سهُوْ طريقه

اَلتَّحِيَّاتُ [د عَبۡدُہٗ وَرَسُوۡلُہٗ پورې] اولولئ بلکه غوره دا دي چه دُرُود شريف هُم اولولئ او نبي طرف ته سلام اوګرځوئ او دوه سَجدې اوکړئ، بيا تَشَهُّد، دُرُود شريف او دُعا اولولئ او سلام اوګرځوئ.

(فتاویٰ قاضي خان معه عالمگيري ج١، ص١٢١)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

## که سَجدهٔ سهْوُ کول هير شي نو ....

سَجدهٔ سهْوُ کول وو او ترې هيره شوه سلام ئې اوګرځولو نو تر څو چه د جُمات نه بهر شوې نه وي او د، ئې کړي. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۵٦) که په ميدان کښې وي نو تر څو چه د صفونو نه نه وي اووښتې يا مخکښې د سَجدې د ځائ نه نه وي تير شوې نو او دِ ئې کړي. کوم څيز چه مانِع بِنا [يعني نمونځ ماتوونکې] دې مَثَلًا خبرې وغيره نمونځ ماتوونکې څيز که پيښ شو نو بيا سَجدهٔ سهْوُ نه شي کيدې.
(الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۵٦)

## سَجدَهٔ تِلاوت او په شيطان سخته

د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د **محبُوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك فرمان دې: چه كله كله اِنسان آيَتِ سَجده اولولي او سَجده كوي، شيطان لرې شي او په ژړا شي او وائي: هائے زما بربادي! اِبنِ آدم ته د سَجدې حُكم اوشو هغه سَجده اوكړه د هغه د پاره جَنَّت دې او ما ته حُكم اوشو ما اِنكار اوكړو زما د پاره دوزخ دې. (صحيح مُسلِم ج۱ ص٦۱)

## اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ مُراد به ئې پوره شي

د **كوم** مقصد د پاره چه په يو مَجلِس [يعني په هُغه يو مقام او يو وخت] كښې څوك د سَجدې ټول (يعني ۱٤) آيتونه اولوَلي او (څوارلس) سَجدې اوكړي اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به د هغه مقصد پوره كړي. كه د يو يو آيت په


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

لوستو سِجده کوي او که تول اولوَلي او په آخِره کښې ۱۴ سَجدې اوکړي.
(دُرِّ مُختار ، ج۲ ص۷۱۹. غُنيه ص۵۰۷ وَغيرهُما)

## د "قُرآنِ مجِيد" د ۸ حُروفو په نِسبت د سَجدۀ تِلاوت اته مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ آيتِ سَجده لوستلو يا اوريدلو باندې سَجده واجِب کيږي. په لوستلو کښې دا شرط دې چه په دومره آواز کښې وي چه که څه عُذر نه وي نو چه پخپله ئې اوريدې شي، د اوريدونکي د پاره دا ضروري نه ده چه اِرادتاً ئې اوريدلې وي، بې اِراده اوريدو باندې هم سَجده واجِب کيږي. (عالمګِيري ج۱ ص۱۳۲) ﴿۲﴾ په هره ژبه کښې د آيت ترجَمه لوستلو او اوريدلو والا باندې سَجده واجِب شوه، که اوريدونکي په دې پوهه شوې وي او که نه چه دا د آيَتِ سَجده تَرجَمه ده. البته دا ضروري دي چه که هغه ته نه وي معلوم نو ورته وئيلې شوي وي چه دا د آيتِ سَجده تَرجَمه وه او که آيت [په عَرَبئ کښې] لوستلې شوې وي نو دا ضروري نه ده چه اوريدونکي ته د آيتِ سَجده په باره کښې وئيلې شوي وي. (عالمګِيري ج۱، ص۱۳۳)

﴿۳﴾ د سَجده واجِب کيدو د پاره پوره آيت لوستل ضروري دي خو د څيني عُلَمائے مُتَاَخِّرين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په نزد هُغه لفظ په کوم کښې چه د سَجدې ماده موجوده وي، که د هغې سره ئې د مخکښې يا وروستو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

يو لفظ اولوستو نو سَجدهٔتِلاوت واجب شوه لِهٰذا احتياط دا دې چه په دوارو حالتو کښې سَجدهٔتِلاوت اوکړې شي.

(مُلَخَّصاً فَتَاوٰی رَضَوِيّه، ج۸، ص۲۲۳، ۲۳۳ رضا فاؤنڈیشن لاهور)

﴿٤﴾ آيتِ سَجده ئې که د نمانځه نه بهر اولوستو نو فوراً سجده کول واجب نه دي البته که اودس لري نو تاخِير کول مکروهِ تَنزيهى دي.

(نُورُ الابصار مع رَدُّالْمُحتَار ج۲، ص۵۸۲)

﴿٥﴾ سَجدهٔتِلاوت په نمانځه کښې فوراً کول واجِب دي که تاخير ئې اوکړو نو ګنهګار به وي او د کله پورې چه په نمانځه کښې وي يا ئې د سلام ګرځولو نه پس د نمانځه منافي [يعني ماتولو والا] څه فِعل [يعني کار] نه وي کړې نو سَجدهٔتِلاوت دِ اوکړې او سَجدَهٔسَهْوْ دِ اوکړې.

(الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۸٤)

## خبردار! خيال ساتئ

﴿٦﴾ په رَمَضانُ الْمُبارَك کښې که په تراوِيح يا شبِينه کښې اګرکه تاسو نه ئې شريك، بيشکه که تاسو خپل نمونځ يواځې کوئ خو آيتِ سَجده اوريدو باندې به په تاسو هم سَجدهٔتِلاوت واجِب شي. که د کافِر يا نابالِغه نه آيتِ سَجده واورئ نو بيا هم سَجدهٔ تِلاوت واجِب شوه. د بالِغه کيدو نه پس مو چه څومره څله هُم آياتِ سَجده اوريدلي دي او تر اوسه مو سَجدهٔتِلاوت نه وي کړې، د هغې د غالِب ګُمان په اِعتِبار حساب اولګوئ او په اوداسه کښې هغه همره څله سَجدهٔتِلاوت اوکړئ.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## د سَجدهٔ تِلاوت طریقه

﴿۷﴾ په ولاړه دِ د اَللّٰهُ اَکۡبَر لوستلو سره په سَجده کښې لاړ شي او کم از کم درې ځله دِ سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی اووائي بیا دِ د اَللّٰهُ اَکۡبَر وئیلو سره اودریږي. په شروع او آخِره کښې دواړه ځله اَللّٰهُ اَکۡبَر وئیل سُنَّت دي. او د ولاړې نه په سَجده کښې تلل او د سَجدې نه پس اودریدل دا دواړه ځله قِیام مُستَحَب دې. (عالمگِیري ج۱ ص۱۳۵)

﴿۸﴾ د سَجدهٔ تِلاوت د پاره د اَللّٰهُ اَکۡبَر وئیلو وخت کښې نه لاسونه پورته کول شته او نه په دې کښې تَشَهُّد شته او نه سلام.

(تَنوِیرُ الۡاَبۡصار مع رَدُّالۡمُحۡتار ج۲، ص۵۸۰)

## د سَجدهٔ شُکر بیان

که اولاد پیدا شي، یا مال په لاس ورشي، یا ورك شوې خیز اوموندلې شي، یا مریض ته شِفا حاصِله شي یا مُسافر بیرته راشي غرض دا چه د هر نِعمت په حاصلیدو سَجدهٔ شُکر کول مُستَحَب دي. د دې طریقه هُم هغه ده کومه چه د سَجدهٔ تِلاوت ده. (عالمگِیري ج۱ ص۱۳۶) هم دغسې چه کله هم چا ته څه خوشخبري یا نعمت حاصِل شي نو سَجدهٔ شُکر کول د ثواب کار دې. مَثَلًا که د مدینهٔ مُنَوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعۡظِیۡمًا وِیزه په لاس ورشي، په چا باندې په اِنفِرادي کوشش کښې کامیاب شو او هغه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شو، څه مُبارك


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

خوب ئې اوليدو، يا يو آفت لرې شو يا د اسلام يو دُښمن مړ شو وغيره وغيره.

## د نمونځ كوونكي په مخه تيريدل سخته ګناه ده

﴿۱﴾ د دوارو جهانو د سردار مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك اِرشاد دې: "كه چا ته معلومه وې چه د خپل ورور په مخه په نمانځه كښې تيريدلو كښې څه دي نو سَل كاله ولاړ اوسيدل به ئې د هغه يو قدم تللو نه بهتر ګنړلې." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج١ ص٥٠٦ حديث ٩٤٦ دار المعرفة بيروت)

﴿۲﴾ حضرتِ سيِّدُنا اِمام مالِك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه د حضرتِ سيِّدُنا كَعبُ الاَحبار رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِرشاد دې: د نمونځ كوونكي په مخه تيريدونكي ته كه معلومه وې چه په هغه څه ګناه ده نو په زمكه خخيدل به ئې د تيريدلو نه بهتر ګنړلې. (مُؤطا اِمام مالِك، ج١، ص١٥٤، حديث ٣٧١ دار المعرفه بيروت) د نمونځ كوونكي په مخه تيريدو والا بيشكه ګنهګار دې خو د نمونځ كوونكي په نمانځه كښې د دې نه هيڅ فرق نه راځي. (مُلَخَّصاً فَتَاوٰى رَضَوِيّه ج٧، ص٢٥٤ رضا فاؤنڈيشن لاهور)

## "يَا رَسُولِ خُدا نظرِ كرم" د پينځلَّسو حُروفو په نِسبت د نمونځ كوونكي په مخه د تيريدو په باره كښې ١٥ اَحكام

﴿۱﴾ په ميدان او غټ جُمات كښې د نمونځ كوونكي د ښپو نه د مَوضَعِ سُجُود پورې تيريدل ناجائِزه دي د مَوضَعِ سُجُود نه مُراد دا دي



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

چه د قِيام په حالت كښ د سَجدې په ځائ نظر ټِينګ كړي نو د خومره لرې پورې چه نظر خور شي هغه مَوضَعِ سُجُود دې، د هغې د مينځه تيريدل جائِز نه دي. (تبيين الحقائق ج۱، ص۱٦۰) د مَوضَعِ سُجُود فاصِله د بنيو د اندازې نه واخله د درې ګزه پورې ده. (قانونِ شريعت حِصّه اوّل، ص۱۱٤ فريد بُك سټال مركزُ الاولياء لاهور) لِهٰذا په ميدان كښ د نمونځ كوونكي د بنيو نه واخله د درې ګزه نه پس تيريدو كښ باك نشته ﴿۲﴾ په كور او وركوټي جُمات كښ كه د نمونځ كوونكي مخې ته سُتره نه وي نو د بنيو نه واخله د قبلې د ديواله پورې په يو ځائ هم تيريدل جائِز نه دي. (عالمګيري ج۱ ص۱۰٤) ﴿۳﴾ كه د نمونځ كوونكي مخې ته سُتره وي نو د هٰغه سُترې نه پس تيريدو كښ هيڅ باك نشته. (اَيضاً) ﴿٤﴾ سُتره كم از كم يو لاس (يعني تقريباً نيم ګز) اوچته او د ګوتې هُمره پيړه پكار ده. (مراقی الفلاح مع حاشِيةُ الطّحطاوی ص۳٦٥) ﴿٥﴾ د اِمام سُتره د مُقتدي د پاره هُم سُتره ده. يعني كه د اِمام مخې ته سُتره وي نو كه څوك د مُقتدي په مخه تير شي نو ګنهګار به نه وي. (رَدُّالْمُحتَار ج۲، ص٤٨٤) ﴿٦﴾ وَنه، سړې او څناور وغيره هُم سُتره كيدې شي. (عالمګيري ج۱، ص۱۰٤) ﴿۷﴾ انسان دِ په داسې حالت كښ سُتره جوړ كړې شي چه نمونځ كوونكي ته د هغه شا وي. (حاشيه الطحطاوی ص۳٦٥) (كه د نمونځ كوونكي د مخ طرف ته چا مخه كړه نو كراهت په نمونځ كوونكي نه دې بلكه په هغه مخ كوونكي دې، لِهٰذا د اِمام د سلام ګرځولو نه پس شا ته كتلو او مخ كولو كښ احتياط


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

ضروري دي چه که ستاسو بالکل شا ته که څوك خپل بقيه نمونځ کوي او د هغه طرف ته تاسو مخه کړئ نو ګنهګار به شئ) ﴿۸﴾ که څوك د نمونځ کوونکي په مخه تيريدل غواړي نو که بل کس هُم د هغه په ډېره کښې د هغه د تللو د رفتار سره بالکل د هغه سره سم تير شي نو کوم يو چه نمونځ کوونکي ته نِزدې دې هغه ګنهګار شو او د بل د پاره هُم دا وړومبې کس سُتره جوړ شو. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲، ص۴۸۳) ﴿۹﴾ د جُمعې په نمانځه کښې په مخکښني صف کښې د ځاۓ کيدو باوجود که چا شا ته نمونځ شروع کړو نو راتلو والا کس مخکښني صف ته د تللو د پاره د هغه په اُوګه ښپه اړولې شي ځکه چه هغه خپل حُرمت [يعني اِحترام] د خپله لاسه ختم کړو. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار ج۲، ص۴۸۳) ﴿۱۰﴾ که څوك په دومره اوچت ځاۓ باندې نمونځ کوي چه تيريدونکي اندامونه نمونځ کوونکي ته مخامخ نه شو نو په تيريدو کښې باك نشته. (عالمګيري ج۱، ص۱۰۴) ﴿۱۱﴾ که دوه کسان د نمونځ کوونکي په مخه تيريدل غواړي نو د دې طريقه دا ده چه په هغوئي کښې دِ يو نمونځ کوونکي ته شا کړې اودريږي او بل دِ د هغه په مخه تير شي، بيا دِ هغه بل د وړومبي د شا د طرف نه راشي او د نمونځ کوونکي طرف ته دِ شا کړې اودريږي او اوس دِ هغه وړومبې تير شي، بيا دِ هغه بل د کوم طرف نه چه راغلې وو هُم هغه طرف ته لاړ شي. (اَيضاً) ﴿۱۲﴾ که څوك د نمونځ کوونکي په مخه تيريدل غواړي نو نمونځ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترځو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

کوونکي ته اِجازت دې چه هغه منع کړي که "سُبْحٰنَ الله" وائي او که په جَهر (يعني اوچت آواز) قِراءَت کوي يا د لاس يا د سر يا د سترګې په اِشاره ئې منع کوي. د دې نه د زيات اِجازت نشته. مَثَلًا د [تيريدونکي کس] جامې رانيول او جټکه ورکول بلکه که عَمَلِ کثِير اوشو نو نمونځ مات شو. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲ ص۴۸۳، مراقی الفلاح مع حاشِية الطَّحطاوی ص۳٦۷) ﴿۱۳﴾ تَسبِيح او اِشاره بې ضرورته دواړه يو ځائ کول مکروه دي. (دُرِّمُختار، رَدُّالمُحتار ج۲ ص٤٨٦) ﴿١٤﴾ که د زنانه په مخکښې تيريږي نو زنانه دِ ئې په تَصفِيق منع کړي يعني د ښي لاس په ګوتو دِ د ګڅ لاس شا اووهي. که نارينه تَصفِيق اوکړو او زنانه تَسبِيح اولوستو نو نمونځ مات نه شو خو د سُنَّتو خِلاف اوشو. (اَيضاً) ﴿١٥﴾ طواف کوونکي ته د طواف په دوران کښې د نمونځ کوونکي په مخکښې تيريدل جائِز دي. (رَدُّالْمُحتَار ج۲ ص٤٨٢)

## د صاحِبِ مزار اِنفِرادي کوشش

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د بُزُرګانو ډير ادب کيږي، بلکه رښتيا خبره دا ده چه د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت په فضل دعوتِ اسلامي د اولياءِ کرام په بَرَکتونو چليږي. چنانچه يو اسلامي ورور د يو **صاحِب مزار** [يعني د وفات شوي بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه] د مَدَني قافلې د پاره د **اِنفِرادي کوشش** ايمان تازه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کوونکي واقِعه بيان کړي وه، هغه واقعه په خپل انداز کښې وړاندې کووم، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د **عاشقانِ رسول** يوه مَدَني قافِله د **چکوال** (پنجاب، پاکستان) نه مُظَفَّر آباد او د هغې خوا و شا کلو ته د سُنّتو د سپړلو خوړولو د پاره راغلې وه او د سفر په دوران کښې يو مُقام ”انوار شريف“ ته اورسيدله، د هغه ځائ نه څلور اسلامي وروڼه **سمدستي** د درې ورځو د **مَدَني قافِلې** د پاره د عاشقانِ رسول سره شريک شول، په هغه څلورو کښې يو د ”انوار شريف“ د **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بُزُرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د اولادې يو کس هم وو. **مَدَني قافِله** د نيکئ دعوت عام کولو کولو کښې ”کړهي دوپټّه“ ته اورسيده. چه کله د ”انوار شريف“ والؤ درې ورځې پوره شوې نو د هغه **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د اولادې هغه کس اووئيل چه زه خو بيرته نه ځم، ځکه چه نن شپه ما په خوب کښې خپل ”حضرت“ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اوليدلو او ما ته ئې وئيل چه بيرته کور ته مه ځه، د مَدَني قافلې والؤ سره نور مخکښې هم سفر جاري ساته.“ د زيارت د هغه بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د **اِنفِرادي کوشش** دا واقعه ئې چه واوريدله نو د مَدَني قافِلې والا ډير خوشحاله شو، د ټولو حوصلې نورې هم اوچتې شوې او د انوار شريف هغه څلور واړه اسلامي وروڼه سمدستي د مَدَني قافلې سره نور مخکښې په سفر روان شو.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ديتے ہيں فيض عام اَولیائے کرام لوٹنے سب چلیں قافلے میں چلو
اولیا کا کرم تم پہ ہو لا جَرَم مل کے سب چل پڑیں قافلے میں چلو
ورکوي فيضِ عام، اولياءِ کِرام ځئ چه حاصِل ئي کړو، قافِلو کښې لاړ شئ
د اولياؤ بَرَکتونه، هم به کيږي رحمتونه ځئ چه ټول لاړ شو، قافِلو کښې لاړ شئ

## مور مې د کټ نه راپاڅيدله!

**زما والِده صاحِبه** د سختې بيمارئ په وجه د کټ نه هم نه شوه پاڅيدلې او ډاکټرانو هم جواب راکړې وو، ما اوريدلې وو چه د **عاشقانِ رسول** سره د **دعوتِ اسلامي** د سُنّتو د تربِيَّت په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو په بَرَکت دُعاګانې قبليږي او بيمارئ لرې کيږي. ما هم زړه اوکړو او د **دعوتِ اسلامي** نُور وَرَوونکي عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** "مَدَني تربِيَّت ګاه" ته حاضِر شوم او د درې ورځو د پاره مې په **مَدَني قافِله** کښې د سفر کولو اِراده ظاهره کړه، اسلامي وروڼو زما سره د ډيرې مهربانئ او احترام سلوك اوکړو، د عاشقانِ رَسُول په ملګرتيا کښې زمونږه **مَدَني قافِله** د بابُ الاسلام سِندھ [**بَابُ الْمَدِيْنه** کراچئ] د **صحرائے مدينه** سره خوا ته يو کِلي ته اورسيده، د سفر په دوران کښې ما **عاشقانِ رسول** ته د خپلې مور د سختې بيمارئ حال بيان کړو او د دُعا درخواست مې ورته اوکړو، هغوئي زما د والده صاحِبه د پاره ډيرې ډيرې دُعاګانې اوکړې او ما ته ئي ډيره تسلّي راکړه، اَميرِ قافِله په ډيره نرمئ سره په ما باندې اِنفرادي **کوشش** اوکړو او زه ئي نور د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنْزُالْعُمَّال)

يوې مياشتې **مَدَني قافِله** کښې سفر کولو ته تيار کړم، ما نِيَّت اوکړو، ما د مور صاحبې د صِحَّت د ښه کيدو د پاره ډيرې ډيرې دُعاګانې اوکړې، د درې ورځو د دې مَدَني قافِلې په **دريمه** شپه په خوب کښې ما د يو روښانه مخ والا **بُزُرګ** اوليدلو، هغوئي را ته اوفرمائيل: "د خپلې مور فِکر مه کوه. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه به ښه شي." د درې ورځو د مَدَني قافلې نه بيرته کور ته راغلم او دروازه مې اوټکوله، **چه دروازه بيرته شوه نو زه حيران پاتې شوم، ځکه چه زما هُغه بيماره مور چه د کټ نه هم نه شوه راپاڅيدلې، هغه پخپله د دروازې پورې راغلې وه او دروازه ئې را ته بيرته کړه!** ما د ډيرې خوشحالئ نه د مور ښېپې ښکل کړې او په مَدَني قافِله کښې ليدلې خوب مې ورته بيان کړو. بيا مې د مور نه اِجازت واغستو او د يوې مياشتې د پاره د **عاشقانِ رسول** سره په **مَدَني قافِله** کښې په سفر روان شوم.

ماں جو بیمار ہو قرض کا بار ہو رنج و غم مت کریں قافلے میں چلو
ربّ کے در پر جُھکیں التجائیں کریں بابِ رحمت کھلیں قافلے میں چلو
دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو

که بيماره مو وي مور، هم د قرض وي ډير زور
هيڅ غم فِکر مه کوئ، قافلو کښې لاړ شئ
اوکړئ ډير عبادتونه، او ښه ډير سوالونه
ډير به اوشي رحمتونه، قافلو کښې لاړ شئ
پاك به شي د زړه زنګونه ، هم به لرې ګناهونه
ځئ چه ټول سفر کوونه، قافلو کښې لاړ شئ


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د مُسافر نمونځ (حَنَفِي)

مهرباني اوکړئ! دا رِساله پوره اولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې فائِدې به پخپله اووينئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ محبُوب د دوارو جهانو د سردار، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دې: چه کله د زيارت ورځ راځي اللّٰه تَعَالٰی فرښتې ليږي او د هغوئي سره د سپينو زرو کاغذونه او د سرو زرو قلمونه وي، هغوئي ليکي چه څوك د زيارت په ورځ او د جُمُعې په شپه په ما په کثرت سره دُرُود شريف لوَلي.

(كنزُ الْعُمَّال، ج١، ص٢٥٠، حديث٢١٧٤ دار الكتب العِلميه بيروت)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د سُوْرَةُ النِّسَآء په آيت نمبر ١٠١ کښ ارشاد فرمائي:

وَ اِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ فَلَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ۖ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ یَّفْتِنَكُمُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِیْنَ كَانُوْا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِیْنًا ﴿۱۰۱﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الإيمان: او چه کله تاسو په زمکه سفر کوئ نو په تاسو ګُناه نشته چه په ځيني نمونځونه کښ قَصْر اوکړئ. که تاسو انديښنه لرئ چه کافِر به تاسو ته تکليف درکوي، بيشکه کُفَّار ستاسو ښکاره دُښمنان دي. (سيپاره٥، آيت١٠١)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي، د کُفّارو یَره د قَصر د پاره شرط نه دې، حضرتِ سیِّدُنا یَعْلٰى رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِن اُمَیَّه حضرتِ سیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته عرض اوکړو چه مونږه خو په امن کښ یو، بیا مونږه ولې قَصر کوو؟ [هغوئي] اوفرمائیل چه په دې زه هُم حیران شوې ووم نو ما د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړو. حُضُورِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو چه ستاسو د پاره دا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د طرف نه صَدَقه ده تاسو د هغه صَدَقه قبوله کړئ.

(صحیح مُسلِم، ج۱ ص۲۴۱)

اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا رِوایت فرمائي: نمونځ دوه رکعاته فرض کړې شو بیا چه کله د مدینې سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هِجرت اوفرمائیلو نو خلور فرض کړې شو او د سفر نمونځ په هُم هغه وړومبي فرض پرېښودې شو. (صحیحُ البُخاری ج۱، ص۵۶۰)

د حضرتِ سیِّدُنا عبدالله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوایت دې چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حبیب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سفر د نمانځه دوه **رکعاته** مقرر کړل او دا پوره دي کم نه دي یعني اګرچه په ظاهره دوه رکعاته کم شو خو په ثواب کښ دوه د څلورو برابر دي.

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۲، ص۵۹ حدیث ۱۱۹۴ دار المعرفه بیروت)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

## د شرعي سفر فاصِله

**شَرعاً** مسافر هُغه کس دې خوك چه د ۵۷ مِيله (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) فاصلې پورې د تللو په اِراده د خپل مُقامِ اِقامت [يعني د اوسيدو د ځائ نه] مَثَلًا د ښار يا کلي نه بهر شو.

(مُلَخَّصاً فَتَاوٰی رَضَوِيّه ج۸، ص۲۷۰ رضا فاؤنڈیشن مرکز الاولیاء لاهور)

## مسافر به کله وي؟

**صرف** د سفر په نِيَّت به مسافر نه شي بلکه د مسافر حُکم هله دې چه د علاقې د آبادئ نه بهر شي، که په ښار کښې دې نو د ښار نه او که په کلي کښې دې نو د کلي نه. او د ښار والا د پاره دا هُم ضروري دي چه د ښار خوا و شا چه کومه آبادي د ښار سره **مُتَّصِله** [يعني لګيدلې] ده د هغې نه هم بهر شي. (دُرِّ مُختار، رَدُّالمُحتار ج۲، ص۵۹۹)

## د آبادئ د ختميدو مطلب

د آبادئ نه د بهر کيدو نه مراد دا دې چه کوم طرف ته روان دې هغه طرف ته آبادي ختمه شي اګرکه د هغې په محاذاتو (يعني برابرئ) کښې بل طرف ته نه وي ختمه. (غُنيةُ المستملی ص۵۳۶)

## د فِنائے ښار تعريف

د **فِنائے** ښار سره چه کوم کلي **مُتَّصِل** [يعني لګيدلې] دې د ښار والا د پاره د هُغه کلي نه اووښتل ضروري نه دي هُم دغسې که د ښار سره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

**مُتَّصِل** باغونه وي اګرکه د هغې ساتونکي او کار کوونکي په هغه باغونو کښې اوسيږي، د هغه باغونو نه اووښتل هُم ضروري نه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۲. ص۵۹۹) د فِنائے ښار نه بهر کوم ځائيونه چه د ښار د کارونو د پاره وي مثلًا اڍيره [يعني مُقبره] ، د اسونو زغلولو ميدان، د ډيران غورزولو ځائ، که دا د ښار سره **مُتَّصِل** وي نو د دې نه اووښتل ضروري دي. او که د ښار او د فِنا په مينځ کښې فاصِله وي نو نه. (اَيضاً ص۶۰۰)

## د مسافر جوړيدو د پاره شرط

د سفر د پاره دا هم ضروري دي چه د کوم ځائ نه روان شو د هغه ځائ نه ئې د درې ورځو د لارې (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) اِراده وي او که د دوه ورځو (يعني د ۹۲ کلوميټره) نه کمه اِراده باندې وتلې وي او هلته د رسيدو نه پس ئې د بل ځائ اِراده اوشوه او هغه هُم د درې ورځو(يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) نه کمه لار وي، دغسې که په ټوله دُنيا اوګرځي نو بيا هم مسافر نه دې. (غُنية، (دُرِّمُختار ج۲، ص۲۰۹) دا هم شرط دې چه د درې ورځو د لارې ئې **مُتَّصِله** [يعني په يو مخ] اِراده وي، که داسې اِراده ئې اوکړه چه مَثَلًا د دوه ورځو لار [وهلو نه پس چه يو ځائ ته] اورسيږم نو هلته به څه کار کووم، چه هغه اوکړم نو بيا به د يوې ورځې په لار ځم نو دا د درې ورځو **مُتَّصِله** [يعني په يو مخ] اِراده نه شوه ځکه مسافر نه شو.

(بَهارِ شرِيعَت حِصّه٤، ص ۷۷ مدينةُ المُرشد بريلي شريف)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

## د وطن قِسمونه

د وطن دوه قِسمونه دي (۱) وَطَنِ اصلي: يعني هُغه ځائ كوم ځائ چه دې پيدا شوې وو يا د هغه د كور خلق هلته اوسيږي يا ئې هلته سُكُونت اوكړو او دا اِراده ئې ده چه د دې ځائ نه به نه ځم (۲) وطنِ اِقامت: يعني هُغه ځائ چه مسافر هلته د پينځلّسو ورځو يا د دې نه د زيات اوسيدلو اِراده كړې وي. (عالمگيري ج۱، ص۱٤٥)

## د وطنِ اِقامت د باطِل كيدو صورتونه

وطنِ اِقامت بل وطنِ اِقامت باطِل كوي يعني يو ځائ كښې د پينځلّسو ورځو په اراده حِصار شو نو وروستو بې ځائ اوس وطن پاتې نه شو. كه د دواړو په مينځ كښې مسافتِ سفر وي او كه نه. هُم دغسې وطنِ اِقامت په وطنِ اصلي او سفر باندې باطِله كيږي. (عالمگيري،ج۱ ص۱٤٥)

## د سفر دوه لارې

يو ځائ ته د تللو دوه لارې دي د يوې لارې نه مُسافَتِ سفر دې او د بلې نه نه دې نو چه په كومه لار ځي د هغې اِعتِبار دې، كه په نزدې لاره لاړو نو مسافر نه دې او كه په لرې لاره لاړو نو مسافر دې، اګركه په هُغه لاره اختيارولو كښې د هغه څه صحيح غرض نه وي. (عالمگيري ج۱، ص۱۳۸،دُرِّ مُختار مع رَدُّ المُحتار،ج۲، ص٦۰۳)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## مسافر د کله پورې مسافر دې

مسافر د هغې پورې مسافر دې تر څو چه خپل د اسيدو ځائ ته اُو نه رسي يا په آبادئ کښې د پوره پينځلَّسو ورځو حصاريدو نِيَّت اُو نه کړي دا هله ده چه کله هغه پوره د درې ورځو (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) لار وهلې وي. که درې مَنزِله (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) ته د رسيدلو نه مخکښې ئې د بيرته تللو اِراده اوکړه نو مسافر پاتې نه شو اګرکه په ځنګل کښې وي. (دُرِّمُختار ، رَدُّالمُحتار ج۲ ص٦٠٤)

## که سفر ناجائِزه وي نو؟

که سفر د جائز کار د پاره وي او که د ناجائِزه کار د پاره، بهر حال د مُسافِر اَحکام به جاري کيږي. (عالَمګيري ج١ ص١٣٩)

## د مالِك او د نوکر يو ځاي سفر

د مياشتې مياشتې يا د کال کال د تنخواه نوکر که د خپل نائِك [يعني سَيټ] سره سفر کوي نو هغه د نائِك تابِع دې، فرمانبرداره ځوئ د پلار تابِع دې او هُغه شاګرد چا ته چه اُستاد طعام ورکوي هغه د اُستاد تابِع دې يعني کوم نِيَّت چه د مَتبُوع (يعني د چا چه تابِع دې) وي هُم هغه به د تابِع هم منلې شي. تابِع له پکار دي چه د متبوع نه تپوس کوي هغه چه څه جواب ورکړي د هغې مطابق دِ عمل کوي. که هغه هيڅ جواب هُم ورنکړو نو دا دِ اوګوري چه هغه (يعني


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

متبوع) مُقِيم دې که مُسافر، که هغه مُقِيم دې نو دا دِ ځان هُم مُقِيم ګڼړي او که مُسافِر دې نو [ځان دِ] مُسافر [ګڼړي]، او که دا هُم ورته نه وي معلومه نو د درې ورځو لار (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) سفر کولو نه پس دِ قَصر کوي، د دې نه مخکښ دِ پوره کوي او که تپوس ئې اونکړې شو نو هُم هغه حُکم دې [يعني داسې لکه] چه تپوس ئې کړې وي او څه جواب نه وي ورکړې شوې. (مُلَخَّصاً رَدُّالْمُحتَار ج۲، ص۶۱۶، ۶۱۷)

## که کار اوشو نو لاړ به شم!

**مُسافر** که د څه کار د پاره يا د احبابو [يعني دوستانو يا خپلوانو] په اِنتظار د دوه درې ورځو يا د ديارلس څوارلسو ورځو په نِيَّت حِصار شو، يا ئې دا اِراده وي چه که کار اوشو نو لاړ به شم، په دې دواړو صورتونو کښې که په نن صباء نن صبا کښې کلونه هُم تير شي نو بيا هُم مُسافر دې، قَصر نمونځ دِ کوي. (عالمګيري ج۱، ص۱۳۹)

## د زنانه د سفر مسئَله

**د زنانه** د پاره د مَحرم نه بغير د درې ورځو (يعني تقريباً د ۹۲ کلوميټره) يا زيات سفر کول جائِز نه دي. د نابالِغه ماشوم يا معتُوه (يعني نِيم ليوني) سره هُم سفر نه شي کولې، په لاره ورسره د بالِغ مَحرم يا د خاوند کيدل ضروري دي. (عالمګيري ج۱ ص۱۴۲) زنانه د مُراهِق (يعني بالِغيدو ته نِزدې هلك) مَحرم (قابِلِ اِطمينان) سره سفر کولې شي. "مُراهِق د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

بالِغ په حُكم كښې دې." (فَتَاوىٰ عالمگيري ج١ ص٢١٩) د مَحرم د پاره ضروري دي چه سخت فاسِق، بيباكه او غير مامون [يعني غير محفوظه] نه وي. (بَهارِ شرِيعَت حِصّه٤، ص ٨٤ مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

## د زنانه سخركنئ او د پلار كور

زنانه سخركنئ ته واده شوه او هُم هلته ئې اوسيدل اختيار كړل نو د پلار كور د هغې د پاره وطنِ اصلي پاتې نه شو يعني كه سخركنئ ئې په درې مَنزِله (يعني تقريباً د ٩٢ كلوميټره په فاصِله) وي او د هغه ځائ نه پلار كره راغله او د پينځلَّسو ورځو اوسيدو نِيَّت ئې نه وي كړې نو قَصْر دِ كوي او كه د پلار كره اوسيدل ئې نه وي پريښې بلكه سخركنئ ته عارضي طور لاړه نو چه څنګه د پلار كور ته راغله سفر ختم شو، نمونځ دِ پوره كوي.

(بَهارِ شرِيعَت حِصّه٤، ص ٨٤ مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

## عرب مُلكونو كښې په وِيزه د اوسيدونكو مسئَله

نن صبا د كاروبار وغيره د پاره ډير خلق د بال بچو سره د خپل مُلك نه بل مُلك ته مُنتقِل شي. د هغوئې سره د مخصوص معياد وِيزه وي. (مَثَلًا په عرب اَمارات كښې زيات نه زيات د درې كالو د اوسيدو ويزه وركوي) دا وِيزه عارضي وي او د مخصوص رقم په ادا كولو د هرو درې كالو په آخره تازه كول غواړي. ولې چه وِيزه د محدود معياد وي لِهٰذا بال بچي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنۡزُ الۡعُمَّال)

**هُم اګرکه ورسره وي د هغه په امارات کښې د مُستقِل اوسيدو نِيَّت بيکاره دې، دغسې که څوک هلته د سلو کالو پورې هم اوسيږي اَمارت د هغه وَطنِ اصلي نه شي کيدې.** دا چه کله د سفر نه راګرځي او قيام کول غواړي نو د اِقامت نِيَّت به کوي. مثلًا په **دُبئ** کښې اوسيږي او د سُنَتو د تربِيَّت د پاره ئې د **دعوتِ اِسلامي** په **مَدَني قافِله** کښې د **عاشِقانِ رَسُول** سره تقريباً ۱۵۰ کلوميټره لرې واقع د امارات **دارُ الخِلافه ابوظهبئ** ته د سُنَّتو نه ډك سفر اختيار کړو. بيا بيرته چه **دُبئ** ته راشي او مُقِيم کيږي نو د پينځلَّسو ورځو يا د دې نه د زيات قيام نِيَّت به کوي ګني د مُسافر احکام به پرې جاري کيږي، خو که ښکاره حال دا وي چه اوس به پينځلَّس ورځې يا د دې نه زياته موده په **دُبئ** کښې تيروي نو مُقِيم شو. که د هغه کاروبار داسې وي چه پوره پينځلَّس ورځې او شپې په دُبئ کښې نه اوسيږي او وخت په وخت شرعي سفر کوي نو دغسې اګرکه کلونه خپلو بال بچو له دُبئ ته ځي راځي دا به بيا هم مسافر وي او **قَصْر** نمونځ به کوي. د خپل ښار نه بهر د لرې لرې پورې سامان وړلو والا او ښار په ښار، مُلك په مُلك پيرې وړلو والا ډرائيوران صاحبان وغيره دِ دا اَحکام ياد ساتي.

## د زائِرِ مدينه د پاره ضروري مَسئَله

چا چه د اِقامت نِيَّت اوکړو او د حالت نه ئې دا معلوميږي چه پينځلَّس ورځې به نه حصاريږي نو نِيَّت ئې صحيح نه دې مَثَلًا


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکې. (تِرمِذِی)

**حج** له لاړو او د **ذِی الْحِجَّةُ الْحَرام** د مياشتې د شروع کيدو باوجود ئې په مَکَّهٔ مُکَرَّمه کښې د پينځلَّسو ورځو د حِصاريدو نِيَّت اوکړو نو دا نِيَّت بيکاره دې ځکه چه د حج اِراده ئې کړې ده (نو پينځلَّس ورځې خو دا نه شې پاتې کيدلې ځکه چه) (په ۸ ذِی الحِجَّةُ الحَرام به) **مِنٰی شريف** ته او (په نهم) **عَرَفات شريف** ته به ضرور ځې نو بيا دومره ورځې (يعني پينځلَّس ورځې مُسلسل) **مَکَّهٔ مُکَرَّمه** کښې څنګه پاتې کيدې شي؟ د **مِنٰی شريف** نه چه بيرته راشي او نِيَّت اوکړې نو صحيح دہ. (دُرِّمُختار، ج۲ ص۷۲۹، عالمګيري ج۱، ص۱۴۰) هله چه واقعي پينځلَّس يا زياتې ورځې په مَکَّهٔ مُکَرَّمه کښې حصاريدې شي، که غالِب گُمان لرې چه په پينځلَّسو ورځو کښې دننه دننه به مدينهٔ مُنَوَّره ته يا وطن ته روان شي نو اوس هم مُسافر دې.

## د عُمرې په وِيزه باندې د حج د پاره حصاريدل څنګه دي؟

د عُمرې په وِيزه باندې غير قانوني طور د حج د پاره حصاريدلو يا د دُنيا د هر يو ملك د وِيزې معياد پوره کيدو نه پس غير قانوني طور د پاتې کيدو چه د چا نِيَّت وي هغه د وِيزې د ختميدلو په وخت کښې چه په کوم ښار يا کلي کښې مُقِيم وي، هلته چه تر څو اوسيږي د هغوئي د پاره به د مُقِيم اَحکام وي. اګرکه په کلونو هلته پراته اوسي مُقِيم به وي. البته که يو ځله هُم د ۲۹ کلوميټره يا د دې


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

نه د زياتې فاصلې د سفر په اِراده د هٰغه ښار يا کلي نه روان شي نو د خپلې آبادئ نه وتلو سره به مسافر شي او اوس د هغوئي د اِقامت نِيَّت بيکاره دې، مَثَلًا څوك چه د پاکستان نه د عُمرې په وِيزه مَکَّۂ مُکَرَّمه ته لاړو او د ويزې د معياد د ختميدو په وخت کښې هُم په **مَکَّۂ مُکَرَّمه** زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعْظِيْمًا کښې مُقِيم دې نو د هغه د پاره د مُقِيم احکام دي. بيا مَثَلًا که د هٰغه ځائ نه جَدَّه شريف يا **مدينۂ مُنَوَّره** زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعْظِيْمًا ته راغلو نو که په کلونو غير قانوني پروت وي، مُسافر به وي او **قَصْر** نمونځ به کوي. خو که دوباره وِيزا په لاس ورغله نو د اِقامت نِيَّت کيدې شي. ياد ساتئ! د کوم قانون د خِلاف ورزئ په وجه چه د ذِلَّت، رِشوت او دروغو وغيره په آفتونو کښې د پريوتو يَره وي د هغه قانون خِلاف ورزي کول جائِز نه دي، چنانچه **اعلٰی حضرت** اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: په مُباح (يعني جائِز) صورتونو کښې ځيني (صورتونه) قانوني طور جُرم وي د هغې خِلاف ورزي کول خپل ذات د تکليف او ذِلَّت سره مخامخ کول دي او دا **ناجائِزه** دي. (فتاوٰی رَضَوِيَّه ج١٧، ص٣٧٠) لِهٰذا د وِيزې نه بغير د دُنيا په يو مُلك کښې هُم اوسيدل يا د حج د پاره حِصاريدل جائِز نه دي. **په غير قانوني ذريعو د حج د پاره حصاريدو ته (معاذَالله** عَزَّوَجَلَّ**) د الله و رَسُول کرم وئيل سخته بې باکي ده.**


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

## قَصْر واجِب دي

په **مسافر** واجِب دي چه په نمانځه کښې **قَصْر** کوي يعني ځلورو رکعاتو والا فرض دِ دوه کوي، د هغه په حق کښې دوه رکعاته پوره نمونځ دې او که قصداً ئې ځلور اوکړل او په دوه ئې قَعده اوکړه نو فرض ادا شو او وروستي دوه رکعاته نفل شو خو ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې ځکه چه واجِب ئې پريښودل لِهٰذا توبه دِ اوکړي، او که په دوه رکعاتو ئې قَعده اونکړه نو فرض ادا نه شو او هغه نمونځ نفل شو خو که د دريم رکعت د سَجدې کولو نه مخکښې ئې د اِقامت [يعني هلته د پينځلّسو يا زياتو ورځو اوسيدلو] نِيَّت اوکړو نو فرض به نه باطِل کيږي خو د قِيام او رُکُوع اِعاده به کوي او که د دريم [رکعت] په سَجده کښې ئې [د اِقامت] نِيَّت اوکړو نو اوس فرض باطِل شو، هُم دغسې ئې که په وړومبو دوو يا يو کښې قِراءَت اونکړو نو نومنځ فاسِد [يعني مات] شو. (عالمگیری ج۱، ص۱۳۹)

## که د قَصْر په بدله کښې ئې د ځلورو نِيَّت اوکړو نو.....؟

که **مُسافر** د قَصْر په ځائ د ځلورو رکعاتو فرضو نِيَّت اوکړو او بيا ورياد شو او په دوه ئې سلام اوګرځولو نو نمونځ به اوشي. هُم دغسې که مُقِيم د ځلورو رکعاتو په ځائ د دوو نِيَّت اوکړو او په ځلورو ئې سلام اوګرځولو نو د هغه نمونځ هُم اوشو. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي:


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

”د نمانځه په نِيَّت كښې د ركعاتونو [د شمير] تَعِيين يعني مقررول ضروري نه دي ځكه چه هغه ضِمناً حاصِل دي. په نِيَّت كښې شمير مُعيَّن كولو كښې خطا نقصاني نه ده. (دُرِّ مُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۹۷، ۹۸)

## مُسافِر اِمام او مُقِيم مُقتدي

د اِقتِدا صحيح كيدو د پاره يو شرط دا هُم دې چه د اِمام مُقِيم يا مُسافر كيدل معلوم وي، كه د نمانځه شروع كيدو په وخت كښې معلوم شي او كه وروستو [معلوم شي]، لِهٰذا اِمام ته پكار دي چه د شروع كولو په وخت كښې خپل مُسافر كيدل ښكاره كړي او كه په شروع كښې ئې اُو نه وئيل نو د نمانځه نه پس دِ اُووائي چه مُقِيم اِسلامي ورونړه خپل نمونځ پوره كړئ زه مسافر يم.“ (دُرِّ مُختار، ج۲، ص۶۱۱، ۶۱۲) او كه په شروع كښې ئې اعلان كړې وو نو بيا دِ هُم اووائي لپاره د دې چه كوم خلق هغه وخت كښې موجود نه وو چه هغوئي ته هم معلوم شي. كه د اِمام مُسافر كيدل ښكاره وو نو د نمانځه نه پس دا اعلان كول مُستحب دي. (دُرِّ مُختار، ج۲، ص۷۳۵، ۷۳۶، دار المعرفة بيروت)

## مُقِيم مُقتدي او باقي دوه ركعاتونه

قَصر والا نمونځ كښې د مسافر امام د سلام ګرځولو نه پس چه مُقيم مُقتدي كله خپل باقي نمونځ ادا كوي نو د فرضو په دريم او څلورم ركعت كښې دِ د سُورَةُ الْفَاتِحه لوستلو په ځاۓ اندازاً هغه همره


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

وخت چپ [یعني خاموشه] ولاړ اوسي. (بهارِ شریعت، حِصّه٤، ص٨٢ مدینةُ المُرشد بریلي شریف)

## آیا مسافر ته سُنَّت معاف دي؟

په سُنَّتو کښې قَصر نشته بلکه پوره به ادا کولې کیږي، د یَرې او هَلې ګُولې په حالت کښې سُنَّت معاف دي او د امن په حالت کښې به ادا کیږي. (عالمګیری ج١، ص١٣٩)

## د "نفلو" د څلورو حُروفو په نِسبت په روان ګاډي کښې د نفل ادا کولو څلور مَدَني ګلونه

(١) د ښار نه بهر (مُراد هغه ځائ دې د کوم ځائ نه چه په مُسافر باندې قَصر واجب کیږي) په سوَرلۍ باندې (مَثَلًا په روان موټر، بس، ویګن کښې هُم نفل ادا کولې شي او په دې صُورت کښې اِستِقبالِ قِبله یعني مخ په قبله کیدل) شرط نه دې بلکه سوَرلۍ (یا ګاډې) چه کوم طرف ته روان وي هُم هغه طرف ته مخ کول پکار دي او رُکُوع او سَجدې دِ په اِشاره کوي او (دا ضروري ده چه) د سَجدې اِشاره د رُکوع په نِسبت ټیټه (یعني رُکوع ته د ښکته کیدو نه زیاته ښکته) وي. (دُرِّمُختار معه رَدُّالمُحتار ج٢، ص٤٨٢) په روان ریل ګاډي وغیره داسې سوَرلۍ کښې که ځائ پیدا کیدې شي نو په هغې کښې به مخ په قبله د قاعِدې مطابق نفلونه ادا کول وي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

(۲) د كلي اوسيدونكي چه كله د كلي نه بهر شي نو په سوَرلۍ باندې (يعني ګاډي كښې) نفل كولې شي. (رَدُّ المُحتار ج۲، ص۴۸٦)

(۳) كه د ښار نه **بهر** ئې په سوَرلۍ د پاسه نمونځ شروع كړې وو او په [نمانځه] كولو كولو كښې ښار ته داخِل شو نو تر څو چه كور ته نه وي رسيدلې په سوَرلۍ ئې د پاسه پوره كولې شي. (دُرِّمُختار، ج۲، ص۴۸۷، ۴۸۸)

(٤) په **روان** ګاډي كښې د شرعي عُذر نه بغير فرض او سُنَّت او ټول واجِبات لكه وِتر او نذر [يعني د منبتي نمونځ] او هٰغه نفل چه مات كړې ئې وي او **سَجدۂتِلاوت** هله چه آيتِ سَجدۂ

كښې شرط

(دُرِّمُختار، ج۲، ص۴۸۸)

## كه مسافر د دريم ركعت د پاره اودرېږي نو ......؟

كه مسافر د **قَصَر**

۱) كه په قدر د تَشَهُّد ئې **قَعدۂاخِيره** كړې وه نو تر څو ئې چه د دريم ركعت سَجده نه وه كړې نو بيرته دِ را اوګرځي او **سَجدۂسهو** دِ اوكړي او سلام دِ اوګرځوي كه را اُو نه ګرځي او په ولاړه ولاړه سلام اوګرځوي نو هُم نموځ به اوشي خو سُنَّت پريښودلې شو او كه د دريم ركعت سَجده ئې اوكړه نو يو بل ركعت دِ ورسره



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، خوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

شامِل كړي او سَجدهٔ سهُوْ دِ اوكړي او نمونځ دِ مُكمّل كړي، دا آخري دوه ركعاته به نفل شميرلي شي. (۲) كه د قَعدهٔ اخِيره نه بغير اودريدو نو تر څو ئې چه د دريم ركعت سَجده نه وي كړي بيرته دِ را اوګرځي او سَجدهٔ سهُوْ دِ اوكړي او سلام دِ اوګرځوي. كه د دريم ركعت سَجده ئې اوكړه نو فرض باطِل شو، اوس دِ يو بل ركعت اوكړي او سَجدهٔ سهُوْ دِ اوكړي او نمونځ دِ مُكمَّل كړي، دا څلور واړه ركعاته به نفل شميرل شي (يعني دوه ركعاته فرض ادا كول به په ذِمّه پاتې وي.)

(ماخوذ از دُرِّ مُختار معه رَدُّ المُحتار ج۲، ص۵۵۰)

## سفر كښې قضا نمونځونه

په حالتِ اِقامت كښې قضا شوي نمونځونه به په سفر كښې هُم پوره كول ضروري وي او په سفر كښې قضا شوي د قَصْر والا نمونځونه به د مُقيم كيدو باوجود هُم قَصْر كول ضروري وي.





www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

# د حِفظ هيرولو عذاب

يقيناً د قُرآنِ مجِيد حِفظ ساتئ چه حِفظ کول آسان دي خو ټول عُمر ياد ساتل مشکِل دي. حافِظانو او حافِظاتو ته پکار دي چه هره ورځ لازِماً د يوې سپارې تِلاوت کوي. کوم حافِظان چه د رَمَضَانُ الْمُبارَك د راتلو نه لږ مخکښې صرف په تراوِيح کښې د اورولو د پاره خپل منزِل پخوي او د دې نه علاوه ټول کال د غفلت په وجه معاذَالله عَزَّوَجَلَّ ډير آيتونه ترې هير وي، هغوئي دِ [دا لاندې رِوايتونه] بيا بيا اولوَلي او د هيرولو کومه ګناه چه ترې شوې ده د هغې نه دِ په رښتيني توبه اوکړي.

## فرامينِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(۱) خوك چه قرآني آيات د يادولو نه پس هير کړي، په ورځ د قيامت به ړُوند راپاخولې کيږي. (ماخذ: سيپاره ١٦، طٰهٰ ١٢٥، ١٢٦)

(۲) زما د اُمَّت ثوابونه زما په دربار کښې وړاندې کړې شو تر دې چه ما په هغې کښې هُغه ډکې هُم اوليدو کوم چه انسان د جُمات نه اوباسي او زما د اُمَّت ګناهونه ما ته وړاندې کړې شو ما د دې نه غټه ګُناه اُو نه ليدله چه يو انسان ته د قُرآن يو سُورت يا يو آيت ياد وي بيا هغه، هُغه هير کړي. (جامع ترمذي حديث ٢٩١٦)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

(۳) څوك چه قرآن اولولي [يعني ياد كړي] او بيا ئې هير كړي نو د قيامت په ورځ به د اللّٰه تَعَالٰی سره جُذام وهلې ملاقات كوي. (ابو داود حديث ١٤٧٤)

(٤) د قِيامت په ورځ به چه زما اُمَّت ته د كومې گُناه پوره بدله وركولې كيږي هغه دا ده چه په هغوئې كښې چا ته د قرآنِ پاك كوم يو سُورت ياد وو بيا هغه، هُغه هير كړو. (كنزُ العُمّال حديث ٢٨٤٦)

(٥) اعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”د هغه نه به غټ نادان څوك وي چا ته چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دومره غټ نِعمت وركړې وي او هغه، هغه د خپله لاسه ورك كړي. كه د دې (قرآنِ پاك د حِفظ) په قدر پوهيدلې او د كومو ثوابونو او درجاتو چه په دې باندې وعدې شوې دي د هغې نه خبر وي نو دا به ئې د خپل ځان او زړه نه زيات گران گنړلي.“ تر څو چه كيدې شي د دې سبق نورو ته د ښودلو او نورو ته د حِفظ كولو او پخپله د ياد ساتلو كوشش دِ كوي چه هغه ثواب د كوم چه په دې باندې وعده وركړې شوې ده، هغه حاصِل كړي او په ورځ د قِيامت د ړوند او جُذام وهلې پاڅيدو نه خلاصې اومومي.

(فتاوٰی رَضَوِيَّه ج ٢٣، ص ٦٤٥، ٦٤٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د قضا نمونځونو طريقه(حنَفي)

شيطان که مو که هر څومره منع کوي خو تاسو دا رساله پوره اولولئ
اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دې برَکتونه به تاسو پخپله اووينئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د دوارو جهانو د سُلطان، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
فرمان مبارَك دې: "                     پُلِ صِراط باندې
نُور دې، څوك چه د جُمُعې په ورځ په ما باندې اتيا ځله دُرُود شريف
اتيا كالو ګناهونه به مُعاف شي."

(الفردوسُ بمأثورِ الخطاب ج۲ ص ۴۰۸ حديث ۳۸۱۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په سيپاره ۳۰ سُورَةُ الْمَاعُون آيت نمبر ۴ او ۵ كښې ارشاد دې:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۙ﴿۴﴾ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۙ﴿۵﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: نو د هغه نمونځ ګزارو د پاره خرابي ده چا چه خپل نمونځونه په هير كښې اچولي دي.

مُفَسِّرِشَهِير، حَكيمُ الاُمّت، حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه
د سُورَةُ الْمَاعُون د آيت نمبره ۵ لاندې فرمائي: د نمونځ هيرولو يو څو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو، تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنِی)

صورتونه دي: کله هم نه کول، **په پابندئ سره نه کول**، په صحيح وخت نه ادا کول، نمونځ په صحيح طريقه نه ادا کول، په شوق نه ادا کول، ځان نه پوهه کول [يعني د نمانځه علم نه حاصلول] او [دغسې نمونځونه] کول ، په سُستئ او په بې پرواهئ ادا کول. (نُورُالعرفان ص ۹۵۸)

## د جَهَنَّم خوفناکه کنده

**صَدرُ الشَّرِيعَه بَدرُالطَّرِيقَه**، حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتِي **مُحَمَّد اَمجَد عَلِـی اَعظَمِـی** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: په جَهَنَّم کښ **وَيل** نامې يو خوفناك ناو دې چه د هغې د سختئ نه ټخپله جَهَنَّم هم پناه غواړي. قصداً نمونځ **قضا** کوونکې د هغې حقدار دې. (بهارِ شريعت ج ۱ ص ۳۴۷ مُلَخَّصاً)

## د کرمئ نه به غر وِيلي شي

**حضرتِ** سَيِّدُنا امام **مُحمّد** بِن احمد ذَهبی رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: وائي چه په جَهَنَّم کښ يوه **کنده** ده چه د هغې نوم **وَيل** دې. که په هغې کښ د دُنيا **غرونه** واچولې شي نو هغه به هم د هغې د **کرمئ** نه وِيلي شي او دا د هغه خلقو ځائ دې څوك چه په نمانځه کښ سُستي کوي او د وخت [تيريدو] نه پس **قضا** [نمونځ] کوي خو دا چه هغوئ په خپله کوتاهئ باندې پښيمانه شي او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښ توبه اوکړي. (کتاب الکبائر ص ۱۹)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د سر چقيدو سزا

**حُضُورِ اکرَم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته اوفرمائيل چه: نن شپه دوه کسان (يعني جبرائيل او ميکائيل عَلَيْهِمَا السَّلَام) زما خوا ته راغلل او زه ئې ارضِ مقدَّسه [يعني پاکې زمکې] ته بوتلم. ما اوليدلو چه يو **کس** ملاست دې او د هغه سر ته يو کس **کاڼړې** [يعني کمر په لاسو کښې] نيولې ولاړ دې او مسلسل په **کاڼړې** د هغه کس سر چقوي، هره پيره د چقولو نه پس سر بيا صحيح شي. ما فرښتو ته اووئيل: سُبْحٰنَ الله دا څوک دې؟ هغوئې عرض اوکړو: مخکښې تشريف يوسئ (د نورو نظارو راښودلو نه پس) فرښتو عرض اوکړو: وړومبې کس چه تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدلو دا هُغه [کس] وو چا چه **قرآن لوستلې وو بيا ئې پريښودې وو او د فرض نمونځونو په وخت کښې به اوده کيدو، د ده سره به دا سلوک د قيامته پورې کيږي.**

(بُخاری ج۱، ٤ ص ٤٦٨، ٤٢٥ حدیث ۱۳۸٦، ۷۰٤۷ مُلَخَّصاً)

## د زرګاؤ کلونو د عذاب حقدار

**زما آقا اعلٰی حضرت،** امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په **فتاوٰی رضويه** جلد۹ صفحه ۱۵۸ نه ۱۵۹ کښې فرمائي: چا چه قصداً د يو وخت (نمونځ) پريښودو، **زرګاؤ کلونه** په جَهَنَّم کښې د اوسيدو حقدار شو، تر څو چه توبه اونکړي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

او د هغې قضا را اُو نه ګرځوي، مسلمانان که د هغه په ژوند کښې د هغه [سره تعلّق] پرېږدي، د هغه سره خبرې نه کوي او نه د هغه سره کښيني، نو ضرور هغه د دې لائِق دې. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فرمائي:

وَ اِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۶۸﴾

(پ ۷، الانعام: ۶۷)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالإيمان: او که چرې له تا نه شيطان هير کړي نو چه درياد شي د ظالمَانو سره مه کښينه.

## په قبر کښې د اور شُعلې

د يو کس خور وفات شوه. چه کله ئې هغه خخه کړه نو ور ياد شو چه د رقم کڅوړه [يعني تيلئ] ئې په قبر کښې پريوتې وه چنانچه ادِيرې [يعني مقبرې] ته لاړو او د کڅوړې راوِيستلو د پاره ئې چه [خنګه] د خپلې خور قبر اوکنستو نو! **يو زړه درزوونکې منظر ئې اوليدو، څه ګورې چه د خور په قبر کښې ئې اور لـمبې وهې!** چنانچه هغه زر زر په څه طريقه په قبر خاورې واچولې او ډېر زيات خفه شو، په ژړا ژړا د مور خوا له راغلو او تپوس ئې ترې اوکړو، زما خورې مورې! زما د خور اعمال څنګه وو؟ هغې اووئيل: ځويه ولې تپوس کوې؟ هغه عرض اوکړو چه: "ما د خپلې خور په قبر کښې د **اور لَـمبې ليدلې** دې." مور ئې چه واورېدل نو هغه هم په ژړا شوه او اوئې وئيل: " افسوس!


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ستا خور به په **نمونځونو** کښې سُستي کوله او نمونځونه به ئې د **قضا** کولو نه پس کول.'' (کتاب الکبائر ص ٢٦)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چه کله د **قضا** کولو او بيا د کولو والؤ داسې سختې سزاګانې دي نو کوم **بدنصيبه** چه د سره **نمونځ** نه کوي د هغوئې به څه انجام وي!

## که نمونځ ادا کول ترې هير شي نو .....؟

**تاجدارِ رسالت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: څوك چه د **نمانځه** نه اوده [پاتې] شي يا ئې **هير** شي نو چه کله ور ياد شي اُو دِ ئې کړي چه هُم هغه د هغې **وخت** دې. (مسلم ص ٣٤٦ حديث ٦٨٤)

فُقهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي چه: په **اودو** يا په هيره [د چا نه] نمونځ قضا شو نو د هغې قضا کول **فرض** دي البته د قضا ګناه په هغه نشته خو په رابيداريدو او په ورياديدو که مکروه وخت نه وي نو په هُم هغه ساعت دِ ئې اوکړي **ناوخته کول** مکروه دي. (بهارِ شريعت ج١ ص ٧٠١)

## که اِتّفاقاً ئې سترګې اُو نه غړيدې نو .....؟

په **فتاوٰی رضويه** کښې دي: ۞ چه کله پوهيږي چه که اوده شوم نو نمونځ به را نه لاړ شي نو په داسې وخت کښې اوده کيدل حلال نه دي خو که په يو **راوِيښولو والا** باندې ئې اِعتِماد [يعني يقين] وي [نو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العُمَّال)

بيا اوده كيدې شي] ۞ كه په داسې وخت كښې اوده شو چه عادةً به ئې [د نمانځه] په وخت كيدو ستركې غړيدلې وې او اِتفاقاً ئې ستركې اُو نه غړيدې نو ګنهګار نه دې. (فوائد جليله فتاوٰی رضويه ج ٤ ص ٦٩٨)

## په مجبورئ كښې به د اَدا ثواب حاصل شي او كه نه؟

د **ستركو** نه غړيدو په وجه د سحر نمونځ د "قضا" كيدو په صورت كښې به د "ادا" ثواب حاصليږي كه نه. په دې باره كښې **زما** آقا اعلٰی حضرت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **فتاوٰی رضويه جلد٨** صفحه ١٦١ كښې فرمائي: پاتې شو د ادا ثواب حاصليدل، دا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په اختيار كښې دې. كه هغه [انسان] ته معلومه وې چه هغه د خپل طرف نه څه كوتاهي نه وه كړې، د سحره پورې د وِيښ پاتې كيدو په اراده ناست وو او بې اختياره ئې ستركې وَرَغلې نو ضرور په هغه ګناه نشته. رَسُولِ اكرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د خوب په صورت كښې كوتاهي نشته، كوتاهي د هغه كس ده چه (په ويښه) نمونځ اُو نه كړي تر دې چه د **بل** نمونځ وخت راشي.

(مُسلم ص ٣٤٤ حديث ٦٨١)

## د شپې په آخرئ حصّه كښې اوده كيدل څنګه دي؟

كه د **نمانځه** د وخت داخليدو نه پس اوده شو بيا وخت تير شو او **نمونځ** ترې قضا شو نو قطعی ګنهګار شو هله چه په راوِيښيدلو ئې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

صحيح **اعتِماد** يا د راوِيښولو والا موجود نه وو. بلكه د سحر د وخت داخليدو نه مخكښې هم د اوده كيدو اِجازت نه شي كيدې هله چه د شپې اكثره حصّه ئې په ويښه تيره شوې وي او غالب ګمان لرې چه كه اوس اوده شو نو [د نمانځه] په وخت كښې به ئې سترګې اُو نه غړيږي. (بهارِشريعت ج١ص ٧٠١)

## د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! كه په نعت خوانۍ، د ذكر و فِكر په محفلونو، او د سُنّتو نه ډكو اجتماعاتو وغيره كښې د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدو نه پس د اوده كيدو په سبب كه د سحر د نمانځه د **قضا** كيدو انديښنه وي نو د اِعتكاف په نِيَّت په جمات كښې شپه تيره كړئ يا هُغه ځائې كښې اوده شئ كوم ځائې چه يو قابِلِ اعتِماد اسلامي ورور راپاڅولو والا موجود وي. او يا د ټلېفون والا ګينټه [يعني ټائِم پيس] وي چه په هغې سترګې غړيدې شي خو په يو ټائِم پيس اعتِبار نه دې پكار ځكه چه په خوب كښې د لاس لګيدو [په وجه] يا هسې د خرابيدو په وجه بنديدې شي، چه دوه يا د ضرورت مطابق زياتې كړئ [يعني ټائِم پيسونه] وي نو بهتره ده. فقهائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: "**چه كله دا انديښنه وي چه د سحر نمونځ به ترې لاړ شي نو بې ضرورتِ شَرعِيَّه هغه ته د شپې د ناوخته پورې ويښ اوسيدل منع دي.**" (رَدُّالمُحتارج٢ص٣٣)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمُعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه به د دوو سوو کالو ګناهونه معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

# د اَدا، قضا او واجِبُ الاِعاده تعريفونه

د کوم څیز چه بندګانو ته حکم دې هغه په وخت باندې کولو ته **ادا** وائي او د وخت ختمیدو نه پس [هغه کار] کولو ته **قضا** وائي او که د هٰغه حکم په ادا کولو کښې څه خرابي پیدا شي نو د هغه خرابئ د لرې کولو د پاره هغه عمل بیا کولو ته **اِعاده** وائي. که په وخت کښې دننه دننه ئې تکبیرِتحریمه اووئیلو [یعني نِیّت ئې اوتړلو] نو نمونځ قضا نه شو بلکه ادا دې. (دُرِّمختارج۲ص٦٣٢.٦٢٧) خو د سحر د نمانځه، د جُمُعې او د اختر د نمونځونو نه په وخت کښې دننه دننه سلام ګرځول لازمي دي ګني نمونځ نه کیږي. (بهارشریعت ج۱ص۷۰۱) بې **عُذرِ شرعی** نمونځ قضا کول سخته ګناه ده، په هغه باندې فرض دي چه د هغې **قضا** اوکړي او په رښتینې زړه توبه اوکړي، په توبه کولو یا په حجِّ مقبول کولو به اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د ناوخته کولو ګناه مُعاف شي. (دُرِّمختارج۲ص٦٢٦) توبه هله صحیح ده چه قضا [شوي نمونځونه] اوکړي، د هغې د ادا کولو نه بغیر توبه توبه کول توبه نه ده، چه کوم نمونځونه د هغه په ذِمّه وو د هغې نه ادا کول خو اوس هم پاتي دي [یعني هغه ګناه خو اوس هم د هغه په سر پاتې ده] او چه د ګناه نه قلار نه شو نو توبه څنګه شوه؟ (رَدُّ المُحتارج۲ ص٦٢٧)

د **حضرتِ** سَیِّدنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه روایت دې چه تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې، چه په ګناه باندې د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذِی)

قائم اوسيدو سره توبه کولو والا د هغه په شان دې څوك چه د خپل رَبّ عَزَّوَجَلَّ سره توقې کوي. (شُعَبُ الایمان ج٥ ص ٤٣٦ حديث ٧١٧٨)

## د توبه درې ارکان دي

**صَدرُالاَفاضِل حضرت علّامه مولانا سَيِّد محمَّد نَعِيمُ الدّين مُراد آبادي** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د توبه درې ارکان دي: (١)خپله ګناه منل (٢) پښيماني (٣) د پريښودو پخه اراده کول. که ګناه د بدلې ادا کولو قابِله وي نو د هغې بدله ادا کول به هم لازِم وي مثَلاً د نمونځ پريښودونکي د توبه کولو د پاره د نمونځونو قضا [راګرځول] هم لازمي دي." (خزائن العرفان ص ١٢)

## اوده کس د نمانځه د پاره را بيدارول کله واجب دي؟

که څوك اوده وي يا ترې نمونځ ادا کول هير شوي وي، نو چا ته چه معلوم وي په هغه واجب دي چه اوده کس را بيدار کړي او چه د چا نه هير وي هغه ته وریاد کړي. (ګني [که داسي اُونکړي نو] ګنهګار به شي) (بهارِ شريعت ج١ ص٧٠١) ياد ساتئ چه! رابيدارول يا وريادول به هله واجب وي چه غالِب ګمان دا وي چه دا به نمونځ ادا کړي ګني واجب نه دي.

## د سحر وخت شوې دي پاڅئ!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښه ډيره صدائے مدينه لګوئ يعني اوده [خلق] د نمانځه د پاره رابيداروئ او ډيرې نيکۍ ګټئ. د دعوتِ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

اسلامي په مَدَني ماحول كښې د سحر د نمانځه د پاره د مسلمانانو رابيدارولو ته **صدائے مدينه** وائي، **صدائے مدينه** واجِب نه ده، د سحر د نمانځه د پاره رابيدارول د ثواب كار دې او دا هر مسلمان ته د موقعې په لحاظ سره كول پكار دي. په صدائے مدينه لګولو كښې د دې خبرې احتياط كول ضروري دي چه يو مسلمان ته تكليف اُو نه رسي.

## حِكايَت

يو اسلامي ورور ما (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ) ته وئيلي وو چه مونږه يو څو اسلامي ورونړو په **ميګافون** باندې د سحر په وخت **صدائے مدينه** لګوله او په يوه كوڅه تيريدو. يو صاحِب مونږه اورټلو او اوئې وئيل چه زما ماشوم څوئ تږله شپه نه دې اوده شوې اوس اوس د هغه ستركې ورغلي دي تاسو **ميګافون** بند كړئ. مونږ ته د هغه صاحِب [په دې خبره] باندې ډيره غصّه راغله، چه دا څنګه مسلمان دې، مونږه د نمانځه د پاره راپاڅول كوو او دا په دې نيك كار كښې ركاوټ اچوي! خير په دويمه ورځ مونږه بيا د **صدائے مدينه** لګولو د پاره هغه طرف ته اووتلو نو هغه صاحِب د مخكښې نه د كوڅې په سر كښې خفه ولاړ وو او مونږ ته ئې اووئيل: نن هم ماشوم تږله شپه نه دې اوده شوې اوس اوس د هغه ستركې ورغلي دي څكه زه دلته اودريدم چه تاسو ته درخواست اوكړم چه زمونږه په كوڅه په خاموشئ


www.dawateislami.net

تير شئ. نو د دې خبرې نه معلومه شوه چه د **ميګافون** نه بغير دِ صدائے مدينه لګولې شي. او د **ميګافون** نه بغير هم دومره اوچت آوازونه وِيستل نه دي پکار چه په هغې په کورونو کښې په نمانځه او تِلاوت کښې مشغولو اسلامي خويندو، ضعيفه خلقو، مريضانو او ماشومانو ته تکليف اورسي او يا چا په اوّل وخت کښې نمونځ ادا کړې وي او اوده شوې وي او د هغوئي په خوب کښې خلل واقع شي. او که يو مسلمان د خپل کور خوا ته د **صدائے مدينه** لګولو نه منع کوي نو د هغه سره د ضِد او بحث کولو په ځائ دِ د هغه نه مُعافي اوغوښتې شي او د هغه په باره کښې دِ نيك ګمان اوکړې شي ځکه چه يقيناً يو مسلمان د نمانځه د پاره د راپاڅولو مخالف نه شي کيدې، د دې عاجزه به څه مجبوري وي. فرض کړئ که هغه بيلمانځه وي نو هم تاسو په هغه باندې د سختي کولو اختيار نه لرئ، هغه په يو بل مناسب وخت باندې په ډيره نرمئ د اِنفِرادي کوشش په ذريعه د نمانځه د پاره تيار کړئ، په جُماتونو کښې هم د سحر د اذان نه عِلاوه بې موقع او په مَحَلّو يا کورونو کښې دننه د نعتونو په محفلونو وغيره کښې د اسپيکر استعمالولو والؤ ته هم په خپلو خپلو کورونو کښې عبادت کوونکو، مريضانو، د پـئو ماشومانو او اودو خلقو ته تکليف رسيدل په نظر کښې ساتل پکار دي.



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

## د حُقوقِ عامّه د اِحساس حِكايت

د حقوقِ عامّه خيال ساتل ډير ضروري دي، زمونږه اسلافو [يعني پخوانو بُزرګانو به په دې مُعامَله كښې ډير زيات احتياط كولو. چنانچه حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام احمَد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خدمت كښې به يو كس د ډيرو كلونو نه حاضريدو او عِلم به ئې حاصلولو. يو ځل چه كله راغلو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د هغه [كس] نه مخ واړولو. د هغه په ډيره زارئ او تپوس كولو باندې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: تا د خپل كور په ديوال د سړك طرف ته ګوټ باندې خټه كړې ده او د انسان د ونې همره [يعني تقريباً شپږ فُټه] دِ هغه (ګوټ) رامخكښې كړې دې حالانكه هغه د مسلمانانو لار ده. يعني زه ستا نه څنګه خوشحاليدې شم چه تا د مسلمانانو لار تنګه كړې ده! (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج٥ ص٩٦ مُلَخَّصاً) د دې نه دِ هغه خلق هم عبرت حاصل كړې څوك چه د خپلو كورونو نه بَهر داسې چوترې وغيره جوړوي چه په هغې د مسلمانانو لار تنګيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زر زر قضا را اوګرځوئ

د چا په ذِمّه چه قضا نمونځونه وي د هغې زر نه زر كول واجِب دي خو د بال بچو د پالنې او د خپلو ضرورتونو پوره كولو په سبب ناوخته


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

کول جائز دي. ځکه دِ کاروبار هم کوي او چه څه اوزګار وخت مومي په هغې کښې دِ **قضا** [نمونځونه] راګرځوي تر دې چه پوره شي. (دُرِّمختار ج۲ ص ٦٤٦)

## قضا [نمونځ] په پټه کوئ

قَضا نمونځونه په پټه راګرځوئ خلقو (يا کور والؤ بلکه نِزدې دوست ته هم) دا [خبره] مه ښکاره کوئ. (مَثَلاً دا مه وائې چه نن زما د سحر نمونځ قضا شوې دې يا زه قضائے عُمرى کووم وغيره) **ځکه چه د ګناه ښکاره کول هم مَکروهِ تَحريمى او ګناه ده.** (رَدُّالمُحتار ج۲ ص٦٥٠) لِهٰذا که څوك د خلقو په موجودګئ کښې د وِترو قضا راګرځوي نو د تڪبيرِ قُنُوت د پاره دِ لاس نه اوچتوي.

## په جُمُعَةُ الوَداع کښې قضائے عُمرى

د **رَمَضَانُ المُبارَك** په آخِرئ **جُمُعه** کښې ځيني خلق د جَمعې سره قضائے عُمري ادا کوي او دا ګڼړي چه د ټول عُمر قضا شوي نمونځونه د دې يو نمونځ سره ادا شو دا د سره باطِل [يعني غَلَط] دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص ۷۰۸)

## د ټول عُمر د قضا حِساب

چا چه د سره هډو نمونځونه کړي نه وي او اوس ورته توفيق نصيب شو او قضائے عُمري کول غواړي، هغه چه د کله نه بالغ شوې دې د


www.dawateislami.net

هغه وخت نه دِ د نمونځونو حِساب اولګوي او كه د بالغ كيدو تاريخ ورته نه وي معلوم نو اِحتياط په دې كښې دې چه د هجرى سن په حِساب دِ زنانه د نهو كالو د عُمر نه او نارينه دِ د دولسو كالو د عُمر نه د نمونځونو حِساب اولګوي.

## په قضا نمونځونو راګرځولو كښې ترتيب

په **قضائے عُمرئ** كښې دا هم كولې شي چه اوّل ټول د سحر نمونځونه را اوګرځوي بيا ټول د ماسپښين نمونځونه. بيا دغسې د مازديګر، ماښام او ماسخُتن.

## د قضائے عُمرئ طريقه (حَنَفى)

**قضا** د هرې ورځې شل ركعته دي. دوه فرض د سحر، څلور د ماسپښين، څلور د مازديګر، درې د ماښام، څلور د ماسخُتن او درې [ركعته] وِتر. نِيَّت دِ داسې كوي، مَثَلاً: "**د ټولو نه اوّل د سحر نمونځ چه زما نه كوم قضا شوې وو هغه ادا كووم.**" په هر نمونځ كښې دِ دغه شان نِيَّت كوي. د چا نه چه ډير نمونځونه قضا شوي وي هغه ئې كه د آسانئ د پاره داسې هم ادا كړي نو جائز دي چه په هره ركوع او سجده كښې د درې درې ځله "سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْعَظِيْم، سُبْحٰنَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى"په ځائ صرف يو يو ځل وائي. خو دا هميشه او په هر قِسمه نمونځ كښې ياد ساتل پكار دي چه كله په ركوع كښې مكمل اورسيږي



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

هغه وخت دِ د سُبۡحٰنَ "سِين" شروع کوي او چه کله د عَظِيۡم "مِيم" ختم کړي نو هغه وخت دِ د رکوع نه سر را اوچتوي. دغسې دِ په سجده کښې هم کوي. يو تخفيف (يعني کمې) خو دا شو او دويم دا دې چه د فرضو په دريم او څلورم رکعت کښې دِ داَلۡحَمۡد شريف په ځائې صِرف "سُبۡحٰنَ اللهِ" درې ځله وائي او رکوع دِ کوي. خو د وِترو په درې واړو رکعتونو کښې اَلۡحَمۡد شريف او سُورت دواړه لوستل ضروري دي. دريم تخفيف (يعني کمې) دا دې چه په قَعدهٔ اَخِيره کښې دِ د تَشَهُّد يعني اَلتَّحِيَّات نه پس د دواړو دُرُودونو او دُعا په ځائې صِرف "اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاٰلِه" وائي او سلام دِ کرځوي. څلورم تخفيف (يعني کمې) دا دې چه د وِترو په دريم رکعت کښې دِ د دُعائے قُنُوت په ځائې د اَللّٰهُ اَکۡبَرُ لوستلو نه پس صرف يو ځل يا درې ځله "رَبِّ اغۡفِرۡ لِيۡ" وائي. (مُلَخَّص از فتاوٰی رضویه مُخَرَّجه ج۸ ص۱۵۷) ياد ساتئ! د تخفيف (يعني د کمې) د دې طريقې عادت هيڅ کله هم [په نورو نمونځونو کښې] مه جوړوئ، د معمول نمونځونه د سُنَّت مطابق ادا کوئ او په هغې کښې د فرائضو او واجباتو سره سره د سُنَّتو او مُستحَبّاتو او آدابو هم خيال ساتئ.

## د قصر د نمونځونو قضا

که د سفر په حالت کښې قضا شوې نمونځ د اِقامت په حالت کښې کوي نو قصر به کوي او که د اِقامت په حالت کښې قضا شوې نمونځ په سفر کښې کوي نو پوره به کوي يعني قصر به نه کوي. (عالمگیری ج۱ ص۱۲۱)



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اُو نه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

## د اِرتِداد د زماني نمونځونه

**كوم** كس چه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **مُرتد** شو او بيا ئې اِسلام [يعني اِيمان] راوړو نو د مُرتد کيدو د زماني د نمونځونو قضا نشته او د مُرتد کيدو نه مخکښې د اسلام په زمانه کښې چه تري کوم نمونځونه پاتې شوي وو د هغې راکرځول واجِب دي. (رَدُّالمُحتار ج۲ ص ٦٤٧)

## د ماشوم د پيدا کيدو په وخت کښې نمونځ

**دائي** (زنانه ډاکټره يا نرسه) که نمونځ کوي نو د ماشوم د مړکيدو انديښنه ده، دا د نمونځ قضا کيدو د پاره عُذر دې (يعني مجبوري ده). که د ماشوم سر بَهر راوتې وي او د نِفاس نه مخکښې به وخت ختم شي نو په دې حالت کښې هم د هغه [ماشوم] په مور باندې نمونځ ادا کول فرض دي که اُوئې نکړي نو ګنهګاره به شي. په يو لوښي کښې دِ د ماشوم سر داسې کيږدي چه هغه [يعني ماشوم] ته څه نُقصان اُو نه رسي او نمونځ دِ اوکړي خو که په دې طريقه نمونځ کولو کښې هم د ماشوم د مړکيدو انديښنه وي نو ناوخته کول مُعاف دي. د نِفاس نه پس دِ د دې نمونځ قَضا را اوګرځوي. (اَيضاً ص ٦٢٧)

## مريض ته نمونځ کله مُعاف دې؟

**داسې** مريض چه په اِشاره هم نمونځ نه شي کولې که دا حالت پوره د شپږ وخته پورې وو نو په دې حالت کښې چه کوم نمونځونه قَضا شوي دي د هغې قَضا راګرځول واجِب نه دي. (عالمګيری ج۱ ص ۱۲۱)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رَسُول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

## د ټول عُمر نمونځونه بيا كول

د چا په نمونځونو كښې چه نُقصان او كَراهت وي هغه كه د ټول عُمر نمونځونه را اوګرځوي نو غوره خبره ده او كه څه خرابي پكښې نه وي نو راګرځول نه دي پكار او كه راګرځوي ئې نو د سحر او مازديګر نه پس دِ ئې نه كوي او ټول ركعتونه دِ ډك كوي او په وِترو كښې دِ د دُعائےقُنُوت لوستلو او دريم ركعت [پوره كولو] نه پس قَعده اوكړی، بيا دِ ورسره يو بل [ركعت] يو ځائ كړي چه څلور شي. (عالمگیری ج۱ ص۱۲٤)

## كه د قضا لفظ ترې هير شو نو؟

اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: زمونږه عُلماء وَضاحت كړې دې: چه قَضا د ادا په نِيَّت او ادا د قَضا په نِيَّت دواړه صحيح دي. (فتاوٰی رضویہ مخرجه ج۸ ص۱٦۱)

## قضا نمونځونه د نفلونو د ادا كولو نه بهتر دي

په "**فتاوٰی شامی**" كښې دي، قَضا نمونځونه د نفلونو د ادا كولو نه بهتر او اَهَم دي خو سُنَّتِ مؤَكَّده، د څاښت نمونځ، صَلٰوةُالتَّسبِيح او هغه نمونځونه د كومو په باره كښې چه اَحاديثِ مُبارَكه روايت شوي دي يعني لكه تَحِيَّةُالمَسجِد، د مازديګر نه مخكښې څلور ركعته (سُنَّتِ غير


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي پاندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاخيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

مؤکَّده) او د ماښام نه پس شپږ رکعته (دِ ادا کړې شي). (رَدُّالمُحتار ج٢ ص٦٤٦)

ياد ساتئ! د قضا نمونځو په وجه سُنَّتِ مُؤَكَّدَه پريښودل جائز نه دي. البَتَّه سُنَّتِ غيرمُؤَكَّدَه او په احاديثو کښې راغلي مخصوص نفلونه که ادا کوي نو د ثواب حقدار دي خو د دې په نه ادا کولو کښې څه ګناه نشته، که په ذِمّه ئې قضا نمونځونه وي او که نه وي.

## د سحر او مازديګر نه پس نفلونه نه شي ادا کولې

د **سحر** او د مازديګر د نمانځه نه پس هٔغه ټول نفلونه ادا کول مکروهِ (تحريمی) دي کوم چه قصداً اوکړې شي اګر که تَحِيَّةُ الْمَسْجِد وي، او هر هغه نمونځ (هم نه شي کولې) کوم چه د غير په وجه [يعني په بله څه وجه] لازم شوې وي مَثَلاً د نَذر او طواف نفلونه او هر هغه نمونځ کوم ئې چه شروع کړې وو او بيا ئې مات کړې وو، اګر که هغه د سحر او د مازديګر سُنَّتونه وي. (دُرِّمختار ج٢ ص ٤٤، ٤٥)

د **قضا** د پاره څه وخت مُقَرَّر نه دي په ټول عمر کښې ئې چه کله اوکړې د ذِمَّه وارئ نه به خلاص شي. خو د نمر راختو او نمر پريوتو او د زوال په وخت کښې نمونځ نه شي کولې ځکه چه په دې وختونو کښې نمونځ جائز نه دي. (بهارِشريعت ج١ ص ٧٠٢، عالمګيری ج١ ص ٥٢)

## د ماسپښين خلور سُنَّت که پاتې شي نو څه اوکړي؟



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

كه د ماسپښين فرض مو اوّل ادا كړل نو د دوه ركعته سُنَّتو ادا كولو نه پس څلور ركعته سُنَّتِ قبليه [يعني د فرضو نه مخكښې سُنَّت چه پاتې شوې وو هغه] ادا كړئ. چنانچه سركارِ اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د ماسپښين اولني څلور سُنَّت ئې كه د فرضو نه مخكښې نه وې ادا كړې نو د فرضو نه پس [دِ ئې ادا كړې] بلكه اَرجَح (يعني په ډېر زيات خوښ مذهب) باندې دِ ئې د (دوه ركعته) سُنَّتِ بَعدِيه [يعني وروستو سُنَّتو] نه پس ادا كړې په شرط د دې چه (اوس هم) د ماسپښين وخت پاتې وي. (فتاوٰی رضويه مخرجه ج٨ ص ١٤٨)

## كه د سحر سُنّت پاتې شي نو څه اوكړي؟

د سُنَّتو ادا كولو په وجه كه د سحر د جَمعې تللو انديښنه وي نو د [سُنَّتو] ادا كولو نه بغير دِ [په جَمعَ كښې] شامِل شي. خو د [جَمعې د] سلام ګرځولو نه پس [سُنَّت] ادا كول جائز نه دي. د نمر راختلو نه كم از كم د شل منټه پس نه واخله د ضحوهٔ كُبرٰی [يعني د نمر ستركه د سر په برابرې راتللو نه مخكښې] پورې دِ ئې ادا كړې چه مستحب دي. د دې نه پس مُستحب هم نه دي.

## آيا د ماښام وخت لږ شان وي؟

د ماښام د نمانځه وخت د نمر پريوتو نه واخله د ماسخُتن د اولني وخت د شروع كيدو پورې دې. دا وخت د ځائيونو او تاريخ په اعتِبار كميږي او زياتيږي مثلاً په بابُ المَدينه كراچۍ كښې د


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

وختونو د نظام د نقشې مطابق د ماښام وخت کم نه کم يوه ګينټه او اَتَلّس منټه وي. فقهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: په کومه ورځ چه وريځ وي د هغې نه علاوه په ماښام کښې هميشه تادي [يعني زر شروع] کول مُستَحب دي او د دوه رکعتو نه زيات ناوخته کول مکروهِ تنزيهي او که د سفر او مرض د عُذر نه بغير ئې دومره ناوخته کړل چه ګڼړ ستوري ښکاره شي نو مکروهِ تحريمي دي. (بهارِ شريعت ج۱ ص ٤٥٣)

اعلٰی حضرت، امامِ اهلسُنَّت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د دې (يعني د ماښام) مستحب وخت د هٔغه وخته پورې دې چه ستوري سم نه وي ښکاره شوي، دومره ناوخته کول چه (د غټو غټو ستورو نه علاوه) واړه واړه ستوي هم اوځليږي، مکروه دي. (فتاوٰی رضويه مخرجه ج ٥ ص ١٥٣)

د **مازديګر** او **ماسخُتن** نه مخکښې چه کوم رکعتونه دي هغه سُنَّتِ غيرمؤَکَّده دي د هغې قضا نشته.

## د تراويح د قضا څه حکم دې؟

که تراويح کول پاتې شي نو د هغې قضا نشته، نه د جَمعې سره نه يواځې او که څوک ئې قضا اوکړي نو دا جُدا نفل شو، د تراويح سره به د دې تعَلُّق نه وي. (تنويرُ الابصار و دُرِّمُختار ج٢ ص ٥٩٨)

## د نمونځ فِديه [يعني کفَّاره]


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

## د چا چه خپلوان وفات شوي وي هغوئی
## دِ دا مضمون ضرور اولولي

د مړي عمر معلوم کړئ او د هغې نه نهه کاله د زنانه د پاره او دولس کاله د نارينه د پاره د نابالغئ [عمر] اوباسئ. باقي چه څو کاله پاتي شي په هغې کښې حساب اولګوئ چه د څومره مودې پورې هغه (مرحوم) نمونځونه نه وو ادا کړي يا ئې روژې نه وې نيولې، يا چه څومره نمونځونه او روژې د هغه په ذِمَّه قضا پاتي دي. د زياتو نه زياته اندازه اولګوئ بلکه که غواړئ نو د نابالغئ د عمر نه پس د باقي ټول عُمر حِساب اولګوئ. بيا د يو يو نمونځ يوه يوه صدقهٔ فِطر [سرسايه] خيرات کړئ. د يوې صَدقهٔ فِطر مقدار اتيا ګرامه کم دوه کلو غنم يا د هغې وره يا د هغې روپئ دي. او د يوې ورځې شپږ نمونځونه دي، پينځه فرض او يو وِتر واجِب. مثلاً که د اتيا ګرامه کم دوه کلو غنمو رقم ۱۲ روپئ جوړيږي نو د يوې ورځې د نمونځونو ۷۲ روپئ شوې او د ديرشو ورځو ۲۱٦۰ روپئ شوې او د دولسو مياشتو تقريباً ۲۵۹۲۰ روپئ شوې. اوس که په يو مړي باندې د پنځوسو کالو نمونځونه پاتي وي نو د فِديه [يعني کفَّاره] ادا کولو د پاره به ۱۲۹٦۰۰۰ روپئ خيرات کول غواړي. ښکاره خبره ده چه هر کس د دومره روپو خيرات کولو طاقت نه لري، ځکه عُلمائے کرام رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْہِم شرعی


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

حيله [يعني بهانه] ارشاد فرمائيلي ده. مثلاً هغه دِ د ديرشو ورځو د نمونځونو د كفَّارې په نِيَّت يو فقير (د فقير او مِسكين تعريف په صفحه ۲۸، ۲۹ كښ اوګورئ) د ۲۱۶۰ روپو مالِك كړي [يعني د هغه په قبضه كښ دِ ئې وركړي]، دا د ديرشو نمونځونو فِديه ادا شوه. بيا دِ هغه فقير دا روپۍ هغه وركوونكي ته هِبَّه كړي (يعني په تُحفه كښ دِ ئې وركړي) دا مالِك دِ ئې د قبضه كولو [يعني اخستلو] نه پس بيا هغه فقير ته د ديرشو ورځو د نمونځونو د كَفّارې په نِيَّت د هغه په قبضه كښ وركړي او د هغې مالِك دِ ئې جوړ كړي. هُم دغه شان وركول او اخستل دِ كوي نو دغسې به د ټولو نمونځونو فِديه ادا شي. صرف د ديرشو ورځو د روپو په ذريعه حيله [يعني بهانه] كول شرط نه دي دا خو د پوهه كولو د پاره يو مِثال وركړې شوې دې. فرض كړئ كه د پنځوسو كالو د فديې روپۍ موجودي وي نو د يو ځل وركولو اخستلو سره به كار اوشي [يعني فِديه به ادا شي]. ياد ساتئ د صَدقهٔ فِطر حِساب به د غنمو د موجوده نرخ په حساب لګولې كيږي. **هم دغه شان د يوې روژې** [كَفَّاره] **هم يوه صَدقهٔ فِطر ده.** د نمونځونو فِديه ادا كولو نه پس د روژو فِديه هم په دغه طريقه ادا كولې شي. غريب او مالدار ټول د فِديې حيله كولې شي. كه وارثان د خپلو مرحومينو د پاره دا عمل اوكړي نو دا د مړي زبردست اِمداد شو، دغسې به مړې هم


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د فرض د بوج نه آزاد شي او وارثان به هم د اجر و ثواب حقداران شي. ځیني خلق په جُمات وغیره کښې د قرآنِ پاك یوه نُسخه ورکړي او دا ګڼړي چه مونږه د خپلو مرحومینو د پاره د ټولو نمونځونو فِدیه ادا کړه دا د هغوئي غلط فهمي ده. (د تفصیل د پاره اوګورئ: فتاوٰی رضویه مخرجه ج۸ ص۱۶۷) **یاد ساتئ!** د مرحوم د نمونځونو فِدیه د اولاد او نورو وارثانو په شان یو عام مسلمان هم ورکولې شي.

(مِنحَةُ الخالِق عَلَی الْبَحرِ الرائِق لابنِ عابِدین ج۲ ص۱۶۰ مُلَخَّصاً)

## د مرحومې د فِدیې یوه مسئله

که د زنانه د حیض عادت معلوم وي نو د هغې په قدر او که معلوم نه وي نو د هرې میاشتې نه درې ورځې د نهو کالو د عمر نه [علاوه] لرې کړئ خو چه څومره ځله ئې حمل وو نو د حمل د مودې نه د حیض ورځې مه لرې کوئ. که د زنانه د نِفاس [یعني د ځلویښتئ د ورځو] عادت معلوم وي نو د هر حمل نه دِ هغه همره ورځې لرې کړې او که معلوم نه وي نو هیڅ نه [یعني هیڅ ورځې دِ ترې نه کموې] ځکه چه د نِفاس د پاره د کم نه کم شرعاً هیڅ مقدار نشته. کیدې شي چه یو منټ راشي او فوراً پاکه شي.

(ماخوذ از فتاوٰی رضویه مُخَرَّجه ج ۸ ص ۱۵٤)

## ساداتِ کرام ته د نمانځه فِدیه نه شي ورکولې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

زما د آقا اعلیٰ حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه ساداتو او غيرمسلمه خلقو ته د نمانځه د فِديه ورکولو په باره کښې تپوس اوکړې شو نو اوئې فرمائيل: صَدَقه (يعني د نمانځه فِديه) د حضراتِ ساداتِ کرام [يعني د سيِّدانو] لائقه نه ده او هندوان وغيره کُفّار د دې صَدَقې لائق نه دي. دې دواړو ته د ورکولو د سره اجازت نشته، او نه به هغوئي ته په ورکولو ادا شي. مسلمانانو مِسکينانو خپلوانو غيرِ هاشِمي (يعني خپلو مسکينانو مسلمانانو خپلوانو چه هاشمي نه وي) ته په ورکولو کښې دوه همره ثواب دې.

(فتاوٰی رضويه مُخَرَّجه ج ٨ ص ١٦٦)

## د سلو کوړو حِيله [يعني بهانه]

د حِيلهٔ شرعی جواز په قرآن و حديث او د فقهٔ حَنَفی په مُعتبَرو کتابونو کښې موجود دې. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَيُّوب عَلَیْہِ السَّلَام د بيمارئ په زمانه کښې د هغوئي بی بی مُحتَرَمه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا يو ځل د هغوئي په خِدمت مبارَك کښې ناوخته حاضِره شوه نو هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام قَسم اوکړو"چه زه کله جوړ شم نو سل کوړې به ئې وَهم" چه کله [هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام] جوړ شو نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي (عَلَیْہِ السَّلَام) ته حکم ارشاد اوفرمائيلو چه [خپله بی بی يو ځل] د سلو تِيلو په جارو باندې اووهه. (نُورُالعرفان ص ٧٢٨ مُلَخَّصاً) اللّٰه تَبارَك و تعالٰی په سيپاره ٢٣ سورِ صٓ آيت نمبر ٤٤ کښې ارشاد فرمائي:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ (پ ٢٣، ص ٤٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: او اوئې فرمائيل چه په خپل لاس کښې يوه جارو راواخله او په هغې ئې اووهه او قَسم مه ماتوه.

په "عالَـمګيرى" کښې د حيلو يو مُستَقِل باب دې چه د هغې نوم "کِتَابُ الْحِيَل" دې چنانچه په "عالَمګيرى کتابُ الحِيَل" کښې دي، "کومه حيله [يعني بهانه] چه د چا د حق وهلو يا په هغې کښې د شك پيدا کولو يا په باطله [يعني په ناحقه] د دوکه ورکولو د پاره اوکړې شي هغه مکروه ده او کومه حِيله چه د دې د پاره اوکړې شي چه انسان د حرام نه بچ شي يا حلال حاصِل کړي هغه ښه ده." د داسې قِسمه حِيلو د جائز کيدلو دليل د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دا فرمان دې:

وَ خُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ (پ ٢٣ ص ٤٤)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالایمان: او اوئې فرمائيل چه په خپل لاس کښې يوه جارو راواخله او په هغې ئې اووهه او قَسم مه ماتوه.

(فتاوٰی عالمګیری ج٦ ص٣٩٠)

## د غوږ سُوري کولو رواج د کله نه دې؟

د حيلې په جائز کيدو باندې بل دليل واورئ چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا عَبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه روايت دې چه يو ځل د حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره او حضرتِ سَيِّدَتُنا هاجِره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا په مينځ کښې خفګان راغې. حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَسم اوخوړو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

چه که زما پرې وَس بر شو نو د هاجِره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا کوم يو اندام به کټ کووم. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حضرتِ سَيِّدُنا جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام د حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې اوليږلو چه [اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته اووايه چه] په هغوئي کښې صُلح اوکړي. سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا عرض اوکړو: "مَاحِيْلَةُ يَمِيْنِيْ" يعني زما د قَسم به څه حيله [يعني بهانه] وي؟ نو په حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم خَليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحي نازله شوه چه (حضرت) ساره (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا) ته حُکم ورکړه چه هغه د (حضرت) هاجِره (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا) غوږونه سُوري کړي. د هغه وخت نه د زنانؤ د غوږونو د سوري کولو رواج جوړ شو.

(غمزُ عُيُونِ البصائر للحموی ج۳ ص ۲۹۵)

## د غوا د غوښې تُحفه

د اُمُّ الْمُؤمِنين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه روايت دې چه د دواړو جهانو د سردار خوږ نبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د غوا غوښه حاضِره کړې شوه، چا عرض اوکړو دا غوښه په حضرتِ سَيِّدَتُنا بَرِيره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا باندې صَدَقه [يعني خيرات] کړې شوې وه. اوئې فرمائيل: هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَّلَنَا هَدِيَّةٌ يعني دا د بَرِيره د پاره صَدَقه وه او زمونږ د پاره هَدِيَّه [يعني تُحفه] ده. (مُسلم ص ۵۴۱ حديث ۱۰۷۵)

## د زکوٰة شرعی حيله



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

د دې حديثِ پاك نه صفا ظاهره ده چه حضرتِ سَيِّدَتُنا بَرِيره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا چه هغه د صَدَقې حقداره وه هغوئي ته بطورِ صَدَقه د غوا غوښه حاصله شوې وه، اګرچه د هغوئي په حق کښې صَدَقه وه خو د هغوئي د قبضه کولو نه پس چه کله په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې وړاندې کړې شوې وه نو د هغې حکم بدل شو او اوس هغه صَدَقه نه وه. هُم دغسې يو حقدار کس زکوٰة په خپله قبضه کښې د اخستلو نه پس بل چا ته په تُحفه کښې ورکولې شي يا ئې د جُمات وغيره [په خه کار کښې د لګولو] د پاره وړاندې کولې شي ځکه چه د ذِکر شوي مُستحِق کس دا ورکول اوس زکوٰة نه دې. هَدِيّه يا تُحفه ده. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی **د زکوٰة د شرعی حيله کولو** طريقه داسې بيانوي: د زکوٰة رقم د مړي په کفن دفن يا د جُمات په جوړولو کښې نه شي خرچ کولې ځکه چه [په دې کارونو کښې د لګولو د پاره] تمليكِ فقير (يعني فقير مالِك جوړول) اُو نه شو. که په دې کارونو کښې ئې خرچ کول غواړې نو د دې طريقه دا ده چه **فقير** (د زکوٰة د رقم) مالِك کړئ او هغه دِ ئې (د جُمات په تعمير وغيره کښې) خرچ کړې، دغسې به ثواب د دواړو اوشي. (بهارِ شريعت ج۱ ص۸۹۰)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنزُ الْعُمَّال)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! کفن دفن بلکه د جُمات په جوړلو کښې هم د حيلهٔ شرعی په ذريعه زکوٰة استعمالېدې شي ځکه چه زکوٰة خو د فقير د پاره وو چه فقير پرې قبضه اوکړه نو هغه مالِك شو اوس چه پرې هغه څه کول غواړي کولې ئې شي. د حيلهٔ شرعی په بَرَکت د ورکولو والا زکوٰة هم ادا شو او فقير هم په جُمات کښې د ورکولو د ثواب حقدار شو. فقيرِ شرعی دِ د حيلې په مسئله بې شکه پوهه کړې شي.

## د فقير تعريف

**فقير** هغه دې ۞ چه د هغه سره څه نه څه وي خو چه دومره نه وي چه نِصاب ته اُورسي يا ۞ چه د نصاب په قدر خو وي خو د هغه په حاجتِ اصليه (يعني د ژوند په ضرورياتو) کښې ګير وي. مثلاً د اوسيدو کور، د کور لوښي او سامان، د سوَرلۍ ځاروې (يا اسکوټر يا موټر)، د کاريګرو اوزار، د اغوستلو جامې، د خدمت د پاره وِينزه، غُلام، د علمی شغل ساتلو والؤ د پاره اسلامی کتابونه کوم چه د هغه د ضرورت نه زيات نه وي. ۞ دغسې که مقروض [يعني قرضدار] دې او د قرضه وِيستلو نه پس نصاب پاتې نه شي نو هم **فقير** دې اګر که د هغه سره يو څه بلکه ډير نصابونه وي.

(بهارِ شريعت ج۱ ص۹۲۴، ردُّالمُحتار ج۳ ص۳۳۳ وغيره)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځِ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# د مسكين تعريف

**مِسكين** هغه دې چه د هغه سره هيڅ هم نه وي تر دې چه د خوراك او بدن پټولو د پاره د دې **محتاجه** دې چه د خلقو نه سوال اوكړي او د هغه د پاره سوال كول حلال دي. **فقير** (يعني د چا سره چه كم نه كم د يوې ورځې خوراك او د اغوستلو د پاره څه موجود وي هغه) **له بغير د ضرورت او مجبورئ نه** سُوال كول حرام دي. (عالمگيری ج١ ص ١٨٧، ١٨٨، بهارشريعت ج١ ص ٩٢٤)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه كوم سوالګر په ګټلو باندې قادر وي [يعني د ګټلو طاقت لري] او د هغې باوُجود بغير د ضرورت او مجبورئ نه د پيشې په طور خيرات غواړي [هغه] ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې او څوك چه د داسې خلقو د حال نه خبردار وي د هغه د پاره دوئي له وركول جائز نه دي.



www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنازې د نمانځه طريقه (حَنَفِي)

شيطان مو که هر څومره منع کوي دا رِساله پوره اولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالىٰ د دې فائِدې به ښځپله اووينئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د اللّٰه تعالىٰ د خوږ محبُوب د نبيانو د سردار، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دې: "څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف لوَلي اللّٰه تَعَالٰى د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې.

(مُصَنَّف عبدُ الرَّزَّاق ج١، ص٣٩ حديث١٥٣، دار الكتب العِلمِيه بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ولي په جنازه كښې د شريك كيدو بَرَكت

يو كس د حضرتِ سيِّدُنا سَرِي سَقطي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په جنازه كښې شريك شو. د شپې ئې په خوب كښې د شيخ سَرِي سَقطي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ديدار اوكړو نو تپوس ئې ترې اوكړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني اللّٰه تعالىٰ ستاسو سره څه معامله اوكړه؟ هغوئي جواب وركړو: اللّٰه تعالىٰ زما او زما په جنازه كښې چه څوك شريك شوي وو او جنازه ئې كړي وه د تولو بخښنه اوكړه. هغه عرض اوكړو: يا سيِّدي! زه هُم ستاسو په جنازه كښې شريك شوې ووم او د جنازې نمونځ مې كړې وو. نو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ يو فهرِس [يعني لِسټ] را او وِيستو خو د هغه سرِي نوم پکښې شامِل نه وو، چه کله ئي په غور اوکتل نو د هغه نوم په حاشِيه کښې موجود وو. (تاریخِ دِمشق لابن عساکِر ج۲۰، ص۱۹۸)

## د عقيدت مندو بخښنه هُم اوشوه

حضرتِ سيِّدُنا بِشرِ حافی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ چه وفات شو نو قاسِم بِن مُنَبِّه رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خوب کښې اوليدو، تپوس ئي ترې اوکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني اللّٰه تعالیٰ ستاسو سره څه معامله اوکړه؟ هغوئي جواب ورکړو: اللّٰه تعالیٰ زه اوبخښلم او اِرشاد ئي اوفرمائيلو: اے بِشر! ته بلکه ستا په جنازه کښې چه څوك شريك شو هغوئي ما اوبخښل. نو ما عرض اوکړو: يا ربّ تعالیٰ زما سره محبَّت کوونکي هُم اوبخښه. نو د اللّٰه تعالیٰ رحمت نور په جوش کښې راغي او اوئي فرمائيل: د قيامته پورې به چه څوك ستا سره محبَّت کوي هغه ټول هم ما اوبخښل.

(ایضاً ج۱۰ ص۲۲۵)

اعمال نہ دیکھے یہ دیکھا، ہے میرے ولی کے در کا گدا
خالق نے مجھے یوں بخش دیا، سبحٰن اللہ سبحٰن اللہ

اعمال نه، دا ئي اوکتل چه فقير زما د ولي د دَر دي
خالِق زه داسې اوبخښلم، سُبْحٰنَ الله سُبْحٰنَ الله جَلَّ جَلَالُهٗ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د اللّٰه تعالٰی د وليانو سره نِسبت د نيك بختئ باعِث دې، دهغوئي ذِكرِ خير د خيرونو د نازليدو باعِث دې، د هغوئي صُحبت د دواړو جهانو د پاره بركت، د هغوئي د مزاراتو حاضري د ګناهونو د مرضونو دارو او د هغوئي عقيدت په آخِرت كښې د خلاصي ذريعه ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه هم د اولياءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی سره عقيدت او د ولِئ كامِل حضرتِ سيِّدُنا بِشرِ حافی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه سره محبَّت لرو. يا اللّٰه جَلَّ جَلَالُهٗ د هغوئي په خاطر زمونږه بخښنه اوفرمائي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بِشر حافی سے ہمیں تو پیار ہے
ان شاء اللہ اپنا بیڑا پار ہے
بِشرِ حافي سره لرو مونږ محبَّت
اِنْ شَآءَ اللّٰه كيږي به زمونږه مغفِرت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د كفنونو غل

د **يوې** زنانه د جنازې په نمانځه كښې يو **د كفنونو غل** هُم شريك شو او د جنازې سره اديرې [مُقبرې] ته لاړو او د قبر ځائ ئې معلوم كړو. چه شپه شوه نو هغه د كفن غلا كولو د پاره هغه قبر اوكنستو.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰیﷺ: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

ناڅاپه هغه مرحومې اووئيل: سُبۡحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ يو **مَغفُور** (يعني د بخښنې حقدار) کس د يوې **مغفُوره** (يعني د بخښلې شوې ښځې) کفن غلا کوي! واوره! **اللّٰه** تَعَالٰی زما بخښنه هُم اوکړه او د هغه ټولو خلقو هُم، چا چه زما د جنازې نمونځ اوکړو او ته هُم په هغوئې کښې شريك وې. (دا ئې چه واوريدل نو هغه فوراً په قبر خاورې واړولې او په رښتينې توبه ګار شو) (شُعَبُ الۡاِيمان ج۷، ص۸ حديث۹۲۶۱) د اَللّٰهُ رَبُّ الۡعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په جنازه کښې شريکو د ټولو بخښنه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د نيکو بندګانو د جنازې په نمانځه کښې حاضريدل څومره د نيك بختۍ خبره ده. چه کله هُم موقع وي بلکه وخت وِيستل پکار دي او د مسلمانانو په جنازو کښې شريك کيدل پکار دي، کيدې شي چه د يو نيك انسان په جنازه کښې شامليدل زمونږ د پاره د بخښنې ذريعه جوړه شي. د خُدائے رَحمٰن جَلَّ جَلَالُهٗ د **رَحمت** نه قربان شم چه کله هغه د يو مړي بخښنه کوي نو د هغه د جنازې سره مرسته کولو والا هم اُو**بخښي**. چنانچه د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بن عبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه رِوايت دې چه د مدينې تاجدار ﷺ ارشاد فرمائيلې دې: "مؤمِن بنده ته به


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

د مرګ نه پس د ټولو نه مخکښې دا جزا ورکولې کيږي چه د هغه په جنازه کښې د شريکو ټولو کسانو بخښنه به اوکړې شي."

(اَلتَّرغِيب وَ التَّر هِيب ج٤ ص١٧٨، حديث١٣)

## په قبر کښې اوَله تُحفه

د سرکارِ نامدار، د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه چا تپوس اوکړو: مُؤمِن چه کله قبر ته داخِل شي نو هغه ته د ټولو نه **مخکښې څه تُحفه** ورکوله شي؟ نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: د هغه **د جنازې د نمونځ کوونکو بخښنه** اوکړې شي. (شُعَبُ الْاِيمان ج٧، ص٨، حديث٩٢٥٧)

## د جَنَّتي جنازه

د خوږ خوږ مَکِّي مَدَنی آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: کله چه يو جَنَّتي کس وفات شي نو اللّٰه تعالیٰ حيا فرمائي چه هغه خلقو له عذاب ورکړي څوك چه د هغه جنازه وړي او څوك چه په هغې پسې شا ته روان وي او چا چه د هغه د جنازې نمونځ اوکړو.

(الفردوس بمأثور الخطاب ج١، ص٢٨٢، حديث١١٠٨)

## د جنازې سره د مرسته کولو ثواب

حضرتِ سيّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د اللّٰه تعالیٰ په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا اللّٰه جَلَّ جَلَالُه چا چه صرف ستا د رضا د پاره د جنازې سره مرسته اوکړه، د هغه جزا څه ده؟ اللّٰه تَعَالٰی اوفرمائيل: چه په کومه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

ورځ هغه مړ شي نو فرښتې به د هغه د جنازې سره يو ځائ ځي او زه به د هغه بخښنه کووم. (شَرحُ الصُّدُور ص۹۷)

## د اُحُد د غر هُمره ثواب

د حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُريره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه د مدينې د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دې: څوك چه (د اِيمان د تقاضه ګنړلو او د ثواب حاصلولو په نِيَّت) د خپله کوره د جنازې سره روان شي، د جنازې نمونځ اوکړي او د خخولو پورې د جنازې سره اوسي د هغه د پاره دوه قِيراطه ثواب دې چه په هغې کښې هر قِيراط د اُحُد (غر) هُمره دې او څوك چه صرف د جنازې نمونځ اوکړي او بيرته راشي نو د هغه د پاره د يو قِيراط ثواب دې. (صحيح مُسلِم ص٤٧٢، حديث٩٤٥)

## د جنازې نمونځ د عِبرت باعِث دې

د حضرتِ سيِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ارشاد دې: ما ته حبيبِ پروردګار، د دوارو جهانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د قبرونو زيارت کوه چه آخِرت درياديږي او مړي لـمبوه ځکه چه فاني بدن (يعني مړ وجود) ته لاس لګول ډير غټ نصيحت دې او د جنازې نمونځ کوه چه دا تا غمژن کړي ځکه چه غمژن اِنسان د اللّٰه تعالٰی [د رَحمت] په سورې کښې وي او د نيکۍ کار کوي.

(اَلْمُسْتَدرَک لِلْحاکِم ج۱، ص۷۱۱، حديث ۱٤۳۵)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## د مړي د لـمبولو فضِيلت

د حضرتِ سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه رِوايت دې چه د دوارو جهانو سُلطان صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې چه څوك کوم يو مړې اولـمبوي، کفن ورواغوندي، خوشبو پرې اولګوي، جنازه ئې اوچته کړي، [د جنازې] نمونځ ئې اوکړي او کومه ناقِصه [يعني د عيب] خبره پکښې اووِيني هغه پټه کړي هغه د خپلو ګناهونو نه داسې پاك شي لکه په کومه ورځ چه د مور د ګيډې نه پيدا شوې وو. (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۲ ص۲۰۱ حديث ۱٤٦۲)

## د جنازې د ليدلو د وخت وظيفه

حضرتِ سيِّدُنا مالِك بِن اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا چا د وفات نه پس په خوب کښې اوليدو او تپوس ئې ترې اوکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني اللّٰه تعالٰی ستا سره څه سُلوك اوکړو؟ او ئې وئيل: د يوې کَلِمې په وجه ئې اوبخښلم کومه به چه حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د جنازې د ليدلو په وخت کښې وئيله. (هُغه کَلِمه دا ده) سُبحٰنَ الْـحَيِّ الَّذِی لَا يَمُوْتُ (يعني هُغه ذات پاك دې کوم چه ژوندې دې، هغه ته به کله هم مرګ نه راځي) لِهٰذا ما به چه هُم **جنازه** اوليدله نو هُم دا کَلِمه به مې وئيله د دې کَلِمې د وئيلو په سبب اللّٰه تعالٰی زه اوبخښلم.

(اِحياءُ الْعُلوم ج٥، ص۲٦٦ مُلَخَّصاً)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کَنزُ العُمّال)

## نبي پاك ﷺ د ټولو نه مخکښ د چا جَنازه ادا کړه؟

د جَنازې نمونځ د حضرتِ سيِّدُنا آدم **صَفِيُّ الله** عَلَيْهِ السَّلَام د زمانې نه شروع شوې دې، فرښتو د حضرتِ سيِّدُنا آدم **صَفِيُّ الله** عَلَيْهِ السَّلَام په جنازه باندې څلور تکبيرونه لوستلي وو. په اِسلام کښې د جنازې د نمانځه د واجِب کيدو حُکم په مدينهٔ مُنَوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًا وَّتَعْظِيمًا کښې نازِل شو. حضرتِ سيِّدُنا **اَسعَد بِن زُراره** رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ د هِجرت نه پس د نهمې مياشتې په آخِره کښې وفات شو او دا وړومبې صحابي وو د چا د جنازې نمونځ چه نبِيِّ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوکړو. (ماخوذ از فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۵، ص۳۷۵، ۳۷۶)

## د جنازې نمونځ فرضِ کِفايه دې

**د جنازې نمونځ** ”فرضِ کِفايه“ دې يعني که يو کس ئې هُم ادا کړي نو ټول بَرِیُّ الذِّمَّه [يعني د ذِمه وارئ نه خلاص] شو کېږي [يعني که يو ئې هم اونکړي او] چا، چا ته چه خبر رسيدلې وو او رانغلو نو ټول به ګنهګار وي. د دې د پاره جَمعه شرط نه دې، که يو کس ئې هُم اوکړي نو فرض ادا شو. د دې د فرضِيَّت اِنکار **کُفر** دې.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸۲۵، عالَمګِيري ج۱ ص۱۶۲، دُرِّ مُختار ج۳ ص۱۲۰)

## د جنازې په نمانځه کښې دوه رُکن او درې سُنَّتونه دي

دوه رُکن دا دي: ﴿۱﴾ څلور ځله ”اَللّٰهُ اَکْبَر“ وئيل ﴿۲﴾ قِيام.

(دُرِّ مُختار ج۳ ص۱۲۴) په دې کښې درې **سُنَّتِ مُؤَکَّده** دي: ﴿۱﴾ ثناء ﴿۲﴾ دُرُود شريف ﴿۳﴾ د مړي د پاره دُعا. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۲۹)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

# د جنازې د نمانځه طريقه (حَنَفِي)

مُقتدي دِ داسې نِيَّت اوكړي: ”زه نِيَّت كووم د دې جنازې د نمانځه د پاره د اللّٰه تعالٰی، دُعا د دې مړي د پاره، په دې اِمام پسې“ (فَتَاوىٰ تاتار خانِيه ج۲، ص۱۵۳) بيا دِ اِمام او مُقتدي مخكښې د غوږونو پورې لاسونه پورته كړي او د ”اَللّٰهُ اَكْبَر“ وئيلو سره دِ ئې د معمول مطابق د نامه نه لاندې اوتړي او ثناء دِ اولولي. په دې كښې دِ د ”وتَعالیٰ جَدُّكَ“ نه پس ”وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ“ اولوَلي بيا دِ د لاس پورته كولو نه بغير ”اَللّٰهُ اَكْبَر“ اولوَلي، بيا دِ دُرُودِ اِبراهِيم اولوَلي، بيا دِ د لاس پورته كولو نه بغير ”اَللّٰهُ اَكْبَر“ اولوَلي او دُعا دِ اولولي (اِمام دِ تكبيرونه په اوچت آواز وائي او مُقتديان دِ ئې په قلاره وائي. باقي ټول اَذكار دِ اِمام او مُقتدي په قلاره وائي) د دُعا نه پس ”اَللّٰهُ اَكْبَر“ اولوَلئ او لاسونه زوړند كړئ بيا دواړو طرفو ته سلام اوګرځوئ. په سلام كښې دِ د مړي، فرښتو او په نمانځه كښې د حاضرو خلقو نِيَّت اوكړي، هُم هغه شان څنګه چه د نورو نمونځونو په سلام كښې نِيَّت كيږي، دلته دومره خبره زياته ده چه د مړي نِيَّت دِ هم اوكړي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۲۹، ۸۳۵ ماخوذاً)

## د بالِغ نارينه او زنانه د جنازې دُعا

اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا

اِلٰهي! بخښنه اوكړې زمونږه د هر ژوندي او زمونږه د هر مړي او زمونږه د هر حاضر او زمونږه د هر غائِب


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثٰنَا ط

او زمونږه د هر وړوکي او زمونږه د هرلوئ او زمونږه د هر نارينه او زمونږه د هرې زنانه.

اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ

اِلٰهي ته په مونږکښې چه څوک ژوندي لرې هغه په اسلام ژوندي لرې

وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ط

او په مونږ کښې چه چا له مرګ ورکوې نو په ايما ن مرګ ورکړې.

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم ج١ ص٦٨٤ حديث١٣٦٦)

## د نابالِغه هلك [د جنازې] دُعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا

اِلٰهي دا (هلك) چه مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کونکې جوړکړې

وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا

او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې کار راتلونکې جوړ کړې

وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ط

او دا زمونږ د پاره شفاعت کونکې جوړ کړې او هُغه چه د چا سِفارش منظور شي.

(كَنزُ الدَّقَائق ص٥٢)

## د نابالِغه جينئ[د جنازې] دُعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا

اِلٰهي دا (جينئ) چه مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کونکې جوړه کړې

وَّاجْعَلْهَا لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا

او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې کار راتلونکې جوړه کړې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

وَّ اجۡعَلۡهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً ط

او دا زمونږ د پاره شفاعت کونکې جوړه کړې او هغه چه د چا سِفارش منظور شي.

## په پيزار د پاسه ولاړ جنازه کول

که پيزار په ښپو د جنازې نمونځ کوئ نو د پيزار او زمکې دواړو پاك کيدل ضروري دي او که پيزار اوباسئ او په هغې د پاسه ولاړ [د جنازې] نمونځ کوئ نو د پيزار د تلې او د زمکې پاك کيدل ضروري نه دي. زما آقا اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د يو سوال په جواب کښې ارشاد فرمائي: "که هغه ځائ په مِتيازو وغيره ناپاکه وو يا چه د چا د پيزار تلې ناپاکه وو او په دې حالت کښې ئې پيزار په ښپو نمونځ کړې وي د هغوئې نمونځ اُو نه شو، احتياط هُم دا دې چه پيزار اُوباسي او په هغې ښپه کيږدي او نمونځ اوکړي چه که زمکه يا تلې ناپاکه وي نو په نمانځه کښې خلل را نه شي. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۹، ص۱۸۸)

## د جنازې غائِبانه نمونځ نه شي کيدې

د مړي مخامخ کيدل ضروري دي، **غائِبانه د جنازې نمونځ نه شي** کيدلې. مُستحب دا دي چه اِمام د مړي سينې ته مخامخ وي.

(دُرِّ مُختار ج۳، ص۱۲۳، ۱۳٤)

## د يو څو جنازو يو ځائ د نمانځه کولو طريقه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنزُ الْعُمَّال)

يو څو جنازې يو ځائ هُم کيدې شي، په دې کښې اختيار دې چه که تولې مخکښې وروستو کيږدئ يعني چه د ټولو سِينې اِمام ته مخامخ وي او يا ئې په داسې قطار کښې کيږدئ چه د يو ښپو ته د دويم [د کټ] بر سر وي او د دويم ښپو ته د دريم بر سر وي وَعلىٰ هٰذا القِياس (يعني په هم دې باندې قياس اوکړئ).

(بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۳۹، عالمګيري ج۱ ص۱۶۵)

## په جنازه کښې څو صفونه پکار دي؟

بهتره دا ده چه په جنازه کښې درې صفونه وي ځکه چه په حديثِ پاك کښې دي: "د چا (د جنازې) نمونځ چه درې صفونو اوکړو د هغه بخښنه به اوشي." که ټول ووه سړي وي نو يو دِ اِمام جوړ شي، په وړومبي صف کښې دِ درې اودريږي په دويم کښې دوه او په دريم کښې يو. (غُنيه ص۵۸۸) په جنازه کښې آخرې صف د ټول صفونو نه غوره دې. (دُرِّ مُختار، ج۳، ص۱۳۱)

## که د جنازې پوره جَمعه حاصِله نه کړې نو؟

مسبوق (يعني د چا چه ځيني تکبيرونه لاړل هغه) دِ خپل باقي تکبيرونه د اِمام د سلام ګرځولو نه پس اووائي او که دا انديښنه وي چه که دُعا وغيره لوَلې نو د پوره کولو نه مخکښې به خلق جنازه اُوګو ته پورته کړي نو صرف تکبيرونه دِ اووائي دُعا وغيره دِ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمذی)

پريږدي. د څلورم تکبير نه پس که څوك راغې نو تر څو چه اِمام سلام نه وي ګرځولې شامِل دِ شي او د اِمام د سلام نه پس دِ درې ځله ''اَللّٰهُ اَکۡبَر'' اووائي. بيا دِ سلام اوګرځوي. (دُرِّ مُختار، ج۳ص۱۳٦)

## د ليونې يا د خودکُشي کوونکې جنازه

څوك چه پيدائِشي ليونې وي يا د بالِغ کيدو نه مخکښې ليونې شوې وي او په هم هغه ليونتوب کښې مړ شو نو د هغه د جنازې په نمانځه کښې به د نابالِغه دُعا وئيله شي. (جوهره ص۱۳۸، غُنيه ص۵۸۷) چا چه خودکُشي اوکړه د هغه د جنازې نمونځ به کيږي. (دُرِّ مُختار، ج۳ ص۱۲۷)

## د مړ ماشوم احکام

که د مسلمان اولاد ژوندې پيدا شو يعني [د بدن] اکثر حِصّه د بهر کيدو په وخت کښې ژوندې وو بيا مړ شو نو هغه ته به غُسل هم ورکوي او کفن به هُم وراغوندي. ګڼې [يعني که مړ پيدا شو نو] لـمبولې به شي او هسې به ئې په يوه کپړه کښې اونغاړي او خخ به ئې کړي. د هغه د پاره د سُنَّت مطابق غُسل او کفن نشته او د هغه [د جنازې] نمونځ به هُم نه کوي. د سر د طرف نه د اکثر مقدار د سر نه د سِينې پورې دي. لِهٰذا که د هغه سر رابهر شوې وو او چغې ئې وهلې خو د سِينې پورې د راوتلو نه مخکښې مړشو نو د هغه د جنازې نمونځ به نه کوي. د ښپو د طرف نه د اکثر مقدار د ملا


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

پورې دې. که ماشوم ژوندې پيدا شو يا مړ پيدا شو يا کچه اوغورزيدو، د هغه نوم به ايښودل شي او د قيامت په ورځ به راپاڅولې شي. (دُرِّ مُختار و رَدُّ المُحتار ج۳ ص ۱۵۲، ۱۵٤. بَهارِ شريعَت ج۱، ص۸٤۱)

## د جنازې د وړلو ثواب

په **حديثِ** پاك کښې دي: ”څوك چه جنازه څلويښت قدمه يوسي د هغه **څلويښت کبيره** ګناهونه به وران کړې شي.“ او په حديث شريف کښې دي: څوك چه د جنازې څلورو واړو ښپو له اُوګه ورکړې اللّٰه تعالٰی به د هغه **حَتْمی** (يعني مُستقل) بخښنه اوفرمائي. (اَلجَوْهَرَةُ النَّيِّرة ص۱۳۹، دُرِّ مُختار ج۳، ص۱۵۸، ۱۵۹. بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۸۲۳)

## د جنازې په اُوګو کولو طريقه

جنازه په اُوګو کول سُنَّت دي. سُنَّت دا دي چه پرله پسې څلورو واړو ښپو له اُوګه ورکړې او هره ييره لس لس قدمه لاړ شي. پوره سُنَّت دا دي چه مخکښې د سر ښي طرف ته اُوګه ورکړې، بيا د ښپو ښي طرف ته (يعني د ښئ ښپې طرف ته) بيا د سر ګڅ طرف ته او بيا د ښپو ګڅ طرف ته او لس لس قدمه لاړ شي نو ټول څلويښت قدمه شو. (عالمګيري ج۱ ص۱۶۲. بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸۲۲) ځيني خلق د جنازې د وړلو په وخت کښې اعلان کوي، [د کټ د يوې يوې ښپې سره] دوه دوه قَدَمه لاړ شئ! هغوئي ته پکار دي چه داسې اعلان کوي: ”[د کټ د يوې يوې ښپې سره] لس لس قَدَمه لاړ شئ.“


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

## د ماشوم د جنازې د وړلو طریقه

که د وړوکي ماشوم جنازه یو کس په لاسو کښې اخستې وړي نو باك نشته او په نمبر نمبر دِ ئې د یو نه پس بل په لاسو کښې اخلي. (عالمگِیري ج۱ ص۱۶۲) ښځو ته (که د ماشوم جنازه وي او که د غټ خو) د جنازې سره تلل ناجائِزه او منع دي. (بَهارِ شرِیعَت ج۱، ص۸۲۳، دُرِّمُختار، ج۳، ص۱۶۲)

## د جنازې د نمانځه نه د بیرته راتللو مسائِل

څوك چه د جنازې سره [یعني موجود] وي هغه ته د نمانځه کولو نه بغیر بیرته تلل نه دي پکار او د نمانځه نه پس د مړي د وارِثانو نه چه اِجازت واخلي نو بیرته تللې شي او د خخولو نه پس د اِجازت حاجت نشته. (عالمگِیري ج۱، ص۱۶۵)

## آیا خاوند د خپلې ښځې جنازې ته اُوګه ورکولې شي؟

**خاوند** د خپلې ښځې جنازې ته اُوګه هُم ورکولې شي، قبر ته ئې هُم کُوزولې شي او مخ ئې هُم لیدلې شي. صرف د غُسل ورکولو او ښکاره بدن ته د لاسو لګولو مُـمانعت دي. ښځه خپل خاوند ته غُسل ورکولې شي. (بَهارِ شرِیعَت ج۱، ص۸۱۲، ۸۱۳)

## د مُرتَد د جنازې حُکمِ شرعي

د مُرتَد او د کافِر د جنازې یو شان حُکم دي. د مذهب بدلولو او عِیسائي (یعني کرسچن) جوړیدو والا کس د جنازې کولو په باره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

كښې د شوې يو سوال په جواب كښې سيِّدی اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په فَتَاوىٰ رَضَوِيّه جِلد۹، صفحه ۱۷۰ كښې ارشاد فرمائي: كه په ثبوتِ شرعي ثابِت وي چه مړي "عِياذاًبِالله" (يعني د الله پناه) مذهب بدل كړې وو او عيسائي (يعني كرسچن) شوې وو نو بيشكه د هغه د جنازې نمونځ او د مسلمانانو په شان د هغه تَجهِيز و تَكفِين [يعني كفن دفن] ټول حرامِ قطعی وو. قَالَ اللهُ تَعَالٰى (يعني اللّٰه تَعَالٰى فرمائي):

وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُالإيمان: او په هغوئي كښې د چا د مړي كله هم نمونځ مه كوه او مه د هغه قبر ته اودريږه.

خو [د جنازې] نمونځ كوونكي كه د هغه د نصرانِيَّت (يعني عِيسائي كيدو) نه خبر نه وو او د مخكښنو معلوماتو په وجه ئې هغه مسلمان ګڼړلو او نه د كفن دفن او جنازې پورې د هغوئي په نِزد د دې كس نصراني (يعني عِيسائي) كيدل ثابت شوي وو نو په دې افعالو [يعني كارونو] كښې هغوئي اوس هُم معذوره او بې قصوره دي ځكه چه د هغوئي په خيال كښې هغه مسلمان وو نو [په داسې صورت كښې خو] په هغوئي دا افعال كول د هغوئي په ګُمان كښې شرعاً لازِم وو، خو كه هغوئي هُم د هغه د عِيسائِيَت نه خبرداره وو او بيا ئې [د جنازې] نمونځ او كفن دفن اوكړو نو قطعاً سخت ګنهګار او په وَبالِ كبِيره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او كواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

كښې كرفتار شُو، تر څو چه توبه اونكړي په هغوئي پسې نمونځ كول مكروه دي. خو [د هغوئي سره] د مُرتدينو معامله كول جائِز نه دي ځكه چه دا خلق به په دې كناه كولو كافِر نه وي. زمونږه شَرْعِ مُطَهَّره صِراطِ مُستقِيم ده، اِفراط و تَفرِيط (يعني د اِعتِدال نه زياتول كمول) په يوه خبره كښې هُم نه خوښوي، البته كه دا واضِحه شي چه هغوئي ته معلومه وه چه دا نَصراني دې او صرف د حَماقت [يعني بې وقوفئ] او جَهالت په وجه د څه دُنياوي غرض په نِيَّت بلكه كه هغه ئې د نَصرانِيَّت په وجه د تعظِيم [يعني ادب] حقدار او د كفن دفن او د جنازې د نمانځه قابل كنړلې وي نو بيشكه د چا چا چه داسې خيال وي هغه ټول هُم كافِر او مُرتد دي او د هغوئي سره هم هغه معامله كول واجب دي كومه چه د مُرتدينو سره كول پكار دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه)

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د لسمې سيپارې د سُوْرَةُ التَّوْبه په آيت ٨٤ كښې ارشاد فرمائي:

وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّ لَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَ هُمْ فٰسِقُوْنَ

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: او په هغوئي كښې د چا د مړي كله هم نمونځ مه كوه او مه د هغه قبر ته اودريږه. بيشكه هغوئي د اللّٰه و رَسُول نه مُنكِر شو او په فِسق (يعني كُفر) كښې مړه شُو.

صدرُ الافاضِل حضرتِ عَلّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې آيت نه لاندې ليكي: د دې آيت نه ثابت شو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

چه د کافِر د جنازې نمونځ په هيڅ حال کښې جائِز نه دې او د کافِر قبر ته د خخولو او د ليدلو د پاره اودريدل منع دي.

(خزائِنُ العِرفان ص ۳۷۶)

د **حضرتِ** سيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه سردار د مدينې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: که هغوئي بيمار شي نو تپوس له مه ورځئ، که مړه شي نو په جنازه کښې ئې مه حاضريږئ.

(اِبنِ ماجه ج۱ ص۷۰ حديث ۹۲)

## د "مدينه" د پينځه حُروفو په نِسبت
## د جنازې مُتَعَلِّق پينځه مَدَني ګلونه

### "فلانکې دِ زما د جنازې اِمامَتي اوکړي" د داسې وصيَّت حُکم:

﴿۱﴾ که مړ شوې کس وَصِيَّت کړې وو چه زما د جنازې اِمامَتي دِ فلانکې اوکړي يا دِ ما ته فلانکې کس غُسل راکړي نو دا وصِيَّت باطِل دې يعني په دې وصِيَّت (د مړي) د ولي (يعني سر پرست) حق نه ځي، خو ولي ته اختيار دې چه که ېځپله ئې نه کوي او په هغه ئې اوکړي. (بَهارِ شريعَت ج۱، ص ۸۳۷)(عالمګِيري ج۱ ص۱۶۳ وغيره) که د يو مُتَّقي بزرګ يا عالِم په باره کښې ئې وصِيَّت کړې وو نو وارثانو ته پکار دي چه په هغې عمل اوکړي.

## اِمام دِ د مړي د سِينې په سمې اودريږي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

﴿۲﴾ مُستَحب دا دي چه اِمام د مړي د سینې مخې ته اودرېږي او د مړي نه دِ لرې نه وي، مړې که سړې وي که زنانه وي یا که زنانه بالِغه وي او که نابالِغه، داسې به هله وي چه صرف د یو مړي جنازه کوي او که یو څو وي نو د یو سینې ته دِ مخامخ او نزدې اودرېږي.
(دُرِّ مُختار و رَدُّ المُحتار ج۳، ص۱۳٤)

## که د جنازې کولو نه بغیر ئې خخ کړو نو؟

﴿۳﴾ که مړې د جنازې د نمانځه نه بغیر خخ کړې شوې وي او خاورې ئې پرې هم اړَوَلې وي نو بیا د هغه د قبر [د جنازې] نمونځ اوکړئ تر څو چه [د مړي] د شلیدو گُمان نه وي، او که خاورې ئې پرې نه وي اړولې نو را اوئې باسئ او جنازه ئې اوکړئ او بیا ئې خخ کړئ، او د قبر [د جنازې] د نمانځه د ورځو څه شمیر مقرر نه دي چه د څو ورځو پورې دِ اوکړې شي ځکه چه دا د موسم او زمکې او د مړي د بدن او د مرَض د اِختلاف په وجه مختلف دي. په گرمئ کښې به زر شلیږي او په یخنئ کښې به پس. په لـمده او شوره زمکه به زر او په اوچه او غیرِ شوره زمکه به پس، پیړ بدن به زر او نرې بدن به پس [شلیږي] . (اَیضاً ص۱٤٦)

## په کور کښې د ډوب شوي د جنازې نمونځ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

﴿٤﴾ ځوك كوهي ته غوزار شو او مړ شو يا پرې كور را اولويدو او مړې ئې نه شو راوِيستلې نو په هم هغه ځائ د هغه جنازه اوكړئ، او كه په درياب كښې ډوب شو او را او نه ويستلې شو نو د هغه جنازه نه شي كيدې ځكه چه د مړي د مُصَلِّي (يعني نمونځ كوونكي) مخې ته كيدل معلوم نه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ ص١٤٧)

## په جنازه کښې د ګنړې زياتولو د پاره ناوخته كول

﴿٥﴾ كه د جُمُعې په ورځ ځوك مړ شو نو كه د جُمُعې د نمانځه نه مخكښې كفن دفن كيدې شي نو مخكښې ئې اوكړئ، په دې وجه حصارول چه د جُمُعې د نمانځه نه پس به ګنړه ډيره وي مكروه دي.
(بَهارِ شرِيعَت ج١، ص٨٤٠، رَدُّالْمُحْتَار ج٣، ص١٧٣ وغيره)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانِي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د بالِغ د جنازې د نمانځه نه مخكښ دا اعلان اوكړئ

د **مرحوم** عزيزان او دوستان توجُّه اوكړئ! مرحوم كه كله په ژوند كښ ستاسو زړه ازارولې وي يا ئې ستاسو حق تَلفي كړې وي يا پرې ستاسو قرضه وي نو دوئي د اللّٰه د رضا د پاره معاف كړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی مرحوم ته به هُم خير اورسي او ستاسو به هم ثواب اوشي. د جنازې د نمانځه نِيَّت او د هغې طريقه هم واورئ. "**زه نِيَّت كووم د دې جنازې د نمانځه، د پاره د الله تعالٰی، دُعا د دې مړي د پاره، په دې [حاضِر] اِمام پسې**." كه دا الفاظ مو ياد نه وي نو هيڅ باك نشته، ستاسو په زړه كښ دا نِيَّت كيدل ضروري دي چه "زه د دې مړي د جنازې نمونځ كووم" چه كله اِمام صاحب "اَللّٰهُ اَكْبَر" اووائي نو غوږونو ته لاس پورته كړئ او بيا د "اَللّٰهُ اَكْبَر" وئيلو سره فوراً د معمول مطابق د نامه نه لاندې لاسونه اوتړئ او ثناء اولوَلئ. په **دويم** ځل چه اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَكْبَر" اووائي نو تاسو د لاسو پورته كولو نه بغير "اَللّٰهُ اَكْبَر" اووائې، بيا د نمانځه والا **دُرودِ اِبراهِيم** اولوَلئ. چه **دريم** ځل اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَكْبَر" اولوَلي نو تاسو د لاسو پورته كولو نه بغير "اَللّٰهُ اَكْبَر" اووائې او د بالِغ د جنازې دُعا اولوَلئ[12] چه كله **څلورم** ځل اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَكْبَر " اووائي نو تاسو "اَللّٰهُ اَكْبَر" اووائې او دواړه لاس خلاص كړئ او زوړند ئې كړئ او د اِمام صاحب سره د قاعِدې مطابق سلام اوګرځوئ.

[12] كه د نابالِغه هلك يا جينئ جنازه وي نو د هغې د دُعا وئيلو اعلان كوئ.


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# فَيضانِ جُمُعَه

شيطان به ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله پوره اولولئ او اِيمان تازه کړئ.

## د جُمُعَه په ورځ د دُرود شريف لوستلو فضِيلت

د نبيانو سُلطان، د دوارو جهانو د سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بَرَکتونو نه ډك فرمان دي: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ دوه سوه ځله دُرود شريف اولوستلو د هغه د دوه سوه **کالو** ګناهونه به معاف شي. (جَمْعُ الْجَوَامِع لِلسُّيُوطِي ج۷ ص۱۹۹ حديث ۲۲۳۵۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** مونږه خومره خوش نصيبه يو چه اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالٰى مونږه ته د **جُمُعَةُ الْمُبَارَك** نِعمت راکړې دې. افسوس! مونږه بې قدره خلق **جُمُعَه** شريفه هُم د عامو ورځو په شان په غفلت کښې تيره کړو حالانکه **جُمُعَه** د اختر ورځ ده **جُمُعَه** د ټولو ورځو سرداره ده، د **جُمُعې** په ورځ د جَهَنَّم اور نه بلول کيږي، د **جُمُعې** په ورځ د دوزخ دروازې نه برسيره کيږي، **جُمُعَه** به د قيامت په ورځ د ناوې په شان اوچتوله شي د **جُمُعې** په ورځ مړ کيدو والا خوش نصيبه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

مسلمان د شهید مرتبه مومي او د عذابِ قبر نه **محفوظه** شي. د **مُفَسِّرِ شَهِیر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د فرمان مطابق چه د **جُمُعې** په ورځ حج وي نو د حج ثواب د اویاؤ حجونو هُمره دې. (ولې چه د **جُمُعې** بزرګي ډیره زیاته ده ځکه) د **جُمُعې** په ورځ د ګناه عذاب هُم اویا هُمره دې. (مُلَخَّص از مِراٰة ج۲ ص۳۲۳، ۳۲۵، ۳۳۶)

د **جُمُعَةُ المُبارَك** د فضائِلو به څه وائې، اللّٰہ تَبَارَکَ وَتَعالٰی د **جُمُعې** متعلِّق یو پوره سُورت "**سُورَةُ الْجُمُعَه**" نازل کړې دې او هغه د قُرآنِ کریم په اَتلَّسمه سیپاره کښې ځلیږي. اللّٰہ تَبَارَکَ وَتَعالٰی د "**سُورَةُ الْجُمُعَه**" په نهم آیت کښې اِرشاد فرمائي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَ ذَرُوا الْبَیْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَیْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۹﴾

**مفهوم ترجمهٔ کنزُ الاِیمان:** اے اِیمان والؤ! چه کله د نمانځه اذان اوشي د جُمُعې په ورځ، نو د **اللّٰه** د ذِکر طرف ته اودرومئ او اخستل خرڅول پریږدئ، دا ستاسو د پاره بهتر دې که تاسو پوهیږئ.

## خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وړومبئ جُمُعه کله ادا کړه

**صدرُ الافاضِل** حضرتِ علّامه مولانا سیِّد **محمّد** نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: حُضُور عَلَیْہِ السَّلَام چه کله هِجرت اوکړو او مدینهٔ طیِّبه ته ئې تشریف راوړو نو په دولسم رَبِیعُ الاَوّل (۶۲۲ء) د دوشنبه (یعني د ګُل مبارك په ورځ ئې) د څاښت په وخت کښې په مُقامِ



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

**قُباء** كښې قيام [يعني څه وخت اوسيدل] اوفرمائيلو. په دوشنبه (يعني كُل مبارك)، سِه شَنبه (يعني نهي)، چارشنبه او پنجشنبه (يعني زيارت) ئې هم هغلته قيام اوفرمائيلو (يعني اوسيدل اختيار كړل) او د جُمات بُنياد ئې كيښودو. د **جُمُعې** په ورځ ئې د **مدينهٔ طيّبه** اِراده اوفرمائيله.د بَنِي سالِم اِبنِ عَوف د دَرې په مينځ كښې د **جُمُعې** [د نمانځه] وخت راغې هغه ځائ خلقو جُمات قرار كړو. سَيِّدِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هلته **جُمُعَه** [يعني د جُمُعې نمونځ] ادا كړو او خُطبه ئې اوفرمائيله.
(خَزَائِنُ الْعِرفان ص۸۸٤)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نن هُم هلته شاندار **مَسجِدِ جُمُعَه** قائِم دې او زيارت كوونكي د بَرَكت حاصلولو د پاره د هغې ليدلو له راځي او هلته نفلونه ادا كوي.

## د جُمُعَه معنٰی

**مُفَسِّرِ شَهير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ځكه چه په دې ورځ ټول مخلوقات په وجُود كښې جمع (يعني جوړ) كړې شو ځكه چه تَكمِيلِ خَلق [يعني مخلوقات جوړيدل] په هُم دې ورځ [مُكَمّل] شو او د حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام خاوره په هُم دې ورځ جمع شوه او په دې ورځ خلق راجَمع كيږي او د **جُمُعې** نمونځ ادا **كوي**، په دې وجوهاتو دې ته **جُمُعَه** وائي. د اِسلام نه مخكښې به د عرب اوسيدونكو دې ته عَرُوبه وئيله. (مِراٰةُ الْمناجيح ج۲ ص۳۱۷)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## سردارِ مدينه ﷺ تولې خومره جُمُعې ادا کړې؟

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: نبيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تقريباً پينځه سوه جُمُعې ادا کړې دي ځکه چه **جُمُعَه** د هِجرت نه پس شروع شوه او د هغې نه پس د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ظاهِري ژوند مبارك لس کاله جوړيږي او په دومره موده کښې تقريباً جُمُعې هُم دومره جوړيږي.

(مِراٰة ج ۲ ص ۳۴۶، لمعات للشيخ عبدُ الحق الدهلوی ج ٤ ص ١٩٠ تحت الحديث ١٤١٥)

## درې جُمُعې چه د سستئ په وجه پرېږدي د هغه په زړه مُهر

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "څوك چه درې جُمُعې (يعني د **جُمُعَې** نمونځ) د سستئ په وجه پريږدي اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به د هغه په زړه مُهر اوکړي [يعني اولګوي]."

(سُنَنِ ترمِذی ج ۲ ص ۳۸ حديث ۵۰۰)

**جُمُعَه** فرضِ عَين ده او د دې فرضِيَّت د ماسپښين نه زيات مؤكَّد (يعني تاكيدي) دې او د دې مُنكِر (يعني اِنكار كولو والا) كافِر دې.

(دُرِّ مُختار ج ۳ ص ۵، بَهارِ شرِيعَت ج ۱ ص ۷۶۲)

## د جُمُعې د عمامه [يعني پټکي] فضِيلت

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك ارشاد دې: "بيشکه اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی او د هغه فرښتې د **جُمُعَې** په ورځ عِمامه [يعني پټکي] وهلو والؤ باندې دُرود [يعني رَحمت] ليږي." (مَجمَعُ الزَّوائِد ج ۲ ص ۳۹٤ حديث ۳۰۷۵)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب

## شِفا داخيليږي

حضرتِ حُمَيد بِن عبد الرّحمٰن رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا د خپل والِد نه رِوايت کوي، فرمائي: چه ”خوك چه د جُمُعې په ورځ خپل نوکان کټ کوي اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالٰی د هغه نه بيماري اوباسي او شِفا ور داخِلوي.“

(مُصنَّف اِبنِ اَبِي شَيبه ج٢ ص٦٥)

## لس ورځې د مصيبتونو نه حِفاظت

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د جُمُعې په ورځ نوکان پريك كول مُستحب دي، خو كه زيات غټ شوي وي نو د جُمُعې اِنتظار دِ نه كوي ځكه چه غټ نُوكان ښه خبره نه ده ځكه چه د نوكانو غټ والي د رِزق د تنګئ سبب دې. (بَهارِ شرِيعَت ج٣ حِصّه ١٦ ص٥٨٢)

## فرښتې د خوش نصيبو نومونه ليکي

د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك اِرشاد دې: ”چه كله د جُمُعې ورځ راشي نو د جُمات په دروازه باندې فرښتې راتلو والا ليكي، خوك چه مخكښې راشي هغه مخكښې ليكي، زر راتلو والا د هُغه كس په شان دې خوك چه د اللّٰه تعالٰی په لار كښې يو اوښ صَدَقه كوي، او د هغه نه پس راتلو والا د هُغه كس په شان دې خوك چه يوه غوا صَدَقه كوي، د هغه نه پس [راتلو] والا د هُغه كس په شان


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعي په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (کنز العمال)

دي څوك چه **ګډ** صَدَقه كړي، بيا د هغه په شان دي څوك چه **چرګه** صَدَقه كړي، بيا د هغه په شان دي څوك چه **هَګۍ** صَدَقه كړي او چه كله اِمام (د خُطبې د پاره) كښيني نو هغه اَعمال نامې راغونډې كړي او راشي خُطبه اوري." (صحیح البُخاری ج۱ ص۳۱۹ حدیث۹۲۹)

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الأُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: څيني عُلَماؤ فرمائيلي دي چه فرښتې د **جُمُعې** د فجر [يعني د سحر] د راختو نه اودريږي، د بعضو په نِزد د نمر د راختو نه، خو حق دا دي چه د نمر د سترګې د تيريدو (يعني د ماسپښين د وخت د شروع كيدو) نه شروع كيږي ځكه چه د هُم دغه وخت نه د **جُمُعې** [د نمانځه] وخت شروع كيږي، معلومه شوه چه هُغه فرښتو ته د ټولو راتلونكو نومونه معلوم وي، ياد ساتئ چه په وړومبي وخت سل كسان [په يو بل پسې] يو ځائ جُمات ته راشي نو هغه ټول اَوَّل [وخت كښې راتلونكي] دي. (مِراٰۃ ج۲ ص۳۳۵)

## په اوله صَدئ كښې د جُمُعې جذبه

**حُجَّةُ الْإِسلام** حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په اوله صَدئ كښې به [د هرې **جُمُعې** په شپه] د پيشمني په وخت كښې او د سحر نه پس لارې د خلقو نه ډكې ښكاريدې، هغوئي به ډيوې راغستې وې او [د شپې يا سحر وختې] د (**جُمُعې** د نمانځه) د پاره به جامِع مسجِد طرف ته روان وو لكه د اختر ورځ چه وي، تر دې چه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانی)

دا (يعني د جُمُعې نمانځه له د زر تللو) سلسله ختمه شوه. پس وائي چه په اِسلام کښې چه کوم اولنې بِدعت ښکاره شو هغه د جامِع مسجِد طرف ته زر تلل پريښودل دي. افسوس! مسلمانانو ته د يهوديانو نه حيا نه ورځي چه هغوئي خپلو عبادت خانو ته د خيالي اواِتوار په ورځ سحر وختي ځي او د دُنيا طلبګار د اخستلو او خرڅولو او د دُنياوي فائدو د حاصلولو د پاره سحر وختي بازارونو ته روان شي نو د آخِرت طلب کوونکي د هغوئي سره مقابله ولې نه کوي! (إحياءُ الْعُلوم ج۱ ص۲٤٦) کوم ځائ [يعني کوم ځمات کښې] چه د جُمُعې نمونځ ادا کيږي هغې ته "جامِع مسجِد" وائي.

## د غريبانو حج

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا رِوايت کوي چه سرکارِنامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِيْن" يعني د جُمُعې نمونځ د مِسکينانو حج دې او په بل رِوايت کښې دي چه "اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاءِ" يعني د جُمُعې نمونځ د غريبانو حج دې.

(جَمْعُ الْجَوَامِع لِلسُّيُوطي ج٤ ص٨٤ حديث ١١١٠٨، ١١١٠٩)

## د جُمُعې د پاره وختي وتل حج دې

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ رسُول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "بيشکه ستاسو د پاره د هرې جُمُعې په ورځ کښې يو حج او يوه عُمره موجوده


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمّال)

ده، لِهٰذا د **جُمُعې** د نمانځه د پاره زر وتل **حج** دې او د **جُمُعې** د نمانځه نه پس د مازديګر د نمانځه د پاره اِنتِظار کول عُمره ده.“

(السُنَنُ الکُبرٰی لِلبَیہَقِی ج۳ ص۳۴۲ حدیث۵۹۵۰)

## د حج او عُمرې ثواب

**حُجَّةُ الْاِسلام** حضرتِ سيِّدُنا اِمام **محمّد** غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: (د **جُمُعې** د نمانځه نه پس دِ) د مازديګر د نمانځه کولو پورې په جُمات کښ حِصار شي او که د ماښام د نمانځه پورې حِصار شي نو **غوره** ده. وائي چا چه په جامِع مسجِد کښ (د **جُمُعې** د نمانځه ادا کولو او هُم هلته د حِصاريدو نه پس) د مازديګر نمونځ ادا کړو د هغه د پاره د **حج** ثواب دې او څوك چه (هم هلته حِصار شو او د) ماښام نمونځ ئې ادا کړو د هغه د پاره د حج او عُمرې ثواب دې. (اِحیاءُ الْعُلوم ج۱ ص۲۴۹)

## د ټولو ورځو سردار

د نبيِّ اکرم، رسُولِ **مُحترم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: د **جُمُعې** ورځ د ټولو ورځو سرداره ده او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نِزد د ټولو نه غټه ده او هغه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نِزد د **عِيدُ الْاَضْحٰى** [يعني غټ اختر] او عِيدُ الْفِطْر [يعني واړه اختر] نه غټه ده. په دې کښ پينځه خصلتونه دې: ﴿۱﴾ اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعالٰى په هُم دې کښ آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) پيدا کړو او ﴿۲﴾ په هم دې کښ ئې هغوئې زمکې ته راکوز کړو او ﴿۳﴾ په هم دې


www.dawateislami.net

كښې ئې هغوئې ته وفات وركړو او ﴿٤﴾ په دې كښې يو ساعت داسې دې چه بنده هغه وخت د څه څيز سوال كوي هغه به هغه ته وركوي تر څو چه د حرامو سوال اونكړي او ﴿٥﴾ په هُم دې ورځ به قيامت قائميږي. يوه مُقَرَّبه فرِښته او آسمان او زمكه او هوا او غر او درياب داسې نشته چه د جُمُعې د ورځې نه به يَريږي نه."

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج٢ ص٨ حديث ١٠٨٤)

## د ځناورو د قيامت نه يَره

په يو بل رِوايت كښې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا هم فرمائيلي دي چه يو ځناور هُم داسې نشته چه د جُمُعې په ورځ د سحر په وخت د نمر د ستركي راختو پورې د قيامت د يَرې نه چغې نه وهي، سِوا د اِنسان او پيرې نه.

(مُؤَطا اِمام مالِك ج١ ص١١٥ حديث ٢٤٦)

## دُعا قبليږي

د سركارِ مدينهٔ مُنَوَّره، سردار مَكَّهٔ مُكَرَّمه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: په جُمُعَه كښې يو داسې ساعت دې چه كه يو مسلمان هغه اومومي او هغه وخت د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه څه اوغواړي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به ئې هغه ته ضرور وركوي او هغه ساعت مختصر [يعني لږ] دې.

(صحيح مُسلِم ص٤٢٤ حديث٨٥٢)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

## د مازديګر او ماښام د مينځه ئي اوګورئ

د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "د **جُمُعې** په ورځ چه د كوم ساعت خواهِش كيږي هغه د مازديګر نه پس د نمر پريوتو پورې اولټوئ." (تِرمِذی شریف ج۲ ص۳۰ حدیث۴۸۹)

## د صاحِبِ بهارِ شريعت اِرشاد

**حضرتِ** صَدرُ الشَّرِيعه مولانا مُفتي **مُحمد امجد** علي اعظمي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د دُعا د قبليدو په باره كښې دوه قولونه قوي دي: ﴿۱﴾ د اِمام د خُطبې د پاره د ناستې نه د نمونځ ختميدو پورې ﴿۲﴾ د **جُمُعې** وروستې (يعني آخري) ساعت. (بَهارِ شرِیعَت ج۱ ص ۷۵٤)

## د قبولِيَّت ساعت كوم يو؟

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: هره شپه كښې د دُعا د قبولِيَّت ساعت راځي خو په ورځو كښې صرف د **جُمُعې** په ورځ. خو يقيني طور دا نه ده معلومه چه هغه ساعت كله دې، غالِب دا چه د دوه **خُطبو** په مينځ كښې يا د ماښام نه لږ **مخكښې**. د يو بل حديثِ پاك نه لاندې مُفتي صاحِب رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د دې ساعت په باره كښې د عُلَماؤ څلويښت قولونه دي، چه په هغې كښې دوه قولونه زيات قوي دي، يو د دوه خطبو د مينځ او بل د نمر د سترګې د پريوتو د وخت. (مِراٰۃ ج۲ ص۳۱۹، ۳۲۰)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اُونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

## حِکايت

**حضرتِ** سَيِّدَتُنا فاطِمَةُ الزَّهراء رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا به هُغه وخت پخپله په حُجره کښې کښيناستله او خپله خادِمه فِضَّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا به ئې بهر اودروله، چه کله به د نمر سترګه په پريوتو شوه نو خادِمې به هغوئې رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته خبر ورکړو، د هغې په خبر به سَيِّده رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا د دُعا د پاره خپل لاس پورته کړل. (اَيضاً ص۳۲۰) **بهتره دا ده چه په دې ساعت کښې (ځه) جامِع دُعا اوکړي لکه دا قُرآني دُعا:** رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ (پ۲، اَلبَقَرة۲۰۱)

(مفهوم ترجمهٔ کنزُ الاِيمان : اے زمونږه ربه مونږ ته په دُنيا کښې خير راکړې او مونږ ته په آخِرت کښې خير راکړې او مونږه د [اور يعني د] دوزخ د عذاب نه اوساتې) (مِراٰة ج۲ ص۳۲۵)

د دُعا په نِيَّت درود شريف هم لوستې شئ ځکه چه درود شريف هم عظيمُ الشَّانه دُعا ده. **غوره دا ده چه د دواړو خُطبو د مينځه د لاسو اوچتولو او ژبه خوزولو نه بغير په زړه کښې دُعا اوغوښتې شي.**

## په هره جُمُعَه کښې يو کروړ او ٤٤ لاکه د جهنَّم د اور نه آزاد

د مدينې د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دې: د **جُمُعې** په ورځ او شپه کښې څلور وِيشت ساعته دې، يو ساعت داسې نشته



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ځوك چه په ما دَجُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

چه په هغې كښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعالٰی د جهنَّم نه شپږ لكه نه آزادوي، په چا چه جهنّم واجِب شوې وو. (مُسْنَدَ اَبِي يَعْلٰى ج٣ ص٢٣٥، ٢٩١ حديث٣٤٢١، ٣٤٧١)

## د عذابِ قبر نه محفوظ

تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ځوك چه د **جُمُعې** په ورځ يا د **جُمُعې** په شپه مړ شي د عذابِ قبر نه به بچ كړې شي او د قيامت په ورځ به داسې راځي چه **په هغه به د شهيدانو مُهر** وي.

(حلیۃُ الْاَوْلِیَاء ج٣ ص١٨١ حديث٣٦٢٩)

## د جُمُعې نه د بلې جُمُعې پورې د ګناهونو معافي

د **حضرتِ** سَيِّدُنا سَلمان فارسى رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، د سُلطانِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: ځوك چه د **جُمُعې** په ورځ اولامبي او د كوم طَهارت (يعني پاكيزګئ) اِستِطاعَت (يعني وَس) چه لري [هغه] اوكړي او تيل اولګوي او په كور كښې چه كومه خوشبو وي [هغه] اومږي او بيا د نمانځه د پاره اوځي او په دوه كسانو كښې جُدائي اونكړي يعني دوه كسان كه ناست وي نو هغوئي نه جُدا كوي او په مينځ كښې ئې نه كښيني او كوم نمونځ چه د هغه د پاره ليكلې شوې دې [هغه] اوكړي او اِمام چه كله خُطبه لوَلي نو خاموشه اوسي **د هغه د پاره به د هُغه ګناهونو، كوم چه د دې جُمُعې او د بلې جُمُعې د مينځه دي بخښنه اوشي.**

(صحيح الْبُخارى ج١ ص٣٠٦ حديث٨٨٣)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

## د دوه سوه كالو د عِبادت ثواب

**حضرتِ** سيِّدُنا صِدِّيق اَكبر او حضرتِ سيِّدُنا عِمران بِن حُصَين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُمَا رِوايت كوي چه **تاجدارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: خوك چه د **جُمُعې** په ورځ اولامبي د هغه ګناهونه او خطاګاني لرې كړې شي او چه كله ئې [د **جُمُعې** د نمانځه د پاره] تلل شروع كړل نو په هر قدم باندې شل نيكئ ليكلې كيږي.

(اَلْمُعْجَمُ الْكَبِير ج١٨ ص١٣٩ حديث٢٩٢)

او په بل رِوايت كښې دي: په هر قدم ئې د شلو كالو عمل ليكلې كيږي او چه كله د نمانځه نه فارغ شي نو هغه ته د دوه سوه كالو د عمل اجر حاصليږي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ج٢ ص٣١٤ حديث٣٣٩٧)

## مرحوم مور و پلار ته هره جُمُعَه اعمال پيش كيږي

د دواړو جهانو سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د كُل او د زيارت په ورځ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښې اعمال پيش كيږي او د انبيائے كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام او د مور و پلار په وړاندې په هره **جُمُعَه**. هغوئي په نيكو خوشحاليږي او د هغوئي د مخونو صفائي او ځليدل زيات شي، نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه اويَريږئ او خپلو وفات شوو [كسانو] ته په **خپلو ګناهونو** غم مه رَسوئ.

(نَوَادِرُ الْاُصُول لِلحَكِيم التِّرمِذى شريف ج٢ ص٢٦٠)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمُعې په شپه او د جُمُعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او گواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِیمان)

# د جُمُعې پينځه خُصوصي اَعمال

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُوسعِيد رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د سردارِ دوعالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُباك دې: پينځه څيزونه چه څوك په يوه ورځ اوكړي اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به هغه جنَّتي اوليكي ﴿۱﴾ څوك چه د مريض تپوس له لاړ شي ﴿۲﴾ چه د جنازې په نمونځ كښ حاضر شي ﴿۳﴾ چه روژه اونيسي ﴿٤﴾ چه جُمُعې [يعني د جُمُعې نمانځه] له لاړ شي او ﴿٥﴾ غُلام آزاد كړي. (الاحسان بترتیب صحیح اِبنِ حبّان ج٤ ص١٩١ حدیث ٢٧٦٠)

# جَنَّت واجِب شو

د حضرتِ سيِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دې: چا چه د جُمُعې نمونځ اوكړو، د هغه ورځې روژه ئې اونيوله، د كوم يو مريض تپوس ئې اوكړو، په كومه يوه جنازه كښ حاضِر شو او په كومه يوه نِكاح كښ شريك شو نو جنَّت د هغه د پاره واجِب شو. (اَلمُعْجَمُ الْكَبِير ج٨ ص٩٧ حديث٧٤٨٤)

# صِرف د جُمُعې روژه مه نيسئ

په خُصُوصِيَّت سره صرف د جُمُعې يا صرف د خيالي روژه نيول مَكرُوهِ تَنزِيهي دي. خو كه په كوم مخصوص تاريخ جُمُعَه يا خيالي راغې نو بيا كَراهَت نشته مَثَلًا پينځلَّسم شَعْبانُ الْمُعَظَّم يا ووه وِيشتم رَجَبُ الْمُرَجَّب وغيره. فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: د جُمُعې ورځ


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

ستاسو د پاره اختر دې په دې ورځ روژه مه نِيسئ خو دا چه د دې نه مخکښې يا وروسته هُم روژه اونيسئ. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج۲ ص۸۱ حديث۱۱)

## د لسو زرو کالو د روژو ثواب

اَعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د جُمُعې د ورځې روژه يعني چه د دې سره د پنجشنبې (يعني د زيارت) يا د شنبې (يعني د خيالي روژه) هُم شامِله وي نو رِوايت دې چه د لسو زرو کالو د روژو هُمره ده. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۱۰ ص۶۵۳)

## د جُمُعې روژه کله مکرُوه ده

د جُمُعې روژه په هر صورت کښې مکروه نه ده، خو هغه صرف په دې صُورت کښې [مکرُوه] ده چه کله خوك په خُصوصِيَّت سره د جُمُعې روژه اونيسي. چنانچه په دې باره کښې چه د جُمُعې روژه کله مکرُوه ده. د **فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه** جِلد۱۰ صفحه ۵۵۹ نه **سوال و جواب** اوګورئ، **سوال:** څه فرمائي عُلَمائے دِين په دې مسئَله کښې چه د جُمُعې نفلي روژه نيول څنګه دي؟ يو کس د جُمُعې روژه اونيوله بل هغه ته اووئيل: **جُمُعه عِيدُ الْمُؤمِنِين** [يعني د مُؤمِنانو اختر] دې، روژه نيول په دې ورځ مَکرُوه دي او په اِصرار [يعني په کوشش] ئې پرې د غرمې نه پس روژه ماته کړه. **جواب:** د جُمُعې روژه خاص په دې نِيَّت چه نن **جُمُعَه** ده د دې روژه په تخصِيص [يعني خُصُوصِيَّت] سره نيول غوارې مَکرُوه ده خو هغه کَراهَت نه دې چه ماتول ئې لازم شو، او


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

که د خاص تخصِيص نِيَّت ئې نه وو نو اَصلًا [يعني د سره پېښې] كَراهَت هُم نشته، هغه بل كس ته كه د نِيَّتِ مَكرُوهه خبر نه وو نو بيا خو اِعتِراض كول د سره حَماقت [يعني بې وقوفي] ده، او روژه ماتول په شرعِ باندې سخت جُرأت [يعني زړورتيا] ده، او كه [د تخصِيص د نِيّت] خبر ورته شوې وو نو بيا هم صرف مسئَله ښودل كافي وو دا نه چه روژه ماتول، او هغه هم د غرمې نه پس، چه د هغې اختيار په نفلي روژو كښې د مور و پلار نه سِوا هيڅ چا ته نشته، ماتولو والا او په هغه ماتولو والا دواړه ګنهګار شو، په ماتولو والا باندې قضا لازِم ده ځکه چه کَفَّاره اَصلًا نشته. وَاللّٰہُ تَعَالٰی اَعْلَم.

## د جُمُعې په ورځ د مور و پلار قبر ته د حاضريدو ثواب

د رَسُولِ اَكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: څوك چه د خپل مور او پلار دواړو يا د يو قبر ته د **جُمُعې** په ورځ د زيارت [يعني ليدلو] د پاره حاضِر شي، اللّٰه تَعَالٰی به د هغه ګناهونه اوبخښي او د مور و پلار سره به ښه سُلوك كولو والا اوليكلې شي.

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطَّبَرانی ج ٤ ص ٣٢١ حديث ٦١١٤)

## د مُور و پلار قبر ته د "سُورۃ یٰسٓ" لوستلو فضيلت

حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: څوك چه د **جُمُعې** په ورځ د خپل مور و پلار يا د يو د قبر زيارت اوكړي او د هغې خوا ته یٰسٓ اولولي نو اُو به بخښلې شي. (اَلكامِل فِي ضُعَفاءِ الرِّجال ج ٦ ص ٢٦٠)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

## درې زره بخښنې

د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: څوك چه هره **جُمُعَه** د مور و پلار یا د یو د قبر زیارت اوکړي، هلته یٰسٓ اولولي، په یٰسٓ (شریف) کښې چه څومره حُرُوف دي د هغه ټولو د شمیر هُمره به اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره مغفِرت [یعني بخښنې] اوکړي. (اتحاف السادة ج١٤ ص٢٧٢) **خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** هره **جُمُعَه** مُبارکه د وفات شوو مور و پلار یا په هغوئي کښې د یو قبر ته د حاضریدلو او د یٰسٓ شریف لوستلو والا خو بیړئ پوریوته. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په یٰسٓ شریف کښې پینځه رکوع ۸۳ آیتونه ۷۲۹ کَلِمات او ۳۰۰۰ حُروف دي که عِنۡدَاللّٰه [یعني د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نِزد] دا شمیر صحیح وي نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د درې زره بخښنو ثواب به حاصلیږي.

## د جُمُعې په ورځ د یٰسٓ لوستونکي به بخښنه کیږي

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: څوك چه د **جُمُعې** په شپه یٰسٓ اولولي د هغه بخښنه به اوشي. (اَلتَّرغِیب وَالتَّر هِیب ج١ ص٢٩٨ حدیث٤)

## رُوحونه جمع کیږي

د **جُمُعې** په ورځ رُوحونه جمع کیږي لِهٰذا په دې کښې د قبرونو زیارت کول پکار دي او په دې ورځ باندې جهنَّم نه لَمبه کیږي. (دُرِّ مُختار ج٣ ص٤٩) اَعلٰی حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

(د قبرونو) د زيارت افضل [يعني غوره] وخت د **جُمُعې** په ورځ د سحر د نمانځه نه پس دې. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج ۹ ص ۵۲۳)

## د ”سُورَةُ الْكَهْف“ فضيلت

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه: د نبيِّ رَحمت، تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عظيم فرمان دې: څوك چه د **جُمُعې** په ورځ سُورَةُ الْكَهْف اولولي د هغه د ښپو نه د آسمانه پورې به نُور اوچتيږي او هغه به د قيامت په ورځ د هغه د پاره روښانه کيږي او د دوارو **جُمُعو په مينځ کښې چه څه ګناهونه شوي دي** [هغه به] اوبخښلې شي.“ (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج ۱ ص ۲۹۸ حديث ۲)

## د دوارو جُمُعو د مينځه نُور

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو سعِيد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه، د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: ”څوك چه د **جُمُعې** په ورځ سُورَةُ الْكَهْف اولولي د هغه د پاره به د دوارو **جُمُعو** د مينځه نُور روښانه کيږي.“ (السُّنَنُ الکُبرٰی لِلبَيهَقِي ج ۳ ص ۳۵۳ حديث ۵۹۹۶)

## د کعبې پورې نُور

په **يو** رِوايت کښې دي څوك چه سُورَةُ الْكَهْف د **جُمُعې** په شپه اولولي د هغه د پاره به د هغه ځائ نه د **کعبې پورې نُور** روښانه شي.“ (سُنَنِ دارِمی ج ۲ ص ۵۴۶ حديث ۳۴۰۷)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمُعې په شپه او د جُمُعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانی)

## د "سُوْرَةُ حٰمٓ الدُّخَان" فضِيلت

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې: د مدينې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: څوك چه د **جُمُعې** په ورځ يا د **جُمُعې** په شپه سُوْرَةُالدُّخَان اولولي د هغه د پاره به اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په جنَّت کښې يو کور جوړوي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیر ج۸ ص۲٦٤ حديث۸۰۲٦)

په يو رِوايت کښې دي چه د هغه بخښنه به اوشي.

(سُنَنِ تِرمِذی ج٤ ص٤۰۷ حديث۲۸۹۸)

## د اويا زره فرښتو اِستِغفار

د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، رَحمَةٌلِّلْعٰلَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "څوك چه د شپې سُوْرَةُالدُّخَان اولولي نو د سحر کيدو پورې د هغه د پاره اويا زره فرښتې استِغفار کوي." (سُنَنِ تِرمِذی ج٤ ص٤۰٦ حديث۲۸۹۷)

## ټول ګناهونه مُعاف

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: څوك چه د **جُمُعې** په ورځ د سحر د نمانځه نه مخکښې درې ځله

اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الَّذِیْ لَآاِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ

اولولي د هغه ګناهونه به اوبخښلې شي اګر که د سمندر د ځګ نه زيات وي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط لِلطَّبَرانی ج٥ ص۳۹۲ حديث۷۷۱۷)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پیش کیږي. (طَبَرانی)

# د جُمُعې د نمانځه نه پس

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په سیپاره ۲۸ سُوْرَةُ الْجُمُعَه آیت ۱۰ کښ ارشاد فرمائي:

فَاِذَا قُضِیَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِی الْاَرْضِ وَ ابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِیْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴿۱۰﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الاِیمان : بیا چه کله (د جُمُعې) نمونځ اوشي نو په زمکه باندې خواره شئ او د اللّٰه فضل اولټوئ او اللّٰه ډیر یاد کړئ په دې اُمّید چه کامیابي اوموموئ.

صَدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې آیت نه لاندې په تفسیر خَزَائِنُ الْعِرفَان کښ فرمائي: اوس (یعني د جُمُعې د نمانځه نه پس) ستاسو د پاره جائِز دي چه د مَعاش په کارونو کښ مشغُول شئ یا د عِلم په حاصلولو یا د مریض په تپوس یا په جنازه کښ د شِرکت یا د عُلَماؤ په زیارت یا د دې په شان [نورو] کارونو کښ مشغُول شئ او نیکئ حاصلې کړئ.

# د عِلم په مَجلِس کښ شِرکت

د جُمُعې د نمانځه نه پس د عِلم په مَجلِس کښ شِرکت کول مُستَحَب دي. چنانچه حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چه د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَول دي: په دې آیت کښ (صرف) اخستل خرڅول او د دُنیا کارونه مُراد


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اُو نه لولي. (تِرمِذِی)

نه دي بلكه عِلم حاصلول، د وروڼرو زيارت [يعني لِيدل]، د مريضانو پوښتنه، د جنازې سره تلل او د دې په شان [نور] كارونه [هُم مُراد] دي. (کِیمیائے سعادت ج۱ص۱۹۱)

خوږو خوږو اسلامي وروڼرو! د **جُمُعې** د نمونځ د واجِب كيدو د پاره يوولس شرطونه دي، په دې كښ چه يو هم كم وي نو فرض نه ده بيا ئې هم كه څوك ادا كړي نو اُو به شي بلكه د عاقِل بالِغ نارينه د پاره **جُمُعَه** [يعني د **جُمُعې** نمونځ] ادا كول غوره دي. كه نابالِغه [هلك] د جُمعې نمونځ اوكړو نو نفل دي ځكه چه په هغه باندې نمونځ فرض نه دې. (دُرِّ مُختار مع رَدُّ المُحتار ج۳ ص۳۰)

## د ”کران غوثِ اعظم“ د يوولسو حُروفو په نِسبت د جُمُعې د فرض كيدو يوولس شرطونه

۞ په ښار كښ مُقيم كيدل ۞ صِحَّت، يعني په مريض باندې **جُمُعَه** فرض نه ده، د مريض نه مُراد هٰغه دې چه مسجِدِ **جُمُعَه** پورې [يعني چه كوم جُمات كښ د **جُمُعې** نمونځ كيږي هلته] نه شي تللي يا لاړ خو به شي خو مَرَض به ئې زيات شي يا به بيا په ډير وخت كښ ښه كيږي. شيخ فاني [يعني د ډير عُمر كمزورې بُوډا] د مريض په حُكم كښ دې ۞ آزاد كيدل، په غُلام باندې **جُمُعَه** فرض نه ده او د هغه مالِك ئې منع كولې شي ۞ نارينه كيدل ۞ بالِغ كيدل ۞ عاقِل


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کيدل [يعني چه دِماغ ئې صحيح وي]. دا دواړه شرطونه خاص د **جُمُعې** د پاره نه دي بلکه په هر عِبادت کښې عقل او بالِغ کيدل شرط دي ۞ په سترګو بِينا کيدل ۞ په تللو قُدرت لرل ۞ په قيد کښې نه کيدل ۞ د بادشاه يا غل وغيره د يو ظالم يَره هُم نه لرل ۞ باران، يا ګلئ، يا يخني نه کيدل يعني دومره چه د دې خيزونو نه د نُقصان صحيح يَره وي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۲۷۰، ۲۷۲)

په چا چه نمونځ فرض دې خو د يو شرعي عُذر په وجه پرې **جُمُعَه** فرض نه وي، هغوئې ته د **جُمُعې** په ورځ د ماسپښين نمونځ معاف نه دې هغه به ضرور کوي.

## د جُمُعې د نمانځه سُنَّتونه

د **جُمُعې** د نمانځه د پاره په اوَّل وخت کښې تلل، **مِسواك** کول بهترې او سپينې جامې اغوستل، **تيل** او **خوشبُو** لګول او په وړومبي صف کښې کښيناستل مُستَحب دي او **غُسل** کول سُنَّت دي.

(عالمگيرى ج۱ ص۱۴۹، غُنيه ص۵۵۹)

## د جُمُعې د غُسل وخت

**مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ځيني عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي چه د **جُمُعې** د



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

ورځې غُسل د [جُمُعې د] نمانځه د پاره مسنُون [يعني سُنَّت] دې، د جُمُعې د ورځې د پاره نه. لِهٰذا په چا چه د جُمُعې نمونځ نشته د هغوئې د پاره دا غُسل سُنَّت نه دې، ځينې عُلَمائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي چه د جُمُعې غُسل د جُمُعې نمانځه ته نزدې كوئ تر دې چه د هغې په اوداسه د جُمُعې نمونځ اوكړئ خو حق دا دې چه د جُمُعې غُسل وخت د سحر د راختو نه شروع كيږي. (مِراٰة ج٢ص٣٣٤)

معلومه شوه چه زنانه او مسافر وغيره په چا چه د جُمُعې نمونځ واجِب نه دې د هغوئې د پاره د جُمُعې غُسل هم سُنَّت نه دې.

## د جُمُعې غُسل سُنَّتِ غير مُؤَكَّده دې

حضرتِ علّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د جُمُعې د نمانځه د پاره غُسل كول د سُنَّتِ زوائِد نه دي د دې په پريښودو عِتاب (يعني مَلامَتيا) نشته. (رَدُّالمُحتار ج١ ص٣٣٩)

## په خُطبه كښې د نزدې كښيناستلو فضيلت

د حضرتِ سيِّدُنا سَمُرَه بِن جُندَب رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې چه، حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: حاضِر اوسئ د خُطبې په وخت او اِمام ته نزدې اوسئ ځكه چه سړې څومره لرې اوسي هغه هُمره به په جَنَّت كښې وروستو اوسي اگرچه هغه (يعني مسلمان) به جَنَّت ته ضرور داخليږي. (اَبوداؤد شريف ج١ ص٤١٠ حديث١١٠٨)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله دُرودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

## نو د جُمُعې ثواب به نه حاصليږي

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: څوك چه د **جُمُعې** په ورځ [هغه وخت] خبرې اوكړي كله چه اِمام خطبه وركوي نو د هغه مِثال د هٰغه خر په شان دې چه هغه كتابونه راخستي وي [يعني په هغه كتابونه بار وي] او هٰغه وخت چه څوك هغه ته دا اووائي چه "چپ اوسه" نو هغه ته به د **جُمُعې** ثواب نه حاصليږي. (مُسندِ اِمام اَحمد ج١ ص٤٩٤ حديث٢٠٣٣)

## په خاموشئ سره خطبه اوريدل فرض دي

كوم څيزونه چه په نمانځه كښې حرام دي مَثَلًا خوراك څښاك، سلام او د سلام جواب وغيره دا ټول هر څه د خُطبې په حالت كښې هم **حرام** دي تر دې چه **اَمرٌبِالْمعرُوف** [يعني د نيكئ دعوت هم نه شي وركولې]، خو خطِيب **اَمرٌبِالْمعرُوف** (يعني د نيكئ دعوت ور) كولې شي. چه كله خطبه لوَلي نو په ټولو حاضرو خلقو باندې اوريدل او **چپ** [يعني خاموشه] اوسيدل **فرض** دي، كوم خلق چه د اِمام نه لرې دي چه د خطبې آواز نه اوري په هغوئي هُم خاموشه اوسيدل **واجِب** دي كه څوك په بده خبره كولو اووينې نو د لاس يا سر په اشاره باندې ئې منع كولې شي په ژبه **ناجائِز** دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٧٤، دُرِّ مُختار ج٣ ص٣٩)

## خُطبه اوريدونكې دُرود شريف نه شي لوستلې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنِّی)

خطِيب چه د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك واخلي نو حاضر خلق دِ په زړه کښ درود شريف لولي په ژبه باندې دغه وخت کښ د وئيلو اِجازت نشته، هُم دغسې د صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُم په مبارك ذِکر [يعني نومونو اوريدلو] هُغه وخت د رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُم په ژبه د وئيلو اِجازت نشته. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٧٥ دُرِّ مُختار ج٣ ص٤٠)

## خطبهٔ نِکاح اوريدل واجِب دي

د خطبهٔ **جُمُعَه** نه علاوه د نورو خطبو اوريدل هم واجِب دي مَثَلًا د اخترو او د نِکاح خطبه وغيرهُما. (دُرِّ مُختار ج٣ ص٤٠)

## د وړومبي اذان د کيدو سره کاروبار هم ناجائِز

د **وړومبي** اذان د کيدو سره (د جُمُعې د نمانځه د پاره د تللو) کوشش (شروع) کول واجِب دي او بَيْع (يعني اخستل خرڅول) وغيره، د هُغه څيزونو کوم چه د سعی (يعني کوشش) خِلاف وي پريښودل واجِب دي. تر دې چه که په لاره روانه کښ ئې اخستل خرڅول اوکړل نو دا هم ناجائِزه دي او په جُمات کښ اخستل خرڅول خو **سخته ګناه** ده او طعام ئې خوړلو چه د **جُمُعې** د اذان آواز راغي نو که دا انديښنه وي چه که خوري ئې نو د **جُمُعې** نمونځ به تري لاړ شي نو خوراك دِ پريږدي او د **جُمُعې** نمانځه له دِ لاړ شي. د **جُمُعې** نمانځه له دِ په اِطمينان او وقار [يعني په قلاره او د عِزّت په طريقه] لاړ شي.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۷۷۵، عالمگِيري ج۱ ص۱۴۹، دُرِّ مُختار ج۳ ص۴۲)

نن صبا د عِلمِ دِين نه د ناخبرئ دور دې، خلق د نورو عِباداتو په شان د خطبې اوريدلو په شان عظِيم عبادت كښې هم د غَلَطئ كولو په وجه په ډيرو گناهونو كښې اخته كيږي لِهٰذا مَدَني عرض دې چه په هره جُمُعَه دِ خطِيب د اذان نه مخكښې او د خطبې مِنبر ته د ختلو نه مخكښې دا اعلان كوي:

## د "بِسمِ الله" د ووه حروفو په نِسبت د خطبې ووه مَدَني گلونه

۞ په حديثِ پاك كښې دي: "څوك چه د جُمُعې په ورځ د خلقو په څټونو واوښتو هغه د جهنّم طرف ته پُـل جوړ كړو." (ترمِذی ج۲ ص۴۸ حديث۵۱۳) د دې يوه معنىٰ دا ده چه خلق به په هغه د پاسه خيژي او جهنَّم ته به داخليږي. (حاشِيه بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۷۶۱، ۷۶۲)

۞ د خطيب طرف ته مخ كړي كښيناستل سُنَّتِ صحابه دي.

۞ بزرگانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي: خطبه اوريدو ته دِ د اَلتَّحِيَّات په شان كښيني، په اوله خُطبه كښې دِ لاسونه اوتړي او په دويمه كښې دِ په ورنونو لاسونه كيږدي نو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دوه ركعتو ثواب به ئې اوشي.

۞ اَعلىٰ حضرت اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په خُطبه كښې چه د حُضورِ اَقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نوم مبارك واوري نو په زړه كښې دِ دُرُود اووائي ځكه چه په ژبه باندې خاموشي فرض ده.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

(فتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۸ ص۳۶۵)

۞ په ”دُرِّ مُختار“ كښې دي: په خطبه كښې خوراك څښاك كول، خبرې كول اګر چه سُبْحٰنَ الله وئيل، د سلام جواب وركول يا د نيكئ خبره ښودل [يعني خبره كول] **حرام** دي. (دُرِّ مُختار ج۳ ص۳۹)

۞ **اَعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د خطبې [اوريدلو] په حالت كښې ګرځيدل **حرام** دي. تر دې چه عُلَمائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي چه كه په داسې وخت كښې راغې چه خطبه شروع شوې وه نو په جُمات كښې چه كوم ځائ ته رسيدلې دې هُم هغلته دِ اودريږي، مخكښې دِ نه ځي ځكه چه دا به عمل [يعني يو كار] وي او د خُطبې په حال كښې يو عمل [يعني يو كار هم] روا (يعني جائز) نه دې.

(فتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۸ ص۳۳۳)

۞ **اَعلٰی حضرت** رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: په خُطبه كښې كوم طرف ته ځې تاوهلو سره كتل (هم) **حرام** دي. (اَيضاً ص۳۳۴)

## د جُمُعې د اِمامت اَهَمه مسئَله

**يو** ډير ضروري اَمر چه د هغې طرف ته د عوامو بالكل توجُّه نشته هغه دا دې چه **جُمُعَه** د نورو نمونځونو په شان ګڼړلې شي، چه څوك غواړي **جُمُعَه** قائِمه كړي او چه څوك غواړي د **جُمُعې** جَمعه وركوي دا **ناجائِزه** دي ځكه چه **جُمُعَه** قائِمول د بادشاهِ اِسلام يا د هغه د نائِب كار دې. او كوم ځائ چه اِسلامي بادشاهي نه وي هلته چه كوم د



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(یعني شوم) دې. (اَلتَّرغِیب

تولو نه غټ فَقِیه (عالِم) سُنّي صَحیحُ الْعَقِیده وي هغه په اَحکامِ شرعِیَّه جاري کولو کښې د بادشاهِ اِسلام قائِم مقام دې لِهٰذا هم هغه دِ **جُمُعَه** قائمه کړي، بغیر د هغه د اِجازت نه (د **جُمُعې** نمونځ وغیره) نه شي کیدې او که دا هم نه وي نو چه عام خلق څوك اِمام جوړ کړي. چه عالِم وي نو عوام پخپله څوك اِمام نه شي جوړولې او نه دا کیدې شي چه دريې خلور کسان دِ څوك اِمام مقرّر کړي داسې **جُمُعَه** چرې **هُم ثابته نه ده.** (بَہارِ شرِیعَت ج۱ص ۷٦٤)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

### دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د میلاد په جلوسونو وغیره کښې د **مَکتَبَةُ الْمَدِینه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسیم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو ایښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرڅوونکو یا د ماشومانو په ذریعه په خپل چم ګاوَنډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله یوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذریعه د نیکئ دعوت عام کړئ او ډیر ثوابونه اوګټئ.




16-11-2012

## د قیامت په ورځ پښیماذ یا

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قیامت په ورځ به د تولو نه زیات هغه کس پښیمانه وي د چا سره چه په دُنیا کښې د عِلم حاصلولو وَخت وو او هغه عِلم حاصل نه کړو او هغه کس (به هم ډیر زیات پښیمانه وي) چه پخپله ئې عِلم حاصل کړې وو او د هغه [د عِلم] نه نورو خلقو په اوریدلو فائدې اوچتې کړې وې خو هغه ترې پخپله فائده حاصله نه کړه (یعني په علم ئې عمل اُو نه کړو) (تاریخ دمشق لابن عساکر ج٥١ ص ١٣٨ دارالفکر بیروت)


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د اَختر د نمانځه طريقه (حَنَفِي)

شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله پوره اولولئ.
اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې فائِدې به پخپله اووِينئ.

## د دُرود شريف فضِيلت

د دوارِو جهانو سردار مُحَمَّدِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد
په ما باندې د **جُمُعې** په شپه او د **جُمُعې** په ورځ سل
ځله دُرُود شريف اولولي، اللّٰه تَعَالٰی به د هغه سل حاجتونه پوره کوي
اويا د آخِرت او ديرش د دُنيا.

(تارِيخِ دِمَشق لِابنِ عَساكِر ج ٥٤ ص ٣٠١ دار الفكر بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## زړه به ئې ژوندې اوسي

د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دې: چا چه د
(يعني د وړوکي اختر او د غټ اختر په شپه) د ثواب غوښتلو
د پاره قِيام اوکړو (يعني په عِبادت کښې ئې تيره کړه) په هغه ورځ به د
هغه زړه نه مري، په کومه ورځ چه به د خلقو زړونه مړه شي.

(سُنَنِ اِبنِ ماجه ج ٢ ص ٣٦٥ حديث ١٧٨٢ دار المعرفة بيروت)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمُعي په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# جَنَّت واجِب شي

په يو بل مُقام باندې د حضرتِ سيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، فرمائي: خوك چه په **پينځه** شپو كښې شب بيداري اوكړي (يعني په ويښه ئې په عِبادت كښې تيرې كړي) د هغه د پاره جَنَّت **واجِب** شي. د **ذِی الْحِجَّه** شريف اتمه، نهمه او، لَسمه شپه (دغسې درې شپې خو دا شوې) او خلورمه د **عِيدُ الْفِطر** [يعني د وړوكي اختر] شپه او پينځمه د **شَعبانُ الْمُعَظَّم** پينځلَّسمه شپه (يعني شبِ بَراءت).

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٢ ص٩٨ حديث٢)

# د اختر نمانځه له د تللو نه مخكښني سُنَّت

د **حضرتِ** سَيِّدُنا بُرَيده رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه حُضُورِ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د **عِيدُ الْفِطر** [يعني وړوكي اختر] په ورځ څه خوړل بيا به ئې د نمانځه د پاره تشريف وړلو او د **عِيدِ اَضْحٰی** [يعني غټ اختر] په ورځ به ئې [څه] نه خوړل تر څو به چه د [اختر د] نمانځه نه نه وو فارغ شوې. (سُنَنِ تِرمِذی شريف ج٢ ص٧٠ حديث٥٤٢ دارُ الفِكر بيروت) او د "بُخاری" رِوايت د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه دې چه د **عِيدُ الْفِطر** په ورځ به ئې تشريف نه وړلو تر څو به ئې چه يو څو كجورې نه وې خوړلې او هغه به طاق وې.

(بُخاری ج١ ص٣٢٨ حديث٩٥٣ دار الكتب اَلعِلمية بيروت)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

## د اختر د نمانځه د پاره د تلَلو راتلَلو سُنَّتونه

د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُوهُرَیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دي: تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اختر له (یعني د اختر نمانځه له) په یوه لاره تشریف وړلو او په بله لار به ئي بیرته تشریف راوړلو.

(سُنَنِ تِرمِذی شریف ج۲ ص۶۹ حدیث۵۴۱)

## د اختر د نمانځه طریقه (حَنَفِی)

**مخکښې** داسې نِیَّت اوکړئ: "زه نِیَّت کووم دوه رکعته نمونځ د عِیدُ الْفِطَر (یا د عِیدُ الْاَضْحٰی)، سره د شپږو زیاتو تکبیرونو، د پاره د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ، په دې امام پسې" بیا غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکْبَر اووائې او لاسونه د نامه نه لاندې اوتړئ او **ثناء** اولولئ. بیا [دویم ځل] غوږونو ته لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکْبَر اووائې او لاسونه زوړند کړئ. بیا [دریم ځل] غوږونو ته لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکْبَر اووائې او لاسونه زوړند کړئ. بیا [څلورم ځل] غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ او اَللّٰہُ اَکْبَر اووائې او لاسونه اوتړئ. یعني د وړومبې تکبیر نه پس لاس اوتړئ د هغې نه پس ئې په دویم او دریم تکبیر زوړند کړئ او په څلورم تکبیر لاسونه اوتړئ. دا داسې یاد اوساتئ چه کوم ځائ په قِیام کښې د تکبیر نه پس څه لوستل دي هلته لاس تړل دي او چرته چه څه نه دي لوستل هلته لاس زوړندول دي. بیا دِ اِمام تَعَوُّذ او تَسمِیه په قلاره اووائې اواَلْحَمْدُ او


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

سُورت دِ په **جَهُر** (يعني اوچت آواز کښې) اووائي، بيا دِ رُکُوع اوکړي. په دويم رکعَت کښې دِ مخکښې اَلْحَمْدُ او سُورت په **جهُر** اووائي بيا درې ځله غوږونو ته لاس پورته کړئ او [هره پيره] اَللّٰهُ اَكْبَر اولولئ او لاسونه مه تړئ او په څلورم ځل لاسونه مه پورته کوئ او اَللّٰهُ اَکْبَر اووائي او رُکوع ته لاړ شئ او د قاعِدې مطابق نمونځ مکمل کړئ. د هرو دوو تکبيرونو په مينځ کښې د درې "سُبْحٰنَ الله" وئيلو په مِقدار خاموشه اودريدل دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۷۸۱، دُرِّ مُختار ج۳ص۶۱ وغيره)

## د اختر نمونځ په چا واجِب دې؟

د **اخترو** (يعني د عِيدُ الفِطر او د عِيدُ الاَضْحٰى) نمونځ واجِب دې خو په هر چا نه صرف په هغوئي واجِب دې په چا چه **جُمُعَه** واجِب ده. په **اخترو** کښې نه اذان شته او نه اِقامت.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۷۷۹ مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه بابُ المدِينه کراچی، دُرِّ مُختار ج۳ ص۵۱، دار المعرفة بيروت)

## د اختر خطبه سُنَّت ده

د **اخترو** د ادا کولو هُم هغه شرطونه دي کوم چه د **جُمُعې** دي، صرف دومره فرق دې چه په **جُمُعَه** کښې خُطبه شرط ده او په اخترو کښې سُنَّت. د **جُمُعې** خطبه د نمانځه نه **مخکښې** ده او د اخترو [خطبه] د نمانځه نه پس.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۷۷۹، عالمگِيري ج۱ ص۱۵۰)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰى)

## د اختر د نمانځه وخت

د دې دواړو نمونځونو وخت د نمر د ستركې د يوې نيزې د را اوچتيدو نه (يعني د نمر راختو نه ۲۰ مِنَټه پس) د ضَحوهٔ كُبرٰى يعني نِصفُ النَّهارِ شرعى [يعني د نمر د ستركې د سر په برابرې د راتلو] پورې دې خو په عِيدُالفِطر كښې ناوخته كول او عِيدُالاَضحٰى زر كول مُستَحَب دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۷۸۱، دُرِّ مُختار ج۳ ص۶۰)

## كه د اختر د جَمعې په نِيمه كښې شريك شو نو......؟

كه په وړومبي ركعت كښې د اِمام د تكبِيرونو وئيلو نه پس مُقتدي شامِل شو نو هم هغه وخت دِ (د تكبِيرِ تَحرِيمه نه علاوه نور) درې تكبيرونه اووائي اګر كه اِمام قِراءَت شروع كړې وي او صرف درې دِ اووائي اګر كه اِمام د درې نه زيات وئيلي وي او كه د ده د تكبيرونو پوره كولو نه مخكښې اِمام په رُكوع كښې لاړو نو په ولاړه ولاړه دِ ئې نه وائي بلكه د اِمام سره دِ په رُكوع كښې لاړ شي او په رُكوع كښې دِ تكبرونه اووائي او كه [يعني چه دې راغې نو] اِمام په رُكوع كښې وو نو كه غالِب ګُمان لري چه اِمام به په رُكوع كښې لاندې كړې نو په ولاړه ولاړه دِ تكبيرونه اووائي بيا دِ رُكوع ته لاړ شي ګني [يعني كه غالِب ګُمان ئې نه وي نو] اَللّٰهُ اَكبَر دِ اووائي او رُكوع ته دِ لاړ شي او په رُكوع كښې دِ تكبيرونه اووائي بيا كه ده


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه په خلقو کښ ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب)

په رُکوع کښ تکبيرونه نه وو پوره کړي چه اِمام سر پورته کړو نو باقي [تکبيرونه] ساقِط شو (يعني باقي تکبيرونه دِ نه وائي) او که د اِمام د رُکوع نه د سر پورته کولو نه پس [په جَمعه کښ] شامِل شو نو تکبِيرونه دِ نه وائي بلکه چه بيا (د اِمام د سلام ګرځولو نه پس) خپل (د هغه تلي) رَکعت کولو د پاره پاځي نو هٰغه وخت دِ ئې اووائي. او په رُکوع کښ چه د تکبيرونو خبره اوشوه نو په هغې کښ دِ لاسونه نه پورته کوي او که په دويم رکعت کښ شامِل شو نو د اولني رکعت تکبيرونه دِ اوس نه وائي بلکه چه کله د خپل تلي رکعت د پاره اودريږي نو هغه وخت دِ ئې اووائي. د دويم رکعت تکبيرونه که د اِمام سره اوومي نو صحيح ده ګني د هغې د کولو هم هغه تفصِيل دې کوم چه د وړومبي رکعت په باره کښ بيان شو.

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۷۸۲، (دُرِّ مُختار ج ۳ ص٦٤، عالمګِيري ج۱ ص۱۵۱)

## که د اختر نمونځ ترې لاړو نو څه اوکړي؟

**اِمام** [د اختر] نمونځ اوکړو او کوم يو کس پاتې شو يعني هغه يا خو د سره شامِل شوې نه وو يا شامل شوې خو وو خو د هغه نمونځ فاسِد [يعني په څه وجه مات] شو، که بل ځائې ئې موندلې شي نو او دِ ئې کړي ګني (د جَمعې نه بغير) ئې نه شي کولې. آو، بهتره دا ده چه هغه کس دِ د څاښت څلور رکعته نمونځ اوکړي. (دُرِّ مُختار ج۳ ص٦٧)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ځوك چه په ما دَ جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# د اختر د خُطبې اَحكام

د **نمانځه** نه پس دِ اِمام دوه خطبې اوكړي او د **جُمُعې** په خُطبه كښې چه كوم څيزونه سُنَّت دي هغه په دې كښې هُم سُنَّت دي او كوم چه په هغې كښې مكروه دي هغه په دې كښې هم مكروه دي. صرف په دوه خبرو كښې فرق دې يو دا چه د **جُمُعې** د وړومبۍ خُطبې نه **مخكښې** د خطيب ناسته سُنَّت وه او په دې كښې نه كښيناستل سُنَّت دي. بله دا چه په دې كښې د وړومبۍ خُطبې نه **مخكښې** نهه ځله او د دويمې نه **مخكښې** ووه ځله او د مِنبر نه د كوزيدو نه **مخكښې** ١٤ ځله اَللّٰهُ اَكْبَر وئيل سُنَّت دي او په **جُمُعَه** كښې دا نشته.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص ٧٨٣، دُرِّ مُختار ج٣ ص٦٧، عالمگِيري ج١ ص ١٥٠)

# د اختر ٢٠ آدابه

## په اختر كښې دا كارونه مُستَحِب دي:

۞ وِيښته كټ كول (خو زُلفې جوړوئ، انګريزي وِيښته نه) ۞ نُوكان كټ كول ۞ غُسل كول ۞ مِسواك كول (دا د هغې نه علاوه دې كوم چه په اودس كښې كوي) ۞ ښې جامې اغوستل، كه نوې وي نو نوې كښې وِينځلې شوې ۞ خوشبو لګول ۞ ګوتۍ په ګوته كول (چه كله هم ګوتۍ اچوئ نو د دې خبرې خيال ساتئ چه صرف د څلور نيمو ماشو نه د كم وزن د سپينو زرو يوه ګوتۍ اچوئ. د يوې نه زياتې مه اچوئ او په هغه يوه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښ په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښ وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

ګوتئ کښ هم چه غمې صرف يو وي، د يو نه زيات غمي چه نه وي، بغير د غمي نه هم مه اچوئ، د غمي د وزن هيڅ قيد نشته. د سپينو زرو څلې يا د سپينو زرو د بيان کړې وزن وغيره نه علاوه د هر يو قِسم اوسپنې [يعني د سرو زور، تانبې، پيتلو وغيره] ګوتئ يا څلې وغيره نارينه نه شي اچولې) ۞ د سحر نمونځ د محلّې په جُمات کښ کول ۞ د عِيدُ الْفِطْر (يعني د وړوکي اختر) د نمانځه د پاره تللو نه مخکښ يو څو کجورې خوړل، درې، پينځه، ووه، يا زيات و کمې چه طاق وي. که کجورې نه وي نو بل څه خوږ څيز اوخورئ. که د نمانځه نه مخکښ ئې هيڅ هم اُو نه خوړل نو ګناه نه ده خو که د ماسخُتنه پورې ئې څه اُو نه خوړل نو عِتاب (يعني ملامته) به ورکولې شي. ۞ د اختر نمونځ په عِيدګاه کښ ادا کول ۞ عِيدګاه ته پيدل [يعني په خپلو ښپو] تلل ۞ په سوَرلئ باندې هم تللو کښ باك نشته خو چه څوك په پيدل تللو قدرت لرې د هغه د پاره پيدل تلل غوَره دي او په بيرته راتلو کښ په سوَرلئ باندې راتللو کښ باك نشته ۞ د اختر د نمانځه د پاره په يوه لاره تلل او په بله لار بيرته راتلل ۞ د اختر د نمانځه نه مخکښ صَدَقهٔ فِطر ادا کول (غوره خو هُم دا دي خو که د اختر د نمانځه نه مخکښ ئې ادا نه کړې شئ نو د نمانځه نه پس ئې ادا کړئ) ۞ خوشحالي ښکاره کول ۞ په کثرت سره صَدَقه کول ۞ عيدګاه [يا جُمات ته يعني د اختر نمانځه] له په اِطمِينان او وقار [يعني د عِزَّت په انداز کښ] او د نظر ښکته ساتلو سره تلل ۞ په خپل مينځ کښ مبارکي


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولولستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به معاف شي. (کَنۡزُالۡعُمَّال)

وركول ۞ د اختر د نمانځه نه پس مصافَحه (يعني يو بل له لاس وركول) او مُعانَقه (يعني غاړه وركول) څنګه چه عام طور په مسلمانانو كښې رواج دې دا بهتر دي ځكه چه په دې كښې خوشحالي ښكاره كول دي. خو ښكلي اَمرد [يعني بې ګيرې هلك] له غاړه وركول مَحَلِّ فِتنه [يعني د فَساد انديښنه لرونكې كار] دې ۞ د عِيدُالْفِطْر (يعني د وړوكي اختر) نمانځه له د تللو په وخت كښې دِ په لاره په قلاره تكبير وائي او د عِيدُالْاَضْحٰی (يعني د غټ اختر) نمانځه له د تللو په وخت كښې دِ په لاره په اوچت آواز كښې تكبير وائي. تكبير دا دې:

اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْد

**ترجَمه**: الله عَزَّوَجَلَّ د ټولو نه لوئي دې، الله عَزَّوَجَلَّ د ټولو نه لوئي دې، د الله عَزَّوَجَلَّ نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او الله عَزَّوَجَلَّ د ټولو نه لوئي دې، الله عَزَّوَجَلَّ د ټولو نه لوئي دې، او صرف د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره ټول ثنا صِفات دي.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص ٧٧٩ نه ٧٨١، عالمګِيري ج١ ص ١٤٩، ١٥٠ وغيره)

## د غټ اختر يو مُستَحَب

عِيدُالْاَضْحٰی (يعني غټ اختر) په ټولو اَحكامو كښې د عِيدُالْفِطْر (يعني وړوكي اختر) په شان دې. صرف په ځيني خبرو كښې فرق دې، مَثَلًا په دې (يعني غټ اختر) كښې مُستَحَب دا دي چه [د اختر] د نمانځه نه مخكښې هيڅ اُو نه خوري كه قُرباني كوي او كه نه او كه څه ئې اوخوړل نو كراهَت هُم نشته. (عالمګِيري ج١ ص١٥٢ دارُالفِكر بيروت)



www.dawateislami.net

## د "اَللّٰهُ اَکۡبَر" د اَته حُروفو په نِسبت
## د تکبِيرِ تشرِيق ۸ مَدَني ګلونه

۞ د نهم ذُوالحِجَّةِ الحَرام د سحر [د نمانځه] نه د ديارلسم د مازديګره پورې د پينځه واړه وختونو فرض نمونځونه چه په جُمات کښې د مُستَحب جَمعې سره ادا شو په هغې کښې [د سلام ګرځولو نه فوراً پس] يو ځل تکبِير وئيل واجِب دي او درې ځله اَفضل [يعني غوره دي]، دې ته تَکبِيرِ تَشرِيق وائي. او هغه دا دي:

اَللّٰهُ اَكۡبَرُ اَللّٰهُ اَكۡبَرُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكۡبَرُ اَللّٰهُ اَكۡبَرُ وَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ

(بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص ۷۷۹ نه ۷۸۵ ، تنوِيرُ الاَبصار ج۳ ص۷۱)

۞ **تکبِيرِ تشرِيق د سلام ګرځولو نه فوراً پس وئيل واجِب دي.** يعني تر څو ئې چه داسې فِعل [يعني کار] نه وي کړې چه په هغې د نمانځه بِنا [يعني جاري ساتل] نه شي کولې مَثَلًا که د جُمات نه بهر شو يا ئې قصداً اودس مات کړو يا ئې که په هيره هُم خبره اوکړه نو تکبِير ساقِط شو [يعني د تکبير د وئيلو موقع لاړه] او که بې اِراده ئې اودس مات شو نو بيا دِ [تکبِير] اووائي. (دُرِّمُختار وَرَدُّالمُحتار ج۳ ص۷۳ دارُالمَعرفة بيروت)

۞ **تکبِيرِ تشرِيق** په هغه واجِب دې څوك چه په ښار کښې مُقِيم[13] وي يا چه څوك د هٰغه مُقِيم اِقتِدا [يعني په هغه پسې نمونځ] اوکړي. هغه

[13] مُقِيم هٰغه دې څوك چه په يو ځائ کښې د پينځلَّسو يا زياتو شپو تيرولو نِيَّت اوکړي.



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

اِقتِدا كولو والا كه مسافر وي او كه د كلي اوسيدونكې وي. او كه د هغه اِقتِدا اُو نه كړي نو په هغوئي (يعني په مسافر يا د كلي په اوسيدونكي [تكبيرِ تشريق وئيل]) واجِب نه دي. (دُرِّ مُختار ج٣ ص٧٤)

۞ مُقِيم كه د مسافرِ اِقتِدا اوكړه نو په مُقِيم باندې [تكبيرِ تشريق وئيل] واجِب دي اګر چه په هغه مسافر اِمام باندې واجب نه دې.

(دُرِّ مُختار وَ رَدُّ الْمُحتار ج٣ ص٧٤)

۞ د نفلو، سُنَّتو او وِترو نه پس تكبِير واجِب نه دې.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ص٧٨٥، رَدُّالْمُحْتَار ج٣ ص٧٣)

۞ د جُمُعې [د نمانځه] نه پس واجِب دي او د (غټ) اختر د نمانځه نه پس دِ ئي هُم وائي. (اَيضاً)

۞ په مَسبُوق (يعني د چا نه چه يو يا زيات ركعتونه تلي وي په هغه) باندې تكبِير واجِب دي خو چه كله خپل سلام اوګرځوي هغه وخت دِ ئي اووائي. (رَدُّالْمُحْتَار ج٣ص٧٦)

۞ په مُنفَرِد (يعني يواځې نمونځ كولو والا) باندې واجِب نه دې (اَلجَوهَرَةُ النَّيِّرة ص١٢٢) خو اودِ ئي وائي ځكه چه د صاحِبَينو (يعني د اِمام اَبُو يُوسُف او اِمام مُحَمّد رَحِمَهُمَا اللّٰهُ تَعَالٰى) په نِزد په هغه هُم واجِب دې.

(بَهارِ شرِيعَت ج١ ص٧٨٦)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اُو نه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

(د اَختر د فضائِلو وغیره د تفصِيلي معلوماتو د پاره د فیضانِ سُنَّت د باب "فیضانِ رَمَضان" نه فیضانِ عِیدُ الْفِطْر اولولئ)

اے زمونږه خوږه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږ ته د اختر مُبارك خوشحالئ د سُنَّت مطابق د کولو توفِيق راکړې. او مونږ ته د حج مُبارك کولو او د مدینې مُنَوَّرې او د مدینې د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لیدلو حقیقي اختر بیا بیا رانصیب کړې.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تری جبکہ دید ہو گی جبھی میری عید ہو گی
مِرے خواب میں تم آنا مَدَنی مدینے والے

زما به هله غټ اختر وي، چه دیدار اوکړمه ستاسو
زما په خوب کښې تشریف راوړئ، مَدَني خوږه سرداره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د میلاد په جلوسونو وغیره کښې د **مَکتَبَةُ الْمَدِينه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسیم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو ایښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرخوونکو یا د ماشومانو په ذریعه په خپل چم ګاوَنډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله یوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَوَلو په ذریعه د نیکئ دعوت عام کړئ او ډیر ثوابونه اوګټئ.


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# مدَنی وصِيّت نامه

## (او ورسره د كفن دفن احكام)

شيطان كه هرڅومره ناراستي دروليږي خو دا رِساله پوره اولولئ إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دُنيا او د آخرت بې حسابه ګټه به حاصله كړئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د حُضُورِ اكرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې:
"په ما باندې دُرُود شريف لولئ، اللّٰه تعالٰى به په تاسو رحمت راليږي."
(الكامِل لِابنِ عدى ج ۵ ص ۵۰۵)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى اِحسانه دا وخت د سحر د نمانځه نه پس په **مسجِدِ نَبَوى شريف** كښې ناست يم او د "اَرْبَعِيْنَ وَصَايَا مِنَ الْمَدِيْنَةِ الْمُنَوَّرَة" (يعني د مَدِينَهٔ مُنَوَّرَه نه څلويښت وصيتونه) د ليكلو سعادت حاصلووم، آه! آه! آه

**نن** زما په مَدِينَهٔ مُنَوَّرَه كښې د حاضرئ آخري سحر دې، نمر د **خوږ آقا** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په روضه مباركه باندې د سلام عرض كولو د پاره حاضريدو والا دې، آه! كه د نن شپې پورې مې په **جَنَّتُ الْبَقِيْع** كښې د خښيدو صورت جوړ نه شو نو د مدينې منورې نه په جُدائي به **مجبوره** شم. د سترګو نه مې اوښكې بهيږي، او زړه مې بې قراره دې،


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اُو نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

هائے!

افسوس چند گھڑیاں طَیبہ کی رَہ گئ ہیں
دل میں جُدائی کا غم طوفاں مچا رہا ہے

د شعر ترجَمه: خو ساعته مې دي پاتې په طيبه کښې
غم د جُدائې مې په زړه راوِستو طوفان

آه! زړه مې د غم نه ډك دې، د مدينې د جُدا كيدو فِكر ډير غم كړې يم، د شونډو مُسكا مې ختمه شوې ده، آه! نِزدې ده چه مدينه به را نه زړه به مې مات شي، آه! د مدينې نه وطن ته د روانيدو ساعتونه داسې خفه كوونكې وي لكه،

**يو د پئيو ماشوم چه چا د هغه د مور د غيږې نه په زور اغستې وي او هغه په ژړا ژړا په ډير زيات ارمان بيا بيا مخ ور اړوي او خپلې مور ته ګوري چه شايد مور به مې يو ځل بيا ځان ته اوبلي.... او په ډيره مينه به مې په غيږه كښې پټ كړي.....خپلې سينې ته به مې جوخت كړي .....او په ټپولو ټپولو به مې د مينې نه ډكه غيږه كښې په خوارږه خوب اوده كړي...... آه!**

میں شِکَستہ دِل لئے بوجَھل قدم رکھتا ہوا
چل پڑا ہوں یا شَہَنشاہِ مدینہ اَلوَداع

د شعر ترجَمه: په ورو ورو شومه روان زه په ډير مات زړه
لاړمه زه لاړمه اے شَهَنشاهِ مدينه اَلوَدَاع

اوس په مات زړه "خلوينبت وصيتونه" عرض كووم، زما دا وصيتونه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

د ”دعوتِ اسلامي“ سره تَعَلُّق لرونکو ټولو اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو ته [د چا د پاره چه کوم کوم قابِلِ عَمَل دي د هغوئي طرف ته] هم دي. او زما اولاد او د کور نور کسان دِ هم په دې وصيتونو باندې ضرور توجه ساتي.

کاش چه! ما ګنهګار ته په مدينه منَوَّره کښې، او هغه هم د شين شين ګنبد په سوري کښې، او اے کاش چه! د سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِيدار په نظارو کښې شهادت رانصيب شي او په جَنَّتُ الْبَقِيْع کښې راته دوه ګزه زمکه رانصيب شي که داسي اوشي نو [بيا خو] د دوارو جهانو خوش بختي او خوش نصيبي ده، ګني [يعني که داسې اُو نه شو نو] آه! بيا مې چه کوم ځائ په نصيب کښې وو ......

﴿۱﴾ چه د ځنکدن په حالت کښې مې اووِينئ نو د هغه وخت هر يو کار د سنّت مطابق اوکړئ، که هغه وخت کيدې شو نو په ښئ ډډه مې خملوئ او مخ مې قبلې ته کړئ. سُورة يٰسين شريف هم را ته واوروئ او کلمهٔ طَيِّبه را ته د ساه ختلو پورې مسلسل په اوچت آواز وائې.

﴿۲﴾ زما د رُوح وتلو نه پس هم په هره هره مُعامَله کښې د سُنّتو لحاظ اوساتئ، مثَلاً په لَـمبولو او ښخولو وغيره کښې تعجيل (يعني تادي کول پکار دي) او د زياتو خلقو جمع کولو په شوق کښې ناوخته کول سُنَّت نه دي. په بهارِشريعت ج۱ حصه۴ کښې بيان شوي احکامو


www.dawateislami.net

باندې دِ عمل اوکړې شي. خاص طور تاکيد او سخت تاکيد کووم چه نوحه [يعني په چغو چغو ژړا، خپل ځان وَهل او خپل وِيښته شوکول، او د مړي د دروغو صِفَتونه] دِ بالکل اُو نه کړې شي ځکه چه دا حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې.

﴿۳﴾ د قبر ناپ چه د سُنَّت مطابق وي او لَـحد جوړ کړئ ځکه چه سُنّت[14] دې.

﴿٤﴾ د قبر دننه ديوالونه وغيره چه د کچه خاورې وي، په اور پخې شوې خښتې مه استعمالوئ. که دننه پکښې د پخو خښتو ديوال لګول ضروري وي نو دننه حصه دِ په خټه باندې ښه ليو کړې شي.

﴿٥﴾ که کيدې شو نو يٰسين شريف، سُوْرَةُ الْمُلْك او درودِ تاج دِ اولوستې شي او د قبر دننه طرف ته [د ګټو تختې يا سليپونه وغيره] دِ پرې دم کړې شي.

﴿٦﴾ کفنِ مَسنُون دِ د سګِ مدينه عُفِیَ عَنْهُ په خپلو روپو واخستې شي. د حالتِ فَقر په صورت کښې دِ د کوم يو صحيحُ العَقيده سُنّي په حلال

[14] د قبر دوه قسمونه دي: (۱) صندوق [يعني شَقي] (۲) لَـحَد. د لَـحَد جوړولو طريقه دا ده چه د قبر کنستلو نه پس د مړي اينبودو د پاره د قبلې طرف ته ځائ کنستل کيږي. لَـحَد سُنّت دې که زمکه د دې قابله وي نو دا جوړ کړئ او که زمکه نرمه وي نو په صندوق جوړولو کښې باك نشته. کيدې شي چه د قبر کنستلو والا مشوره درکړې چه سليپونه په دننه حصّه کښې په ډډه اولګوئ خو د هغه خبره مه منئ.



www.dawateislami.net

مال واخستې شي.

﴿۷﴾ غُسل دِ د کيرې والا، باعِمامه او پابندِ سُنّت اسلامي ورونړه د سنّت مطابق راکړي (ساداتِ کرام که ګنده بدن له غُسل راکړي نو سګِ مدينه دا د خپل ځان د پاره بې ادبي ګنړي)

﴿۸﴾ د غُسل په دوارن کښې دِ د سترِ عورت مکمل حِفاظت اوکړې شي که د نامه نه واخله د زنګونانو پورې د نسواري رنګ يا د بل رنګ دوه پيړې خادرې واچولې شي نو غالباً د ستر ځليدو خطره به ختمه شي. خو اوبه د ظاهري بدن په هره هره حِصّه بلکه د هر هر وِيښته د جرړې نه واخله د څوکې پورې بهيدل لازمي دي.

﴿۹﴾ کفن که په آبِ زم زم او آبِ مدينه [يعني د مدينې منوّرې په اوبو] بلکه په دواړو اوبو لوند کړې شوې وي نو د سعادت خبره ده. کاش! څوك سَيِّد صاحِب را ته شنه عِمامه شريف په سر کړي[15].

﴿۱۰﴾ مړي ته د غُسل نه پس، مخ په کفن کښې د پټولو نه مخکښې، اوّل په تندی باندې د شهادت په ګوته بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اوليکئ.

﴿۱۱﴾ هم دغسې په سينه باندې: لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ اوليکئ.

---

[15] صِرف د عُلماء او مشائخ [يعني پير صاحِبان] د پټکي سره خخولې شي، عام خلق د عمامې سره خخول منع دي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمُعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

﴿۱۲﴾ د زړه په ځائ باندې: **يَارَسُوْلَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليكئ.

﴿۱۳﴾ د نوم او د سينې په مينځنئ حصه باندې راته **ياغوثِ اعظم دستګير** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه **يا اِمام ابوحنيفه** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه **يا امام احمد رضا** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه **يا شيخ ضياء الدين** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د شهادت په ګوته اوليكئ.

﴿۱۴﴾ او د نامه د بره نه واخله د سره پورې دِ راته په ټوله حِصّه باندې (د شا نه علاوه) مدينه مدينه اوليكلې شي. **ياد ساتئ!** دا هر څه په سياهئ نه صرف د شهادت په ګوته ليكل دي او كاش چه څوك سَيِّد صاحِب ئې اوليكي.

﴿۱۵﴾ په دواړو سترګو دِ راته د **مدينې منوَّرې** د كجورو هډوكي كيښودې شي.

﴿۱۶﴾ د جنازې د وړلو په وخت كښې دِ هم د ټولو سُنَّتو خيال اوساتلې شي.

﴿۱۷﴾ د جنازې په جلوس كښې دِ ټول اسلامي ورونړه په يو شريكه د امامِ اهلِ سُنّت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه قصيدهٔ دُرُود "كعبے كے بدرالدجىٰ تم په كروڑوں درود" لولي. (د دې نه علاوه دِ هم نعتونه وغيره وائې خو صرف او صرف د عُلمائے اهلِ سنّت كلامونه دِ وائي)

﴿۱۸﴾ د جنازې [اِمامت] دِ يو **صحيحُ العقيده** سُنِّي عالِم باعمل يا د سُنَّتو پابند اسلامي ورور يا كه اَهل وي نو زما په اولاد كښې دِ ئې څوك اوكړي خو خواهش مې دا دې چه ساداتو [يعني سيّدانو] ته دِ ترجيح وركړې شي.

﴿۱۹﴾ كاش چه! ساداتِ كرام مې په خپلو د رحمَت نه ډكو لاسونو قبر ته كوز كړي او **اَرْحَمَ الرّٰحِمِين** ته مې اوسپاري.

﴿۲۰﴾ مخې ته د قبلې طرف ته په ديوال كښې يو تاخ جوړ كړئ او په


www.dawateislami.net

هغې كښې د يو پابندِ سنّت اسلامي ورور د لاس ليكلې شوې عهدنامه، نقشِ نعل شريف، د شين ګنبد شريف نقشه، شجره شريف، نقشِ هركاره وغيره تبرُّكات كيږدئ.

﴿۲۱﴾ كه په جَنَّتُ الْبَقِيع كښې ځائ نصيب شي نو خوش قسمتي به مې وي! ګني د يو وَلِیُّ الله په خوا كښې، كه دا هم نه شي كيدې نو كوم ځائ چه اسلامي ورونړه اوغواړي هلته مې دِ خخ كړي خو د غصب [يعني د قبضې] په ځائ كښې مې مه خخوئ ځكه چه حرام دي.

﴿۲۲﴾ د قبر په خوا كښې مې اذان اوكړئ.

﴿۲۳﴾ كاش چه! يو سَيِّد صاحِب را ته تلقين اوفرمائي[16].

---

16 د **تلقين فضيلت**: د سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: چه كله ستاسو يو مسلمان ورور مړ شي او په هغه خاوره واچولې شي نو په تاسو كښې دِ يو كس د قبر سر طرف ته اودريږي او اُو دِ وائي: يافُلان اِبنِ فلانه [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به واوري او جواب به نه وركوي. بيا دِ اووائي: يافُلان اِبنِ فلانه [ يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به سم كښيني. بيا دِ اووائي: يافُلان اِبنِ فلانه [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به اووائي: ”مونږ ته ارشاد اوكړه اللّٰـه تعالٰـى دِ په تا رحم اوفرمائي.“ خو تاسو ته د هغه د وئيلو خبر نه كيږي. بيا دِ اووائي: اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نَبِيًّا وَّ بِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا. ترجَمه: ”ته هُغه ياد كړه په كومه چه ته د دُنيا نه اووتلې يعني دا ګواهي چه د اللّٰـه نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او مُحَمَّد صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسُول دې. او دا چه ته د اللّٰـه تعالٰـى په ربّ كيدو او د اسلام په دِين كيدو او د مُحَمَّد صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نبى كيدو او د قرآن په امام كيدو باندې راضي وې.“ مُنكَر نكِير [دا دوه فرښتې دي چه د مړي نه درې سوالونه كوي، دوئي] به د يوبل لاس اونيسي او وائي به راځئ چه ځو مونږه د هغه خوا ته ولې كښينو چا ته چه خلقو د هغه حُجَّت [يعني د سوالونو جوابونه] زده كړي دي. په دې باندې چا د سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې عرض اوكړو: كه د هغه د مور نوم معلوم نه وي؟ اوئي فرمائيل: د حَوَّا (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا) طرف ته دِ نسبت اوكړي. (طبرانی کبیر ج۸ ص۲۵۰ حديث ۷۹۷۹) **ياد ساتئ!** د فُلان اِبنِ فلانه [يعني فلانيه د فلانئ ځويه] په ځائ د مړي او د هغه د مور نوم اخلئ، مَثَلاً يا محمد اِلياس بن اَمِينه. كه د مړي د مور نوم معلوم نه وي نو د مور د نوم په ځائ د حَوَّا (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا) نوم اخلئ. تلقين صِرف په عربئ كښې لولئ.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدی)

﴿۲۴﴾ كه كيدې شي نو زما سره مَحَبَّت كوونكي [اسلامي وروڼه] دِ زما د خخولو نه پس د دولسو ورځو پورې، كه دا نه شي كيدې نو كم نه كم د دولسو ګينټو پورې زما د قبر نه ګير چاپيره كښيني او په ذِكر و دُرُود او تِلاوت او نعت شريف [لوستلو] دِ زما زړه خوشحالوي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ تعالٰی په نوي ځائ كښې به مې زړه اولګي په دې دوران كښې هم او هميشه د جَمعې د نمونځ اهتِمام كوئ.

﴿۲۵﴾ زما په ذِمَّه كه [د چا] قرض وغيره وي نو زما د مال نه او كه زما مال نه وي نو درخواست دې چه كه زما په اولاد كښې څوك ژوندي وي نو هغه يا بل اسلامي ورور دِ ئې احساناً د خپل مال نه ادا كړي. اللّٰه تعالٰی به اجرِ عظيم دركړي. (په مختلفو اجتماعاتو كښې دِ اعلان اوكړې شي كه [زما د لاسه] د چا هم زړه خفه شوې وي يا ئې حق ضائع شوې وي هغه دِ ما يعني محمد اِلياس عطّار قادري مُعاف كړي، كه قرض وغيره وي نو فوراً دِ وارثانو ته رجوع اوكړي يا دِ ئې مُعاف كړي)

﴿۲۶﴾ ما ته ډير ډير ايصالِ ثواب كوئ او د بخښنې دُعاګانې را ته كوئ نو دا به ستاسو احسانِ عظيم وي.

﴿۲۷﴾ تول په مسلكِ اعلٰـى حضرت يعنى مذهبِ اهلِ سُنَّت باندې د اِمامِ اَهلِ سُنَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د صحيح اسلامي تعليماتو مطابق قائم اوسئ.


www.dawateislami.net

﴿۲۸﴾ د بدمذهبو د صُحبت نه په ميلونو لرې اوسئ ځکه چه د هغوئي صحبت په خاتمه بِالخير کښې غټ رکاوټ دې او د آخرت د بربادۍ سبب دې.

﴿۲۹﴾ د خوږ خوږ نبـی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَحَبَّت او سُنّتو باندې کلک قائم اوسئ.

﴿۳۰﴾ د پينځه وخته نمونځ ادا کولو، د رَمَضانُ المُبارك د روژو نيولو، د زکٰوة ادا کولو، د حج وغيره فرائِضو (او د نورو واجباتو او سُنّتو) په مُعامَله کښې د هيڅ قِسمه کوتاهي مه کوئ.

﴿۳۱﴾ **وصِيَّت ضروری وصِيَّت**: د دعوتِ اسلامي د مرکزی مجلس شورٰی هر دم وفادار اوسئ، د دې هر رُکن او د خپل هر نګران د هر هٰغه حکم اطاعت کوئ کوم چه د شريعت مطابق وي، د شُورٰی يا د دعوتِ اسلامي د هر يو ذِمّه دار بې اجازَتِ شرعی مخالَفَت کوونکو نه زه سخت خفه يم، اګر که هغه زما ډير نِزدې عزيز هم وي.

﴿۳۲﴾ هر اسلامي ورور دِ په هفته کښې کم نه کم يو ځل د نيکۍ د دعوت په علاقائي دوره کښې د اوّل نه د آخِره پورې شريك کيږي او هره مياشت دِ کم نه کم د درې ورځو او په هرو دولسو مياشتو کښې د يوې مياشتې [په مَدني قافله کښې سفر کوي] او په ژوند کښې دِ يَکمُشت [يعني په يوځل] کم نه کم د دولسو مياشتو د پاره



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِی)

په مَدَنی قافِله کښې سفر اوکړي. هر اسلامي ورور او اسلامي خور دِ په اِستِقامت سره د خپل کردار د اصلاح کولو د پاره هره ورځ **فِکرِمدینه** کوي او د "مدَنی انعاماتو" رساله دِ ډکوي او هره میاشت دِ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوي.

﴿۳۳﴾ د نبی کریم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **مَحَبَّت** او د سُنّت پیغام په دُنیا کښې مسلسل عاموئ.

﴿۳٤﴾ د بدعقیدګئ او بد عملئ او د دُنیاوي مال د بې ځائیه **مَحَبّت**، د مالِ حرام او د ناجائزه فیش وغیره خلاف خپل کوشش جاري ساتئ. په ښو اخلاقو او مَدَنی مِینه **محبَّت** د نیکئ دعوت خوروئ.

﴿۳٥﴾ غُصّه او دَګل رټل بالکل مه کوئ ګني د دِین کار کول به ګران شي.

﴿۳٦﴾ زما د لیکلي شوو کتابونو او زما د بیان د کیستهو نه زما وارثانو ته د دُنیا د دولت ګټلو نه د بچ کیدو مدَنی عَرَض دې.

﴿۳۷﴾ زما د "میراث" وغیره په مُعامَله کښې دِ د شریعت په حکم عمل اوکړې شي.

﴿۳۸﴾ ما ته چه څوك کنزلې اوکړې، ردې بدې اووائې، زخمي مې کړي یا مې په هره طریقه د زړه خفه کولو سبب جوړ شي ما هغه [ټول] د **اللّٰه تعالٰی** د رضا د پاره د مخکښې نه مُعاف کړي دي.

﴿۳۹﴾ ما ته تکلیف راکوونکو نه دِ هیڅ څوك بدله نه اخلي.


www.dawateislami.net

﴿۴۰﴾ فرض کړئ که څوك ما شهيد هم کړي نو زما د طرف نه هغه ته زما حقوق مُعاف دي. وارثانو ته هم زما درخواست دې چه هغه ته دِ خپل حق مُعاف کړي. که د **سرکارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت په برَکت په **محشر** کښې خاص کرَم اوشو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ تعالٰی خپل قاتِل يعني څوك چه ما شهيد کړي هغه به هم جَنَّت ته د ځان سره بوځم شرط دا دې چه د هغه خاتِمه په ايمان باندې شوې وي. (که زه شهيد کړې شم نو د هغې په وجه دِ د هيڅ قِسمه هنګامې او هړتالونه اُو نه کړې شي. که ''هړتال'' د دې نوم وي چه په زور کاروبار بند کړې شي، دُکانونه او ګاډې په کانړو اوويشتې شي وغيره نو يو مُفتِئ اسلام هم د بندګانو داسې حق تلفئ کولو ته جائِز نه شي وئيلې، داسې هړتال حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې کار دې.) کاش چه! د ګناهونو بخښونکې خدائے غفّار عَزَّوَجَلَّ! ما ګنهګار د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر مُعاف کړي. اے زما خوږه خوږه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! چه تر څو ژوندې يم په عشقِ رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې مې ورك لرې، [او يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه ترڅو ژوندې يم] چه مدينه يادووم، او د نيکئ د دعوت د پاره کوشش کووم، ستا د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شفاعت مې نصيب کړې او بې حسابه مې اوبخښې. او په جَنَّتُ الفردوس کښې د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړې. آه! کاش! چه هر وخت د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نظارو



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

کښې ورك اوسم. اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خپل حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې بيشميره دُرُود و سلام اوليږې، او د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول اُمّت بخښنه اوکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یاالٰہی! جب رضا خوابِ گراں سے سر اُٹھائے
دولتِ بَیدارِ عِشقِ مصطفٰے کا ساتھ ہو

د شعر ترجمه: يا اِلٰهي چه د قيامت په ورځ رضا د سخت خوب نه رابيدار شي نو چه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِشق ورسره ملګرې لرې.



طالبِ غمِ مدینہ
بقیع و مغفرت و
بے حساب
جنّت الفردوس

10 جمادی الاُولٰی 1434ھ
23-3-2013

"مَدَنی وصِيّت نامه" اوّل ځل مې په مُحَرَّمُ الحَرَام ۱۴۱۱ھ مطابق ۱۹۹۰ء کښې د مدينهٔ مُنَوَّره نه جارې کړې وه بيا مې پکښې کله کله لږ ډير بدلون کړې دې، اوس مې څه د نور بدلون سره حاضره کړې ده.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وصيَّت د بخښنې سبب

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "خوك چه د وصِيَّت کولو نه پس مړ شو هغه په سمه لار او په سُنّت باندې وفات شو او د هغه مرګ په تقوٰی او شهادت اوشو او په دې حالت کښې مړ شو چه د هغه بخښنه اوشوه." (ابنِ ماجه ج ۳ ص ۳۰۴ حديث ۲۷۰۱)



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانی)

## د كفن دفن طريقه

### د نارينه مسنون [يعني سُنَّت] كفن

(١)غټ خادر (٢)اِزار [يعني لَنګ] (٣) قميص

### د زنانه مسنون [يعني سُنَّت] كفن

**(١)غټ خادر (٢) اِزار [يعني لَنګ] (٣) قميص (٤) سينه بند (٥) لُوپټه.**

خُنثٰی مشكِل [يعني هُغه هيجړا چه په هغه كښې د نر او ښځې دواړو نښې وي او دا نه معلوميږي چه دا ښځه ده او كه نر، هغه] ته دِ د زنانه په شان د پينځؤ ټوټو كفن واغوستې شي خو د كُسُم [يو قِسم ګل چه كپړې پرې رنګ كوي] يا د زعفران رنګ كړې شوې او وريښمينه كفن هغه [يعنې خُنثٰی مُشكل] ته وراغوستل ناجائز دي.

(مُلَخّص از بهارِ شريعت ج١ ص ٨١٧، ٨١٩، عالمګيری ج١ ص ١٦٠، ١٦١)

## د كفن تفصيل

﴿١﴾ **غټ خادر**: يعني د مړي د اوګدوالي نه دومره زيات چه دواړه طرف ته اوتړلې شي. ﴿٢﴾ **اِزار**: (يعني لنګ) د سر نه واخله د ښپو پورې يعني د غټ خادر نه دومره وړوكې خومره چه د تړلو د پاره زيات وو. ﴿٣﴾ **قميص**: د څټ نه واخله د زنګونانو د لاندې پورې او چه دا مخكښې او شاته دواړه طرف ته برابر وي او په دې كښې به


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

ځاقونه او لستونړی نه وي، د نارینه قمیص په اوګو اوځیرئ او د زنانه د پاره ئې د سینې طرف ته [اوځیرئ] ﴿٤﴾ **سینه بند**: د سینې نه د نامه پورې او بهتره دا ده چه د ورنونو پورې وي[17].

(مُلَخّص از بهارِ شریعت ج ۱ص ۸۱۸)

[﴿٥﴾ لُوپټه: د دې اوګدوالې د شا د نیمې د لاندې نه واخله د سینې د ښکته پورې او پلن والې ئې د یو غوږ د نرمې حِصّې نه د بل غوږ د نرمې حِصّې پورې پکار دې.

## مړي ته د غُسل ورکولو طریقه

اګربتۍ یا سپیلني بل کړئ، پینځه یا ووه ځله ئې تختې ته لُوګي ورکړئ یعنې دومره پیرې ئې د تختې نه تاؤ کړئ، په تخته باندې مړي داسې څملوئ څنګه چه ئې په قبر کښې څملوې، د نامه نه واخله د زنګونانو سره ئې په یو ټوټه پټ کړئ. (نن صبا پرې د غُسل په دوران کښې سپینه کپړا اچوي، هغه چه لـمده شي نو د مړي ستر [پټکښې ښکاري او د هغه] بې پردګي کیږي لِهٰذا **نسواري** یا د بل رنګ پیړه کپړه چه د لـمدیدو سره ئې ستر نه ښکاري، کپړه که دوه ځله راغبرګه کړئ نو غوره ده) بیا دِ غُسل ورکوونکې د خپل لاس نه کپړه راتاو کړي او اوّل دِ ورله دواړه

---

17 عام طور تیار کفن اخستلې کیږي، کیدې شي چه هغه د مړي د اوګدوالې په حساب د سُنّت مطابق سائز نه وي، دا هم کیدې شي چه دومره زیات وي چه په اِسراف کښې راشي، لِهٰذا احتیاط په دې کښې دې چه د تان نه دِ د ضرورت مطابق کپړا کټ کړې شي.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

طرف ته استنجاء اوکړي (يعني په اوبو دِ ئې اووِينځي) بيا دِ ورله د نمانځه په شان اودس اوکړي يعني درې ځله دِ ورله مخ [اووِينځي] بيا د ورله د څنګلو سره دواړه لاسونه درې درې ځله اووِينځي، بيا دِ ورله د سر مسح اوکړي، بيا دِ ورله درې ځله دواړه ښپې اووِينځي. د مړي په اوداسه کښې اول درې ځله لاسونه د ګيټو پورې وِينځل، خُله وِينځل او په پوزه کښې اوبه اچول نشته، البته د مالوچو پوسنکې دِ لُوند کړي او په غاښونو، ورو، شونډو او سپيږمو [يعني د پوزې په سوررو] پورې دِ ئې ورله راښکاږي. بيا دِ ورله د سر يا د ګيرې ويښته ئې که وي، اووِينځي. بيا ئې په ګڅه ډډه څملوئ او د بيرې د پاڼړو خوټکيدلې اوبه (چه ترمې شوي وي) او که دا نه وي نو خالصې ترمې اوبه پرې د سر نه د ښپو پورې اوبهيوئ چه تختې ته اورسيږي. بيا ئې په ښئ ډډه کړئ او هم هغه شان اوکړئ بيا ئې کښينوئ او په نرمئ ئې د خيټې په لاندينئ حصّه لاس راښکاږئ او که څه ترې اوځي نو او ئې وِينځئ. په دويم ځل د اودس او غسل ورکولو حاجت نشته بيا پرې د سر نه واخله د ښپو پورې د کافورو اوبه اوبهيوئ. بيا ورله په يوه پاکه کپړه بدن په قلاره قلاره اوچ کړئ. يو ځل په ټول بدن باندې اوبه بهيول فرض دي او درې ځله سُنَّت دي.

(د مړي په غُسل کښې ډيرې زياتې اوبه مه بهيوئ، په آخِرت کښې به د يو يو څاڅکي حساب کيږي .دا ياد اوساتئ).


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## نارینه مړي ته د کفن اغوستولو طریقه

کفن ته یو ځل یا درې یا پینځه یا ووه ځله [د اګربتۍ یا سپیلنې] لوګې اوکړئ. بیا ئې داسې خور کړئ چه اوّل غټ څادر په هغې د پاسه لنګ [یعني وړوکې څادر] او د هغې د پاسه قمیص کیږدئ.
بیا مړې په هغې څملوئ او [د کفن] قمیص ورواغوندئ، بیا ورته په ږیره (او که ږیره نه وي نو په زنه) او په ټول بدن باندې خوشبو اومږئ، په هغه اندامونو کوم چه په سجده کښې لګي یعني په تندې، پوزه او لاسونو ورله کافور اولګوئ. بیا پرې لَنګ [یعني وړوکې څادر] د ګڅ طرف نه او بیا د ښي طرف نه راتاو کړئ. بیا په آخِره کښې پرې غټ څادر اول د ګڅ طرف نه او بیا د ښي طرف نه راتاو کړئ چه ښې طرف ئې د پاسه راتاو شي او د سر او ښپو طرف ته ئې (دواړو سرونه) اوتړئ.

## زنانه ته د کَفَن اغوستلو طریقه

[د کفن] قمیص ورواغوندئ او د هغې ویښته دوه ځائیه کړئ او د قمیص د پاسه ئې ورته په سینه واچوئ او [د کفن] لوپټه ورله د نیمې شا نه لاندې پورې خوره کړئ او په سر د پاسه ئې راولئ او په مخ ئې ورله د نقاب په شان واچوئ چه [ښکته] په سینه باندې خوره وي. د دې اوګدوالې د شا د نیمې نه د لاندې پورې او پلن والې ئې د یو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللّٰہُتَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

غوړ د نرمې حِصّې نه د بل غوړ د نرمې حِصّې پورې پکار دې. ځينې خلق لوېټه داسې ور په سر کوي څنګه چه ئې زنانه په ژوندينې په سر کوي دا د سُنّتو خِلاف دي. بيا د دستور [يعني د پاس ښودلې شوي طريقې] مطابق پرې لَنګ [يعني وړوکې څادر] او غټ څادر راتاو کړئ. بيا په آخِره کښې ورله سِينه بند د سينې د برې حِصّې نه د ورنونو پورې راولئ او په څه مزې ئې اوتړئ.[18]

## د جنازې نه پس خخول

﴿۱﴾ جنازه د قبر نه د قبلې طرف ته اېښودل مُستحب دي چه مړې د قبلې د طرف نه قبر ته کوز کړې شي. د قبر د کوز سر نه ئې داسې مه راوړئ چه سر ئې قبر ته مخکښې شي[19]. (بَہارِ شرِیعَت ج۱ص ۸٤٤)

﴿۲﴾ د ضرورت مطابق دوه يا درې (بهتره دا ده چه قوي او نيك) سړي قبر ته کوز شي. زنانه مړې دِ د هغې مَحارِم [يعني چه د چا نه چه پرده نه وي هغه] کوز کړي که هغوئې نه وي نو نور خپلوان او که هغوئې هم نه وي نو په پرهيزګارو ئې کوزه کړئ. (فتاوٰی عالمگیری ج۱ص ١٦٦)

[18] نن صبا د زنانو په کفن کښې هُم غټ څادر په آخره کښې راتاوهې نو که د قميص نه پس سِينه بند کيښودې شي هم څه باك نشته خو غوره دا دي چه سِينه بند د ټولو نه په آخِره کښې وي.

[19] د جنازه اوچتولو او د دې د نمونځ طريقه "د نمانځه احکام" کښې اوګورئ.



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

﴿۳﴾ زنانه مړې د كوزولو نه واخله د تختو لګولو پورې په څه كپړه پټ ساتئ.

﴿٤﴾ قبر ته د كوزولو په وخت كښې دا دُعا لولئ: بِسْمِ اللّٰهِ وَ بِاللّٰهِ وَ عَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ (تنوِيرُ الاَبْصار ج٣ ص١٦٦)

﴿٥﴾ مړې په ښئ ډډه څملوئ او د هغه مخ قبلې ته واړوئ او د كفن غوټې خلاصې كړئ ځكه چه اوس ورته ضرورت نشته، كه خلاصې مو نه كړې نو هم څه باك نشته. (عالمگيرى ج١ ص١٦٦ و جوهره ص١٤٠)

﴿٦﴾ قبر په كچه خښتو[20] بند كړئ، كه زمكه نرمه وي نو (د لرګي تختې) لګول هم جائِز دي. (بَهارِ شرِيعَت ج١ ص ٨٤٤)

﴿٧﴾ بيا دِ پرې خاورې واچولې شي، مُستَحَب دا دي چه د سر د طرف نه پرې په دواړو لاسو درې ځله خاورې واچوئ. په ورومبي ځل اووائې مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ[21] په دويم ځل وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ[22] او په دريم ځل

[20] په قبر كښې دننه په اوږ پخې شوې خښتې لګول منع دي خو اوس اكثر د سيمنټ د ديوالونو او د سيمنټې سليپونو لګولو رواج دې لهذا د سيمنټو د ديوالونو او د سيمنټو د سليپونو هُغه حصّې كومې چه دننه طرف ته راځي هغه د كچه خاورو په خټه ليو كړئ. الله عَزَّوَجَلَّ دِ مسلمانان د اور د اثر نه په حِفاظت كښې اوساتي، اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[21] مونږه ته هُم د زمكې نه جوړ كړې.

[22] او هُم هغې ته به بيا تاسو بوځو.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډیر نِزدې هغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً اُخۡرٰی[23] اووائي. بیا پرې نورې خاورې په بیلچه وغیره واچوئ. (جوهره ص۱۴۱) ﴿۸﴾ خومره خاوره چه د زمکې نه راختلې وي د هغې نه زیاته خاورې اچول پرې مکروه دي. (عالمگیری ج۱ ص۱۶۶)

﴿۹﴾ قبر د اوښ د کوپان په شان جوړ کړئ [داسې چه پاس طرف ئې د بَلئ په شان وتلې وي] خلور ګوټه (لکه خنګه چه نن صبا د خخولو نه یو څو ورځې پس د خښتو وغیره جوړوې داسې) مه جوړوئ. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۱۶۹)

﴿۱۰﴾ قبر یوه لویشت اوچت یا د دې نه لږ زیات پکار دې. (اَیضاً ص۱۶۸)

﴿۱۱﴾ د خخولو نه پس په قبر باندې اوبه شیندل سُنَّت دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیّه مُخَرَّجه ج۹ ص۳۷۳) ﴿۱۲﴾ د هغې نه پس که بُوټو ته اچولو د پاره پرې اوبه اچوي نو جائِز دي ﴿۱۳﴾ ځینې خلق د خپلو عزیزانو په قبرونو باندې بې مقصده هسې رواجي طور اوبه اچوي، دا اِسراف او ناجائِزه دي، په فَتَاوٰی رَضَوِیّه شریف ج۹، ص۳۷۳ کښې دي: بې ضرورته (په قبر باندې) اوبه اچول ضائع کول دي او اوبه ضائع کول جائِز نه دي

﴿۱۴﴾ د خخولو نه پس ورته د سر طرف ته د الٓمّٓ نه د مُفۡلِحُون پورې او د ښپو طرف ته د اٰمَنَ الرَّسُوۡلُ نه د سُورت د آخرې پورې لوستل مُستَحَب دي. (جوهره ص۱۴۱) ﴿۱۵﴾ تلقِین ورته اوکړئ (طریقه د صفحه ۷، ۸ په

---

[23] او هُم د هغې نه به تا دوباره را اوباسو.



www.dawateislami.net

حاشِيه كښې اوكوركړئ) ﴿١٦﴾ په قبر باندې ګُلونه اچول بهتر دي چه تر څو پورې شنه وي تَسبِيح [يعني ثنا] به وائي او د مړي زړه به ورسره خوشحاليږي. (رَدُّالْمُحتَار ج٣ص١٨٤) ﴿١٧﴾ د قبر سر ته مخ په قبله اودريږئ او اذان اوكړئ. (مَاخوذ از فتَاوٰی رَضَوِيه مُخَرَّجه ج٥ ص٣٧٠)

صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دَقيامت په ورځ پښيمانتيا

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات هغه كس پښيمانه وي د چا سره چه په دُنيا كښې د عِلم حاصلولو وَخت وو او هغه عِلم حاصل نه كړو او هغه كس (به هم ډير زيات پښيمانه وي) چه پخپله ئې عِلم حاصل كړې وو او د هغه [د عِلم] نه نورو خلقو په اوريدلو فائدې اوچتې كړې وې خو هغه ترې پخپله فائده

## د شِكوه تعريف

د مصيبت په وخت كښې كِيلې قِيصې او بې صبرې كولو ته شِكوه وائي. (حدِيقه ندِيه شرح طريقهٔ محمّديه ج 2، ص98)


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# فاتحه او د ثواب بخښلو طريقه

که شيطان مو هر څومره منع کوي خو تاسو دا رِساله مکمله اولولئ او خپل آخِرت ښائسته کړئ.

## مرحوم خپلوان په خوب کښې د ليدلو طريقه

**حضرتِ عَلّامه ابو عبدُالله محمّد بن احمَد مالِکي قُرطُبي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل کوي: د **حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمَت کښې يوه زنانه حاضِره شوه او عرض ئې اوکړو: چه زما پيغله لور وفات شوي ده، څه داسې طريقه راته اوښائې چه زه هغه په خوب کښې اووينم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هغې ته عمل اوښودلو. هغې خپله مرحومه لور په خوب کښې اوليدله، خو په داسې حال کښې ئې اوليدله چه **هغې د تارکولو جامې اغوستې دي، په غاړه کښې ئې زنځير او په ښپو کښې ئې بيړئ دي**! دا هيبت ناك منظر ئې چه اوليدلو نو هغه زنانه د يرې نه اولړزيدله! هغې په دويمه ورځ **حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته خپل خوب بيان کړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه واوريدلو نو ډير خفه شو. څه موده پس **حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خوب کښې يوه جينئ اوليدله، چه په **جَنَّت** کښې په يو **تخت** باندې ناسته ده او تاج ئې په سر دې. هغه [جينئ] هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته اوويئيل: ”زه

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

د هم هغه زنانه لور يم، چا چه زما حال تاسو ته بيان کړې وو." هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته اوفرمائيل: د هغې د وَينا مطابق خو ته په عذاب کښې اخته وې، آخِر ستا حال څنګه بدل اوشو؟ مرحومې اووئيل: د اَديرې [يعني مقبرې] په خوا يو کس تيريدلو، هغه په خوږ خوږ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف اولوستو او د هغه د **دُرُود شريف لوستلو په بَرَکت اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **مونږ د پينځه سوه او شپيته قبرونو والؤ نه عذاب لرې کړو.** (التَّذکِرَةُ فی احوالِ المَوتٰی واُمُورِ الآخِرة ج۱ ص۷۴ ماخوذاً) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! د دې حِکايت نه معلومه شوه چه پخوانو مسلمانانو به د بُزُرګانو رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِم سره پوخ عقيدت لرلو، د هغوئي په بَرَکتونو به د خلقو کارونه هم سميدل، دا هم معلومه شوه، چه د خپلو مرحومو خپلوانو په خوب کښې د ليدلو په مطالبه کولو کښې سخت ازمينښت هم دې ځکه چه که مرحوم ئې په عذاب کښې اوليدلو نو خفه به شي. د دې حِکايت نه د **ثواب بخښلو** زبردست بَرَکت هم معلوم شو او دا هم معلومه شوه چه [څوك] صِرف **يو ځل دُرُود شريف** اولولي نو هغه هم [مړو او ژوندو ته] بخښلې شي. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د بيشميره


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

رحمتونو به څه وائي! چه که هغه عَزَّوَجَلَّ صرف یو ځل دُرُود شریف قبول کړي او په ټوله مقبره والؤ باندې عذاب وي او لوستونکې د هغې ثواب ور اوبخښي نو د هغې په بَرَکت به د ټولو نه عذاب لرې کړي او هغه ټولو ته به اِنعام و اِکرام ورکړي.

لاج رکھ لے گنہگاروں کی نام رحمٰن ہے ترا یارب!
بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل نام غفّار ہے ترا یارب!
تُو کریم اور کریم بھی ایسا کہ نہیں جس کا دوسرا یارب!

د اشعارو ترجمه:

مغفِرت اوکړې د ګنهګارو نوم رَحمٰن دې دا ستا یا رب!
بې سبب اوبخښه تپوس مه کوه نوم غفّار دې دا ستا یا رب!
ته خو کریم ئې او کریم داسې چه شریك نشته بل د چا یا رب!

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د چا چه مور و پلار یا په هغوئې کښې یو وفات شوې وي نو هغه ته پکار دي چه هغوئې نه هیروي، د هغوئې قبرونو ته دِ حاضِریږي هم او هغوئې ته دِ **اِیصالِ ثواب** هم کوي. په دې باره کښې پینځه **فرامِینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورئ:

## (۱) د قبول شوي حج ثواب

**څوك** چه د ثواب په نِیَّت د خپل مور و پلار دواړو یا د یو د قبر زیارت اوکړي، د **قبول شوي حج** هُمره ثواب به اوموي او څوك چه په کثرت د هغوئې د قبر زیارت کوي، (چه کله هغه کس وفات شي نو) فرِښتې به د هغه د قبر زیارت له راځي. (نَوادِرُ الاُصول للحکیم الترمِذی ج ۱ ص ۷۳ حدیث ۹۸)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۲) د لسو حجونو ثواب

**څوك** چه د خپلې مور يا د پلار د طرف نه حج اوکړي د هغوئي (يعني د مور يا پلار) د طرف نه به حج ادا شي، هغه (يعني حج کوونکي) ته به نور د **لسو حجونو** ثواب حاصِل شي. (دارقُطنی ج۲ ص ۳۲۹ حديث ۲۵۸۷)

سُبْحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! چه کله د **نفلي حج** سعادت درنصيب شي نو د وفات شوې مور يا پلار نِيَّت اوکړئ چه هغوئي ته هم د حج ثواب حاصل شي، ستاسو به هم حج اوشي بلکه نور د **لسو حجونو** ثواب به اومومئ. او که مور يا پلار په داسې حال کښې وفات شوي وو چه په هغوئي باندې حج فرض وو او هغوئي نه وو ادا کړې نو په داسې حال کښې اولاد ته د **حَجِّ بدل** کولو شرف حاصلول پکار دي. د "**حَجِّ بدل**" د تفصيلي احکامو د پاره د **دَعوتِ اِسلامي** د اِشاعتي اداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** د چاپ شوي کِتاب "**رَفِيقُ الْحَرَمَين**" صفحه ۲۰۸ نه ۲۱٤ پورې اولوَلئ.

## (۳) د مور و پلار د طرف نه خيرات

**چه کله** په تاسو کښې څوك نفلي خيرات کوي نو پکار ده چه د خپل مور و پلار د طرف نه ئې اوکړي ځکه چه د هغې ثواب به هغوئي ته حاصِل شي او د هغه (يعني خيرات کوونکي) په ثواب کښې به هيڅ کمي هم نه راځي. (شُعَبُ الايمان ج٦ ص ۲۰۵ حديث ۷۹۱۱)


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٤) په رزق کښې د بې بَرَکتئ وجه

بنده چه کله د مور و پلار د پاره دُعا کول پرېږدي نو د هغه رزق پريك کړې شي. (جَمعُ الجوامِع ج١ ص ٢٩٢ حديث ٢١٣٨)

## (٥) د جُمُعې په ورځ د قبر د زيارت فضيلت

کوم کس چه د جُمُعې په ورځ د خپل مور و پلار يا په هغوئې کښې د يو د قبر زيارت اوکړي او د هغه خوا ته سُوْرَهٔ يٰسٓ اولولي اوبه بخښلې شي. (الکامِل لِابنِ عدِی ج٦ ص ٢٦٠)

لاج رکھ لے گنہگاروں کی

نام رَحمٰن ہے ترا یارب!

د شعر ترجمه: مغفِرت اوکړې د ګنهګارو نوم رَحمٰن دې دا ستا يا رب!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کفنونه اوشليدل!

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رَحمَت ډېر لوئې دې، کوم مُسلمانان چه د دُنيا نه رُخصت شي د هغوئې د پاره هم هغه د خپل فضل و کَرَم دروازې خلاصې ساتلې دي. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ډېر زيات رَحمَت مُتَعَلِّق يو د ايمان نه ډك **حِکايت** اولولئ او خوشحاله شئ! چنانچه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نبی حضرت سَيِّدُنا اَرميا عَلَيْهِ السَّلَام د داسې قبرونو


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرود پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

په خوا تيريدلو چه په هغوئي عذاب كيدلو. يو كال پس چه كله هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام بيا په هغه ځائ تيريدلو نو عذاب ختم شوې وو. هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د خدائے تعالٰی په بارګاه کښې عرض اوکړو: يااللّٰه عَزَّوَجَلَّ! څه وجه ده چه مخکښې په دوئي عذاب كيدلو او اوس ختم شوې دې؟ آواز راغې: "اے اَرميا! د دوئي كفنونه اوشليدل، ويښته ئې اوشيندل شو، قبرونه ئې وران شو، نو ما په دوئي رحم اوكړو او په داسې خلقو زه رحم كووم." (شرحُ الصُّدور لِلسُّيُوطِی ص ۳۱۳)

اللّٰہ کی رحمت سے تو جنّت ہی ملے گی　　　اے کاش! محلّے میں جگہ اُن کے ملی ہو

د شعر ترجَمه: اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په رَحمَت خو به جَنَّت رانصيب كيږي، خو كاش! چه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښې راته ځائ نصيب شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د "كَرَم" د درې حروفو په نِسبَت د اِيصالِ ثواب درې د اِيمان نه ډك فضائل

## (۱) د دُعاګانو بَرَكت

د مَدينې د سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دې: زما اُمَّت به د ګناهونو سره قَبْر ته داخليږي او چه كله راوځي نو بې ګناه به وي ځكه چه هغوئي د مومِنانو په دُعاګانو اوبخښلې شي. (المُعجَمُ الاوسط ج۱ ص۵۰۹ حديث ۱۸۷۹)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرود پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## (۲) د اِيصالِ ثواب اِنتِظار!

د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: د مړي حال په قَبر کښې د ډوبيدونکي انسان په شان دې ځکه چه هغه ډېر زيات اِنتِظار کوي چه د پلار يا مور يا وورور يا د يو دوست دُعا هغه ته را اورسي او چه کله د چا دُعا هغه ته را اورسي نو د هغه په نِزد هٰغه [دُعا] د دُنياوَمَافِيها (يعني دُنيا او څه چه په دې دُنيا کښې دي د هغه ټولو) نه بهتر وي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ قَبرِ والؤ ته د هغوئي د ژوندو مُتَعَلِّقينو[يعني تَعَلُّق لرونکو] د طرف نه هديه [يعني تُحفه] کړې شوې ثواب د غرونو په شان ورکوي، د ژوندو هديه [يعني تُحفه] د مړو د پاره د بخښنې دُعا کول دي. (شُعَبُ الايمان ج٦ ص ٢٠٣ حديث ٧٩٠٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## روحونه کورونو ته راځي او اِيصالِ ثواب غواړي

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! معلومه شوه چه مړي د خپلو قبرونو خوا ته راتلونکي خلق پيژني او هغوئي ته د ژوندو په **دُعاګانو** فائده هم رسي، چه کله د ژوندو د طرف نه د **ثواب راتلو تُحفې** بندي شي، نو هغوئي خبر شي او اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته اِجازت ورکړي نو کورونو ته راشي او اِيصالِ ثواب [يعني د ثواب بخښنه] غواړي. اعلٰی حضرت شاه اِمام احمَد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **فتاوٰی رضويه** (مُخَرَّجه) جلد۹ صفحه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

٦٥٠ كښې نقل كوي: په "غرائب"او "خَزانه" كښې نقل دي چه د **مومِنانو روحونه د هرې جُمَعې په شپه، د آَختر په ورځ، د عاشورې په** ورځ [يعني د مُحَرَّمُ الحرام په لسمه ورځ] او **شَبِ براءت** [يعني د شَعْبانُ الْمُعَظَّم په پينځلسمه شپه] **خپلو كورونو ته راځي او بَهر ولاړ وي** او هر يو روح په غمګين او اوچت آواز كښې وائي چه اے زما د كور خلقو! اے زما بچو! اے زما خپلوانو! (مونږ ته د ثواب بخښلو په نِيَّت) صَدَقه [يعني خيرات] اوكړئ او په مونږه مهرباني اوكړئ.

ہے کون کہ گِریہ کرے یا فاتِحہ کو آئے
بے کَس کے اُٹھائے تِری رَحمت کے بَھرَن پھول (حدائقِ بخشش ص ١٩٣)

**د شعر ترجَمه:** خوك دي؟ چه راپسې اوژاړي يا د فاتحه لوستلو د پاره راشي، يارسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بې وسه ګناهونه به ستاسو د رَحمت په وسيله معاف كيږي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٣) د نورو د پاره د بخښنې د دُعا كولو فضيلت

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! خوك چه د ټولو مومِنانو سړو او زنانو د پاره د بخښنې دُعاكوي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به د هغه د پاره د هر مومِن سړي او زنانه په بدله كښې يوه نيكي ليكي. (مُسند الشّامِيين للطبراني ج ٣ ص ٢٣٤ حديث ٢١٥٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په اربونو نيكو ګټلو آسانه نُسخه حاصِله شو!


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! خوشحاله شئ! په اربونو، کربونو نيکئ کټلو آسانه **نُسخه** په لاس راغله! ښکاره خبره ده چه په دې وخت په زمکه په کروړونو مُسلمانان موجود دي او په کروړونو بلکه په اربونو د دُنيا نه تلي دي. که مونږه د ټول اُمّت د بخښنې د پاره دُعا اوغواړو نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږ ته به د اربونو، کربونو نيکو خزانه حاصله شي. زه د خپل ځان د پاره او د ټولو مومِنانو او مومِناتو د پاره دُعا ليكم. (اوّل آخِر ترې دُرُود شريف لولئ) اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ بيشميره نيکئ به په لاس درشي. اَللّٰھُمَّ اغۡفِرۡلِیۡ وَلِکُلِّ مُؤۡمِنٍ وَّمُؤۡمِنَۃٍ- يعني اے اللّٰه ! زما او د هرمومِن او مومِنې بخښنه اوفرمائې. اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تاسو هم دا پاسنئ دُعا په عَرَبئ يا پښتو يا دواړو ژبو کښې اوس او که کيدې شي نو هره ورځ د پينځه نمونځونو نه پس هم د لوستلو عادت جوړ کړئ.

بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل
نام غفّار ہے ترا یا رب! (ذوقِ نعت)

بې سبب اوبخښه تپوس مه کوه نوم غفّار دې دا ستا يا رب!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نورانی لِباس



www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې درود شریف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را لیږي. (ابن عدي)

یو بُزُرګ خپل مرحوم ورور په خوب کښې اولیدو تپوس ئې ترې اوکړو: آیا د ژوندو [خلقو] دُعا تاسو ته در رسي؟ مرحوم جواب ورکړو: "آو قَسم په خدائے عَزَّوَجَلَّ! هغه د نورانی لِباس په صورت کښې راځي او مونږه هغه اغوندو." (شَرحُ الصُّدور ص ۳۰۵)

جلوۂ یار سے ہو قبر آباد
وَحشَتِ قبر سے بچا یا رب!

قبر آباد کړې د حبیب په دِیدار یَره د قبر لرې کړه یا رب

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نورانی تالې

منقول دي: چه کله څوك یو مړي ته ثواب ور اوبخښي نو حضرت جبرئیل عَلَیْهِ السَّلَام هغه [ثواب] په نورانی تالې کښې کیږدي او د قبر په غاړه اودریږي او وائي: "اے قبر والا! دا تُحفه ستا د کور کسانو رالیږلې ده قبوله ئې کړه." دا چه واوري نو هغه خوشحاله شي او د هغه ګاونډیان په خپله محرومۍ باندې خفه شي. (اَیضاً ص ۳۰۸)

قبر میں آہ! گُھپ اندھیرا ہے
فَضل سے کردے چاند نا یا رب!

قبر کښې آه! توره تیره دي ربه په فضل ستا راکړې رڼرا یا رب!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مړو د شمیر همره ثواب


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

**فرمانِ مصطفٰى** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! **څوك** چه په اِديره [يعني مقبره] کښې يوولس ځله سُوْرَةُالْاِخلاص اولولي او مړو ته د هغې **ثواب ور اوبخښي** نو د مړو د شمير هُمره به اِيصالِ ثواب کوونکي [يعني ثواب بخښونکي] ته د هغې ثواب حاصل شي.

(جَمعُ الجَوامِع لِلسُّيُوطی ج۷ ص ۲۸۵ حديث ۲۳۱۵۲)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تول قبرونو والا د سفارشي جوړولو عمل

د **حُضورِ اَکرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: "څوک چه مقبرې ته داخل شو، بيا هغه سُوْرَةُ الْفاتِحه، سُوْرَةُ الْاِخْلاص او سُوْرَةُ التَّكاثُر اولوستل بيا ئې دا دُعا اوغوښتله: يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ما چه څه قرآن اولوستو د دې ثواب د دې اِديرې [مقبرې] مؤمنانو نارينۀ اومؤمِنانو زنانۀ ته اورسوې. نو هغه ټول به د قيامت په ورځ د هغه (يعني د ثواب بخښونکي) سفارشي وي." (شرحُ الصُّدُور ص۳۱۱)

ہر بھلے کی بھلائی کا صدقہ اس بُرے کو بھی کر بھلا یارب! (ذوقِ نعت)

د هر يو نيك د نيکۍ په خاطر ما بد هُم نيك کړه يا خُدا يا رب!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سُوْرَهٔ اِخْلاص د ثواب بخښلو حِکايَت

**حضرتِ** سَیِّدُنا حَمَّاد مَکِّی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: زه يوه شپه د مَکّې مُکَرَّمې په اِديره [يعني مقبره] کښې اوده شوم، څه ګورم چه قبروالۆ حلقې


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

جوړې کړې دي او ولاړ دي، ما د هغوئي نه تپوس اوکړو: آيا قِيامت قائِم شو؟هغوئي اووئيل: نه، بلکه اصل خبره دا ده چه يو مُسلمان ورور سُوْرَةُ الْإِخْلَاص اولوستلو او مونږه ته ئې د هغې ثواب را اوبخښلو نو مونږه هغه ثواب د يو کال نه تقسيموو. (شرحُ الصُّدُور ص۳۱۲)

سَبَقَتْ رَحْمَتِيْ عَلٰى غَضَبِيْ  تونے جب سے سنا دیا یارب!
آسرا ہم گنہگاروں کا  اور مضبوط ہوگیا یا رب! (ذوقِ نعت)

د شعر ترجَمه: سَبَقَتْ رَحمَتِيْ عَلٰى غَضَبِيْ  کله نه واورو چه تا يا رب!
اسرا زمونږه ګنهګارانو  مضبوطه نوره هم شوله يا رب!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اُمِّ سَعد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د پاره کوهې

حضرتِ سَيِّدُنا سَعد بِن عُباده رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عرض اوکړو: يا رَسُولَ اللّٰـه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما مور وفات شوې ده (زه د هغوئي د طرف نه صَدَقه (يعني خيرات) کول غواړم) کومه صَدَقه به غوره وي؟ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "اوبه" په دې وجه هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يو کوهې اوکنستلو او اوئې وئيل: هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعد يعني دا د اُمِّ سَعد رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د پاره دې." (ابوداؤد ج۲ ص۱۸۰ حديث۱٦٨١)

## د پيرانِ پير صاحِب چيلې وئيل څنګه دي؟


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغير)

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! د سَيِّدُنا سعد رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د دې اِرشاد: **دا د اُمِّ سَعد** (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا) **د پاره دې.**" معنىٰ دا ده چه دا كوهې د سعد رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د مور د **اِيصالِ ثواب** د پاره دې. د دې نه دا هم معلومه شوه چه د مُسلمانانو د غوا يا چيلې وغيره بُزُرګانو ته نِسبَت كول مَثَلاً دا وئيل چه دا د "**سَيِّدُنا غوثِ پاك** [يعني پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه **چيلې دې**" په دې كښې هيڅ باك نشته، ځكه چه د دې نه مراد هم دا دې چه دا چيلې د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د **اِيصالِ ثواب** [يعني په هغوئې پسې د خيرات كولو] د پاره دې. د قربانئ د څاروي نِسبت خو هم خلق يو بل ته كوي. مَثَلاً كه څوك د خپلې قربانئ چيلې راولي او تاسو د هغه نه تپوس اوكړئ چه دا د چا چيلې دې؟ نو هغه به څه داسې جواب دركوي، "دا زما چيلې دې" يا "زما د ماما چيلې دې." چه په داسې وئيلو باندې څه اِعتِراض نشته نو "د غوثِ پاك [يعني د پيرانِ پير صاحب] چيلې" وئيلو باندې هم څه اِعتراض نه شي كيدې. په حقيقت كښې د هر څيز مالِك اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دې نو دغسې كه د قربانئ چيلې وي يا د غوثِ پاك چيلې وي، د ذبح كولو [يعني حلالولو] په وخت په هر يو حلاليدو والا [څاروي] باندې صِرف د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اخستې كيږي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ مسلمانانو ته د وسوسو نه خلاصې وركړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ”د اللّٰه د رَحمَت نه قربان شم!“ د نُولَّس حروفو په نِسبَت د اِیصالِ ثواب ۱۹ مدَنی ګلونه

(۱) د اِیصالِ ثواب لفظی معنٰی ده: ”ثواب رَسَوَل“ دې ته ”ثواب بخښل“ هم وائي خو د بُزُرګانو د پاره ”ثواب بخښل“ مناسب نه دي، ”ثواب نَذر کول“ وئیل ادب ته زیات نِزدې دي. اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او بل نبـی یا ولی ته ”ثواب بخښل“ وئیل بې ادبی ده بخښل د مشر [لوئ] نه کشر [وړوکي] ته وي. بلکه نَذر کول یا هدیه کول دِ وائي. (فتاوٰی رضویه ج۲٦ ص ٦٠٩)

(۲) د **فرض**، واجِب، سُنَّت، نفل نمونځونه، روژه، زکوٰة، حج، تِلاوت، نعت شریف، ذِکرُاللّٰه، دُرُود شریف، بیان، درس، په مَدَنی قافِله کښې سفر، مَدَنی اِنعامات، د نیکۍ د دعوت علاقائي دوره، د دِینی کتاب مُطالَعه، د مَدَنی کارونو د پاره اِنفِرادي کوشش وغیره د هر نیك کار **اِیصالِ ثواب** کیدې شي.

(۳) د **مَړي** دریمه، لسمه، څلویښتمه او برسي [یعني کلیزه] کول ډیر ښه کارونه دي ځکه چه دا د اِیصالِ ثواب ذریعې دي. په شریعت کښې د دریمې وغیره کولو خِلاف (یعني د ناجائزه کیدو) هیڅ دلیل نشته نو دا خبره پخپله [د دې کارونو] د جائز کیدو دلیل دې او د مړي د پاره د


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

ژوندو دُعا کول د قرآنِ کريم نه ثابت دي چه د ”اِيصالِ ثواب“ اصل دې. چنانچه په سيپاره ۲۸ **سُوْرَةُ الْحَشْر** آيت ۱۰ کښې اِرشادِ رَبُّ العِباد دې:

وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالايمان: او هغه [خلق] چه د هغوئي نه وروستو راغلي دي عرض کوي: اے زمونږه ربه! مونږه اوبخښې او زمونږه ورونړه [اوبخښې] چا چه زمونږ نه مخکښې اِيمان راوړې دې.

(٤) **د دريمي** [ورځې] وغيره طعام صِرف په دې صورت کښې د مړي د پريښودې مال نه کولې شي چه ټول وارثان بالغ وي او ټول اِجازت هم ورکړي که يو وارِث هم نابالِغه وي نو **سخت حرام** دې. آو بالِغ د خپلې حِصّې نه [ددريمې ورځې خيرات] کولې شي.

(مُلَخّص از بهارِ شريعت ج ۱ حِصّه ۴ ص ۸۲۲)

(٥) **د دريمي** طعام عام طور د دعوت په صورت کښې کيږي په دې وجه د مالدارانو د پاره [خوړل] جائز نه دي صِرف غريبان او مِسکينان دِ ئې خوري، د درې ورځو نه پس هم د مړي د طعام د خوړلو نه مالدارانو (يعني چه فقير نه وي هغوئي) ته ځان ساتل پکار دي. فتاوٰی رضويه جلد۹ صفحه ٦٦٧ نه د مړي د طعام مُتعَلِّق يو فائده مند سُوال جواب واورئ: **سُوال:** مقوله. طَعَامُ الْمَيِّتِ يُمِيْتُ الْقَلْبَ (د مړي خوراك زړه مړ کوي.) مُستند قول دې، که مُستَند دې نو د دې څه معنٰی ده؟ **جواب:** دا د تجربې خبره ده او د دې معنٰی دا ده چه څوك د مړي د طعام


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

خواهش لري د هغوئي زړونه مړه كيږي، د ذِكر او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د اِطاعت د پاره ژوند او تُندي په دې خبره كښې نشته چه هغه د خپلې خيټې د نوړئ د پاره د مُسلمانانو د مرګ په اِنتِظار كښې اوسي او د خوراك كولو په وخت دِ د خپل مرګ نه غافِله [وي] او د هغې [يعني خوراك] په خوند كښې مشغوله وي. وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ

(فتاوٰی رضویه ج۹ ص ٦٦٧)

(٦) **د مړي** د كور خلق كه د دريمې طعام پوخ كړي نو (مالداران دِ ئې نه خوري) صِرف په فقيرانو ئې اوخورئ څنګه چه د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي **بهارِشريعت** جلد اوّل صفحه ٨٥٣ كښې دي: كه د مړي د كور كسان د **دريمې** وغيره په ورځ طعام خوړلو د پاره خلق را اوبلي نو دا ناجائزه او بدعتِ **قبيحه** دي ځكه چه دعوت خو د خوشحالئ په وخت مشروع (يعني د شرعې مطابق) وي، د غم په وخت كښې نه. او كه فقيران ئې اوخوري نو بيا بهتره ده. (اَيضاً ص ٨٥٣)

(٧) اعلٰي حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ”دغسې كه د خلويښتمې يا كليزې يا د شپږمې مياشتې طعام د اِيصالِ ثواب د نِيَّت نه بغير صرف د رسم و رواج په وجه پخوي او د ”واده د طعام“ په شان په خپلوانو كښې ئې تقسيموي نو هغه هم بې اصل [يعني بې ثبوته] دي، د دې نه ځان ساتل پكار دي.(فتاوٰی رضویه ج۹ ص ٦٧١) بلكه دا طعام د



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اِيصالِ ثواب او د نورو ښو ښو نِيَّتونو سره پکار دې او که څوك د اِيصالِ ثواب د پاره د طعام څه اهتِمام اونه کړي نو بيا هم هيڅ باك نشته.

(۸) **د يوې** ورځې ماشوم ته هم **اِيصالِ ثواب** کولې شئ، د هغه په **دريمه** کولو کښې هم څه باك نشته، او **څوك چه** ژوندي دي هغوئي ته هم **اِيصالِ ثواب** کيدې شي.

(۹) **انبياء و مرسلين** عَلَيْهِمُ السَّلَام او فرښتو او مُسلمانان پيريانو ته هم **اِيصالِ ثواب** کولې شئ.

(۱۰) **[په لوئي ځوان پسې] يوولسمه** او رجَبِي شريف (يعني په ۲۲ رَجَبُ المُرَجَّب د سَيِّدُنا امام جعفر صادِق رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ [د اِيصالِ ثواب د پاره] کونډې کول) وغيره جائز دي. په خلقو کِير خوړل په کونډو [يعني يو قِسم د خاورو لوښو] کښې ضروري نه دي په بل لوښي کښې ئې هم خوړې شئ، دا د کور نه بَهر هم وړلې شئ، په دې موقع چه کومې "قِصّې" وئيل کيږي هغه بې اصل [يعني بې ثبوته] دي، [په دې موقع] يٰسٓ شريف لولئ او د لس ځله قرآنِ کريم ختمولو ثواب ګټئ او د کونډو سره سره د دې اِيصالِ ثواب هم کوئ.

(۱۱) [د اُردو دا قِصّې] **داستانِ عجيب**، شہزادے کا سر، دس بيبيوں کی کہانی اور جنابِ سَيِّدہ کی کہانی ټولې د دروغو قِصّې دي، دا بالکل مه لولئ. دغه شان خلق يوه پرچِۍ د "وَصِيَّت نامه" په نوم تقسيموي، په هغې کښې د "شيخ احمد" خوب ليکلې شوې دې دا هم **جعلي** (يعني نقلي) دې په هغې کښې لاندې په **مخصوص**


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

شمير کښې د چاپ کولو او د تقسيمولو فضيلت او د نه تقسيمولو نُقصانونه وغيره هم ليك دي، په دې هم هيڅ اعتِبار مه کوئ.

(۱۲) اوليائے کِرام رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِم ته د ثواب بخښلو د پاره شوي خيرات ته تعظيماً "نذر و نياز" وائي او دا تَبَرُّك دې، دا مالداران او غريبان ټول خوړلې شي.

(۱۳) د [بزرګانو د] **نياز [يعني خيرات]** او [**د عامو مسلمانانو د**] **اِيصالِ ثواب** په **طعام** باندې د فاتحه لوستلو د پاره څوك رابلل يا د بَهر په ميلمه خوړل شرط نه دې، د کور خلق که پخپله فاتحه اولولي او اوئې خوري نو بيا هم څه باك نشته.

(۱٤) **هره ورځ** چه څومره طعام د عادت مطابق د ښو ښو نِيَّتونو سره خورئ او په هغې کښې د يو نه يو بُزُرګ د **اِيصالِ ثواب** نِيَّت کوئ نو ډيره به ښه وي. مَثَلاً په ناشته [يعني د سحر چائے او ډوډئ وغيره] کښې نِيَّت اوکړئ: د نن ورځې د ناشتې ثواب دِ سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئې په ذريعه ټولو انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام ته اورسي. غرمه دا نِيَّت اوکړئ: اوس چه کوم طعام خورو (يا مو خوړلې دې) د دې ثواب دِ **غوثِ پاك** [يعني پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ او ټولو اوليائے کِرام رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِم ته اورسي. ماښام دا نِيَّت اوکړئ: اوس چه کوم خوراك کوو د هغې ثواب دِ امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته او هر مُسلمان


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

نارينه او زنانه ته اورسي يا هر ځل تړلو ته د اِيصالِ ثواب کولو نِيَّت کوئ او دا **زيات مُناسِب** دي. **ياد ساتئ!** اِيصالِ ثواب صِرف په هغه صورت کښې کيدې شي چه هغه طعام د يو ښه نِيَّت سره اوخوړې شي مَثَلاً په عِبادت باندې د قُوَّت حاصلولو په نِيَّت اوخوړې شي نو دا طعام خوړل د ثواب کار دې او د هغې اِيصالِ ثواب هم کيدې شي. که يو ښه نِيَّت هم پکښې نه وي نو طعام خوړل مُباح دي او په دې کښې نه ثواب شته نه ګناه، چه ثواب حاصِل نه شو نو اِيصالِ ثواب به څنګه اوشي! که په نورو ئې د ثواب په نِيَّت اوخوړو نو د هغې ثواب بخښلې شي.

(۱۵) د ښو ښو نِيَّتونو سره چه کوم طعام خوړل شي د هغې د **اِيصالِ ثواب** نِيَّت که د هغې د خوړلو نه مخکښې اوکړې شي او يا د خوړلو نه پس اوکړې شي، په دواړو طريقو صحيح دې.

(۱٦) که **کيدې شي** نو هره ورځ (د ګټې نه نه بلکه) د خپلې [دُکاندارئ] څلورمه فيصده (يعني په څلورو سوو روپو کښې يوه روپئ) او نوکر دِ د تنخواه نه هره مياشت يو فيصد د غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د نياز [يعني خيرات] د پاره اوباسي، د اِيصالِ ثواب په نِيَّت په دې روپو باندې دِيني کتابونه اخلئ او تقسيموئ ئې يا ئې په بل نيك کار کښې خرچ کوئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې برکتونه به پخپله اووينئ.


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

(۱۷) **جُمات** يا مدرسه جوړول د صَدَقهٔ جاريه او د **اِيصالِ ثواب** بهترينه ذريعه ده.

(۱۸) **خومره خلقو** ته چه اِيصالِ ثواب اوکړئ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمَت نه دا اُمِّيد دې چه ټولو ته به پوره پوره ور رسيږي، داسې نه ده چه ثواب به تقسيم کړې شي او په ټکړو ټکړو به ورکړې شي. د **اِيصالِ ثواب** کوونکي په ثواب کښې به هيڅ کمې نه راځي بلکه دا اُمِّيد دې چه هغه خومره خلقو ته ثواب بخښلې وي د هغوئي د ټولو د شمير هُمره به هغه (ثواب بخښلو والا ته) ثواب ورکړې شي. مَثَلاً يو نيك کار ئې اوکړو او په هغې هغه ته لس نيکئ حاصِلې شوې اوس هغه لسو مړو ته **ثواب اوبخښلو** نو هر يو ته به لس لس نيکئ اورسي او ثواب بخښونکي ته به يو سل لس [نيکئ] حاصلې شي او که زرو کسانو ته ئې اِيصالِ ثواب کړو نو هغه ته به لس زره لس[نيکئ ورکړې شي]. وَعلٰی هٰذَا الْقِيَاس. (او په هم دې باندې قياس اوکړئ) [يعني چه خومره خلقو ته ثواب اوبخښلې شي د هغوئي د شمير هُمره ثواب به ورکړې شي] (بهارِ شريعت ج۱ حِصّه ٤ ص۸۵۰)

(۱۹) **اِيصالِ ثواب** صِرف مُسلمانانو ته کولې شئ، کافِر يا مُرتد ته اِيصالِ ثواب کول يا هغه ته "مرحوم"، "جَنَّتي"،"په جَنَّت کښې اوسيدونکي"، بخښلې شوې، رحم کړې شوې وئيل **کُفر** دي.

## د اِيصالِ ثواب طريقه


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

**اِيصالِ ثواب** (يعني د ثواب بخښلو) د پاره په زړه کښې نِيَّت کول کافي دي، مَثَلاً تاسو يو کس ته يوه روپۍ خيرات ورکړو يا مو يو ځل دُرُود شريف اولوستلو يا مو چا ته يو سُنَّت اوښودلو يا مو په چا باندې اِنفِرادی کوشش اوکړو او د نيکۍ دعوت مو ورکړو يا مو د سُنَّتو نه ډك بيان اوکړو. غرض دا چه هر يو نيك کار مو اوکړو نو په زړه کښې داسې نِيَّت اوکړئ مَثَلاً: "اوس چه ما کوم [چا ته] سُنَّت اوښودلو د هغې ثواب دِ **سرکارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اورسي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ثواب به اورسي. نور هم چه د چا چا نيَّت کوئ هغوئي ته به هم ثواب رسي. په زړه کښې د نِيَّت سره سره په ژبه وئيل هم ښه دي ځکه چه دا د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه ثابت دي څنګه چه په **حديثِ سَعد** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ کښې تېر شوي دي چه هغوئي کوهې اوکنستلو نو اوئې فرمائيل: هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعد يعني **"دا د سعد د مور د پاره دې."**

## د اِيصالِ ثواب مُرَوَّجه طريقه

**نن** صبا چه په مسلمانانو کښې خاص طور په طعام باندې د **فاتحې لوستلو کومه طريقه** رائج ده هغه هم ډېره ښه ده. د کوم خوراکونو چه **اِيصالِ ثواب** کول غواړئ هغه ټول يا د ټولو نه لږ لږ طعام او يو جام [يا ګِلاس] اوبه مخې ته کيږدئ.

بيا:


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاخیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

اولولئ او يو ځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱﴾ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۲﴾ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ﴿۳﴾ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ﴿۴﴾ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴿۶﴾

درې ځله:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴿۳﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

يو ځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ﴿۳﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ﴿۴﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿۵﴾

يو ځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝۱ مَلِكِ النَّاسِ ۝۲ اِلٰـهِ النَّاسِ ۝۳ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ۬ الْخَنَّاسِ ۝۴ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝۵ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ۝۶

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝۱ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝۲ مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ۝۳ اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ۝۴ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ۝۵ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ ۙ۬ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّیْنَ ۝۷

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الٓمّٓ ۝۱ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَیْبَ ۛۚ فِیْهِ ۛۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِیْنَ ۝۲ الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِالْغَیْبِ وَ یُقِیْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یُنْفِقُوْنَ ۝۳ وَ الَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ یُوْقِنُوْنَ ۝۴ اُولٰٓىٕكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝۵

لوستلو نه پس دا پينځه آيتونه اولولئ:

(1) وَ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ۝۱۶۳ (پ۲، البقرة: ۱۶۳)

(2) اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِیْنَ ۝۵۶ (پ۸، الاعراف: ۵۶)


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (تِرمِذی)

(3) وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ (پ۱۷، الانبیاء:۱۰۷)

(4) مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ؑ (پ۲۲، الاحزاب:۴۰)

(5) اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پ۲۲، الاحزاب:۵۶)

بيا دُرُود شريف اولولئ:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَاٰلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ط

صَلٰوةً وَّسَلَامًا عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰه

د هغې نه پس دا آيتونه اولولئ:

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ؑ (پ۲۳، الصّٰفّٰت: ۱۸۰ نه ۱۸۲)

بيا دِ فاتحه لوستونکې د دُعا د پاره لاس پورته کړي او په اوچت آواز دِ "اَلفَاتِحه" اووائي. ټول خلق دِ په قلاره يعني په دومره آواز چه پخپله ئې اوري سُوْرَةُ الْفَاتِحه اولولي. بيا دِ فاتحه لوستلو والا داسې اِعلان اوکړي: "خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو چه څه لوستلي دي د هغې ثواب ما ته راواوبخښئ." ټول حاضِر خلق دِ اووائي: "تاسو ته مې در


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو **الله** عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

اوبخښلو." بيا دِ د فاتحه لوستلو والا **اِيصالِ ثواب** اوکړي [يعني د دې هر څه ثواب دِ ور اوبخښي].

## د اعلٰی حضرت رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ د فاتِحه طريقه

د **اِيصالِ ثواب** الفاظ د ليکلو نه مخکښې اعلٰی حضرت شاه امام احمد رضا خان رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ به چه د فاتحه نه مخکښې کوم سورتونه وغيره لوستل هغه هم ليکم:

يو ځل:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ۙ﴿۲﴾ مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ؕ﴿۳﴾ اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ ؕ﴿۴﴾ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿۷﴾

يو ځل:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡحَىُّ الۡقَيُّوۡمُ ۚ لَا تَاۡخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوۡمٌ ؕ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡاَرۡضِ ؕ مَنۡ ذَا الَّذِىۡ يَشۡفَعُ عِنۡدَهٗۤ اِلَّا بِاِذۡنِهٖ ؕ يَعۡلَمُ مَا


www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ وَلَا يَئُوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴿۲۵۵﴾

(پ ۳، البقره: ۲۵۵)

دري ځله:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ﴿۳﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

## د اِیصالِ ثواب د پاره د دُعا کولو طریقه

یاالله عَزَّوَجَلَّ! چه څه مو اولوستل (که طعام وغیره وي نو داسي هم اووائي) او څه طعام وغیره پیش کړي شوي دي د هغي ثواب زمونږه د ناقِص عمل لائق نه بلکه د خپل کرم د شان لائِق راکړې. او دا زمونږ د طرف نه د خپل خوږ حَبِیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې نذر اورسوې. د **سرکارِمدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر ټولو انبیائےکرام عَلَیْہِمُ السَّلَام ته، ټولو صحابۂ کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته، او ټولو اولیائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی ته نذر اورسوې. د **سرکارِمدینه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر د **سَیِّدُنا آدم** عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله تر اوسه پوري


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

چه څومره اِنسانان او پيريان **مسلمانان** پيدا شوي دي يا به د قِيامته پورې چه څومره مُسلمانان پيدا کيږي هغه ټولو ته اورسوې. په دې دوران کښې بِهتره دا ده چه کومو کومو بُزُرګانو ته خاص طور اِيصالِ ثواب کول وي د هغوئي نومونه هم واخلئ. خپل مور و پلار او نورو خپلوانو او خپل پير صاحِب ته هم په نوم اخستلو اِيصالِ ثواب اوکړئ.
(په وفات شوو خلقو کښې چه د چا، چا نومونه واخلئ هغوئي خوشحاليږي او که د هيڅ چا نوم هم وانخلي او صِرف دومره اووائي چه يا اللّٰهعَزَّوَجَلَّ د دې ثواب د نن ورځې پورې چه څومره اِيمان والا دُنيا ته راغلي دي [او راځي به] هغه ټولو ته اورسوې نو بيا هم هر يو ته اورسي. اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ)
بيا د معمول مطابق دُعا ختمه کړئ. (که لږ لږ طعام او اوبه مخې ته ايښودې شوي وي نو هغه په نور طعام او اوبو کښې ګډ کړئ)

## د طعام د دعوت اَهَم اِحتياط

**چه** کله هم تاسو د نياز [يعني د بُزُرګانو خيرات] کوئ يا څه بله ميلمستيا کوئ نو چه څنګه د جَمعې د نمانځه وخت شي نو که څه شرعی رُکاوټ نه وي نو په ټولو ميلمنو **اِنفِرادی کوشش** کوئ او د جَمعې د نمانځه د پاره جُمات ته ځئ. بلکه د دعوت داسې وخت مه مُقرروئ چه په مينځ کښې پکښې د نمانځه وخت راځي او بيا د سستئ په وجه مَعَاذَاللهعَزَّوَجَلَّ د جَمعې نمونځ پاتې شي. د غرمې د طعام د پاره د ماسپښين


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

د نمانځه نه پس او د ماښام د طعام د پاره د ماسخُتن د مانځه نه پس که ميلمانه رابلل شي نو د جَمعې د مونځونو د پاره به آساني وي. د کوربه، د پخلي والا او طعام تقسيمولو والؤ تهولو ته پکار دي چه ښنکه د نمانځه وخت شي نو ټول کار پرېږدي او د جَمعې سره نمونځ اوکړي. د بُزُرګانو د "نياز [يعني خيرات] په دعوت" کښې د مشغوليدو په وجه د "جَمعې په نمانځه" کښې کوتاهي کول د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډيره لويه نافرماني ده.

## په مزار باندې د حاضِرئ طريقه

د بُزُرګانو په ظاهري ژوند کښې هم د ښپو يعني د هغوئي د مخې د طرف نه حاضِريدل پکار دي، [د هغوئي په ظاهري ژوند کښې هم] د شا د طرف نه د راتلو په صورت کښې به هغوئي ته د مخ را اړولو تکليف پيښيږي. ځکه دِ د بُزُرګانِ دين مزاراتو ته هم د ښپو د طرف نه حاضريږي او بيا دِ د قبلې طرف ته شا او د صاحِبِ مزار [يعني د قبر والا] د مخ طرف ته مخ کړي او کم نه کم دوه ګزه لرې دِ اودريږي او داسې سلام دِ عرض کړي: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ يَاسَيِّدِیْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهٗ يو ځل سُوْرَةُ الْفَاتِحه او يوولس ځله سُوْرَةُ الْاِخلاص (اوّل آخِر يو يو يا درې درې ځله دُرُود شريف) دِ اولولي او [د دُعا د پاره دِ] لاس پورته کړي او د پاسنئ ورکړې شوې طريقې مطابق دِ (د صاحِبِ مزار نوم واخلي او) اِيصالِ ثواب


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

دِ اوکړي او دُعا دِ اوکړي. په "اَحۡسَنُ الۡوِعاء" کښې دي: د ولی د مزار خوا ته دُعا قبليږي. (ماخوذ از احسنُ الوِعاء ص ١٤٠)

الٰہی واسطہ کُل اولیا کا — مرا ہر ایک پورا مُدّعا ہو

د شعر ترجَمه: يا اِلٰهي! په خاطر د اولياء — زما قبوله کړې هره دُعا

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! — صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نیک او مونځ ګزاره جوړیدو ډ پاره

هر زیارت د ماښام د نمانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره توله شپه تیروئ ۞ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی . د خپل ځان د اِصلاح د پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح د کوشش کولو د پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی



MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net